شلماني

(يوه څېړنه)



تحقيق

ارشد کريم شلماني



فضل غفار شلمانی

ارشد کریم شلمانی

شلماني

(يوه څېړنه)

تحقيق

ارشد کريم شلماني

يونيورسټي بک ايجنسي
خيبر بازار پېښاور فون:2212534
فېکس:2212335

بسم الله الرحمن الرحيم

ټول حقونه دَ ليکوال په حق کښې محفوظ دي

د کتاب پېژندګلو:

دَ کتاب نوم	**شلماني** (يوه څېړنه)
تحقيق	ارشد کريم شلماني
کمپوزر	شباب رانيزے
پروف ريډنګ	شهباز محمد
شمېر	1000
بيعه	~~700~~ روپۍ 500-
اشاعت	اپرېل 2019
اهتمام	عُبېدالله شلماني (M.Phil Geology Scholar)
خوروونکي	تانړه ادبي ټولنه مالاکنډ
چاپ ځائے	عامرپرنټ اينډ پبلشرز پېښور aamirprint2010@gmail.com 0300-9019499

پته: ارشد کريم شلماني محله پلی۔ خپه کلے تانړه مالاکنډ خېبر پښتونخوا

موبائل: 298 9076 333/ 7898 301 301 92+

E.mail: arshadkarimkhan@yahoo.com.arshadkarimkhan86@gmail.com

د تر لاسه کېدو درکونه

۱-البلال فلاحي تنظيم نوجوانان (رجسټرډ) پلی۔ خپه تانړه مالاکنډ

۲- شعېب سنز پبلشرز اينډ بُک سيلرز مينګوره ،سوات

۳- انور خان لالا ، پښتو اکېډيمي بک شاپ پېښور پوهنتون

۴-حبيب ملنګ بُک سيلرز کالج روډ الپوری۔ شانګله

۵- نور محمد جنرل بُک سنټر شمس مارکيټ سهراب خان چوک مېنګوره سوات

۶-نويد عالم شلماني، شلمان ادبي ټولنه .شلمان، لنډي کوتل

فهرست

شمېره	سرټکي	مخ
1	تړون	7
2	ارشد کريم او د هغه "شلماني" (شهباز محمد)	8
3	دارشد کريم تاريخي هڅه	11
4	خپلې خبرې	16
	اول باب	
5	پښتانهٔ څوک دي؟	20
6	د پښتنو په حقله نظريات	23
7	دغه نظريه د ناقدينو په نظر کښې	28
8	پښتانهٔ نسلاً اريا دي	29
9	مختلف نومونه	30
	دويم باب	
10	سلېماني څوک دي؟	57
11	د يوسفرو پېښور ته راتګ	65
12	په اشنغر کښې شلماني	66
13	داشنغر ملک ګېري	68
14	په سوات يرغل	73

15	د سلطان اويس تانيې ته راتلل	75
16	د تانيې جنګ	77
17	د منګلور قلعه	77
18	په تالاش حمله	78
19	په منګلور د يوسفزو دويمه حمله او د سلطان اويس نياګ درې ته تېښته	81
20	د سلطان اويس ځامن	82
21	قلمي تاريخ قبيله سواتي د لال خان مرحوم جاګيردار ګلي باغ	83
22	د سلېماني (شلماني) او مشواني قام موازنه	87
23	"دا شلمانی دے کټې کټې"	89
24	د شلمانسر، سلمنسر، سلمناصر ترون او حقيقت څه دے؟	91
	دريم باب	
25	شلماني د مستشرقينو په نظر کښې	121
	څلورم باب	
26	دېګان، دهقان او دهکان څوک دي؟	141
27	په تاجک قبيله کښې د "سلطان" او "دهګان" تاريخي پس منظر	154
28	د سلطان او دېګان (دهګان) د خطاب استعمال	160
29	د دهګان وضاحت	161
30	د دېګانو خېلونه	170
31	د دېګان قوم استوګنې	170
	پنځم باب	
32	ايا شلماني سرېني پښتانهٔ دي؟	180

	شپږم باب	
33	دره خيبر ته د افريدو نه علاوه د نورو قومونو راتګ	188
	اووم باب	
34	د جهانګيري سلطانانو او مغُلو سره د يوسفزو رشتې	195
35	د يوسفزو د سلطان اوېس سره رشته	202
	اتم باب	
36	جنګ كاټلنګ كښې د شلمانو ګډون	205
	نهم باب	
37	د حضور صلى الله عليه وسلم د حديثو په رڼا كښې د زمكې په ناجائزه قبضه سزا	210
38	وېش(Wesh)	211
39	قابض جاګيردار يا نسلي خلق او علاقائي د زمكو وېش	212
40	د شيخ ملي علاقائي وېش	216
41	په وېش كښې د سېرۍ حېثيت څه دے؟	224
42	د زمكو د وېش مدت څه وو؟	225
	لسم باب	
43	هغه پښتانۀ او نور متفرق قومونه چې په افغانستان او خيبر پښتونخوا كښې اوسېږي	237
44	پټهانان (پښتانۀ) "PATHANS"	242
	يولسم باب	
45	د شلماني قام استوګنې او پېژندګلو	245
	دولسم باب	
46	په تاڼه كلي كښې د شلمانيانو پس منظر	256
47	د عبدالحی بابا المعروف ګوجر خان بابا د اولاد تفصيل	264

48	د عبدالحی بابا زنانه اولاد	266
49	تبرکات مبارک آقائے دوجهان حضرت محمد ﷺ	267
50	د تبرکاتو مبارکو فهرست	268
	دیارلسم باب	
51	د شلماني قام د بعضې وګړو پېژندګلو	271
	څوارلسم باب	
52	د قرآن او احادیثو په رڼا کښې د نسب، خېل او شجرو اهمیت	303
53	د شجره نسب شرعي حېثیت	305
	پنځلسم باب	
54	د شلمانو شجرې	318
	شپاړسم باب	
55	شلماني ادیبان او شاعران	395
56	ستائینې	428
57	خلاصه	437
58	مأخذ	438
59	تصویرونه	456

ترون

۱. د خپل مور او پلار په نوم چې تر اوسه زما تربیت کوي.

۲. د خپلو وروڼو امین الکریم، اروانښاد محمد اجمل خان قادري، محمد ایمل خان، محمد اکمل خان قادري، عبدالله خان، او د خپلو خوئېندو حفصه او جویریه په نوم چې تر اوسه مونږه یو موټی یو.

۳. د خپلو بچو عبیدالله، ایمن، نمره، هاله ارشد، خوش بخت، محمد کریم او د خپلې کوروداني په نوم چې زما د ژوند د هرې خوشحالۍ او کړاؤ ملګري دي او زما سره تر اوسه اوږه په اوږه ولاړ دي.

۴. د خپل خاندان د ټولو مشرانو د مړو او ژوندو په نوم.

۵. د ټولو شلمانو او شلماني قام په نوم چې د وخت څپېړو وهلي دي، خو لا تر اوسه په خپل قامي نوم او شناخت ویاړ کوي او د نړۍ په کومه سیمه کښې چې دي ځان اوس هم شلماني ګڼي.

ارشد کريم او د هغه "شلماني"

دنيا ته چې کله آدم عليه السلام او حوا ابې راکوز شو او د هغوي داولاد ګڼ شو او د نيا په مختلفو سيمو خور شو او بيا د وخت په تېرېدو نور هم سېوا شو. نو د پېژندګلوي د پاره جدا جدا د هرې سيمې خلق په جدا جدا نومونو موسوم شو. چې تائيد ئې الله پاک په خپله په " شُعُوباً وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا " کړے دے.د ادمؑ دغه نسل مزيد په نورو برخو کښې وويشلے شو. جغرافيايي حالات ئې بدل شو. په رنګونو، خويونو، ژبو او جامه پېزار کښې د يو بله تفاوت زيات شو. د ضرورت او د حالاتو مطابق ئې جدا جدا پېشې خپلې کړې.که په دغه تناظر کښې وکتې شي نو واړه انسانان، انسانان دي، د يو ادمؑ او حوا ابې بچي دي. رذيل او اصيل د پېشو په لحاظ مونږ جوړ کړي دي.

د دنيا په جدا جدا ګوټونو کښې دغه انسان څنګه څنګه او کله کله خور شوے دے،څۀ څۀ کارنامې ئې کړي دي، څنګه او په څۀ جوړ ئې نور قامونه مغلوب کړي دي، د هغوي په هر څه ئې کله او څۀ رنګه قبضه اچولي، د مغلوب قام سره څۀ سلوک کړے دے، شړلي ئې دي، وژلي ئې دي او که غلامان کړي ئې دي.او بيا په نور وخت په تېرېدو سره په دغه فاتح قام څه کانې شوي دي .آيا په خپل ځائے کښې پاتې کړې شوي دي او که نۀ بل خوا ته شړلے شوي دي.

د دنيا هر قام د دغه غورځو پرځو نه تېر شوے دے. او تېرېږي، د هر قام متعلق د دغه څو سوالونو د جوابونو لټون او هغه بيا په ليکلي صورت کښې راوستل د هاغه قام تاريخ بللے شي.اوس دا دغه ليکونکي په ايمانداري اړه لري چې دے د دغه قام دغه قسمه حالات په ايمانداري سره د قلم په ژبه کاغذ ته سپاري او که

نا ، څهٔ کی، کوکی، په کښې کوي.
زمونږ په اکثرو تاريخونو کښې دغه کی، کوکی، والـه معامله زياتـه ده.هر چا خپل سوئے باندې کړے دے.او د بل هغه ئې لاندې کړے دے.بلکـه زهٔ خو بـه دا پـه ډېر افسوس ووايم چې بعضې تـاريخ دانانو د بعضې قامونويا قبيلو پـه حقلـه داسې اوتې بوتې ليکلي چې د انصاف د نظر خاوند ئې وګوري او بيا حقيقت تـه وګوري نو سر پرې وچورلي.او زما پـه شـان عـام لوستونکے چې ئې ولولي نو هغه د چا خبره چې رښتيا راځي نو دروغو کلے وران کړے وي.او د مغلوب کړې شوي قامونو تاريخ هم مغلوب کړے شوے وي.
شلماني قـام هـم چې بـه دې سيمه د کلـه نـه مغلوب کړے شـوے دے.نـو غـالبـانو ورسره انصـاف نـهٔ دے کړے.پـه دغـه مظلومـانو کښې يواځې شلمانيان نهٔ، دلته وسېدونکي چې څومره قامونـه او قبيلې دي او دخـاورې (جائيـداد) خاونـدان نـهٔ دي نـو پـه هغـوي خاورې اړولې شوې دي،او دهغـه د رحمـان بابـا خبره چې "پـه هيلـه هيله به غـر د مچ وزر کړے" دومره سپک نظر ورتـه کړے شـوے دے.چې نن ورځې د دغه مغلوبو قبيلو خلقو تـه د خپلې قبيلې پـه نوم ځان بدي ښکاري او پـه ځان د نـورو قبيلـو نومونـه ږدي. خـو د دغـه نـورو قبيلـو او شـلماني قبيلې د خلقـو دا يـو تفـاوت دے چې دوي چې هر ځائے دي او پـه هر څنګه حال کښې دي،ځان تـه ښـهٔ پـه ډاډه زړهٔ شلماني وائي.
ارشـد کـريم شـلماني چې د شـلماني قـام پـه حقلـه څـومره تحقيـق کړے دے د دهٔ دغـه زيـار ټـول زمـا دوړانـدې دے ،نايابـه تـاريخي کتابونـه پيـدا کـول،هغـه پـه بيعـه اخسـتـل ، مختلـف او لـرې لـرې کتابتونونـه چـاڼ کـول،چې کـوم خـوا شـلماني وي پـه هغـوي پسـې تلـل،د خپـل تحقيـق پـه سلسـله کښې د پخوانـو او جديـدو ذرائعـو استعمال ،پـه داسې حالاتو کښې شجرې راغونډول او ترتيبول چې

اوس خو اکثر چا له د خپل پلار نیکه نوم قدر له هم نهٔ ورځي، دا او داسې نور کارونه خو په خُلهٔ وئیل اسان دي خو عمل پرې ډېر ګران دے او د دې سختې لارې هاغه چا ته صحیح اندازه کېدې شي څوک چې په دغه شان لاره یون کوي.

ارشد کریم هم په دغه کاږنه لاره روان شوے، پوره مزلې ئې کړې دي او دغه مواد ئې راغونډ کړي دي او بیا ئې ترتیب کړي دي، دا یقیناً ګران کار دے. په دغه ترتیب او تدوین کښې ئې د تحقیق د جدیدې طریقې نه کار اخستے دے. حوالې ئې مضبوطې دي.

په شلماني قام ددې نه وړاندې چا دومره په وسیع پیمانه جامعه تحقیق نهٔ دے کړے. په یوه موضوع چې په اول سر کښې صحیح نظریه قائمه کړې شي نو ان شاءالله! د هغې نتیجې به صحیح وي. تاریخ لیکل هسې بوس بادول نهٔ دي او زهٔ دا دعویٰ لرم چې ارشد کریم بوس نهٔ دي باد کړي، ډېر کړاؤ ئې کړے دے. پکار ده چې د پښتنو هاغه قبیلې چې خپل تاریخونه ترې د معاشي تنګۍ په سبب ورک شوي دي هغه راولټولې شي. د لټون دا ذمه واري زیاتر د دغه قبیلو د لیکوالو جوړېږي.

د پښتنو هر قبیله په خپل ځائے ډېره قدرمنه ده. پښتون قام د یوې قبیلې نیمې نوم نهٔ دے. دا د بلها قبیلو مجموعه ده. د غنچې هر ګل پهٔ خپل ځائے ښکلے دے.

په درناوي

شهباز محمد

تانه، ملاکنډ

۷ م اپرېل، ۲۰۱۹ء

دارشد کريم تاريخي هڅه

تاريخ د يوې ټاکلې تېرې شوې ورځې د پېښو تذکرې ته وائي، د تاريخ ابتداء مونږ وئيلے شو د کائنات د ابتدائي ورځې سره شوې ده. خو په رسمي توګه انسان د ښارمنتيا د ژوند پيل کولو، ليک لوست او د هنر زده کولو سره د تاريخ د اهميت او د خپل پرون د غوښتنو سره سم خپل سبا ته د اثباتو او ويار له پاره ثبت کول شروع کړي دي.

د تهذيب په پرمختګ کښې دابتدائي ټولنو د وينو رنګونه نن هم په ډاګه ليدے شي.او هر مهذب قوم،قبيلې او رياست د کمزورو ټولنو،قبيلو،قومونواو رياستونو وينې پرېمانې ښځلې او بهولې دي.د هغوي شتمنئ يې بې دريغه تالاکړي دي.او د هغوي نه يې د ژوند حقوق تروړلي او د خپل تهذيب پرمختګ يې پرې ښېرازه کړے دے.

په دې پوهېدل پکار دي چې تاريخ د يوقوم د ژوند ژواک، ژبې، پرمختګ کردارسازئ،اتل ولئ،او کلتور ښکالو وي.د هغوي د رسمونو او رواجونو،عقيدو،خندا او ژړا، د وادهٔ او غم د ويار او پرمختګ ضامن او امين وي.خو له بده مرغه چې په تاريخ او تاريخي پېښو هر اړخيز نظر وغورځوؤ نو په ډاګه کېږي چې تاريخ د يوفاتح فرد،قوم،قبيلې او رياست په خوښه او مرضئ ليکلے کېږي.

مفتوح او مستعمره وګړے ، قوم،قبيله او رياست په دغه تاريخ

کښې يو ظالم، جاهل خودسره او سرکشه رقم کړے کېږي. او د هغوي سرزنش د فاتح قوم فطري حق او انساني فريضه ګڼلے کېږي. او په ټول کمال سره د خپلو شوموغوښتنو د حصول باوجود دغه پېښې کار خير او ضروري اعلامه کېږي.

فاتح قامونه د خپل جاه وجلال، توان او ثروت په مرسته دغه تاريخ لا پياوړے کوي. مفتوحه غړے، قوم، قبيله او رياست چونکې د خپلې کمزورۍ، بې وسۍ، بې سوادۍ او د ژوند د بقاء په زغل کښې دا توان نۀ لري چې د هغوي خلاف شوے زور زياتے راتلونکي اولس ته منتقل کړي. او نه فاتح او استعماري قوتونه هغوي ته دا اجازت ورکوي. په بله معنى کښې تاريخ هم لکه د قوانينو د غټانو خلقو د مرضۍ، د هغوي د مرستې او د هغوي د مفاداتو د تحفظ له پاره ليکلے کېږي. د هغوي د ظلمونو پټولو او يا روا ثابتولو د جواز له پاره وضع کېږي او ليکلے کېږي. په هغې کښې يواځې د فاتحانو د اتل ولۍ او بهادرۍ قيصې او کارنامې رقم کېږي.

ډېرې کمې پېښې به داسې وي چرته چې تاريخ رښتونے دے. او د رښتياؤ اعلان کوي. چې پرون يا هغه بله ورځ يا لس شل کاله وړاندې داسې پېښه شوې وه. زياتره ليکلے شوے تاريخ دروغژن دے. د حق ښودلو د لارې نه بې لارې کړے شوے دے. هره حقه پېښه که د بااَثره، غټانو او استعماري ذهن اوسوچ لرونکو خلقو په ضد تمامه شوې ده. د هغوي تور عملونه په کښې په ډاګه په نظر راځي. د هغوي د څېرې نه پرده لرې کوي. هغه پېښه د تاريخ د پاڼو ښکلا هډو جوړه کړے شوې نه ده. بلکې چې څۀ هغوي

غوښتل هغه نه دي شوي يا د هغوي په ضد تمام شوي دي. د هغې برعکس يې تاريخ له د خپل اثر و رسوخ په زور سترګې تورې کړې دي. او خپلو ځاني غوښتنواو ګټو ته يې سم کړے دے.
اکثر د مفتوحه قامونو سم تاريخ ته هم ګوته نيوے شي. چې ناسم دے. هغه ځکه چې کله په مفتوحه قامونوکښې د بيا بېدارۍ ځيره ليدے شوې ده. د هغوی ددغه بخرکي د لمبه کولو له پاره اکثر يومخالف د بل مخالف په ضد تاريخي رښتونولي وضع کړې ده. چې زياتره برخه يې په دروغ ګويۍ ولاړه ده. يا د کلونو او صدو تېرېدو وروستو مېنځه ګړو او يا د مفتوحه قوم او رياست وګړو دغه تاريخ د نوي سره په قياساتو، حکاياتو، رواياتو او نتائجو په بنسټ وضع کړے دے. چې په کښې د رښتياؤ په نامه د دروغو انبارونه ځائے کړے شوي دي.
دغه مستعمره قوم، قبيلې او د رياست حالت زار نن هم د دغه قوم د بهادرۍ، مقاومت او اتل ولۍ تول تېر تاريخ ډېر په سپينو او کلکوسترګو دنيا ته وړاندې کوي. او په چغوچغو وائي چې که ستا تېر تاريخ د بهادرۍ، اتل ولۍ او مقاومت په زړۀ پورې ښکالو وې نوتتائج به هم ستا په حق کښې وو. خو ته صرف په خوبونو کښې ژوند کوې په قياساتو بروسه کوې ، د عمل نه تېښته، ستا د دغه بې سواده عملياتو نتائج نن هم ستا د اننګو نه ځاځي.
د تاريخ په حواله که پورته ذکر شوې رائې سمې وي نو مونږ ډېر په ډاډه زړۀ او ارته سينه په چغو چغو وئيلے شو چې تاريخ د جابرانو او ظالمانو خلقو، حکمرانانو او باأثره خلقو د حقوقو او عملياتو د لاپياوړي کولو او د هغوي دغه تورو عملياتو له د جواز پېدا کولو

دروغژني پېښې دي.چې نه د عام اولس او نه د وخت د پرون او سبا په ګټو تمامېږي.او نه د تهذيب په پرمختګ کښې کومه د کار ونډه لري.نو پکار دي چې دغه د تيارو کاروان ته ګوته ؤنيوې شي.هغه قلعه چې په کښې سرې خورې بلاګانې ژوند کوي ؤنړولې شي دغه زمونږ په حال او مستقبل راپسې بلا ووژلې شي.خوا يا مونږ ځان تيار کړے دے؟ چې نن هغه اتل ولي،نرتوب او مقاومت په ځان کښې عملي طور پېدا کړو.د ظالم او جابر خلاف لکه دغره ودرېږو د مظلوم په سر لکه د چتر ډال وکړو.او د دغه دروغژن تاريخ په ځائے خپل سبا ته د رښتياؤ د تاريخ اثبات وړاندې کړو.

دا موجوده کتاب "شلماني" چې ارشد کريم شلماني د خپل قام لرغونے تاريخ کوم چې دوخت په ګردونو کښې پټ پروت وو، هغه ئې يو ځل بيا سنګار کړو په دې هيله چې شلمانے قام او د هغوي راتلونکے نسل د خپل تاريخي پس منظر نه پوره پوره خبر شي اواستفاده ترې وکړي.

د موصوف دا تاريخي هڅه په ډېرو صداقتونو مبني ده. ولې چې په تاريخي کتابونو کښې هر فاتح قام خپله درنه او د زير کړي قامونو سپکه په تحريري صورت کښې د تاريخ پاڼو ته سپارلې ده.موصوف تر ډېره حده پورې د دغې عيب نه ځان ژغورلے دے. او دا جرأت ئې کوي چې د ځان سره لوستونکي هم د صحيح تاريخ نه باخبر وساتي.کېدے شي چې ځنې تاريخ دانان د هغوي دې تاريخي هڅې ته په دروند نظر وګوري او ځنې مفاد پرست تاريخ دانان ئې نظر اندازه کړي ولې چې په معاشره کښې اوس هم لکه د

تېر وخت درباري تاريخ ليکونکي موجود وو او اوس هم شته چې هغوي د څهٔ لالچ په غرض دغه تاريخي بابونه د خپلو جېبونو د تودولو په غرض اړوي را اړوي او ردو بدل په کښې راولي. خو زمونږ موصوف ته دا اعزاز حاصل دے چې بې غرضه د خپل شلماني قام مسلم تاريخ نورو لوستونکو ته وړاندې کوي چې د ډېر داد او ستائينې وړ دے.

هيله لرم چې موصوف به يواځې په دې زيار اکتفااو نهٔ کړي بلکې د نورو قامونو او قبيلوپه حقله به هم ګټهور تاريخي معلومات را وړاندې کړي ولې چې دے اوس دغه تاريخي معلومات او د ليک استعداد لري.

سالار یوسفزے
کوزه درشخېله متهٔ سوات
۹ اپريل ۲۰۱۹ء

خپلې خبرې

تاريخ لوستل په هغې ځان پوهه کول او بيا د هاغې تاريخ يوه خاص موضوع د ليک د پاره منتخب کول په کومه چې ليکوال ليک يا څېړنه کوي يو اهم کار دے. د دغې څېړنې د پاره د ډېرې لوئې سرمائې او وخت ضرورت وي. د کومو په ذريعه چې دغه کار سرته رسي، دغه کار يقيناً چې لوئې زړۀ او صبر غواړي. هوښياران وائي هر هغه کار ته لاس مۀ اچوئ چې د بل نه پکښې د مدد اخستو ضرورت وي او دا ځکه چې څوک به دې قېمت نۀ شي لګولے. دا هم يوه ښۀ خبره ده خو يو خدائے ښۀ دے. چې انسان وي نو بل انسان ته به ئې خامخا ضرورت پېښيږي.

په څېړنه کښې به ليکوال د مشاهداتو(Observations) نه کار نۀ اخلي. بلکې د څېړنې د پاره چې کوم بنيادي لوازمات او حقائق وي د هغې پيروي به کوي. ځکه خو اکثر څېړنکارد داسې قسمه څېړنو نه ځان په ډېره ساتي. ولې چې حوالې ور له ضروري وي. او وجه ئې دا وي چې مقصد فوت نۀ شي. بلکې په داسې طريقه لوستونکو ته وړاندې کړې شي چې هغوي د ماضي او حال سره وتړلې شي او لوستونکي د ليکوال سره اوږه په اوږه او قدم په قدم روان شي. کله چې لوستونکي د ليکوال رائې او ليک خپل وګڼي نو دغه زما په خيال چې څېړنه ده.

د شلماني قام په حقله چې څنګه په مختلفو کتابونو او ادوارو

كنبې بيان شوے دے او يا د رواياتو مطابق سينه په سينه د دې قام پېژندګلو شوې ده، كومې رائې چې ظاهرې شوې دي ،دلته هم په دغې اكتفاء شوې ده.د مختلفو كتابونو زنځيرۍ د يو بل سره تړلې شوې دي. چې په دې كتاب " شلماني" كنبې راغونډ كړے شو.د دې كتاب د پاره چې كوم كتابونه ،كتابتونونه او د نيټ د لارې مختلفې ذريعې لټولې شوي دي. په دې خوا و شا څلور كاله اولګېدل.چې د چا نه هم دا اورېدې شوې چې په فلاني كتاب كنبې د شلمانو په حقله ليك شوے دے،نو هغه كتاب تر لاسه كړے شوے دے او خبره سر ته رسولې شوې ده.

د نثر او خصوصاً د څېړنې په مد كنبې دا اولنے زيار دے.

تر اوسه چې په مختلفو كتابونه او رسائلو كنبې د شلماني قام په حقله كومې تذكرې شوې دي هغه په زړۀ پورې نۀ دي.د الله پاک په مهربانۍ او د يارانو دوستانو په خصوصي توجه او مشورو د تاريخ د كتابونونه هغه ټوټې راغونډې كړې شوې او نن الحمدالله دغه ټوټې د يو كتاب په شكل كنبې ستاسو په لاسو كنبې دے.

تحقيق يو نۀ ودرېدونكے كار دے.بنياد شلمانو ته كېښودے شو او را روان نسل به پرې ان شاء الله عمارت ودروي. تحقيق د ليك لوست په عمل كنبې يو ځانګړے او وخت طلب كار دے. د دې كتاب د پاره د مواد راټولو په وخت دا خبره په نظر راغله چې مختلفو څېړنكارو اكثر يو مخيزه كار كړے دے او نورې قبيلې ئې نظر اندازه كړې دي.

ما چې كوم معلومات راغونډ كړي وو اوس دغه معلومات ترتيب كول زما د پاره يو لوئے چېلنج وو.چې حوالې هم په جديد

طريقه ورکړې شي او ترجمې هم په داسې طريقه وکړې شي چې مقصد ئې واضح وي. د کتاب د ترتيب په دوران کښې مختلفې طريقې پکار راوستې شوي وې. د هرې موضوع نوم ليکل ،نوټس اخستل، مختلف بابونه تقسيمول او د هغې د پاره د موضوعاتو انتخاب کول يو لوئے زړۀ سترے کار وو. دغه تکنيکي مرحله وه چې اخر پوره شوه.

زما دا ګران کار چې ما ته چا اسان کړے وو او په خلاص مټ ئې زما سره مدد کړے وو په هغې کښې زما والد محترم د قدر وړ دے. د انګرېزۍ ژبې زيات تره ترجمې او د هغې تصحيح ئې راسره کړې ده. زه ئې د دغه کړاؤ ډېره شکريه ادا کووم او د لوئے ژوند د پاره ئې دعاګو يم.

زما استاذ او د ترور ځوے شهباز محمد ما له مختلف کتابونه په دې موضوع راکړي وو ،په خپل خرچ ئې فوټو سټېټ هم کړي وو. چې ماته ئې د کتاب په ليک کښې اسانتيا جوړه کړې وه. وخت په وخت د کتاب په ترتيب ،ليک او پروف کښې ئې زما مدد کړے دے. د دې زيار ئې د زړۀ د تله منت بار يم.

د ملګري سالار يوسفزي هم نړۍ مننه کووم چې په خپل ګټور ليک ئې زما دې کتاب ته ښکلاء وبخښله.

د خپلې مور ،کور ودانې، د لوڼو او ځامنو هم شکريه ادا کووم چې په دې کار کښې ئې زما سره هر قسمه اخلاقي، مالي او روحاني مدد کړے دے.

د شلمانو ورونو عمر رحيم، امان خان، شفيق احمد (پروېز) ،سيد احمد خان، ډاکټر امجد علي خان، فضل داد خان (DSP)، فضل

ربي (شاپور)، محمد عرفان، عالمزېب، محمد ايوب، امداد خان ،عزيز الله خان، خورشيد جهان، مؤمن خان لالا، رشيد خان، محمد عارف خان، عثمان علي او ملګري ناصر علي (لونګين يوسفزے) او د مولانا ګوهر رحمان صېب د اخلاص يو جهان مننه کووم.

د ټولو نه ګران کار د کتاب کمپوزنګ وي او دغه ګران زما ملګري ليکوال محمد زاهد (شباب رانيزي کړے دے. دے ملګري دا کار په خپل صبر، تحمل او نرمه لهجه اخر

چې سرته ورسوو. زۀ ئې د دې کار ډېر ممنون يم او د روغ صحت د پاره ورته دعاګو يم.

د نيت د لارې د مختلفو کتابونو او بيا د هغې نه پرنټ اخستل هم يو لوئے کار وو چې زما ګران خوي عبيد الله په روڼ تندي تر سره کړے دے. زما کشر خوي محمد کريم هم زما سره همکار وو د دوي د لوئے ژوند د پاره دعاګو يم.

ارشد کريم شلماني

تانه ملاکنډ

۱۴ اپريل م ۲۰۱۹ء

اول باب

پښتانهٔ څوک دي؟

که مونږ د تاريخ د پاڼو پلټنې وکړو او وګورو نو مونږ ته د پښتنو د اصل نسل په حقله د ډېرو څېړنکارو که مسلمانان دي او که مستشرقين دي، د هر يو جلا جلا رائې به په نظر راشي.ددې نه پرته د پښتنو د قبيلو ساخت ،لباس، خوراک څښاک، ژبه، بودوباش ، تمدن، مشترکه ورثې ، قبائلي ژوند او استوګنه مونږ ته دا ښائي چې دوي دکوم ځائے سره تعلق لري يا په بيل بيل وختونو کښې دا قام د کوم ځايه راغلے دے. او بيا څنګه په مختلفو پرګنو ،طبقو، قبيلواو شاخونو کښې تقسيم شوے دے.ايا دا تقسيم د ژبې په لحاظ شوے دے؟ د چاپېرچل يا د علاقې د طبعي ساخت په لحاظ شوے دے؟ يا په جسماني جوړښت او که په رنګ شوے دے؟اوس دا سوالونه هم پيدا کېږي چې:-

د قبائلو دا تقسيم څنګه شوے دے؟چا کړے دے؟ کله شوے دے؟او که چرته ددې سوالونو ځوابونه ورکړے شي او يا موجود وي نو ايا دا کوم تاريخ چې تاريخ دانانو ليکلے دے ددې حوالې د څۀ نه اخستې شوې دي؟ که چرته ددې سوالونو جوابونه تلاش کړې شي او ليک ته اوسپارلے شي نو په دې به ډېر لوئے لوئے

کتابونه او هم کتابتونونه به په وجود کښې راشي.
د ذاتي کتابونو پنګه به هم جوړه شي خو باوجود ددې به بیا هم دا کار نیمګړے پاتې وي.
د بر تاریخ دانان ،لیکوال تر دې حینه که خپلې هڅې جاري وساتي او نوې نوې پلټنې وکړي. نوخدائے خبر چې تر کومه حده پورې به دا کار جاري وي.
راقم الحروف چې تر کومه حده پورې څومره کتابونه او یا نورې ذریعې وکتلې که چرته د یو یو کتاب نه یوه یوه حواله هم راواخلم او حوالې ئې ورکړم نو ددې نه ځان له یو بیل ضخیم کتاب جوړیږي. دلته ما د اختصار نه کار اخستے دے او څومره چې کبدے شوه ما لیک ته وسپارۀ.
هغه کتابونه یا تحقیقي مقالې چې په هغوي کښې دا ښودلې شي. چې پښتانۀ د قېس عبدالرشید اولاد دے او یا نۀ دے؟او یا واړه پښتانۀ د قېس عبدالرشید د اولاد سره تړي. صرف په دې به اکتفا وکړم چې زۀ د هغې حوالې ورکړم ،خو هم دغه لیکوال په بشپړه دلائلو د خپلې خبرې دفاع هم کوي.چې ایا پښتانۀ څوک دي؟
الله تعالیٰ فرمائیلي دي:
يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾
"خلقه مونږ تاسو د یو سړي او یوې ښځې نه پیدا کړئ او ستاسو قومونه او قبیلې مو جوړې کړې. ددې د پاره چې د یو بل شناخت

اوکړے شي.او د الله په نزد په تاسو کښې زيات او د عزت خاوند هغه څوک دے څوک چې زيات پرهېزګاره وي.بې شکه الله پاک په هر څۀ پوهه او د هر څۀ نه خبرداره دے." ١

حديث دے چې:

وَالنّاس بنو اٰدم وخلق الله اٰدم من تراب.

" ټول انسانان د آدم عليه السلام نه خلقت کړې شوي دي او آدم عليه السلام د خاورې نه زېږېدلے دے." ٢

◈◈◈

د پښتنو په حلقه نظريات

د پښتنو اصليت(Origin) معلوموول په تاريخي حوالو سره ډېر يو ګران او طلب وخت کار دے. مختلفو مفکرينو په دې حقله خپلې خپلې رائې څهٔ په دې ډول څرګندې کړې دي. چې د د دوي په مېنځ کښې ښهٔ واضحه اختلاف موجود دے. دلته هغه نظريات وړاندې کولې شي کوم چې زيات معروف دي:-

١. پښتانهٔ د اسرائيلو د نسب نه دي.

٢. پښتانهٔ د يوناني نسل نه دي.

٣. پښتانهٔ په اصل کښې ساکائي (Saka) دي.

۴. پښتانهٔ دقبطي نسل نه دي.

۵. پښتانهٔ بني قطوره دي.

۶. پښتانهٔ آريا (اريائي) دي.

په دې بره نظريو کښې چې کومې دوه نظريې ډېرې عامې دي او د تاريخ پوهان پرې عقيده لري، دا دي:

١. پښتانهٔ د اسرائيلو د نسب نه دي.

٢. پښتانهٔ آريا (اريائي) دي.

محققينو او مختلف ليکوالو په دې بره دوه نظريو تر ډېره حده پورې تحقيق کړے دے. چې زهٔ ورسره په ډېر ادب اختلاف لرم. ځکه چې پښتانهٔ ځانله يو حېثيت لري او د دې ذکر شوو نسلونو نه ډېر زوړ نسل دے. د پښتنو خپل خاص خويونه او

رسومات دي چې د دوي سماجي او معاشرتي ژوند پرې اډانه
دے چې ورته پښتون ولي وائي.
دلته کښې زۀ د دغه دوه ذکر شوو نظریاتو خلاصه وړاندې کوم او
د هغې جائزه پېش کوم.

۱.پښتانۀ بني اسرائیل دي:د پښتنو د اصل نسل او نسب په حقله
زړه او معروفه نظریه دا ده چې دا خلق د اسرائیلو د نسل نه دي.دا
نظریه خواجه نعمت الله هروي پېش کړې ده چې دۀ په خپل کتاب
"تاریخِ خان جهاني و مخزنِ افغاني" کښې په دې باندې بحث
کړے دے.د دې نه پرته ددې نظریې اصل محرک محمد قاسم
فرشته دے.هغه د مطلع الانوار نومې کتاب په حواله سره دا
خبره کړې ده محمد قاسم فرشته لیکي چې:
"کتاب مطلع الانوار د یو معتبر مصنف کتاب دے چې دا کتاب
ما په برهانپور خاندېش کښې لوستے وو. چې په هغې کښې لیک
دي چې پښتانۀ قبطي فرعوني دي.په کومه زمانه کښې چې
موسیٰ په فرعون غلبه حاصله کړې وه په هغه زمانه کښې قبطي
قوم توبه ویستې وه او په دینِ موسیٰ ئې ایمان راوړے وو.لیکن
په دې قبطیانو کښې یوه ډله داسې هم وه چې دوي راهِ راست ته
رانغلل او د فرعون سره د دوستۍ نه او د هغه د خدائے منلو نه
اوړېدو ته تیار نۀ وو.
ددې په نتیجه کښې دغه ډله اوشړلې شوه او دغه ډله هندوستان
ته راغله .او په کوهِ سلېمان کښې متوطن شوه.ددې ډلې نه ډېرې
قبیلې پېدا شوې چې د افغانانو (پښتنو) په نوم مشهورې شوې.

د نعمت الله هروي نه پس ډېرو ليکوالو چې په کښې اخون درويزه بابا ، خوشحال خان ختک ، حافظ رحمت خان، خان روشن خان، الله بخش يوسفي ،غوث خېبري، افضل خان بنِ اشرف خان بنِ خوشحال خان ختک، اثر جان، محمد عمر رونډ مياخېل، پروفېسر انور رومان، شېر محمد خان ګنډا پور، سراج احمد علوي، مُنشي ګوپال داس، کامران اعظم سوهدروي، محمد اقبال خان تاجه خېل نيازي، غازي بنِ محمد (اردن) او انور بېګ باغي(بونېر) او داسې نورو پوهانو په خپلو کتابونو کښې ددې نظريې تائيد کړے دے. ددې نظريې اهم نکات دا دي:-

۱. ددې نظريې مطابق د پښتنو اولنے مؤرثِ اعلىٰ افغنه بنِ ارميا بنِ طالوت دے.

۲. طالوت د بني اسرائيلو وړومبنے بادشاه وو. دۀ په بنې اسرائيلو باندې ۲۷ کاله حکومت کړے وو. او بيا دۀ حضرت داؤد ﷺ خپل جانشين جوړ کړو او سره د خپلو لسو زامنو د کافرو سره په جنګ کښې شهيدان شو.

۳. د طالوت د مرګ نه پس د دۀ دوه ځامن پېدا شول چې د يو نوم برخيا او د بل نوم ارميا وو. حضرت داؤد ﷺ ددوي روزنه وکړه او چې کله لوئے شول نو برخيا ئې خپل وزير اعظم او ارميا ئې سپه سالار جوړ کړو. دواړه ۳۹ کالونو پورې په خپلو عهدو فائز وو او بيا وفات شول.

۴. حضرت داؤد ﷺ د ۱۲۰ کاله حکومت کولو نه پس وفات شو او د دۀ په ځائے حضرت سلېمان ﷺ د اسرائيل بادشاه شو. ددې نه پس د برخيا ځوے آصف دۀ وزير اعظم او د ارميا ځوے افغنه

خېل سپه سالار وټاکلو. د هېکل سلېماني تعمير هم د افغنه په نګرانۍ کښې شوے وو.

۵. پښتو ژبه د عبرانۍ ژبې منقلب (اوړېدلے / پاستر) شکل دے دا ژبه حضرت سلېمان ﷺ ته جناتو ښائيلې وه. په دې ژبه کښې به حضرت سلېمان ﷺ د آصف او افغنه سره د راز خبرې کولې.

۶. حضرت سلېمان ﷺ په بني اسرائيلو باندې ۸۰ کاله حکومت کړے وو. او بيا وفات شو. د دۀ نه شل ورځې پس آصف او افغنه هم وفات شول.

۷. د حضرت سلېمان ﷺ د وفات نه پس بنې اسرائيل د خدائے د حکم نه باغيان شول. ددې په نتيجه کښې الله پاک په دوي باندې بخت نصر مسلط کړو. چې هغه په بيت المقدس باندې حمله وکړه په زرګونو يهوديان ئې مړه کړه او په زرګونو ئې قېديان کړل. بابل ته ئې اورسول او بني افغان ئې د شام نه وشړل. او هم دغه خلق بيا د افغانستان علاقو غور، غزني او کابل ته راغلل. د افغنه اولاد په ايران او افغانستان کښې سکونت اختيار کړو او ددې ځايه په دې ټوله سيمه خواره شول.

۸. کله چې حضرت محمد ﷺ د مکې نه مدينې منورې ته هجرت وکړو نو حضرت خالد بنِ وليد ؓ چې کوم کسان، چې د اسرائيلو د نسب نه وو (د مؤرخينو مطابق) د غور هغه بني اسرائيلو له ئې د اسلام قبلولو دعوت وکړو. د هغوي يو وفد چې په ۷۲ کسانو مشتمل وو د خپل سردار قېس عبدالرشيد په مشرۍ کښې د حضور ﷺ په خدمت کښې مدينې منورې ته حاضر شو او اسلام ئې قبول کړو.

۹. حضور ﷺ ددې وفد د مشر نوم قېس په عبدالرشيد بدل کړو او د "بطان" خطاب ئې ورله ورکړو. او و ئې فرمائيل چې دا زما د دين بطان دے. بطان د عربۍ ژبې توري دے چې معنیٰ د هغه لرګي [ساج]ده کوم چې د سمندري جهاز يا کشتۍ په وېښ کښې لګي. مطلب دا شو چې د دينِ محمدي ﷺ ته به استحکام دا خلق ورکوي.ددې نه بيا پټهان جوړ شو.

۱۰. بيا دغه وفد په غزوه احد کښې برخه واخسته او حضرت خالد بنِ وليد رضی الله عنه د خپلې لور بي بي ساره [بعضې ليکوال وائي چې دا د خالد بنِ وليد رضی الله عنه خور وه]واده د قېس عبدالرشيد سره وکړو.

۱۱. ددې نه پس بيا دا وفد وطن ته راستون شو او د دينِ اسلام په تبليغ او اشاعت کښې بوخت شو.

۱۲. قېس عبدالرشيد د ووه اتيا (۸۷)کالو په عمر کښې په ۴۰ھ کښې وفات شو.د دهٔ درې ځامن چې سړبن ،غورغشت او بيټن نومونه ئې وو.

چې د دې ځامنو نه دا ټول پښتانهٔ وزېږېدل او دغه شان ډېرو مستشرقينو ددې نظريې حمايت کړے دے.

◈◈◈

دغه نظريه د ناقدينو په نظر کښې

ترډېرې مودې پورې دا نظريه معروفه او مقبوله وه. ليکن باوجود د خپلې معروفتيا په دې باندې ډېر ټکونه وشول. چې په کښې د مشرق او مغرب ليکوال، پوهان ،تنقيد نګاران او دانشوران شامل دي.

په دغه ناقدينو کښې مارګن سټائرن (MORGENSTIERNE) سرپرسي، سبائکس، عبدالرحيم، عبدالحئ حبيبي او سيد بهادر شاه ظفرکاکاخېل ډېر ښکاره دي. دلته مونږ د سرپرسي سبائکس رائې را اخلو هغه وائي چې:

"د هغه اهلِ قلمو چې پکښې بيلو [Henry Walter Bellew] او هولډچ هم شامل دي. په دې نا معقولتيا احتجاج پکار دے. چې دوي وائي چې افغان (پښتون) د اسرائيلو د هغې ورکې ډلې نه دے. په حقيقت کښې دا سينه په سينه راغلے روايت دے چې په مسلمانانو کښې خور شوے دے. او دا وئيلے کېږي چې پښتانهٔ د ساول (طالوت) اولاد دے. او ددې دپاره دا مثال پېش کوي چې د پښتنو پوزې لکه د اسرائيليانو اوږدې ،لوړې (تېره) دي. ليکن دا خصوصيت صرف په پښتنو کښې نهٔ دے بلکې د کشان (کشن) بادشاهانو په مجسمو کښې هم دے. خو د کشانو (کشن) په رګونو کښې قطعًا د عبراني وينې څهٔ اثار نشته دے."

دا مذکوره نظريه په جديد تحقيق او سائنسي څېړنې (ډي آکسي رائبونيو کليک ايسډ Deoxyribonucleicacid(DNA) په رڼا کښې

هم قابلِ قبوله نۀ ده.ځکه چې نوي ماهرين لسانيات و نسليات [Researchers of Genetics]نوي نظريه وړاندې کړه.دوي وائي چې پښتانۀ آريائي دي.

پښتانۀ نسلاً اريا دي

في زمانه د ټولو مشهوره نظريه دا ده چې پښتانۀ د آريايي قبيلو نه يوه قبيله ده.ددې نظريې منونکي مستشرقين او پښتانۀ دواړه ډلې دي.

په دې کښې د پښتنو د سيمې عبدالحئ حبيبي او سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل ښکاره کسان دي.

د بهادر شاه ظفر کاکاخېل دلائل دا دي:

۱. په ويدي دور کښې چې په پښتونخوا کښې کوم اريا قبيلې اوسېدې،په هغوي کښې يوه قبيله پکهت ياپکهتا وه [پکت.پکتيا] دغه پکهت يا پکهتا نن هم د لفظي تغيّر سره دپښتون په نوم موجوده ده .

۲.په رګ ويد کښې چې د کومو لسو قبيلو د جنګ ذکر دے،په هغې کښې پکهت هم شامله وه..

۳.ددغه لسو قبيلو د جنګ په زمانه کښې او ددې نه پس د هرې قبيلې خپل مخصوص نوم او ساخت هم يو شان وو. او هم دا دوه څيزونه د يو نوم د تشکيل اجزائے ترکيبي (Ingredients) وي.

۴.دا خبره د ذکر وړ ده چې د پښتونخوا د ارياؤ د پنجاب د آرياؤ سره هيڅ قسمه تنازعه نۀ وه. او نۀ ئې په دې جنګ د آرياؤ کښې

څۀ ذاتي فائده او يا په زمکه قبضه کول حدف وو. ځکه چې د دوي په مېنځ کښې د شمالي پنجاب آريا ترمېنځه يو دېوال وو. بيا ولې د پښتونخوا آريا په جنګ کښې شامل شول؟

۵. په دې جنګ کښې د پښتونخوا د آرياؤ شاملېدل يو نفسياتي عمل وو. او هغه دا چې د پښتنو په موجوده دور کښې يو نۀ ليکلے شوے ضابطه حيات [هغه قانون چې قبائلو ځان له په خپله د زمانو راسې جوړ کړے دے.] چې پښتانۀ ورته "پښتونولي" وائي په هغې من وعن عمل کوي او د يو بل په ضرورت کښې مدد کوي. بهادر شاه ظفر کاکاخېل پښتانۀ بني اسرائيل ګڼلو نظريه د يوې افسانې نه زيات نۀ تسليموي.او نۀ ورله دومره اهميت ورکوي.ځکه چې افسانوي روايات د تاريخ درجه نۀ شي موندلے.

مختلف نومونه

پښتانۀ په جدا جدا نومونو باندې په مختلفو وختونو او علاقو کښې ياد کړے شوي دي.لکه څنګه چې محمد شريف خان پني ددې نومونو څۀ په دې ډول ذکر کړے دے.

"هغه علاقې په کومو کښې چې اکثر پښتانۀ په عام طور سره استوګن دي يا استوګنه کوي.دغه پښتانۀ د افغان د نوم سره سره په نورو هېوادونو کښې په اغوان ،باغبان ،اوغان ،کابلي ،قندهاري، افغانيه، سلېماني ،بني آصف ،بني اسرائيلي، بني افغنه،پختون،پشتون،بني افغان، روهيله، دوي ته په عام طور باندې پښتانۀ وئيلې کېږي.ليکن ددې باوجود بعض سياسي

كسان اوس هم په "پختون "او" پشتون" په وئيلو پورې نښتي دي او زور پرې وركوي."

دغه شان يو بل ليكوال او محقق سردار شېر محمد خان ګنډا پور [تواريخ خورشېد جهان] په اسرائيلي نظريه خپله تبصره په دې رنګ كوي او وائي چې:

" دلفظ افغان، سلېمان، پټهان، او پښتون (پشتون) په بيان كښې وائي:-

د هندوستان زيات تر خلق لفظ افغان، پټهان او پشتون (پښتون) مترادف الفاظ ګڼي. ليكن ددې الفاظو وضع او حقيقت جدا دے يعنې افغان او پټهان په لفظونو كښې د عموميت او خصوصيت فرق دے. دا ځكه چې هر افغان، پټهان نۀ شي كېدے، ځكه چې خالد بن وليد افغان وو ليكن پټهان نۀ وو. او د قېس عبدالرشيد اولاد پټهان نۀ دے. او هر پټهان افغان نۀ دے١. لهذا د قېس عبدالرشيد اولاد افغان هم او پټهان هم دے. ځكه چې دوي د پټهان د شاخ نه وو.

ددې اجمال (مجمل، غېر واضح) مطلب دا دے چې اول د ګروه د افغنه بن ارميه ساؤل مُلقب به ملك طالوت بادشاه بني اسرائيل چې د حضرت داود عليه السلام په عهد نبوت او خلافت كښې په وجود كښې راغلل، او د افغان سره اوتړلي شول يا د افغان په نوم ياد شول. خو چې كله دحضرت سلېمان عليه السلام په عهد نبوت او خلافت كښې دوي ته خاص مقام وركړے شو نو دوي د سلېماني په نوم ياد كړے شول.

د حضرت سلېمان عليه السلام د عهد نه واخله تر د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د

وخته پورې دا خلق په عجمو کښې په افغان او په عربو ملکونو کښې په سلېماني يادېږي."

الله بخش يوسفي د لفظ افغان په حقله د اسرائيلي نسب نامو په حواله په خپل تحقيق کښې څۀ دا رنګه وائي:-

"افغان په خپله خپل نوم" افغان بنَ ارميا"بنِ طالوت سره تړلے دے.او د بخت نصر په عهد حکومت کښې دوي د هرات (افغانستان) د شمالي مشرق لورې ته د غور او او فيروزه په غرونو کښې اباد شوي وو.د څۀ مؤرخينو دا خيال دے.چې حضرت سلېمان عليه السلام په خپله دوي د سلېمان په غرونو کښې اباد کړي وو.نو ځکه تر دې حېنه دوي د سلېماني په نوم يادېږي.

د نوي تحقيق په رڼا کښې هم دا وئيلے کېږي چې لفظ افغان به د بني اسرائيلو د يوې قبيلې يا ګروه د پاره استعمالېدو.چې د دوي د مؤرث اعلىٰ نوم افغانه وو.چې ترې لفظ افغان مشتق دے.

ددې خيال په تائېد کښې وئيلې شوي دي چې هخامنشي [۵۵۰ ق م نه تر ۳۳۱ ق م] به چونکه د غرونو اوسېدو عادت وو.په دې وجه دوي په خپله د بخت نصر په زمانه کښې په غرونو کښې اوسېدل خوښول.

ددې نه علاوه څۀ قبائلو په عربو کښې د مدينې شريفې سره نزدې خېبر،طائف،لهج،او عدن لورې ته لاړل.او زياتو پکښې د هرات او غور (افغانستان) لورې ته مخه وکړه."

په خېبر (عربستان) کښې د افراء،لهج،او عدن اوسېدونکي نن هم خلق د"ادبالي" او افغاني" سلېماني په نوم يادوي. د عربو هم

دا رائې ده چې افغانان د بني اسرائيلو د قبيلو سره تعلق لري او د حضرت سلېمان عليه السلام کورنۍ ئي ګڼي.

.دلته د محمد عباس مدني رائې دا ده او زړۀ تـه نـزدې هم ده ،دې وائي چې :

" ټول قومونه او قبيلې په يو رنګ کښې رنګ شوې دي او د "ملت افغان" په نوم يادېږي . رښتيا خبره خو داده چې د افغانانو د نسـل او قوميـت پـه حقلـه دومـره اخـتلاف دے چـې دا حقيقـت معلومول ډېر ګران دي."

ددې تاريخي حوالو نه دا څرګندېږي چې پښتون يا پشتون په مختلفو ادوارو کښې په مختلفو نومونو يادېدو. ځکه زمونږ د څېړنکارو تحقيقونـه جانداره او متنوع دي . ددې اختلافاتو يوه وجه دا هم کېدې شي چې پښتانۀ قبائل دومره زاړه قومونه دي چې د دوي په حقله معلومات او تاريخي حوالې ډېرې کمې په لاس راځي چې د نشت برابر دي.دا ځکه چې د دوي د نومونو ، شجرو او نسليت په حقله مختلف نظريات وړاندې کولې شي.د مشرق او مغرب د محققينو او دانشورانو تحقيقات په عمومي توګه تجزياتي (Situation Analysis) دي".۳

د پښتنو د نسلي څېړنې کار داسې دے لکه د ګانۍ غوايه چې چورلي او د کوم ځائے نه چې روان شي او بيا هغه ځائے ته راشي.ددې سره ډېر خلق اتفاق لري او ډېر نۀ!

دا کار به راروان نسل ته پرېږدو چې دوي هم پکښې خپله برخه کار وکړي.

يو بل محقق محترم اثر جان د "سلېماني" د سرخط لاندې د

خپلې رائې اظهار داسې کوي او وائي چې:-

"د افغانانو دا نوم ډېر پخوانے دے. ورومبے عرب مؤرخینو دا قام عموماً په دې نوم سره یاد کړے دے. د خلاصة الانساب مطابق پخوا زمانه کښې د ملک شام د کوهُ سلېمان سره د تعلق په وجه دوي سلېمانیان۲[سلېمانان] نومولے شوي وو. د بعضو دا رائې ده چې دا نوم کوهِ سلېمان (ډېره اسماعیل خان)ته منسوب دے.

سلېمانیه په عراق کښې هم یو ځائے دے چې هلته د لرغونې ادوارو نه اسرائیلیان اباد راروان دي. هم دغه وجه ده چې د اسرائیلیانو یوې ژبې ته نن هم سلېمانیه وئیلې شي.

Hulaula(حُولَولَه)ددې متبادل نومونه لشان،نوشان ، جیالي او هله وغېره دي. ددې په وېناګانو(لهجو) کښې یوه وېنا په سلېمانیه (Sulimania)یادېږي.چې په بنیادي توګه د ایراني کردستان او ددې سره تړلې د عراق د برخې د یهودیانو ژبه ده.۴

ایچ ډبلیو بلیو په خپل کتاب "The Races of Afghanistan" کښې د سلېمان،سبلماني او سُلېمي په حقله داسې لیکي:-

"By the Muhammandons of Asia Minor and the Western countries the Afghan is usually called Sulimani, apparently from the supposition that he dwells on the Suliman range of mountains. If so, the name is misapplied, for there are no Afghans settled on that range. It would appear more probable that the name is connected with the ancient Solymi of Syria,who are mentiond by Herodotus,and who were in olden times much mixed up with the Israelites in that country. It is not improbable that some of these Solymi were also carried into captivity along with the Israelites, and that they may have become incorporated with that people, and accompanied them in their subsequent wanderings. In this

case we might suppose that some of them were among the Afghans of Ghor, and the supposition would explain the mission of Khalid-bin-Walid to these Afghans,for the Solymi were an Arab people of the same race as Khalid.It is possible,indeed,that the Solymi of the ancients and the Afghan of the moderns,were originally one and the same people,and that the Bani Israil were merely refugees among them,for,at the time of their first settlement in Ghor,they were always spoken of separately as "Bani Afghana" and "Bani Israil". 5

"د ايشيائي کوچک د مسلمانانو او د مغربيانو په نزد افغان ته سلېماني ظاهراً په دې مفروضه وئيلې شي، چې هغه د کوه سلېمان د غرونو په سلسله کښې اوسي.او دا حقيقت به نور هم غالب په نظر راځي، چې دا نوم (سُلېماني) د شام د پخواني سُلېمي سره تړلې دے.چې ددې ذکر هېروډوټس هم کړے دے.کوم چې په ډېرو تېرو وختونو کښې په دغه علاقه د اسرائيليانو سره ارګنه درګنه وو.او ددې خبرې هم غالب امکان دے چې ددې سُلېمي قوم نه ډېر کسان د قېديانو په شکل کښې د اسرائيليانو سره بوتللے شول او کېدے شي چې دا خلق په اسرائيليانو کښې شامل شول.او دغسې د اسرائيليانو سره در په در په ملکونو او مختلفو علاقو کښې ګرځېدل.نو بيا په داسې حال کښې دا فرض کولے شو چې په دې کسانو کښې ځيني د غور د افغانانو نه وو او دا مفروضه به د خالد بنِ وليد هغه مشن چې دے د افغانانو نه وو ، واضح کړے شي.ولې چې سُلېمي يو عربي نسل خلق دي.د کومې نه چې خالد بنِ وليد وو.او بې شکه دا خبره هم ممکنه ده چې قديم سُلېمي او جديد افغان بنيادي او په

اصلي توکه يو او هغه شان قوم د ے او دا چې د بني اسرائيل محض په دوي کښې مهاجر وو، ولې چې د غور په علاقه کښې د دوي په اول ځل استوګن کېدو کښې دوي ته به جدا جدا نومونه بني افغانه او بني اسرائيل وئيلے کېدل."

د پښتنو داصل نسل په حقله خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کښې د پښتنو قبائلو پنځه غټ شاخونه ښائي لکه چې وائي:

پښتون په اصل سړبنے دے
يا غورغشتے دے يا بيټنے دے

لودی غلجے دے د پټی له لوره
په سړه بن پورے بيا کړلانے دے[۲]

او وائي چې سړبنے ،غورغشتےاو بيټنے د قيس عبدالرشيد ځامن دي او دغه شان دغه شاخونه په وړو وړو خېلونو کښې تقسيم شوي دي.

دا بره شعرونه په خلاصةالانساب نومې کتاب کښې چې مؤلف ئې حافظ رحمت خان دے .او ترجمه ئې اروانښاد محمدنواز طائر په پښتو کښې کړې ده. په مخونو ۱۳ او ۵۰ باندې هم دا شعرونه دي چې په الفاظو کښې ئې لږ ډېر بدلون دے.

پښتون په اصل سړبنے دے
يا غورغشتے دے يا بيټنے دے

لــودی غلجــے دے د بیــټ لــه لوریــه
پــه سړ بــن پــورے بیــا کرلانړے دے

هم دغه شعرونه حسن ګل بانډه وال "پښتني قبيلې او خېلونه" قاموس کښې په مخ ۵۰۱ کښې باندې نقل کړي دي اودغه شان م ج سيال مومند په خپل کتاب "د پښتنو قبيلو شجرې" په مخ ۹ باندې نقل کړي دي. دا شعرونه پوهنوال محمد عمر روند مياخېل په خپل کتاب "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې"په مخ ۱۹۲باندې ذکر کړې دي.

دغه شان د پښتنو قبيلو تفصيل څۀ دارنګه ښائي:

۱. سړبني قبائل: يو سل پنځه (۱۰۵)
۲.غورغښتي قبائل: پنځه نوي (۹۵)
۳. بېټني قبائل: پنځه ويشت (۲۵)
۴. متوزي (خلجي ،لودي): دوه پنځوس (۵۲)
۵.کرلاڼي قبائل:يو سل اتۀ ويشت (۱۲۸)

ټولې څانګې ۴۰۵ دي۷

اروابناد پروفېسر پرېشان خټک په خپل کتاب "پشتون کون؟"کښې د پښتنود اباواجداد په حقله څۀ داسې ليکي او په جاړ وائي، چې د پښتنو د مورث اعلیٰ تاريخ چا وضع کړے دے. ددې د لاعلمۍ نه پرده اوچتول پکار دي او د خوشحال بابا مرسته نۀ کوي.

" زۀ د سړبن، بيټن، غورغشت او کرلاڼ په حقله څۀ ليکل نۀ غوارم.که دا ذکر شوي قبيلې وروڼه د موجوده پښتنو د مورثانِ اعلیٰ په طور قبول کړې شي او دا وګڼو چې پښتانۀ قبائل د دوي

نسل د ے نو بيا به يو بحث شروع شي. په موجوده کتاب کښې پرې د پښتنو د اصل نسل په حقله په تفصيل بحث شوے دے.زۀ به دلته کښې دا جرأت وکړم که چرته دا ذکر شوي خلق د پښتنو مورثانِ اعلیٰ وي،نو آيا د دوي تعلق د پښتنو د تاريخ نويسی نه هم ډېر زيات زور دے،چې د دوي په حقله هېڅ قسمه معلومات نۀ دي شوي.

دې ته هم زۀ هرګز منلو ته تيار نۀ يم.او دا خبره د نه منلو ده.چې که چرې دا خلق د پښتنو مورثان اعلیٰ دي نو په دې کښې خو دا درې ورونه دي او ځلورم پکښې غبر دے. که کرلاڼ (کرلاڼړ) دلته د سړبن په اولاد کښې ګڼلے شي يا د سړه بن د پلار قيس عبدالرشيد نه هم زيات بزرګ وګڼلے شي او چا خو د ارمړ د يوکس عبدالله ساتلے ځوے ښودلے دے.دلته يو سوال پيدا کېږي. او هغه دا چې که کرلاڼ دارمړ۳ قبيلې د يو سړي ساتلے ځوے وو.نو مطلب دا شو چې د کرلاڼ د پيدائش نه مخکښې د ارمړ قبيلې ډېر خلق د يوې قبيلې په شکل موجود وو.

د کرلاڼ په اولاد کښې خټک،افريدي،وزير،محسود،بنګښ ،دلزاک ،جدران،اتمانخېل،خوګياني، منګل،موسیٰ زي، بنوڅي،او داوړ قبيلې شاملې دي ،چې دا خلق غر په سمه اوپه يوه لويه علاقه اباد دي.او ددې قبيلو ،قومونو تعداد په لکهونو کښې دے.

ليکن د ارمړ قبيلې علاقه د محسودو د يو کلي کاني ګرم او پېښور په دوه کليو ارمړ بالا او پائين کښې محدود دي چې د دوي شمېر په زرګونو کښې دے.اخر وجه څۀ ده؟ چې د دوي د يو

ساتلي ځوي (اخستونكي) ځوي د اولاد تعداد دومره دے.چې د پښتنو په نيمه ابادۍ مشتمل دے.مګر د دوي د پېدائش نه مخكښې د ارمړ قبيلې اولاد صرف په درې څلور كليو مشتمل وو.آيا عقل دا خبره مني؟او ايا دغه تاريخ دانانو ته د نورو مازغو خوړلو ضرورت شته؟ د كرلاڼ معنیٰ "تبر" او كله "كړهے" كول څۀ معنٰی لري؟.دا غلطي كله بې سوچه او كله په سوچ سره د كرلانيانو خټكو په حقله شوي ده .٨

د پروفېسر پرېشان خټك، م-ج سيال مومند او محمد جميل يوسفزے (شموزۍ سوات) رائې يوه ده. او د پښتنو د مورثِ اعلیٰ په حقله چې كومې رائې قائمې شوې دي اويا كومې څېړنې شوي دي دا واړه ددې سره اختلاف لري.

هم دغه شان م،ج سيال مومند۴ په خپل كتاب "د پښتنو قبيلو شجرې" كښې د تواريخ خورشېد جهان (حيات افغاني) حواله وركوي او وائي چې:

"مؤلف د خورشېد جهان.(شېرمحمد خان ګنډاپور ابراهيم زۍ) (تواريخ حيات افغاني حيات محمد خان خان صاحب بهادر) هم دا خبره نۀ مني.چې په دې سلسله كښې عبدالرشيد تر افغان پورې په پنځه ديرش (۳۵)[۳۷] پشته كښې رسېږي. او حال دا دے چې دغه موده يو زراو شپږ سوه كاله كېږي او په سلو كلونو كښې درې پشته مېنځ ته راځي نو دا سمه خبره نۀ ګنې.

سعدالله جان برق "د هغې نه تر دې" د عنوان لاندې ليكي چې:

"ما واړندې هم وئيلې وو او اوس ئې بيا هم تكرار ووم چې زما مرام و مقصد د پښتنو روايتي تاريخ ليكل نۀ وو. د هغې د پاره

ډېر کتابونه شته او لکه څنګه چې ما وړاندې وئيلي دي ،روايتي تاريخ د حقيقت نه زيات افسانې ته نزدې دے.ځکه چې منابع او شواهد ئې ټول يا خو مقتدر او حکمرانانو خلقو او کورنو ليکلي دي يا د دوي نه د "داد" اخستلو د پاره ليکلي شوي دي او د هغه وخت د اولس هېڅ ذکر او احوال په کښې نشته. حالانکې تاريخ په اصل کښې اولس يعنې د ژوند چلونکي او کارکونکي جوړوي.نو زما خپل مرام سرته ورسېدو ،د پښتنو د اصل نسل په باره کښې مې هر څۀ په ډاګه کړل اوس منل نۀ منل د هر چا خپله خوښه ده. خو داسې هم نۀ ده چې د پښتنو تاريخ نه دې زۀ بالکل سترګې پټې کړم خو دلته به هم هغه خبره وي چې مقتدرو او حاکمانو په ځائے به د عام اولس خبره کوو او چې مونږ د پښتنو د عام اولسي ژوند او مزاج خبره کوو نو ډېر دردناک او افسوس کوونکے صورتِ حال [به]مخې ته راشي". ١٠

هم دغه شان محمد جميل يوسفزي (شموزي، سوات) په خپل کتاب "*پشتونوں کی جڑیں*" کښې د پښتنو د مورثانِ اعلیٰ په بابله داسې د خپلې رائې اظهار کوي او وائي چې:-

"اکثر تاريخ دانان دا درې کسان بيټن،غورغشت،او خرشبون۵ [سړه بن] ورونه او د قېس ځامن ګڼي ليکن دا نۀ ورونه دي، نۀ رشته دار او نۀ د قېس ځامن؟ دا درې واړه د څلورمې صدۍ هجرۍ خلق دے.د دوي د پېدا وښت په مېنځ کښې ډېر زيات فرق دے.او دا د مختلفو علاقو اوسېدونکي وو.دا درې واړه د خپلو خپلو علاقو روحاني پېشوا وو.پس دا نۀ ورونه وو او نۀ د قېس [عبد الرشيد] ځامن.

کوم قېس چې بعضې پښتانهٔ مؤرخين د پښتنو جد امجد ګڼي دے د غـور او سـپـړ ونکے نـهٔ وو. بلکې د دهٔ تعلق د اسـرائيل د قبيلې بنيامين سره وو. او دغه [د قېس پلار] د حضرت طالوت پلار وو.علاوالدين غوري چې کومه د پښتنو ګروه بندي کړې وه او په پنځمه صدۍ هجرۍ کښې د پښتنو بادشاه وو د دهٔ په وخت کښې دا درې واړه [بيټن، غورغښت او سړه بن] وفات شوي وو په اولـه ګـروه بـنـدۍ کښـې کرلاڼي شـامل نـهٔ وو. د هغـې نـه پـس افريدي،خټک ، وزيـر ، مسعـود. او بنګښ او داسې نور ئې پـه بيل ګروه کښې واچول،او دکرلاڼي ګروه نامه ئې پـرې کېښـوده او دغه شان د پښتنو څلور ګروپونه چې غورغښت ،سړه بن، بيټن او کرلاڼي (کرلاڼ) ترې جوړ شول". ۱۱ (ژباړه)

يو بل ليکوال سالار يوسفزۍ د سړبن په حقله ليکي چې:

" پښتون يوداسې قوم دے چې څهٔ رنګ يې تبر نسلي تاريخ پـه تيارو کښې پټ دے .دغسې يې راتلونکے وخت هم د سر ورکي او ګډ وډۍ ښکار دے. نهٔ دوي چرته په يو مرکز راغونډ شوي دي او نهٔ ددې قـام د ېـو والي،ازادۍ،پرمختـګ او ابادۍ لـه پـاره پـه رسمي توګه څهٔ سوچ فکر ياتحريک وړاندې کـړے شـوے دے .اربن(urban) تهذيب چې خواه وشا ۳۰۰۰ کاله دمسيح د زېږون نـه اګـاهو پـه دې خـاوره کښـې زرغـون او زرخېـز شـو. وروسـتو سـکندر يونـاني،Alexander چنګېزخـان،ګرېکوبيکټرين (Greco Bactrian)کوشـنـز (Kushans) سـفوېدي (Saffarids) او مغـل دلتـه ميشـتـه شول.پښـتـون قـام د تهـذيبونو پـه ژرنـده وار پـه وار دل شـوے دے .او هر تهذيب پـرې خپـل څهٔ نـه څهٔ اثرات پرېښـودي

دي .او د هرتهذيب نه ددغه څۀ نه څۀ اثراتو يا خصوصياتو خپلولو ترې خپله هستي د تل له پاره هېره کړې او يا تروړلې ده.

څوک يې د ارياقوم د پنځۇ ټبرونو څخه يو ټبر ګڼي څوک يې دبني اسرائيلو يوه نسلي څانګه ثابتوي اووائي چې:

بخت نصر چې کله د اسرائيلو لس قبيلې ووهلې .تيت او پرک يې کړې او هغوي د ژوند د سرمايې د بچ ساتلو په تګ و دؤ کښې د ډېرې بې سروساماني په حالت کښې در په در خاورې په سر په وروکو لارو ورکې شوې. په دغه ورکو قبيلو کښې يوه قبيله پښتانۀ دي.که دا مفروضه صحيح وي نو زۀ فکرکوم چې بخت نصر پښتون وو.او هغه د اسرائيلو لس واړه قبيلې په اخ وډب زغلولې وې.ځکه بخت نصر نوم ما د عربو اواسرائيلو په ټول تاريخ کښې نۀ دے اورېدلے. او پښتانۀ نن هم دا نوم د خپلو بچو له پاره خوښوي .انساني مزاج دے چې د دښمن نوم ته په سپک نظر کتلے کيږي نۀ چې د هغه د نوم د خوښۍ اظهار کيږي، که بخت نصر د بل قوم اتل وے پکار وه چې په نورو قامونو کښې دهغه نوم بيا بيا ايښودے کېدې خو داسې هېڅ اثار په نظر نۀ راځي.

دويم فکر دا دے چې پښتانۀ بني اسرائيل دي. د طالوت اولاد دے.

د طالوت دوه ځامن وو،د يو نوم اصف وو او د بل نوم افغان وو.د افغان درې ځامن وو،سړبن،غرغښت اوبيټن (ائين اکبرى)

دريم فکر دا د ے چې د محمد ﷺ په دور کښې څهٔ پښتنو د قبس په مشرۍ کښې اسلام قبول کړو .او چې کله د محمد ﷺ سره ملاؤ شو نو هغه ورله عبدالرشيد نوم کېښود.

په دغه وخت کښې محمد ﷺ د جنګ اُحد تياري کوله.د خالد بن وليد خور يې ورته په نکاح کړه .او د هغې نه يې درې ځامن وشو ،چې د يو نه يې سارابن (چې وروستو په سړه بن واوړېد)يعنې د سارا ځوئے کېښود ،د بل نه شرخ بن (شرخ بون)او د دريم نه خرش بن (خرش بون). خو دا هم د منلو وړ خبره نهٔ ده. ځکه چې قبس د پښتنو نوم نهٔ د ے .او نن هم پښتانهٔ لفظ "ق" نهٔ شي ولاړولے.

دويم په دغه وخت کښې يعنې د اُحد د غزا نه مخکښې خالد بن وليد لا نهٔ وو مسلمان شوے .نو هغه خپله خور يو نوي مسلمان شوي غېر له څنګه ورکړه.

دريم که ساره بن (سړه بن)يعنې د ساره ځوئے د ے. نو خرش بن به د خرش ځوئے وي. او شرخ بن به د شرخ، خرش او شرخ نه خو د قبس نومونه يا لقبونه وو.او نهٔ د ساره !

نو دا دواړه بيا د سارا بن وروڼه نهٔ شي کېد ے ؟

د دې خبرې سپيناوے د (Britannica Encyclopedia) ددې وېنا نه کيږي چې ابدالي ياهپتالي د اريائي قبيلې اپتل (Aptal) ۴۰۰ ميلادي خواوشا د ترين ځوئے د شرخبون نمسے او د سړبن کړوسے د ے".۱۲

نوټس

۱.ايچ ډبليو بليو هم د افغان او پټهان خبره په خپل کتاب
"The Races of Afghanistan" کښې په مخ ۲۵ داسې ليکي:
"The Afghans admit that they are Pukhtana-the Hindustani form of which is Pathan-but they are carefully in insisting on the distinction between Afghan and Pathan(or Pukhtana,the word in use among themselves),In fact,as they say,every Afghan is a Pukhtun(singular of Pukhtana), but every Pukhtun,or Pathan,is not an Afghan".

۲.خان روشن خان په ."تذکره" پٹھانوں کی اصلیت اور ان کی تاریخ" کښې په مخونو ۳۸۲، ۳۸۹او ۳۹۰ او نرګس سيماب ، (ژباړه) په مخونو ۴۴۹، ۴۵۷، ۴۵۸او ۴۵۹خپله تجزيه او تشريح په دې ډول کوي:

سلېمانان: د اهواز جنوب "د جبل درياب" (کارون) ډېر خور وور شي او د غور ځنګونه لرونکې وله ترې نه جوړه شي.

د دجبل درياب وله کومه چې فيض د جبل نومېده ، د سلېمانان نومې ښار سره خلېج فارس کښې يو ځائے کېده. دا اهواز ته د رسېدو د پاره او د جهازونو د پاره زيانه اسانه وه.چې هغوي ته باسيان (بسان يا بسن) مقام نه د مختلف دريابونو په ذريعه تر لرې لرې پورې او د هغه ځائے نه د صدره لار اختيار کړي.

مصنف چې څۀ معلوم کړي دي هغه هم ډېر دي .ځکه چې دوه نيم زره کاله تېر شوي دي.په ډېرو نومونو کښې بدلون راغلے دے. او د دې په وجه تسميه او اصليت باندې هم پردې پربوتې دي.ډېر ځله اصل واقعه افسانه کښې بدله شي.

افسوس چې دا خبره د هغه پوهه کنبې رانغله. اګر چې هغه دا په خپله لیکي چې مسلمانان دا د حضرت سلېمان علیه السلام د مور قبر ګڼي. حالانکې دلته هغه په خپله مسلمانانو نه مسلمان قام مطلب اخستې دے. دۀ ته پکار وو چې هم دغسې ئې سلېمان قام یعنې سلېمانان قام مراد اخستې وے. ځکه چې د مسلمانان په وزن سلېمانان وئیلے شو. او ایران کښې هغه وخت د بني اسرائیل جلاوطن خلقو ته سلېمانان وئیلې کېدل. د دې وجه دا وه چې د حضرت موسی علیه السلام او حضرت داود علیه السلام نه پس حضرت سلېمان علیه السلام د دې قام پېشوا (مشر) وو. اصطخر کښې دا مقبره دملکه استر ده. کومه چې د اخویرس (خورس)، سائرس، کورش یا کوروش، کائرس او خسرو ټول یو نومونه دي) دا د ایرن د بادشاه ملکه وه. دا مقبرې او د هغوی محلات د لروغوني یادګارونو په صورت کښې موجود دي. ملکه استر د چا د مقبرې ذکر چې وشو. مادر سلېمان نه بلکې د حضرت سلېمان علیه السلام د قام یعنې د سلېمانانو مور ده. چا چې د یوې خپلې مور غوندې د وطن د شړلي شوو اسرائیلیانو خدمت وکړو. او د حفاظت او ساتنې له کبله ئې عزتمند وګرځول. ددې په وجه جلاوطن اسرائیلیان په ایران کښې په هر ځائے کښې خوشحال او اباد وو. دوی د سلطنت په نظام کښې شریک کړې شول او د خپل قام سرپرستي او انتظام ئې په داسې ډول وکړو چې دد ې (ملکه استر) د مرګ نه پس هم دوی د شاهي خاندان په حکومتي دور کښې چې دوه سوه او شل کاله پورې قائم وو. دوي معزز پاتې شو. دا عام روایت دے چې شاخورس د موسی علیه السلام دین قبول کړے وو هغه په اسرائیلو ډېر مهربانه وو. د هغه د مرګ نه پس چې کله د هغه ځوے کمبوجه (کیقباد) بادشاه شو نو هغه هم په دوي ډېر مهربانه وو. هغه به اکثر په بلخ کښې اوسېدو. او د خپل پلار په لار روان وو. هغه وخت د هغه ګېر چاپېر هم په یو وخت د بنی اسرائیلو څلور انبیاء د تبلیغ په کار کښې لګیا وو. دې انبیاؤ سره د بادشاه کمبوجه رضا او مرسته شریکه وه.

د تاريخ ايران مصنف پروفېسر مقبول بېګ ليکي چې:

"د هخامنشي د عهد پخواني اثار په پازارګد کښې دي. کوم چې د کورش اعظم په وخت د فارس او ايران پايه تخت وو. ددې د لرغوني اثارو نه پته لګي، چې دلته په يو وخت يو لوئے ښار اباد وو. پازارګد کښې د هخامنشي عهد باني د ايران عظيم فاتح کورش اعظم ښځه ملکه استر دفن ده.د پازارګد نخښې د کورش اعظم د لوړتيا پته ورکوي. له ټولو نه اول د مرغاب وادۍ کښې د غر په څوکه يو هموار مقام په نظر راځي چې په "تخت سلېمان" ياد ېږي.ددې جوړښت د يو متوازي الاضلاع غوندې د ے.ددې اوږدوالے درې سوه فټه د ے. په تعمير کښې د سپينو کاڼو لوئې لوئې همواري ټوټې لګېدلې دي. دلته هېڅ قسمه پوړۍ نشته. او نۀ چرته د څۀ عمارت نخښې شته."

د قرائينو نه معلومېږي د پازارګد علاقه اسرائيل چې په هغه وخت د سلېمانان په نوم يادېدل ، اباد وو.او دا ځائے د هغوي يو اهم مقام وو.

3. "Ormur is known in Iran as Chiragh Kush" Bellew" The Races of Afghanistan. p86"

" ارمړ ته په ايران کښې "چراغ کش" وئيلې شي"

۴.م .ج سيال: مومند په خپل کتاب "د پښتنو قبيلو شجرې" کښې په مخ ۷ چې د" تواريخ خورشېد جهان"چې مؤلف ئې شېر محمد خان ګنډا پور ابراهيم زی د ے. ګنډا پور صبب دا کتاب په ۱۸۹۴ء کښې تنصيف کړے د ے.او محمد حيات خان خان صاحب بهادر خپل کتاب "تواريخ حيات افغانی" په کال ۱۸۶۷ء کښې ليکلے د ے.چې د يو بل ترمېنځه ئې د ۲۷ کلونو فرق د ے.د خورشېد جهان ترجمه سراج احمد علوي د " تاريخ پشتون" په نوم کړې ده. مصنف د تواريخ خورشېد جهان او ددې د ترجمې نه دا واضحه پته لګي چې تواريخ خورشېد جهان د تواريخ حيات افغاني مکمل رد د ے.

بره چې م. ج سيال مومند کومه حواله ورکړې ده نو دا د خورشېد جهان نۀ ده بلکې دا د تواريخ حيات افغاني د محمد حيات خان ده، چې په تواريخ حيات

افغاني کنبې په مخ ۱۰۲ ذکر ده. سيال مومند صېب ۳۵ پښتنه ليکلي دي ليکن په حيات افغاني کنبې دا ۳۷ پښتنه /پشتنه دي.ددې نه علاوه حيات افغاني کنبې په مخ ۱۱۱ چې کوم بحث د پښتنو د خدو خال شوے دے.هم دغه په تاريخ پشتون (ترجمه) کنبې په مخونو ۱۸۷ او ۱۸۸ هم ذکر شوي دي ،چې د يو بل رد کوي.

۵. خرشبون سړه بن په اولاد کنبې دے د پتهې خزانې له مخه **۳۰۵**هـ ئې پېدائش دے.(خليل،حنيف،"پشتون قبيلے اور انکے لهجے"، مخ**۲۵**)

خو جميل صاحب دا نه منې او د پښتنو شجره ئې نوې مرتب کړې ده(يوسفزے ،محمد جميل [شموزئ سوات] "پشتونوں کی جڑیں" ، دويم ايډيشن ،جنوري۲۰۱۸ ،مخ ۲۷)

-Sherkhbun and Khurshbun are the transformation of the common Rajput proper names –Surjan & Krishan(Bellew,Henry Walter, "The Races of Afghanistan (1880)" (2008) p.91)

◈◈◈

حوالې

۱. طائر، محمد نواز، پروفېسر، "د قران مجيد پښتو ترجمه". [تفسير القران] پاره ۲۶: سورة الحجرات ايت ۱۳، مخ ۴۲۲، س ن

- ياد طالبي، عبداللطيف، ډاکټر، "پښتنې قبيلې"، دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانگه، پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ iii

- صافي، عبدالحنان، "صافي قام"، سلېمان کامل مرکه پبلي کېشنز، مردان، ۲۰۱۴ء، مخونه ۱۲-۱۸

۲. محمد، شهباز، "سواستو"، انوائرنمنټل پروټيکشن سوسائيټي (EPS)، دربار سيدو شريف سوات، پاکستان، اپرېل، ۲۰۱۱، مخ ۱۲۲ [تفسير سورة الحجرات الترمذي، مخ۱۲۳ جلد ۲]

- سيماب، شېر زمان، ډاکټر ياس، غلام حسېن، ډاکټر "پښتو ادب" درې مياشتنی ادبي سلسله (۱) جنوري - مارچ ۲۰۱۷ء، اهتمام ملاکنډ پښتو ادبي ايوارډ، مخ ۳۵

۳. خليل، حنيف، "پشتون قبيلے اوران کے لہجے"، قائداعظم يونيورسٹی اسلام اباد، بسعی واہتمام محمد جاويد خليل، امين پرنٹرز پشاور، پشتو اکيڈمی پشاور يونيورسٹی، بہ اشتراک لوک ورثہ، اسلام اباد، ۲۰۰۸ء، مخونہ ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۴۳، ۴۴، ۴۵

- محمد حيات خان، خان صاحب بہادر، "تواريخ حيات افغانی"، ۱۸۶۷ء، مخونہ ۹۷ - ۱۱۲

- ناغر، زردار خان، "صولت افغانی"، جون ۱۸۷۶ء، کانپور، مخونہ ۳۱۳ - ۳۲۱

- صاحب بہادر، اے جی ہسٹنگز، کپتان، "تاريخ پشاور" ۱۸۶۹ء لغايت تا ۱۸۷۴ء، گلوب پبلشرز، اردو بازار لاہور، زير انتظام رائے بہادر منشی گوپالداس صاحب اکسٹرا اسسٹنٹ کمشنر تيار ہو کر حسب الحکم جناب صاحب فنانشل کمشنر بہادر پنجاب، مخونہ ۱۴۷ - ۱۶۸

- گنڈاپور، شير محمد خان ابراہيم زیؒ، "تواريخ خورشيد جہان"، ۱۸۹۴ء، در مطبع اسلاميہ لاہور، بہ اہتمام کرم بخش مہتمم مالک مطبع، مخونہ ۳۴ ــ ۶۶

- قاسمی، عبدالغفور، سيد، اعلیٰ حضرت حکمران رياستِ سوات کے سوانح حيات، حميديہ پريس پشاور، ۳۰

جولائی ۱۹۳۹ء، مخونہ ۷ ــ ۱۰
-علوی، سراج احمد، " تاریخ پشتون (اردو ترجمہ) " (تواریخ خورشید جہان)، ناشر شیخ شوکت علی اینڈ سنز تعلیمی ناشران او تاجران کتب ایم جناح روڈ، کراچی، ۱۹۹۱ء، مخونہ ۱۴۸ - ۱۹۶
-خان، سلیم، " پختون پشتی ابراہیمی قوم "، یکم جون ۱۹۹۵ء، مخونہ ۹ - ۳۷
-MILITARY REPORT AND GAZETTEER ON DIR, SWAT AND BAJAUR PART I ,*Second* Edition CALCUTTA, GENERAL STAFF, INDIA, 1928. GOVERNMENT OF INDIA PRESS, 1928. p.66
-سائل، خواجه محمد، "کوري اسپي" (د باړه مومند تاريخ جلد اول)، ۱۹۹۱ء، مخونه ۳۹۸- ۴۰۲
-خان، محمد اصف، "تاریخ ریاست سوات" و سوانح حیات بانی ریاست سوات میاگل عبدالودود، فیروز سنز پشاور، اشاعت اول، ۱۹۵۸ء، مخونہ ۴۰- ۴۲
- محولہ بالا، اشاعت پنجم، ۲۰۱۲ء مخونہ ۲۹ - ۳۱
-ظفر کاکا خېل، بهادرشاه، سيد، "پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې" ،يونيورستي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، اول ځل، ۱۹۶۴ء، نهم ځل ۲۰۱۲ء، مخونه۵- ۲۷۴
___، (اردو ترجمہ) (۵۵۰ ق م تا ۱۹۶۴ء)، ۲ مئی ۱۹۶۵ء، مخونہ ۲۸ - ۳۱۶
___، اکتوبر ۲۰۰۷ء، مخونہ ۲۲- ۹۸
___، "پشتون اپنے نسل کے ائینے میں"، اشاعت سوم ۲۰۱۷ء، مخونہ ۶ - ۳۱۶
- طائر، محمد نواز، رحمت خان، حافظ، "خلاصة الانساب"، (ترجمه او ديباچه)، ناشر پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي، ۱۹۷۳ء، مخونه ۴- ۱۵۶
- معظم شاہ، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاریخ"، ترتیب و حواشی خان روشن خان خان، اعراف پرنٹرز ندیم ٹریڈ سنٹر، پشاور، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخونہ ۲۹۷ - ۳۳۶
-خان روشن، خان، "افغانوں کی نسلی تاریخ"، ناشر روشن خان اینڈ کمپنی تمباکو ڈیلر جونا مارکیٹ پھول چوک کراچی نمبر ۲، ۱۹۸۴ء، مخونہ ۱۱ - ۷۷

____ ، "يوسفزئ قوم کی سرگزشت" ، ناشر روشن خان اينڈ کمپنی تمباکو ڈيلر جونا مارکيٹ پھول چوک، کراچی نمبر ۲ ،فروری ۱۹۸۶ء مطبع المخزن پرنٹرز (مکتبہ رشيديہ) پاکستان چوک کراچی، مخونه ۳۸۸ - ۳۸۹

____ ،تذکره" پٹھانوں کی اصليت اور ان کی تاريخ"، ناشر روشن خان ايجوکيشنل ٹرسٹ جونا مارکيٹ پھول چوک ،کراچی ۲ ،طبع ششم نومبر ، ۱۹۹۲ء ،مخونه ۵۰- ۱۰۶

سيماب ،نرګس (ژباړه) تذکره " د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ" ، عامر پرنټرز اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۱ء ،مخونه ۳۶ - ۲۲۸ او مخونه ۵۱۲ - ۵۲۰

-افريدی ،حاجی خيال "تاريخ پختون الافغان "،۱۹۹۸ء ،مخونه ۱۲۴- ۳۱۸

- يوسفزے ،نورالامين" پختو ،پختون اور پختونولی"،۱۳ اگست ۲۰۱۵ ء، عامر پرنٹرز اينڈ پبلشرز ،پشاور، مخونه ۸۳ -۱۰۶

- Ghazi Bin Muhammad "THE TRIBES OF JORDAN" Printed in the Hashani Kingdom of Jordan 1999 pp 14-15[Google]

- کيرو ،اولف ، سر، کريمي، الحاج شېر محمد (ژباړن) "پښتانهٔ (پټانز)" ،دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ ل/ ۲۰۰۴م، مخونه ۱۷ _ ۱۸۴

____ ، محبوب علی، سيد ،"پٹھان "(اردو ترجمہ) ،ڈائريکٹر پشتو اکيڈمی پشاور ،بار سوم، ۲۰۰۰ء ،مخونه ۲۱ - ۴۹

-John Nawas "Tribes and Clains"pp 363-368[Google]

-www.pushtoonforum.com

-www.tolafghanistan.com

-اے شارټ هسټري آف دي انډين پيپل ، مطبوعه ميکمهن اينډ کو لميټيډ، لندن، ۱۹۳۴ء ،مخونه ۲۵ ، ۳۲، ۳۷

- رومان ،انور ،پروفیسر "پشتون کی تاريخ" ،اردو ترجمہ ،

"Pathan Border Land" by James W. Spain,

گوشہ ادب ،جناح روڈ کوئٹہ پاکستان، ۱۹۸۸ء، مخونه ۸۰ - ۸۲

-غوث خېبري، "پښتانهٔ د ايران د پاچايۍ په تخت" ،دانش خپرندويې

تولنې تخنيکي خانګه، پېښور. ۱۳۹۰ هل/۲۰۱۱ز .مخونه ۲۲ - ۱۳۱

-سلطان روم، ڈاکٹر، احمد فواد، پروفیسر (ترجمه) "ریاست سوات" (۱۹۱۵ء تا ۱۹۶۹ء) شعیب سنز پبلشرز اینڈ بک سیلرز، جی ٹی روڈ مینگورہ سوات، ۲۰۱۳ء [نوٹس]، مخونه ۴۰ - ۴۱

-SULTAN-I-ROME,DR "ORIGIN OF PUKHTUNS" THE BANI ISRAELITE THEORY Vol.LIV October-December.2006-No.4 Quarterly Journal of The Pakistan Historical Society, Published by. Bait al- Hikmat at Madinat al-Hikmah.pp74-100

-افضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان "تاريخ مرصع"، يونيورسټي بُک ايجنسي، پېښور، جدون پريس پېښور، مئ ۲۰۰۴ء، باب دويم، مخونه۸۸ - ۱۱۲

-برق، سعدالله جان، "د پښتنو اصل نسل" (دويم جلد)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۰۹ء، مخونه۳۳ - ۴۰۰

____ ،سعدالله جان، "د پښتنو اصل نسل" (اول جلد)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۴ء، مخونه۴۱- ۱۵۱

-سوهدروی، کامران اعظم، "پٹھان قبائل". تخلیقات:4 بیگم روڈ مزنگ لاهور ۲۰۱۵ء، مخونه۲۱ - ۱۰۹

- سلېمان، شاهد، "گمنام رياست" حصه اول، مطبع اويس لاهور، اشاعت ششم، ۵ جنوری ۲۰۱۵ء، مخونه۷۳ - ۷۵

-برق، سعد الله جان "د پښتنو اصل نسل" (جلد دريم)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۰ء، مخونه۲۴۹ - ۳۱۵

-باغی، انور بېګ "د بونېر تاريخ"، اشاعت سوم، ۲۰۱۷ء، مخونه۱ - ۷۷

-عالمګير خان، پروفېسر "د تاني د خان خېلو شجره"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخ۱۵ (د قېس عبدالرشيد اولاد)

-هروي، خواجه نعمت الله، "تاريخ جهانی و مخزن افغانی"، ترجمه، ډاکټر محمد

بشيرحسېن، ناشران: ډاکټر اشفاق احمد مرکزي اردو بورډ ګلبرګ لاهور طابع: محمد زرين خان، زرين آرټ پريس ۲۱ - ريلوے روډ لاهور طبع اول: اګست ۱۹۷۸ء، سلسله مطبوعات؛ نمبر ،۱۲۱ . مخونه ۳۹- ۴۲۷

-عطاء الله خان، قاضي، "د پښتنو تاريخ" ،دريم ځل چاپ،اپرېل ۲۰۱۲ء،يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور ،مخونه ۷ – ۱۳

-نيازي،محمد اقبال خان تاجه خېل ،"تاريخ نيازي قبائل"،اشاعت سوم، يکم جولائي ،۲۰۰۳ء ،نواز پرنټنګ پريس ۳لوئر مال روډ لاهور، پاکستان، مخونه۲۴ - ۱۵۱

-يوسفزے، اباسين ،"د پښتونخوا باني ملک احمد بابا"،زاهد بشير پرنټرز لاهور، ډسټري بيوټرز يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور او شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سيلرز مينګوره سوات ،۲۰۱۴ء ، مخونه۹ - ۲۴

- پنی، شېر بهادر خان، ډاکټر، "تاريخ هزاره" ،دارلشفاء- ايبټ اباد ضلع هزاره، شنائی برقی پريس لاهور، اګست ،۱۹۲۹ء، مخونه ۱۵۰، ۷۰۷ – ۷۳۴

_____ ،"تاريخ هزاره" ،مکتبه جمال تيسري منزل اردو بازار لاهور ،۲۰۱۲ ء ، مخونه ۵۱۹ - ۵۲۷

-دروېزه، اخوند ،"تذکرة الابرار والاشرار" فارسي ،ناشر اسلامي کتب خانه قصه خواني پېښور ، مخونه۷۹ - ۹۳ [تاليف :۱۰۲۱ھ]

- صافي،عبدالحنان،"صافی قام"،سليمان کامل مرکه پبلکېشنز مردان، ۲۰۱۴ء، مخونه ۳۰ - ۳۵

- ناصر علی شاه ،سيد، حيکم زے ،بدرالحکيم ،"ميا قاسم بابا"(کار او کورنی)،مشال پښتو ادبي ټولنه متہ سوات ،اعراف پرنټرز، پېښور پښتونخوا، فروري ۲۰۱۷ء، (د بدرالحکيم حکيمزے شجره) مخ۷۹

- حبيبي،علامه پوهاند ،عبدالحی"د افغانستان لنډ تاريخ"،ژباړن

محمد داؤد وفا، څېړندوي: دانش څېړندویه ټولنه پېښور پښتانۀ واکمن (۲۰۰۵هـ خواوشا) زمري ۱۳۷۹ لمریز، مخونه۱۴۱ ـ ۱۴۲

- چیمه، چودهری غلام رسول، پروفیسر "مذاهب عالم کا تقابلی مطالعه"، گل فراز احمد، علم عرفان پبلشرز ۳۴ اردو بازار لاهور، جنوری ۲۰۰۲ء، مخونه۲۵۴ - ۲۲۰

-ابو فضل، علامه ترجمه مولوي محمد فدا علی صاحب "ائین اکبری"، جلد اول، سنگ میل پبلی کیشنز چوک اردو بازار لاهور، ۲۰۰۷ء، مخ۱۱۰۸

-اخوند خیل، حیدر علی "بونیر خدو خیل" (تاریخی تحقیقی او ثقافتی جائزه)، ۲۰۰۸ء، مخونه۱۰۷ - ۱۱۳

۴. جان، اثر، "د پښتنو نسلي څېړنه"، ناشر جدون پریس پېښور، مئ ۲۰۱۲ء، مخونه۲۵ - ۷۵

5. Bellew, Henry Walter, "The Races of Afghanistan: being a brief of the principal nations inhabiting the country, (1880)"(2008) p.24

۲. خټک، خوشحال خان "دیوان خوشحال خان خټک"، جدون پریس پېښور، خورونکي: اداره ثقافت صوبه سرحد، ۳۱ جنوري ۱۹۵۲ء، مخ ۱۳۳ (دویمه برخه)

-طائر، محمد نواز "خلاصة الانساب" مؤلف حافظ رحمت خان (ترجمه پښتو)، پښتو اکېډیمي پېښور، اولنی چاپ، ۱۹۷۳ء، مخونه ۱۳ او ۵۰

-بانډه وال، حسن ګل، "(قاموس) پښتني قبیلې او خېلونه"، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د ریسرچ څانګې پنځمه کلنه څېړنه، اکتوبر ۲۰۰۱ ع، خپرونکي ختیځ بیارغوني اداره (کور)، مخ ۵۰۱

-مومند، م ج، سیال "د پښتنو قبیلو شجرې"، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، فروري ۲۰۱۵ء، مخ ۹

- رونـد مياخېل،محمـد عمـر، پوهنـوال "د پښـتنو قبيلـو شـجرې او مېنې"، "[د نړۍ او بشر تاريخ لنډه کتنه] خپرونکي: مېوند خپرندويه ټولنه سبا کتابخانه، ۱۳۸۳ لمريز، مخ ۱۹۲
-خليل،حنيف،"پشتون قبيلےاور انکے لهجے".قائد اعظم يونيورسټي ،اسلام اباد ، امين پرنټرز پېښور،پشتو اکېډمي پېښور يونيورسټيٓ، به اشتراک لوک ورثه، اسلام اباد ،مخ۲۲
۷.محوله بالا، مخ ۲۳
-بانډه وال، حسن ګل ،"(قاموس) پښتني قبيلې او خېلونه"، پنځمه کلنه څېړنه ، اکتوبر ۲۰۰۱ ع ،مخ۵۰۱
- روند مياخېل،محمد عمر، پوهنوال "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې"،۱۳۸۳ لمريز ،مخ۱۹۷
۸. پريشـان خټـک ،پروفېسـر "پشتون کون؟"،پشـتو اکېډمي پېښـور، ۱۹۸۴ء، مخ۱۴
۹. مومنـد ،م -ج،سـيال"د پښـتنو قبيلـو شجرې"،يونيورسـټي بـک ايجنسي پېښور،فروري ۲۰۱۵ء ،مخ۷
۱۰. برق،سعدالله جان، "د پښتنو اصل نسل"(دريم جلد)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۰ء ،مخونه۳۱۵ تا ۳۲۱
ـــــــ، " پښتون قام يا نسل؟" اعراف پرنټرز پېښور،جولائي ۲۰۱۸ء ، مخونه ۳۷ – ۴۷ ، ۴۹ – ۵۸
-سائل،خواجه محمد ،پروفېسر، يهوديت او پښتانهٔ،عامر پرنټ اينډ پبلشـر پېښور،اګسـت ۲۰۱۲ء مخونـه ۷۲، ۱۱۲، ۱۲۸، ۱۷۸، ۲۲۹-۲۴۵
۱۱.يوسفزے ،محمد جميل [شموزئ سوات]، "پشتونوں کی جڑیں"، عکس پرنټنـګ پـريس بټ خېلـه مالاکنډ پاکستان ، ايډيشـن اول ،اکتـوبر ۲۰۱۲ء ،مخ۲۳

_____ ، دوسرا ایڈیشن ،جنوری ۲۰۱۸ء ،مخ۳۳ او مخ ۲۷ (پشتونوں کا شجرہ نسب)

۱۲. یوسفزے، سالار، "د مخ شاته مخ"،د نیټ په لاره ناچاپ اثار، مخونه ۷- ۹

دبني اسرائيلو دولس قبيلې



دويم باب

شلماني/سلېماني څوک دي؟

تَعَلَّمُوا مِنْ اَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُوْنَ بِهٖ اَرْحَامَكُمْ فَاِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ

"د خپل نسب (نسبونو) په حقله دومره علم (پوهه ضرور) حاصل کړئ، چې تاسو (چې د خپلو خپلوانو د حقوقو خيال وساتئ) صله رحمي وکړئ" (بخاري شريف)

د شلماني قام په حقله او د شلماني۱ يا سلېماني۲ نومونو په باره کښې ډېرو مسلمانانو او مستشرقينو ليکوالو او څېړنکارو د خپله انده خپلې خپلې رايې په مختلفو الفاظو کښې څرګندې کړي دي.

شلماني څوک د سلېمان ﷺد اولاد سره تړي، څوک ورته د يعقوب ﷺ اولاد وائي او څوک ئې بيا د پښتنو د جدِ امجد قېس عبدالرشيد سره بېڼ سره تړي. څه محققين ئې د بني اسرائيلو د هاغو ډلو سره تړي کومې چې تراوسه ورکې دي. او ددې فلسفې په ضدچې کوم ليکوال دي، هغوي خو پښتانهٔ مِن الحيث قوم اريا او سائتهين(Saka) ګڼي. څهٔ پوهان ورته تُرک، سواتي، مومند ،عرب او څوک ورته تاجک سواتي وائي.۳

په تاجکو کښې ئې څوک د سلطان پکهل د ځوي سلطان اوېس (جهانګيري سلطانان) سره او څوک ئې او څوک ئې د مير هندا

دودال سره تړي.

د تاريخ په پاڼو کښې ئې څۀ پوهان په "دهقان" "دهکان" "دېګان" بولي څوک ورته مسلمانان دهقانان يا دېګان او بعضې ورته "سياه پوش کافر" ۴ وائي.

دغه شان شلماني څوک د هندي نسب سره تړي او بيا وائي چې دوي وروستو مسلمانان شول.د مذکوره ورکړې شوي اصطلاحاتو تفصيل به د تاريخي کتابونو او نورو ذرايعو نه وړاندې کولے شي. کوم چې تر اوسه پورې لاسو له راغلي دي د هغې په رڼا کښې به پرې بحث کولے شي.لکه څنګه چې د پښتون قام په تاريخ باندې تر اوسه د ليکوالو او څېړنکارو رائې جدا جدا دي. هم دغه رنګه د پښتنو په ټولو قومونو. قبائلو او خېلونو هم رائې يوه نۀ ده.اوس هم ليکوال لګيا دي او د مختلفو قبائلو په ژوند ژواک او سماجي تړون او د نورو قومونو سره د دوي په مشترکه ورثو (Composite Heritage)باندې پلټنې کوي.

هغه تاريخ دانان او څېړنکار چې شلمانې قوم د سبلمان د غرۀ سره تړي او وائي چې په دې وجه شلماني بللي شي چې دوي د سليمان د غرۀ د سلسلې سره تعلق لري.يا په دغه غرۀ کښې شلماني قام استوګنه کړې ده. اوس دا خبره به په ډاګه کول غواړي چې دا دکوم "غر" يا غرئيزې سلسلې نوم دے؟

ايا دا غرئيزه سلسله په کوم ملک او علاقه کښې ده؟دا سلسله په موجوده پښتونخوا کښې، په افغانستان کښې، په ايران کښې ،په عراق کښې، په اسرائيلو کښې، په شام کښې، په لبنان کښې يا په موجوده سعودي عرب کښې ! اخر کوم ځائے ده؟ راځئ چې د

دې په تاريخي توګه لږ جاج واخلو چې لوستونکي په دې پوهه شي چې شلماني د چا سره تړي او دوي د کوم ملک نه په هجرت کولو مجبور شوي وو. په کومو کومو ملکونو کښې پاتې شول يا تقسيم شول. کوم خوا ئې کډې وکړې. او نن سبا ئې مېنې کوم ځائے دي؟ جائېدادونه ترې چا واخستل، څوک پرې قابض شول. او د پښتنو په وېش کښې ورته زمکه څومره ملاؤ شوه. په دې باندې په را روانو بابونو کښې په بشپړه توګه بحث شوے دے.

شلماني کوم چې په پښتونخوا کښې دي دلته څنګه راورسېدل. د وخت څپېړو څنګه ووهل.

کله چې د قامونو تاريخ پاڼو ته سپارلې شي نو تاريخ دانان وائي چې تاريخ ليکونکي به د ژبې، مسلک، دين و مذهب او د رنګ نه ماورا وي. ددې پرواه به نۀ کوي نو هله به يو حقيقت پسندانه تجزيه کېږي. او د قامونو سره شوې ناکړدې به بغېر څۀ د ويرې او ذات پات نه ليکلې کېږي. او د طرفدارۍ نه به کار نۀ اخستے کېږي. ولې ددې باوجود بيا هم هغه تاريخ دانانو او څېړنکارو کومو چې د قبائلو په سماجي او معاشرتي رسم ورواج باندې ليک کړے دے يا کومو چې خپلې مقالې ليکلې دي او تر چاپه ئې رسولې دي. هغه کسانو صرف او صرف خپل خپلونه، ګوندونه او نسبونه ستائيلي دي. او د بل قام سره ئې په کښې د جانبدارۍ، دشمنۍ لاره خپله کړې ده. اکثرو کسانو خو د دښمنۍ، بد نيتۍ او بد اخلاقۍ تر حده پورې خپل قلم استعمال کړے دے. چې هېڅ څوک ورته تاريخ نۀ شي وئيلے. په مصداق د فارسي خوانو چې "قلم در کف دشمن"

د شلمانو تاريخ ولې نشته؟ دا ځکه چې ددې قام په حقله که څۀ هم دي نو هغه پټ دي. شلماني په دې زمکه د مختلفو استعماري قومونو سره په جنګونو کښې اموخته وو. نو ځکه ئې تاريخ د وخت سره سره د جنګونو نظر شوے دے.

شلماني چونکه ددې سيمې يو زوړ قوم دے.نو په هغه وخت کښې که ليکوالو څۀ ليک کړے وو نو هغه قابض قوم ضائع کړے دے. د قابض قومونو تاريخ ډېر لنډ دے.نو ځکه پرې تاريخي ليکونه ډېر دي.

دويمه داچې قابض قومونه / قوم انګرېز استعمار او مغلو ته هم ډېر نزدې وو. د زنانوؤ رشتې ئې ورسره کړې وې،د دربارونو مراعات يافته وو خراجونه او ماجبونه ئې اخستل نو ځکه پرې هر قسمه ليکوالو ليک کړے دے. چې په تاريخ کښې ئې کارنامې موجودې دي، هغه که ښۀ دي او که ناښۀ!؟ د کتو او څېړنې پامته دار دي،دلته چې کوم کوشش او ليک شوے دے. دا اولنے او اخرنے کوشش نۀ دے. دا سلسله به جاري وي او د شلماني قام ليکوال نر او ښځې،لوئې واړه او را روان نسل به د خپل قام د پاره په ورکو خزانو کښې پلټنې کوي او د دنيا د نورو قومونو ،خېلونو او قبائلو سره به خپل شلماني قام اوړه په اوړه ودروي.

اخون درويزه بابا ۵ په خپل کتاب " تذکره الابرار والاشرار" په صفحه ۹۴ د شلمانو په حقله خپله رائې څۀ دا قسمه څرګندوي او وائي چې:

در کوهها تحریر

وشلمان در آمده از اینجا با مردم دلازاک آشتی کرده بجهت دیه شور در آمدند مردم دلازاک
با ایشان الطاف احسانها کردند بعضی قدما برانند که اولس از راه خیبر بجهت دیه شور
در آمدند چو بر بیرون حجره استادند که آبادانی کنند مردم شلمانی با ایشان آمدند لیکن دلازاک همه
مردم دلازاک مردم شلمانی الفت برادری بوده زیرا که دلازاک همه قبایل ایشان مقدم تر از
حدود آمده بودند بعضی مردم این حدود را باجوړ خستند و عیبت شاه بعضی را کم ساختند
بعضی را بالفت برادری نگاه داشتند بعد از آن اولس یوسفزی در دیر بعد آمده اند و از مردم
دلازاک بیک شاه در از تیراه وفا جدا شده بعضی مردم دلازاک با این مردم بیگدی پیش آمده
بعد از مدتی با مردم شلمانی که متوطن هشتنغر بودند محاربه کرده فتح ایشان را شده سلطان
نام شلمانی که از سرداران مردم شلمانی بوده کشته و باقی اولس را رانده در صوات آمده
سلطان صوات ایشان را جای داده موضع الاند را به ایشان انعام داده شنیدم از ثقات
چیزی که من متقن جلد را حاضر شدم دیدم که کلمه را بریده بودند چنانکه شنیدم و از ابوده
پر بوده که از طرف نگاه برابر خون بوده روان بوده نعوذ بالله من ذلک (۱)

د اخون درویزه بابا ددې خبرې په تائید کښې د تاریخ مرصع مؤلف افضل خان بنِ اشراف خان بنِ خوشحال خان خټک داسې رائې څرګندوي:

"یوسفزي بعضې عالم وائي چې باجوړ له راغلل. یو حدود ئې د باجوړ اونیوو. لږ ډېر جنګ ئې د باجوړ د عالمو سره وکړ. یا ئې باجوړ خوښ نهٔ شهٔ. یا ئې توان نهٔ لیدهٔ [لرهٔ]. ځینې جارووت په ملکانړې راغلل.

د دلاړاکو سره ئې په سفید سنګ ۶ جرګه وکړه. زمکه ئې وغوښته. دلازاکو زمکه ورکړه. پس له یوه مدته د یوسفزي د دلاړاکه سره عدوات شهٔ.

اما په قول د اخون درویزه یو روایت داد ے چې له دلاړاک سره ئې جنګ وکړ. ډېر یوسفزی ؤمړ، له هغه نه د یوسفزي اولس د تهترو ۷ د شلمان په غرهٔ راغلل. له هغه نه د دلاړاک سره صلح وکړه. په

حدود د پېښاور ننه وتل. دلازاک ددوی سره ډېر لطف و احسان وکړ.
بعضي عالم وائي چې د خېبر په لاز پېښاور ته راننوتل جوئے بربر ئې د شلمانيو وغوښت شلمانيو د دلازاکو په قوت منع کړه. چې د دلازاکو الفت او برادري د شلمانيو سره وه.پخوا ئې پېښاور نيولے وۀ .بيا اولس د يوسفزي کوچ وکړ دوابې ته راغلل له دلازاکو نه جدا شول، بعضې دلازاک د يوسفزي سره عدوات راواخست. په هغه سبب طاقت ئې د پېښور د استوګني نۀ وۀ .پس له يوه مدت ئې د اشتنغر د شلمانيو سره عداوت ؤشۀ. سره ئې جنګ وکړ.فتح يوسفزي بيا مونده.
جلو۸ نام شلمانے چې سردار د شلمانيو وۀ هغه ئې مړ کړ.باقي اولس ئې د اشتنغر وشاړۀ و سواد [سوات] ته لاړل. د سواد سلطان دوي لره ځائے ورکړ.په الله ډنډ [اله ډنډ] ۹ باندې ئې واچول.
نقل دے د اخون درويزه بابا چې د دلو چغرزي نه ئې نقل کړے دے.چې د جلو شلماني په مرګ زۀ حاضر وم چې سر ئې د دۀ پريکړ.هومره بوزه[شراب] ئې ښبلي وۀ چې له مرۍ تر وينو ئې بوزه ډېره راتويه شوه.نعوذ باالله من ذالک ."۲
اخون درويزه بابا په خپل کتاب " تذکره الابرار والاشرار " کښې د شلمانو په حقله داسې ليکي او وائي چې :
" دوران تصرف سلاطين صوات ازيشان زائل آمد نوبت تصرف بمردم شلمانی رسيده و بعد از لهو لعب و شور و شغب آنمردم برخيزد واين مملکت از ايشان رفته بدست مردم دلازاک افتاده"
" په پېښاور، سمه او سوات په علاقو باندې د سلاطين سوات قبضه وه.د پېښاور علاقې ته ددې نه پس شلماني قوم راغے.د هغې نه پس دلازاک ۱۰ راغلل ".[او وروسته د خشي قبيلې

يوسفزي راغلل او متصرف شول. په دغه وخت کښې په پښاور ښار، چارسده، چکدره، سوات د سلطان هندا او د سلطان اوېس حکومت وو] ۳.

شلماني د مملکت ګبر نه هم مخکښې په سوات او خواؤشا اباد وو. د ګبر سلطنت سلاطين تاجک ترک دي. شلماني په اصل کښې سواتي نۀ دي خو بيا هم ئې خلق په سواتو کښې شماروي.
بنګښ او شلماني هم نسب نۀ دي بلکې دوي د سلطان بهرام د فتح ننګرهار په وخت کښې د دوي په رعيت کښې شامل وو. ځکه چې شلمان او کرمان [کړمان] د ننګر هار حصې وې. ددې نه معلومېږي چې شلماني نۀ ترک او نۀ دېګان دي. شلماني او بنګښ د سوات په مفتوحه علاقو کښې د اوسېدو په سبب د دوي سره شريک وو. شلماني "Heterogenous" [د دوي په شان نۀ وو] وو. بلکې "Homogenous" [يو ذات وو] وو.
د يوسفزو سره چې کوم اوولس (۱۷) جنګونه شوي وو. د اوولسم جنګ نه پس د سوات ټولو قبائلو کوم چې د يوسفزو خلاف وو هغوي د شېر شاهٔ ابنِ سلطان جهانګير په مشوره پکهلۍ لورې ته کوچ وکړو. او د سلطان غياث الدين [په کال ۱۵۱۹ ء کښې د پکهلۍ سلطان وو. د ذات نه ترک وو] ترک حکمران پکهلۍ نه ئې اجازت واخستو او څۀ سواتي ډکرۍ [ټکرۍ] او ندهاړ ته لاړل چې په دې کښې سن کولي، شلماني ، بدېشي (ديشان) او بنګښ شامل وو"۴

د تواريخ خورشېد جهان منصنف شېر محمد خان ګنډا پور ابراهيم زي، د شلمانو په حقله د " احوال طائفه سواتي" د سر خط

لاندې ليکي او وائي چې:

احوال طائفه سواتی

بدانکه طائفه سواتی را بعض مردم دیگان هندی نسبت می‌نمودند [illegible] ایشان خود را دهقان تاجیک میدانند طائفه شلمانی در ابتدا بر کناره کوه
درهٔ کوه موسوم شلمان سکونت داشتند که از آن [illegible] از شلمان برخاسته به تیراه رفتند بار دیگر
از انجا برخاسته به هشتنگر رفته آباد شدند [illegible] شده باشند یوسفزیان او شان را اخراج کردند پس از آن
سلطان اویس سواتی او شان را بمقام الهٔ ڈنڈ [illegible] گردانید و وقتیکه سواتیه را نیز یوسفزیان گرفتند مغلوب
قوم یوسفزی می شدند بعضی از ایشان حال نیز در یوسفزی می هستند مگر از نهایت قلت حکم معدوم دارند شلمانی کهنه در تاریخ افغانان دیگان
گفته شده اند والله اعلم بالصواب. (۵)

دغه شان د دې اقتباس ترجمه سراج احمد علوي په اردو ژبه کښې د " تاريخ پشتون "په نامه کړې ده.

" قبيله سواتي چې بعضې خلق ئې د دېګان د نسل (هندي) نه ثابتوي او په خپله هم ځان دهقانان تاجک ګڼي. شلماني قبيله په اول دور کښې د کورم په غاړه چې په شلمان پېژندې شي، مېشته وو. هم په دغه وجه په شلمانو مشهور شو. د څۀ وخت نه پس د شلمان نه اووتل او د تيراه په لور لاړل او بيا د دغه ځائے نه هشتنغر ته لاړل. او هلته استوګن شول. تقريباً درې سوه کاله پس يوسفزو هم د دغه ځايه اويستل او سلطان اوېس سواتي دوي (شلماني) د الله ډنډ [اله ډنډ ملاکنډ ايجنسي] په مقام اباد کړل. کله چې يوسفزو په سوات ورختنه وکړه دا خلق د يوسفزو ماتحت شول. اوس هم شلماني د يوسفزو په علاقه کښې دي خو ډېر کم دي. د افغانانو په تاريخ کښې شلمانو ته دېګان وئېلې شي. والله اعلم بالصواب. "

حافظ رحمت خان په " تواريخ حافظ رحمت خاني ۱۱ " کښې،

خان روشن خان په " یوسفزئ قوم کی سر گزشت "او په تذکره" "پٹھانوں کی اصلیت اور انکی تاریخ " او مېجر راورټي په " NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" او ددې نه پرته نورو لیکوالو هم داسې لیکلي دي.چې په تېرو وختونو کښې کله مغلو یوسفزي د کابل نه راوشړل د هغې حال څهٔ په دې رنګ بیانوي:

"In the year 913 H. (1507-8 A.D.), Babar Badshah conferred the fiefs of Nek-Nihar or Nangrahar, Mandrawar, the Dara'hs of Nur, Kunar and Nur-Gal, upon Mirza' Abd-ur-Razzak, son of the late Mirza Ulugh Beg, Ruler of Kabul, his paternal uncle, who expelled the Yusufzis and Mandars from Kabul".

" په کال ۹۱۳هـ بمطابق ۸- ۱۵۰۷ء بابر بادشاه نیک نهار ،ننګرهار ،منډراور ،د نړ ،کونړ او نرګال محاصل د مرحوم الغ بېګ زوي مرزا عبدالرازاق ته عطا کړل. الغ بېګ چې د کابل حکمران او په رشته کښې د پلار د اړخه د بابر ترهٔ وو.چا چې یوسفزي او منډڼ د کابل نه زغلولي(شړلي) وو."

د یوسفزو پېښور ته راتګ

"د کابل په دا لویه بادشاهي لار یوسفزي خانه وار د کډو سره پښاور ته را وکوچېدل،چې په خېبر راغلل،وائي چې پکښې یوه لویه ونه د سرېښ ولاړه وه.یوسفزي واړه سره عورتې مړونه،لوئے هلک ،تر هغې ونې لاندې کېښناستل،خو هونبره یوسفزي وو چې واړه د هغې ونې تر سیوري لاندې ځائے شو.

اخر چې یوسفزي تر خېبر راتېر شو پښاور له راغلل په هغه وخت

کښې په پښاور ميشته دلاژاک هر ګوره ډېر زورور، ممالک ګېر تومن وو. هر چرته ئې دا ملکونه په زور لاندې کړي وو پرې پراته وو. پښاور، دو آبه، باجوړ، ننګر هار، کاله پاڼي، تر هزارې تر سينده پورې دا واړه ملکونه د دلاژاکو وو. هر چرې دوي پرې ساکن وو. يوسفزي قام دلاژاکو لره التجاء راوړه، دلاژاکو سره معرکه شو چې يوسفزو له يو ملک (علاقه) ورکړي. چې پرې ميشته شي. دلاژاکو يوسفزو له دو آبه ورکړه، چې پرې ميشته شئ.

يوسفزو ورته اوئيل چې زمونږ د قام د پاره دوآبه لږه ده. دلاژاکو ورته اوئيل چې د دوابې پورې دانشکول، عنبر [انبار ، امبار، انبهار، Anbar دا د مومندو علاقه ده] له باجوړ هم دي. دا مو هم له واړو ملحقاتو و مضافاتو سره درکړې ورځئ ستاسو دې وي.

بيا دلاژاکو ورته اوئيل چې اشنغر هم په دوآبه پورې دے که څۀ قوت مو وشي اشنغر هم په خپله توره د شلمانو واخلئ، پرې متصرف شئ.

په اشنغر کښې شلماني

ګويند چې په دغه وخت کښې اشنغر د دلازاکو نۀ وو، په کښې شلماني وو. شلماني په ذات ازجمله دهګان ۱۲ دي، له شلمانه له کرمانه چې له توابعه د تيراه ۱۳ دي. اصل وطن ئې شلمان ۱۴ کرمان دے. ځکه دوي په شلمانو منسوب دي. القصه اشنغر په هغه وخت د شلمانو وو، شلمانو خوړ، او سلطان پکهل چې د سوات سلطان وو. د هغه رعيت وو. ګويند چې له اشنغر به پورته و سوات ته تر بګياړې، تر حصار بلول (دې ته نن ورځ سري بهلول

وائي ،دا د تخت بائی نه دوه درې ميله مردان پله يوه د خاورو ډهېرى ده او کلے پرې اباد دے .)تر شېر خانې تر مهورې ، تر سواته او ټوټې ،سړوبے[سروبے] او سپورنې [سپورنه]د ملاكنډ تر غاښيه او درست سوات سره له توابع مضافات او درست بونېر واړه د سلطان پكهل وو.هر چرې سواتي دهګان پرې ميشته وو.د دۀ رعيت او مال ګذار وو ، د دۀ حاكم، شقدار ،ګماشته هر ځۀ پكښې ناست وو. او شلماني د دۀ په حكم په اشنغر كښې اوسېدل.او حاكم د هشنغر په حصار كښې ناست وو.

هر ګاه چې دلازاكو د يوسفزو سره ښۀ وكړل ملكونه مذكوره ئې ورته وركړل،يوسفزي له پښاوره راوكوچېدل .كډو سره راغلل،په دوآبه ميشته شول او هغه يوسفزى كونډې ،يتيمان،خلق چې د كابل په نواحي پاتې شوي وو او سوادګر ۱۵ هم چې ښكته پورته تلي وو. ورپسې ورځ په ورځې راتلل.پر دوابه پر ميشته شو.او مواشيدار كوچيان يوسفزي له كورونو سره،پورته دانشكول او عنبر ته لاړل،څوک په دانشكول او عنبر كښې پاتې شول او څوک پورته باجوړ ته لاړل،په موضع د لاشوړې ميشته شول.

د اشنغر ملک ګيري

ګويند چې په هغه ايامو کښې يوسفزو بيا اشنغر اخستے وو تر له حصارے کندے ،تر حصار بلوله ،تر حصار بې غمي، تر کاټلنګه ، تر سنګاوو ،تر شېرخانې، تر بازدرې،تر مهورې ،تر ټوټې ،تر کاجکله [کاټکله تالاش کوز دير]تر سپورني ،تر ملاکنډه درسته سمه تحت الجبل بيا نيولې وه.او په زور په جنګونو ئې دا ملکونه نيولي وو.ځائے په ځائے پرې ميشته وو.او په دغه وخت کښې باشنده د اشنغر شلماني وو.او غېر له اشنغره په دا نورو ملکونو واړه دهګان خلق وو.د سلطان پکهل رعيت وو او سلطان پکهل د سوات سلطان وو.

کله چې يوسفزيو قصد د ملک ګيرۍ د اشنغر وکړو،نوڅه ځوانان د يوسف نامې په طريق د دهاړې ئې اشنغر ته وليږل ،چې د شلمانو مال مويشي راولي ،کله چې هغه دهاړه ورپورې وتله ،مويشي د شلمانوئې له صحرا ونيول.را په مخه ئې کړل.ميرهندا او شلماني خبر شو،ورپسې راغلل مال ئې ترې خلاص کړو.دوي خالي دست دوابې ته راغلل نور مندڼ نامې پرې ملامت وکړو چې په دا هومره عمر کښې بې له مونږه دا ګذار تاسو تللي وئ،هسې خالي راغلئ هېڅ مو و نۀ کړل. لکه چې سبا شۀ مندڼ ورته بنۀ تياري وکړه. څه سواره اوپياده ورپورې ووتل. سورو ورته پېچوني وکړه او پياده وراغلل مويشي د شلمانو ئې ونيوۀ .شلماني او ميرهندا بيا خبر شو. په زورجمعيت ورپسې راغلل، دغه شان سره

راتلل چې تر پېچوني راغلل هلته نور پېچوني پرې راپاڅېدل. لور د لوره پرې راغلل او په ميان کښې يوسف نامه هم ورپسې راورسېدۀ.جنګ ئې سره ونښلوو. اخر مير هندا او شلماني ئې مات کړل وائې خستل او دوي ورپسې وو.تر هغه پورې چې په حصار ترې ننوتل،دروازې ئې بندې کړې او دوي ترې چاپېره شو قلعه ئې محاصره کړله.

ګويند هر ګاه چې يوسفزيو نيت و اشنغر ته بد کړ، هر چرې چې شلماني په اشنغر کښې وو ،واړه راټول شوي، دوي له ځانه له ماله سره په حصار ننوتلي وو.

الحاصل يوسفزي د حصار او د جندي سيند تر ميان ورته پرېوتل، اوبۀ ئې پرې بندې کړلې، درې ځلور ورځې په دا شان سره دننه محاصره وو. نور نهايت عاجز مضطر لاچار شو،پېغام ئې ملک احمد ته ،اوس عاجز شولو، لار راکړه او دومره قدرې امان راکړه چې څومره مال مونږ له ځانه سره اخستے شو هغه واخلو نور وځو.

او له هره تومنه او له هر خېله ئې څۀ قدر خلق په حسب د رسد له دوآبې راپورېوستل، په اشنغر ئې واچول، نور بيا مير هندا پسې روان شو.هرګاه چې ميرهندا له راتلو ددوي خبر شۀ د حصار بلوله خارج شۀ مخ په وړاندې وتښتېدو په حصار بېغم ننوت. لکه يوسفزي له حصار بلوله هم ورپسې ورتېر شو. له حصار بېغم هم فراري شۀ شېرخاني لره لاړ شۀ.

الغرض يوسفزي په دا طريق درجه په درجه ملک ګېري کوله ورپسې تلل او مير هندا ئې له مخه فراري کيدۀ.تا به حدې چې

کوز په سم هېڅوک دهگان پاتې نهٔ شو. واړه له مهورې په غابنې ورواوړېدل او سوات ته لاړل او د ميرهندا کور په تاڼه کښې وو. او قبيله د دهٔ قوم دودال هم واړه په تاڼه اوسېدل.دې هم تانې ته لاړ شهٔ او تاڼه په سوات کښې يو څرگند و مشهور کلے دے.

نور يوسفزي ترې راوگرځېدهٔ، راغلل تحت الجبل دا جميع ملکونه واړه له حصارې کندې ، د اشنغر تر حصار بلوله ،تر حصار بېغم، تر شېر خانې، تر کاټلنگه،تر سنگاوو، تر بازدرې، تر مهورې پورې ئې دا ملکونه واړه له دهگانو خالي کړل.په خپل تصرف ئې راوړل.

گويند چې په هغه وخت زيات يوسفزي د بگياړې د رود په غاړه ميشته وو.او نور هر چرته خوارهٔ وو.او په دا ملکونو ځکه ميشته شوي وو چې له دې به سوات زر په لاس راشي.

گويند چې د يوسفزو ميشته چې تر مهورې وراغلله ، په سلطان اوېس د سوات، دا چار هر گوره بده ولگېدله زهير او خائف شو، او خپلو اميرانو سردارانو ته ئې ووئيل چې" د يوسفزو قرب جوار ښهٔ نهٔ دے دوي د سوات زوال دي.او غرض د دوي هم له دې نزديکته د سوات اخستل دي.ددې چاري فکر بويه" نورو اميرانو ورته اووئيل چې "راشه دا خپله قبيله چې، د ملک احمد خور ده وئې وژنه چې د يوسفزو آمدورفت له دې ځايه قطعه شي چې له حاله مو نهٔ خبرېږي، چې دا مو جوړه جاسوسه ده"نور سلطان اوېس په صلاح د اميرانو هغه خپله قبيله په ناحقه په چاړو ووهله و ئې وژلله په منگلور کښې ئې دفن کړه.

گويند چې هغه ډېره عفيفه صالحه ښځه وه.لکه دا خبره ملک

احمد او واړو يوسفزيو واورېده ، د تعدي ناحق د سلطان اوېس پرې ډېره بده ولګېده. اما لکه ملک احمد ډېر صاحب دانا وو. تحمل ئې وکړ. سل غوائې سلطان ته واستول او تعزيت هم ورواستو. ورته ئې ووئيل چې "دا حکم الهي وو چاره ترې نه وه که زما په خوينبنې په نسبت د خوښې ده بله خوښي درسره به وکړم که دې خوښه وي زه به دغه ځائے له فاتحې له درشم "سلطان د ملک احمد د سړي په خُله پېغام ورته وکړو. چې "هر چې تقدير وو هغه وشو. او که ستا رضا دلته په راتلو ده راشه" پس له هغه، ملک احمد چې له دې نه خبر شو هغه سره د شلو کسانو د خور د تعزيت د پاره د بګياړې نه منګلور ته روان شو.

لکه چې سلطان د ملک احمد د راتلو خبر شو نو دوي به له منګلوره تانې ته راغلل هلته به ئې ارکان او عيان خپل راوبلل جرګه مشورت به ئې ورسره وکړل. " اتن"په کِبري ژبه کښې د جرګې ځائې ته وائي.

ملک احمد چې تانې له نزدې وراغے هور ته ډېره شو، د سلطان سړے وراغے ملک احمد ئې د يو خدمتګار سره طلب کړو ، ملک احمد وراغے ملازمت د سلطان ئې وکړو فاتحه ئې ورته وکړله نور بيامير هندا د ملک احمد خلقو ته اووئيل چې"مونږ اورېدلي تاسې يوسفزي د سوات نيولو په خيال کښې ياستئ داسې مېړۀ هم څوک په تاسو کښې شته دے چې زما مخې ته به راشي"

ملک احمد ډهېرې ۱۶ ته راغے سبا ئې بيا وباله، ملک احمد له هور ته وو چې مير هندا د ملک احمد د ېرې له وراغے،د ملک احمد خلق ورته پاڅېدو تعظيم تکريم ئې د دۀ وکړ، باری د هر

ګوره په قهر په غصه ناست وو. د خپلو خلقو سره ئې خبرې كولې په دا ميان كښې ئې څۀ ګفتګو سره وشوه.

د ملک احمد خلقو د ملک احمد د ملازې هېڅ جواب ورنۀ کړو. بارې دې هم دغسې په لاڤو شافو ولګېدو. په بار بار به ئې دغه هسې رنګ خبرې كولې، . درنګ په درنګ به پورته خوت .هر چند كه يوسفزيو له دغې خبرې به انكار كاوه د دۀ تعريف به ئې كاوو بارې دې نۀ سرېدو لا په پورته خوت.

نور اخر كريم داد بن عثمان يوسفزے چې ښۀ مېړنے مېړۀ وو صبر نه شو، ورته ئې اووئيل چې "مېړۀ مونږ د سوات خيال په زړۀ نۀ لرو او لكه تۀ چې وائې كه يوسفزے خدائے دلته راوست، ناكاره كمينه د يوسفرو زۀ يم، زۀ به په هغه وخت بيا ستا مخې له درشم" نورو رفيقانو په كريم داد قهر غصه وكړه چې تۀ خاموش شه. نور ميرهندا په غصه شو كنځل ئې ورته وكړل چې ګوجره سپيه تۀ به زما مخې له راشې. او د ميرهندا نوكران هم لور د لوره پرې راغلل بارې بيا ميرهندا منع كړل. چې سلطان به بد ومنې. شه دې هر څۀ چې وائې او دې وائي .نور په دغه ميان كښې ملک احمد و خلقو ته د سلطان د طرف نه مهماني راغله. هغوي خدمتګارو له ادبه راوړله د ميرهندا وړاندې ئې كېښوده ،دۀ لاس ورته كړل، يو ځو لقمې ئې واخستلې نور حكم ئې وكړو چې دا وريژې واخله او توئې كړې. نور هغو هغه وريژې واړولې په غولې كښې ،نور پاځېده لاړ شۀ. پس له هغه د ملک احمد خلق ورپاځېده هغه وريژې ئې په لمنو كښې ټولې كړې و ئې خوړلې. او دا كار ئې په نېک فالې ونيوو. چې دوي كبر وكړو. د سوات وريژې ئې وغورځولې او مونږ

تولې کړې ان شاء الله سوات له دوي لاړ شۀ ولې چې دوي خپله کاسه په خپله واړوله.

دوې په دا ګفتګو کښې وو چې .هغه وربېژې ئې لا خوړلې چې ملک احمد له سلطانه کور ته رخصت شوے وو .دېرې ته راغے .پوښتنې ئې ترې وکړې چې دا څۀ دي. دوي ورته حقیقت ماجره اووئیله .ملک احمد ورته اووئیل چې حقیقت د دوي راته ښۀ ښکاره شو .درومئ چې اوس کور ته درومو .خدائے به سوات راکړي نور له هغه ځایه را روان شو کور ته راغلل.

◈◈◈

په سوات یرغل

پس له هغې ې نور مشیران ملکان جمع کړل ورته ئې اووئیل چې د سلطان او د سوات د لارو حقیقت راته معلوم شو .خدائے به ئې راکړي. ګردآورې د لښکر کوئ چې سوات ته خېژو .هېڅ معطلي پکار نۀ ده. نور دا مصلحت هر چا سره خوښ شو .فاتحه ئې وکړله. نور ئې لښکر له دوآبې تر مهورې پورې واړه راوباله.د مهورې تر غرۀ لاندې دېره شو .او د مهورې په غاښي د میر هندا تانه هم ناسته وه.او د مالاکنډ په غاښي د شاه وېس او د فرخ زاد هم تانه ناسته وه.دا درې واړه لوئې امیران وو .نور څو ګزاره یوسفزیو د مهورې په غاښي هله وکړله. بارې لکه څوکۍ مُحکمه او غاښي سخت ناهموار او لوړ وو. بدې ګاټې ۱۷ وې برے پرې و نۀ کړو.

چنانچه میرهندا مذکور امیرنامې د دۀ وو، د مهورې په غاښي تانه[څوکۍ] کړې وه.او شاه وېس[میرویس] او فرخ ذار چې دا

دواړه نامدار اميران وو او په ذات دهګان سواتي وو د ملکهنډ په غابښي کښې تانه کړې وه.

نور دوه مياشتې کم وبېش دغه سنګر پراته وو. اخر له دغې لارې نااميده شو د ملاکنډ په غابښي ئې جاسوسان وګرځول. اخر جاسوسانو ورته خبر راوړو چې هغه عالم غافل بې خبره دي. او لار هم شته دے. اخستل ئې اسان دي.

نور ملک احمد ،شيخ ملي او ملک قره حکم وکړ چې په وړمبۍ شومه د ملاکنډ په غابښي خېژئ. بارې څۀ قدر خلق دلته په ډېرو هم پرېږدئ. چې ځائے په ځائے په ډېرو کښې اورونه بلوي چې دا د مهورې ځوکۍ هسې پوهېږي چې لښکر دلته ډېره دے.

نور هم په دغه طريق بعضې خلق په ډېره پاتې شۀ اورونه ئې بلَول او نور لښکر وکوچېدۀ . درسته شپه لاړ شۀ له سحر په وخت د ملاکنډ په غابښي ولګېدۀ. شاه اوېس او تانه ئې غافله په خوب اودۀ وه. دوي ور وختل. ځوکۍ ئې قتل کړله شاه اوېس او فرخ زاد دواړه ترې وتښېدل تانې لره لاړل او مير هندا هم چې خبر شۀ چې يوسفزي د ملاکنډ په غابښي راواوړېدل له هغه ځايه وتښتېدۀ تانې ته کور ته راغے د تانې په ټينګول شۀ او يوسفزي چې له ملاکنډ له غابښي ور واوړېدل دوه کروهه وړاندې لاړل په ډاګ باندې ډېره شو چې هغه ځائے ته په سبب د ډېرو کليو خار هم وائي او هغه ځائے هموار مېدان دے او سيند بهېږي. [د سوات سيند]

لکه سلطان او رعايا د سوات خبر شو نهايت په هراس کښې شو. وې وئيل چې بلا په سوات راننوتله. دفع کول ئې اوس مشکل شو.

د سلطان اوېس تاښې ته راتلل

پس له هغې سلطان سره د خپلو امیرانو او رعایا په تانه کلي کښې ډېره شو او تانه کلے د خار نه کوم ځائے چې یوسفزے لښکر پروت وو تقریباً د دریوو میلو[دا فاصله نهه میله ده] په فاصله باندې پروت دے.د خار اب و هوا ډېره ښۀ او علاقه ئې هم همواره ده.دا د سوات د دریمې حصې سره تعلق لري.

ګوئند چې هرګاه یوسفزي له غاښي ورواؤړېدل د غاښي په وړښ کښې کوز 'ملکوت'نومې یوه سنګینه قلعه وه.چې په دې کښې به ځوکۍ والوو سامان د رسد ذخیره کېښوده او د خوراک پخولود پاره دغه ځائے ته تله راتله.یوسفزو دغه قعله لوټ کړه. ډېر مال او اسباب ورله په لاس وراغے.پس له هغې هم دغسې ورپسې تلل د سواتیو د کلي دغه ځائے چې ډېر په هر طرف پراتۀ وو هغه ئې ووهل او غارت ئې کړل. او په دغه شان نور کلي ئې هم تاخت و تاراج کول.او هر ځوک چې به راتلل اطاعت به ئې قبلوو. امن به ئې ورکوو.

ګوئند چې یوسفزیو چې خار لاندې کړو.نو دریمه برخه د سوات ئې په تصرف کښې راغله، نور یوسفزي ورپسې په کډو راتلل ځائے په ځائے په دریمه برخه سوات میشته کېده او رعایا د سوات خلقو ته ئې دلاسه ورکوله.واړه راتلل په خپلو مواضعو له دوی سره اباد ېدل.په دا شان سره په هر کلي کښې به یو ځو کوره یوسفزي وو نور به ورسره سواتي اوسېدل او هغه وخت د پسرلي وو یوسفزو فصلونه، کښتونه، زراعتونه د سواتیو خوړل،اسونه ئې څربول او لښکر ئې درَست په اله ډند او په شینکر کلي ورته پراتۀ وو.او

سلطان هم تهيه ورته کوله په تانه کښې ناست وو. لکه اسونه يوسفزو تازه کړه، نور په عزم د جنګ د تانې وکوچېدل. قريب وراغلل له هغه طرف سلطان هم له جمعيت سره راووت هور ته مقابله شو جنګ ئې سره وکړ. د سلطان لښکر ئې مات کړ او يوسفزي ورپسې وو. د تانې څلور کروهه (دولس ميله) مخ په مشرق وارندې ووهل تر سيند په پاياب پورې شۀ و ترهنګ [تيرنګ شموزۍ سوات] ته خسته او شکسته وراغے او په دا لارې ډېر قتل شۀ. مال ئې غارت شۀ. نور يوسفزي ترې له تيرنګه راوګرځېدل راغلل په تانه شو.

ګويند چې په دې جنګ کښې سلطان شکست وکړ. لښکر ئې فراری شو او لښکر د يوسفزيو ورپسې وو. له ډېره هيبته سلطان لاره غلطه کړه راپورې له لنډاکي چې مقابل د تيرنګ کلي دے، له لښکره جدا شو، په تيرنګ وراغے له هغه ځائے سوېګلۍ (سه ګلۍ) له هغه ځائے دمغار او منګلور ته لاړو. سلطان چې له لنډاکيه غلط شو او ګرېزان او پرېشان د ملک حسن متراوي په کلي ورننوت. ملک حسن متراوي هم د ده دښمن وو. سلطان وويرېدو چې له هغې بلا راخلاص شوم په بله بلا کښېوتلم. سلطان په دريمه ورځ کور ته ورسېدو د دۀ د دريمې خېرات او فاتحه ختمه شوي وه چې کله کور ته ورسېدو نو د کور خلق خوشحاله شو.

د تانې جنګ

جنګ تانه اولنے منظم جنګ وو. په دې جنګ کښې دواړه فریقینو ښهٔ تیارے کړے وو. د سلطان سوات زیاتره عزیزان او امیران په دې جنګ کښې مړهٔ شو. کله چې جنګ شروع شو نو سواتي لښکر پښې ټینګې نهٔ کړې او په تېښته مجبوره شو. په دې تېښته کښې ډېر سواتي ووژلې شول او میر هندا پکښې بچ پاتې شو. یوسفزیو په اسانه باندې په تانه قبضه وکړه. او د متراویو تر د علاقې پورې چې موجوده ملاکنډ ایجنسي ده، د دوي قبضه کښې راغله. په دې جنګ کښې شاه اوېس او فرخ زاد چې د ملاکنډ په څوکۍ ناست وو ،هم ووژلې شول. د یوسفزو لښکر درست په خار او په تانه، چکدره او راموړه ورته پروت وو. همېشه به ئې د سلطان په پاتې کلیو باندې حملې کولې .د بند د قتل صرفه ئې هېڅ پرې نهٔ کوله کلي ئې سوزول ،خرابول او د متراویو په ملک ئې غرض نهٔ کوو.

د منګلور قلعه

منګلور د سوات یو غټ ښار دے په دې کښې یوه اوچته مضبوطه قلعه ده. دا د جهانګیري سلطانانو دارالخلافه ده. په دې قلعه کښې دننه د سلطانانو او بعضې د جهانګیري امیرانو محلونه او قصرونه وو. د قلعې په څلور واړه طرفونو ښارونه اباد وو چې پکښې لوئے لوئے بازارونه وو. په هغه وخت چې یوسفزیو

سوات لاندې کړو هغه ښارونه ئې وران کړل. کومې قلاګانې، قصرونه او محلونه چې پاخه وو هغه تر اوسه پورې ولاړ دي.

په تالاش حمله

ګوېند چې په هغه نزدې ورځو کښې اختر راغے. اکثر ځوانان به بهر ته ووتل او تماشې به ئې کولې. سورو به نيزه بازي کوله ناساپه په څۀ خوشي ګړزېدونکي هلکان د ښکار او د دارې د پاره بې تپوسه د خپلو مشرانو له اجازې تالاش ته لاړل.

تالاش د تانې نه قطب لور ته په څلور کروهه (۱۵، يا ۱۲ ميله) په فاصله د سوات د سيند پورې دے. او د پنج کوړې له سينده دوه کروهه (۸،۷ ميله په فاصله) راهيسته دے. د دواړو سيندونو او د دواړو غرونو تر ميان دے. ښۀ زرخېزه علاقه ده. او د کفارو د وخت قلعه د غرۀ په سر ده. ددې قلعې په وړاندې د انارو باغونه دي. او ښکته د تالاش په هغه وخت کښې دهګان کافران وو. او په شجاعت سره مشهور وو. اشرف واعيان په قلعه کښې اوسېدل. او رعايا ئې واړه کوز اوسېدل.

د يوسفزو دغه داړه دغلته اورسېده او د تالاش څاروی ئې وړاندې کړل او شړل ئې. څۀ سواره ئې ورپسې کړل. اوکار چيده سواره ورته دُنبال شو.

تالاشو ته پته اولګېده او د خپلو څاروو د خلاصې د پاره راغلل. جنګ ئې له سورو سره کوو او وړاندې د کاټکلې په دره کښې ئې ورته د مخې نيوو هځه کوله. د کاټکلې تنګې هغه دے

چې د تالاش د دواړو غرونو سر سره لګېدلي دي. دا ډېره زياته سخته لاره ده. او غرض ئې دا وو چې دا ځائے به ورته ونيسو. مال به ترې خلاص کړو. کله چې دوي هغه تنګي ته ورتلل سورو له هغه ځائے نه ځاروي بيا تېر کړي وو. کله چې تالاشي د کاټکلې مېدان ته راغلل او د يوسفزو د سورو سره ئې جنګ کوو. چې له هاغه مقامه راتېر شو پورته يو مقام دے چې په رباط نومېږي. په دغه رباط کښې پخې کوټې او منازل د ښختو دي. چې له پخوانه اباد دي. دغلته يو اوچت کمر دے او د لاندې ترې عميق وچ خوړ دے. هلته يو تالاشے پياده په محمود بن شاهان يوسفزي اکوزي بائيزي پسې راورسېدو. لاس ئې ور واچوو. محمود ټوپ د اس نه ووهو سره تر غاړې ووتل کوز خوړ ته دواړه پرېوتل. سره ورغښتل هلته محمود خدائے پرې د پاسه کړو چاړه ئې وښکله، په ګېډه ئې ووهو، مړ ئې کړو. او د سپينو زرو دوه حلقې په غوږونو وې ترې ئې وښکلې، وا ئې خستلې. نور پاس بيا راوخت په اس سور شو په خپلو سورو پسې راغے. لکه چې بيا واړه سوارهٔ په تنګي راغلل هغه تنګے تالاشيو بيا نيولے وو. نور ئې سره ووئيل چې يارانو راګېر شو. مردي کوئ. وخت د مردئ دے. اکثر سواره پورته وختل د غرهٔ په خوا ورته راغلل او واړه پرې حمله وکړه او تالاشي ئې ډېر ووژل. جامې او وسلې ئې ترې واخستلې صحيح سلامت د تنګي نه راووتل او خپل لښکر له راغلل.

وئېلې شي چې مزيد بن ملک قره بن بهزاد سدوزئ مندړ چې د خان کجو خپل ورور وو. ډېر بهادر او خوبرو ځوان وو. په يو لوئے ښائسته مشکي عراقي آس سور وو. په دغه وخت کښې د قطب له

لوره د غرۀ په خوا کښې ئې په يو تالاشي نېزه راولاړه کړه. هغه تالاشي ترې ښکته تنګي ته توپ کړل هغه تالاشي بل طرف ته د تنګي نه زر وختو او قصد ئې د تېښتې وو. مزيد چې هغه تالاشي اوليدو چې پورته کمر ته خوت، هلته ئې اس ورپسې پونده کړو، اس ئې لوئے توپ او غورځنګ وکړو. چې پورې غاړه تر تنګي ئې دواړه وړومبې پښې ولګېدې ونښتلې او هغه تالاشے ئې په هغه توپ کښې د کمر په غاړه په سورلۍ هسې په نېزه ووهو. چې نېزه ترې پورې راپورې ووتله. په هغه ميان کښې اسماعيل بهزاد خېل چې د مزيد قريبي عزيز وو. ورپسې راغے، هغه تالاشے ئې په توره ووهو، مړ ئې کړو. او مزيد پښ له ګدازه د نېزې چې خپل اس ئې وليدو چې د کمر په پېچومي نيم اخوا نيم دېخوا ولاړ دے. توپ ئې کړو او لاندې ترې کوز شو. پورته وخوت ، اس ئې تر واګو ونيو، پورته ئې راښکلو په اس سور شو او په خپلو سورو پسې لاړو. د مزيد اس چې د کاټکلې په تنګي کښې کوم توپ وهلے وو دغه فاصله د اکبري ګز نهه ګز ده.، پورې راپورې په هغه ځائے د کاڼو ښلي دي. او هغه ځائے(مقام) ته تراوسه "ګوړ ترپ"١٨ وائي. الحاصل هغه داړه په فتح او خوشحالۍ تانړې[تانه کلے دے] ته راغلله مال مويشي ئې ډېر راوستل. ملک احمد پرې ډېر د خوشحالۍ اظهار وکړو.

ددې نه پس ئې د سلطان او متراو نه هېڅ خطره پاتې نۀ شوه. لښکر ئې رخصت کړو. هر يو کس خپل خپل کور ته لاړو او د تالاشو قابو هم نور د استوګنې هورته پاتې نۀ شو. نور د تالاشه ووتل او د پنجکوړې په درو کښې ننوتل. هغه ځائے ترې خالي

پاتې شو. پس له هغه چې يوسفزو درست سوات لاندې کړو. تالاش ئې هم لاندې کړو. پرې متوطن شول.

په منګلور د يوسفزو دويمه حمله او د سلطان اوېس نياګ درې ته تېښته

په منګلور باندې ددې نه مخکښې دوه ځله ورختنه شوې وه. يوځل د يوسفزو مندړ قبيلې چارچاپېره په منګلور اوپه دويم ځل بابر بادشاه حمله کړې وه او بيا په دريم ځل د يوسفزو حمله وه. دا حمله په ۹۱۵ هـ بمطابق ۱۵۱۹ء کښې شوې وه. سلطان اوېس د بابر د حملو نه دا قياس کړے وو چې يوسفزي يواځې نهٔ دي او د دوي سره ئې مقابله لاحاصله وګڼله.

کله چې بابر بادشاه د سوات نه واپسي وکړه او کابل ته لاړو نو يوسفزي د مورې نه راکوز شول او د سلطان اوېس خلاف په مهم کښې مشغول شول. دوي ته چې به کله موقع په لاس ورتلله نو د سلطان خلق به ئې قېد کول. او د دوي کلي او ځايونه به ئې ورانول. او حتیٰ چې سلطان ددې کار نه عاجز راغلو. اخر چې سلطان سره د خپلو متعلقينو، فوځ نه علاوه د هر څهٔ سره د منګلور د قلعې نه ووتل او د تمامي سوات نه به در شول. د سوات په سيند پورېوتل او په تاج خېله وراغلل. له هغه ځايه په غرهٔ وختل. درې څلور شپې ئې په غرونو کښې اوشوې او نياګ درې ته ورسېدل. هور ته دېره شول. نياګ د غرونو په مېنځ کښې يوه دره ده. ټول ملک زيم دار، چشمه دار او سبزه زار دے. هر طرف ئې د فصلونو په وخت د

وښو نه معموره وي.د دې ځایه چارچاپېره کفار میشته وو.او اوس هم پرې واړه کفار میشته دي. سلطان اوېس دغلته یوه شانداره او مضبوطه قلعه جوړه کړه، چې نوم ئې پرې لاهور کېښود.د دې نه چاپېره د کفارو کلي وو. واړه کلي ئې په خپل تصرف کښې واخستل او لکه څنګه چې مخکښې وو، هم هغه شان صاحبِ جاه سلطان شو.او تر ډېرې مودې پورې د بادشاهت کولو نه پس د بدن په عارضه کښې مبتلا وفات شو او هم په دغه ځائے کښې دفن کړے شو.

د سلطان اوېس ځامن

د سلطان اوېس دوه ځامن وو.چې د یو نوم فېروز شاه او د بل نوم قزان شاه وو ۱۹.د پلار د مرګ نه پس فېروز شاه د پلار قائم مقام شو.یوه ورځ قزان شاه د سېل او ښکار دپاره د غرهٔ سر ته ختلے وو.هم په دغه ورځ د یوسفزو یوه داړه د جاسوسۍ د پاره دغه ځائے ته راغلې وه.قزان د دوي په قبضه کښې راغے او و ئې وژو. د قزان شاه نه ئې سر پرېکړو او د یوسفزو مشر چې په دغه وخت کښې خان کجو وو، ته ئې ورړاندې کړو.خان کجو په قزان شاه پسې دغه داړه لېږلې وه. دا ځکه چې د قزان شاه په سر ملک جوکے او کریم داد الیاس زے سالار زے چې دواړه نامي سرداران وو. خان کجو د دوي نه د غوریا خېلو خلاف په جنګ کښې مدد غوښتے وو.نو دې مذکوره سردارانو ورته ووئیل چې مونږه ستاسو سره په دې جنګ کښې برخه نهٔ شو اخستې.ځکه چې قزان شاه مونږ ته سپلمه دے.

که مونږ په لښکر ووځو نو د ے به بيا زمونږ کلي ووهي. پس امېد د ے چې مونږه د لښکره معاف شو. د قزان شاه د مرګ نه پس دغه کورنو بيا د شېخ تيپور په جنګ کښې حصه واخسته.

فېروزشاه تر ډېرې مودې پورې حکومت کړے وو او چې زوړ شو نو وفات شو. پس له هغې د هغه ځوي سلطان ماه د حکومت واګې په لاسو کښې واخستې. د سلطان ماه نه پس سلطاني د زين اعلیٰ [مېجر راورټي ورته سلطان زين علي ليکلے د ے، نوټس آن افغانستان اينډ بلوچستان مخ ۲۳۱]شوه. او دغه شان پرله پسې تر د ځو پُشته پورې سلطنت په دې خاندان کښې پاتې شوے وو. کله چې سلطان اوېس د منګلور نه لاړو نو کلهم سوات د متراوو د علاقې نه علاوه د يوسفزو په قبضه کښې راغے. وائي چې يوسفزو د سلطان اوېس نه واړه ملک په شپاړس(۱۶) کالو ۲۰ کښې په خپله قبضه کښې اخستے وو. او په اوو لسم کال د قبضې ئې بيا د متراوو په ملک لښکر وکړو. ۶

قلمي تاريخ قبيله سواتي د لال خان مرحوم جاګيردار ګلي باغ

د يوسفزو سره چې د سوات د سلطانانو وخت په وخت کوم جنګونه کړي دي د هغې يو لنډه شان اجمالي خاکه دلته وړاندې کول ضروري دي. ځکه چې په هره موقع د سوات د جهانګيري سلطانانو سره د دوي په رعيت کښې چې کوم قومونه وو هغوي هم د دوي سره اوږه په اوږه په هره موقع ولاړ وو.

مونږ دلته د لال خان جاګيردار ګلي باغ د قلمي تاريخ او نسب نامې نه د هغه وولس جنګونو حال بيانوو. چې په څۀ دا رنګ دي:

اولنے جنګ: دا جنګ په تانه کلي (مالاکنډ ايجنسۍ) کښې شوے وو. شاه اوېس او فرخ زاد چې دمالاکنډ د ځوکۍ په حفاظت ماموره وو يوسفزو د دوي د غفلت په وجه دا ځوکۍ قبضه کړه. د بټ خېلې او خار پورې ټوله علاقه ئې په قبضه کښې واخسته. دوي تانې ته راتښتېدلي وو. په دې جنګ کښې ډېر سواتيان وژلې شوي وو.

دويم جنګ: دا جنګ په هيبت ګرام کښې شوے وو. جمال، هندال او روکم چې د ارغوش (ارغش) قام سره ئې تعلق وو وژلې شوي وو.

دريم او څلورم جنګ:دا جنګونه په الـه ډنډ کښې شوي وو. دوه ورونه سلطان شاه او ميران شاه ابنِ شېر شاه بنِ سلطان جهانګير په کښې وژلي شوي وو.

پنځم جنګ: دا جنګ په جلاله (ملاکنډ ايجنسۍ) کښې شوے وو. حَسن شاه او عبدالله په کښې وژلي شوي وو. او لال شاه ابنِ حَسن شاه پکښې زخمي شوي وو.

شپږم جنګ :دا جنګ په منګُلتان (د سوات چارباغ سره نزدې) کښې شوے وو. پائنده خان (پينده) په کښې سره د خپلو ځامنو وژلے شوے وو.

اووم جنګ:دا جنګ په اوډي ګرام (هوډي ګرام)کښې شوے وو. فتح شېر چې د شاه موړ ورور په کښې سره د يولسو ځامنو وژلے شوے وو.

اتم جنګ: دا جنګ په عالم ګنج (سوات) کښې شوے وو. دا جنګ لبډېر کړے وو. لبډېر په دې جنګ کښې زخمي شوے وو.

نهم جنګ: داجنګ په چارباغ کښې شوے وو. زينور خان (دينورخان)او ددې نه علاوه قمر دين چې د سلطان داؤد په اولاد کښې وو هم وژلي شوي وو.

لسم جنګ: دا جنګ په شکر دره کښې شوے وو. هشملي خان (هاشم علي خان) په کښې سره د يولسو ځامنو وژلے شوے وو.

يولسم جنګ: دا جنګ په (شلپلم)[شېر پلم] کښې شوے وو. سربلند خان په کښې سره د پنځوو ځامنو وژلے شوے وو.

دولسم جنګ: دا جنګ په کوتي ګرام [اوچ دير پائين] کښې شوے وو.امير خان چې د سلطان ملک د اولاده وو .،وژلے شوے وو.

ديارلسم جنګ:داجنګ په تالاش [کوز دير] کښې شوے وو. " جوين"(يا اجون خان) په کښې وژلے شوے وو.

څوارلسم جنګ: دا جنګ په دوشخېله [کوز دير]کښې شوےوو.

پنځلسم جنګ: دا جنګ په هسبنړ [اسبنړ] کښې شوے وو. جمال خان په کښې سره د پنځوو وروڼو مړ کړے شوے وو.

شپاړسم جنګ:دا جنګ په رباط کښې خزان او همدان کړے وو.نسرالي (ناصر عليؑ) جوکي او بدرالي (بدرعلي) پکښې زخمي شوي وو.

اوولسم جنګ:دا جنګ په تالاش کښې نازو خان اوشمسي خان کړے وو. په دې جنګ کښې نازو خان سره د دوو وروڼو او نهه ځامنو وژلے شوے وو. شمسي خان په دې جنګ کښې فتح موندې وه. او تر دولسو کلونو پورې په تالاش کښې په خپلو زمکو ناست وو. ددۀ دمرګ نه پس د دۀ ځوے علي خان په دغه زمکو قابض او مقيم وو.

د ذکر شوو جنګونو نه دا ظاهره ده چې سواتيانو په اتفاق سره د يوسفزو مقابله نۀ وه کړې. بلکې د هرې علاقې خانانو په خپله او په خپل سر دا جنګونه کړي وو.
د لال خان په دې تاريخ کښې دا هم ليک دي چې سواتيانو ته د خپلې بې اتفاقۍ له کبله شکست شوے وو.او دا قومونه د سلطان اوېس د جهنډې لاندې هم نۀ وو جنګېدلي.لبه ېر چې د عالم ګنج په جنګ کښې زخمي شوے وو بيا د سېر تلي ګرام په دره کښې مړ شو. د لبه ېر په جنازه کښې د سوات زيات تره سرداران شريک شوي وو.په دې جنازه کښې دوي يوه پېره بيا د اتفاق کولو تجويز وړاندې کړو چې په سوات دوباره حمله وکړي خو شېر شاه ابن سلطان جهانګير د دې سره اتفاق او نۀ کړو.شېر شاه په دغه وخت کښې ضعيف العمر وو.ليکن سواتيانو دے خپل مشر ګڼو.شېر شاه دا مشوره ورکړه چې دوي دې سوات پرېږدي او پکهلۍ طرف ته دې لاړ شي. د سلطان غياث الدين ترک حکمران پکهلۍ نه دې د هغه علاقې ته د تلو اجازت واخلي.د سلطان غياث الدين نه چې اجازت ملاؤ شو نو د سواتيانو دغه واړه قبيلې هلته لاړې.٧

دسلېماني (شلماني) او مشواڼي قام موازنه

مېجر راورټي مشواڼي د سيد ګېسو دراز اولاد ګڼي.او وائي چې مشواڼي نسلاً سادات/ سيدان دي.۸

د تواريخ خورشېد جهان مصنف سردار شېر محمد خان ګنډا پور ابراهيم زے د"حال قوم مشواڼي"د عنوان لاندې ليکي چې مشواڼي سيدان يعنې سادات دي.۹

دغه شان حيات محمد خان په خپل کتاب "تواريخ حياتِ افغاني "کښې،عبدالحليم اثر افغاني په "روحاني رابطه او روحاني تړون "کښې،خان روشن خان"يوسفزی قوم کی سرگزشت"کښې،منشي ګوپالداس په "تاريخ پشاور ۱۸۷۶ء"کښې،سلېمان شاهد په "ګمنام رياست حصه اول"کښې او ډاکټر عبداللطيف يادطالبي په "پښتنې قبيلې"کښې د مشواڼي نهه څامن ښائي.چې څۀ دا رنګ دي:

لودين،متکانے. سملهانے(سلېماني/شلماني)،روغانے،تفض، کزبونے (کزبوتے) غريب ،خرباړےاو ياغن .

د تفض څلور څامن دي.کېوړ ،مهمند ،بدور او ترک.د بدور څلور څامن دي.يوسف (يوسف خېل) ،موسیٰ،ادم (ادم خېل)،سنجر.بيا د يوسف نه عثمان او محمود دي.۱۰

په "تاريخ پشتون" کښې چې ترجمه د " تواريخ خورشېد جهان" ده .په دې کښې د شجره نسب محمود خېل بنِ اتمانزي ابِن موسیٰ درويش ابنِ خدري بنِ وزير بنِ سلېمان.لاندې تفصيل داسې درج دے:

د محمود خېل درې څامن دي.حسن (حسن خېل) .دوز يخېل ، بارک خېل.

د دوزيخېل لاندې داسې ليک دي. سلېماني[شلماني] زړاني، دري خېل، منديخېل، درداني، دوسيلي، موسيګي او اسد خېل.
منديخېل په دې شاخونو کښې تقسيم دي.
ګوګي خېل، بخشي خېل.
درداني په دې تقسيم دي.
هيبت خېل، بډېر خېل او تورګي.
دوسيلي په دې شاخونو کښې تقسيم دي.
خلپ خېل، لوچي خېل، دلک خېل، مهربان خېل، عيسیٰ خېل، وزي خېل.
موسيګي په دې شاخونو کښې تقسيم دي.
بازيخېل، ترخېل، لالي خېل ، شخرخېل، درپي.
اسد خېل په دې شاخونو کښې تقسيم دي.
ميرخانخېل، مرزاخېل، درې پلاره.
بارک خېل بنِ محمود خېل په دې شاخونو کښې تقسيم دي.
بلي خېل، عبدل خېل. ۱۱

اوس د مشواني او سملهاني [سلېماني / شلماني] په مېنځ کښې د يو بل سره د هم اهنګۍ يا تړون راز څۀ دے؟دا سوال به جواب غواړي او دا به نور په بشپړه توګه څېړنه غواړي. ځکه چې وزيخېل (Wuzi Khel) کوم چې وړاندې سره د حوالو ورکړے شوے دے. دغه شان دلک خېل يا دلخا خېل(دلخا کور) هم يو بل ته نزدې نزدې دي.چې د شلمانو يا سلېمانيانو سره تړلې شي .
ايا اوس دا کتل پکار دي چې د شلمانونورې څانګې شته دے او که نۀ؟د دې خبرې لټون پکار دے؟

"دا شلمانۍ دے ګټې ګټې"

بعضې واقعات داسې اوشي چې په تاريخ کښې خوندې شي.د قيصو،ټپواو چاربېتو په شکل کښې بيانېږي.بعضې فولکلوري او څۀ غېر فولکلوري وي.خو سينه په سينه را روانې وي.د شاعر او د ليک نېټه ئې معلومه نۀ وي.خو پته ترې لګي چې واقعه څنګه شوې ده. او ولې شوې ده؟ لاندې ورکړې شوې فوک سندره په مختلفو وختونو کښې مختلفو سندر غاړو په بېلابېلو شکلونو کښې وئيلې ده .چې په ځينې لفظونو کښې ئې ردو بدل کړے دے. او مختلفې مصرعې يا ټپې لنډۍ ئې پکښې ورګاندې کړې دي.

دا به زما نه پوره نۀ شي
چې دې هر وختې په جرګو پخلا کوومه
راپرېږده ميرجماله ناوګۍ- د شلمانۍ
زما لالے د کوچو سپين دے
د فرنګي سره نوکر دے تور به شينه
راپرېږده ميرجماله ناوګۍ- د شلمانۍ
دا شلمانۍ دے ګټې ګټې
ميا ګله څۀ له پرې وهې د غم برجونه
راپرېږده ميرجماله ناوګۍ - د شلمانۍ

اوس " هغه سندرې چې فوک نۀ دي" د عنوان لاندې غازي سيال صيب راغونډې کړې دي.چې يوه پکښې "دا شلمانۍ شوګټې ګټې"هم ده.

دا شلمانی شو کتې کتې

راپرېږده ميرجمال د ناوکی - د شلمانی

د کشور سلطان په اواز کښې دا فوک سندره د خپل وخت يوه ډېره مقبوله سندره وه.چې يو تاريخي پس منظر هم لري. ۱۲

ددې فوک سندرې د واقعاتو صحيح اندازه نۀ لګي چې آيا دا هاغه امير جمال امانزے دےکوم چې د ملک هيبو په مرګ کښې شامل وو.او که نه چرته د هغه نه وروستوبل امير جمال دے؟ کومو واقعاتو ته اشاره ده؟

دلته د امير جمال بنِ بازيد مندنِ امانزی او ملک هيبو بنَ جته دلاژاک واقع تاسو ته وړاندې کولې شي.کله چې د امير جمال بنِ بازيد مندنِ امانزی سره يوسفزي په دانش کول کښې ميشته شول.دا هغه يوسفزي وو کوم چې د کابل نه راغلي وو.او په پېښور کښې ميشته شوي وو.دغه خلق بيا وروستو دانشکول،انبار، باجوړ او لاشوړې ته لاړل.هلته ميشته شول .دا خلق په دې اراده دغه ځايونو ته په کډه ځکه لاړل چې د دوي دا خيال وو. چې دلاژاکو دغه علاقه مونږ له راکړې ده.ملک هيبو چې د دلاژاکو يو نامور سردار وو.په باجوړ کښې د جندول په مقام اوسېدو.کله چې دلاژاکو يوسفزو له دغه بره علاقې په جرګه کښې ورکولې نو ملک هيبو په دغه جرګه کښې حاضر نۀ وو.ځکه هيبو دې ته تيار نۀ وو،چې جرګې بغېر د دۀ له اجازته او مشورې باجوړ يوسفزو له ورکړے وو.يوسفزو هيبو له ډېرې جرګې راولېږلې چې باجوړ دلاژاکو مونږ له راکړے دے.خو هيبو کله منلو ته تيار وو.او اخر چې يوسفزي او هيبو د جنګ په نيّت يوبل ته مخامخ شول.او په "لکه تيره"يوسفزي

او ملک هيبو يو بل ته خېمه زن شول.د هيبو خلاف د يوسفزو سره په مدد کښې خليل قوم هم ملګرے شو.د دوابې نه د يوسفزو د ملګرتيا د پاره نور يوسفزي هم باجوړ ته اورسېدل.دواړه قبيلې يو بل ته مخامخ شوې.يوسفزي او خليل په شا لاړل.ترکلاني اومهمند په دې جنګ کښې د يوسفزو مدد له د کابل نه راغلل.دغه راغلو خلقو د فريقين په مېنځ کښې د صلحې کوشش وکړو.خو ناکامه شو.د کابل نه راغلي ملک سرخابي او د ګهکړ لښکر هم د اميرجمال امانزي سره په هيبو حمله وکړه.په ملک هيبو د ټولو نه وړاندې پائينده ترکلاني ککازي حمله وکړه.او وروستې برهان ترکلاني پرې د تورې ګذار وکړو.او سر ئې ورله د تنه جدا کړو.په دې جنګ کښې د هيبو ورور جهان شاه هم وژلے شوے وو.د ملک هيبو توره او زغره وئيلې شي چې امير جمال امانزي د اولاد سره موجود دي.

د شَلْمانسر،سَلَمنسر،سَلْمَناصِرْ ترون او حقيقت څۀ دے؟

خنګه چې وړاندې د پښتنو د نسب او تاټوبي صحيح معلومات لاسو ته نۀ راځي هم دغه شلماني قام د تاريخ په حقله هم په دې نتيجه او نۀ رسيدو چې ايا د شلمانو اصلي تاټوبې کوم ځائے دے.دا يو نه ختمېدونکې خبره ده او په دې نور کار کول پکار دے.د تاريخ په مختلفو کتابونو کښې د شلمانسر، شلمانصر او د سلمنسر په حقله کافي معلومات موجود دي.

د ملک شام په زمکه په يو وخت کښې د تګلت پلسر ځوے شلمانسر پنځم هم حکمران پاتې شوے دے. په سلېمانيانو / سلېمانان د اول باب په نوټس کښې پرې بحث شوے دے. د اثرجان صېب د خيال مطابق:

"سلېمانان / سلېماني د خلاصة الانساب په رڼا کښې د ملک شام د کوه سلېمان سره د تعلق لرلو په سبب سلېمانيان يا سلېماني / شلماني ګڼلې شي"

که دې خبرې ته په غور وګورو نو شلمانسر د شام په بادشاهانو کښې خو يو بادشاه تېر شوے دے. خو دلته ئې د شلمانسر يا د شلماني قام سره څۀ تړون دے؟ په دې به نور تحقيق پکار وي چې دا خبره حقيقت ته اورسي.

د شلمانسر په حقله په دې موضوع د مختلفو کتابونو نه اقتباسات د لوستونکو د پاره راغونډ کړے شوې دي.

الفنسټين يو انګرېز صاحب علم دے، وائي چې:

"د افغانانو نسب نامه بناوټي ده. او داسې ښکاري چې دوي د اسرائيليانو د کتابونو نه ټوله کړې ده. او خپل تاريخ يا کتاب مخزنِ افغاني ئې د دې مقصد د پاره ليکلے دے. چې ځان بني اسرائيليان ثابت کړي. د حضرت عيسیٰ ﷺ د پيدائش نه ۷۲۱ کلونه مخکښې تګلت پلسر او د هغه ځوے سلمناصر د اشور بادشاهانو د بني اسرائيلو او يهوديانو په سلطنت حمله کړې وه او د هغوي سلطنت ئې نيست ونابود کړے وو. د دې نه لږه موده وروستو بخت نصر بابلي بني اسرائيل ګرفتار کړل. او سره د حضرت دانيال ﷺ پېغمبر ئې بابل ته بوتلل. د بني

اسرائيلو په دولسو قبيلو ۲۱ کښې لس قبيلې په مشرق کښې
پاتې شوې او دوه قبيلې يهودا او بنيامين واپس لاړل. کېدے
شي چې په پاتې شوو قبيلو کښې د افغانانو مورث اعلىٰ
قېس عبدالرشيد د چا د اولاد نه وي؟ ليکن ددې خبرې هېڅ
ثبوت نشته دے. دا په يقين سره وئيلې شو چې د ساؤل
طالوت د اولاده خو نۀ ښکاري. د پخواني تاريخ نه څۀ اطمينان
نۀ شي ملاوېدے او نۀ دا قابلِ تسليم دے". ۱۳

يوه بله رائې د شلمانسر په حقله "The Arabia and the Arabs" نومې
کتاب کښې داسې بيان شوې ده چې:

Shalmanneser-V: "Shalmaneser-V was king of Assyria from 727 BC.He first appears as governer of Zimirra in Phoenicia in the reign of his father, Tiglath-Pileser III. Evidence pertaining to his reign is scarce.

On the death of Tiglath-Pileser, he succeeded to the throne of Assyria on the 25th day of Tebet 727 BC, and changed his original name of Ululayu to the Akkadian name he is known by. While it has been suggested that he continued to use *Ululayu* for his throne name is king of Babylonia, this has not been found in any authentic official sources.

The name *Shalmaneser* is used for him in the Bible, which attributes to him the final conquest of the kingdom of Samaria (Isreal) and the deportation of Israelites. According to 2kings, chapters 17-18, Shalmaneser accused Hoshea, king of Israel,of conspiring against him by sending messages to Pharaoh Osorkon IV of Egypt, and captured him.

The Egyptians attempted to gain a foothold in Israel, then held largely by Assyria's vassal kings, by stirring them to

revolt against Assyria and lending them some military support. After three years of siege he took the city of Samaria. The population he deported to various lands of the empire,(together with ones deported about ten years earlier by Tiglath-Pileser III)are known as the "Ten Lost Tribes" of Israel. The populations he settled in Samaria instead from the origions of the Samaritans, according to a commentary in the Bible. Shalmaneser died in the same year 722 BC, and it is possible that the population exchanges were done by his successor Sargon II.

In the book of Tobit/Tebet, chapter-1, the exiled Tobit is known finding favor in the court of "Enemessar", only to lose influence under Sennacherib."14

" شلمان سر پنځم د ۷۲۷ ق م نه تر د ۷۷۲ ق م پورې د اسیریا (شام) بادشاه وو هغه د خپل پلار تګلت پلسر دریم په دورِ حکومت کښې د ذي مرّه د فونیشیا د صوبې په اول ځل ګورنر ښکاري.مګر د هغه د حکمرانۍ ثبوتونه ډېر کم دي.د تګلت پلسر د مرګ نه پس په ۷۲۷ ق م په پنځویشتمه نېټه د تي بِتې (Tebet/Tobit) د اسیریا په تخت کښېناستو.او خپل ذاتي نوم اولولایو(Ululayu) ئې بدل کړو،اکادین ئې کېښودو.د دغې نه پس هغه په اکادین پېژندے شو.دا هم یو رائې ده.او وئیلې شي چې هغه د اولولایو نوم د بیبي لونیا د تاج وتخت جاري ساتلو د پاره اختیار کړو.لیکن دا خبره هم په هېڅ مستندو تاریخي ذرائعو کښې نۀ ده موندلې شوي.

د شلمانِ سر نامه د هغه د پاره په انجیل (Bible) کښې استعمالېږي.چې په هغې کښې د سماریه د سلطنت اخري ځل فتح کول هغه ته منسوب کېږي.بیا د دغه سلطنت نه د اسرائیلیانو ویستل او شړل هم.

د دوو بادشاهانو باب ۱۷ – ۱۸ مطابق شلمان سر په هوشي(Hoshea) اسرائيلي بادشاه د خپل ځان خلاف د مصر بادشاه فرعون اوسرکون څلورم(Osorkon IV) ته د خفيه اطلاعاتو ورکولو الزام ولګولو او نتيجتًا ئې هغه ګفتار کړو.مصريانو په اسرائيلو کښې د قدم کېښودلو د پاره د څۀ ځائے قبضه کولو کوشش وکړو،چې په هغه زمانه کښې شام د شامي باجګذارو بادشاهانو په قبضه کښې وو.او مصريانو د دغو زرعي غلامانو بادشاهانو د شام د بادشاهت خلاف په څۀ فوځي کومک سره د بغاوت کولو د پاره د راپارولو کوشش هم وکړو. د درېو کالو د محاصرې نه پس هغه (اولولايو)د سمارېې ښار فتح کړو.او هغه خلق کوم چې هغه د سلطنت مختلفو علاقو ته وشړل.(سره د هاغو کسانو کوم چې تګلت پلسر درېيم لس کال مخکښې شړلي وو).هغه کسان د اسرائيلو"د لسو ورکو قبيلو "په نوم مشهوردي. اوهغه خلق کوم چې هغه په سماريه کښې اباد کړل،د وړومبنو په ځائے د سماريانو اصل بڼه کوي.او په انجيل کښې په دې حقله يوه لنډه غوندې تبصره هم شوې ده.

شلماني سر هم په دغه کال ۷۲۲ ق م کښې په حق اورسېدو.او دا هم ممکنه ده چې خلقو د يو ځائے نه بل ځائے ته شړل او ويستل،دا هم د هغه جانشين سارګون ثاني کړي دي.

د توبت/ ټي بټ د کتاب په اولني باب کښې جلاوطنه توبت دايني مسر (Enemessar) په دربار کښې د مخوريز کېدلو په کوشش کښې ښودلے شوے دے.صرف په دې مقصد چې د سيخرب(Sennacherib) لاندې خپل اثر ورسوخ ضائع کړي.(او يا

خپل اثرورسوخ ضائع نۀ کړي)"

سليم خان په"پختون پشتي ابراهيمي قوم"نومې کتاب کښې د سلمنسر يا د شلمن په حقله داسې ليکي چې:

سلېمان:(عربي شلمو- صلح اندېش) د متحده اسرائيل درېيم او اخري بادشاه.

سلمنسر:د اشور/ اسور(Assyria) بادشاهان په دې نوم تېر شوي دي.۱۵

شلمن:هوسي [هوشي (Hoshea)] ۱۰: ۱۴ کښې د دې سړي ذکر دے.ليکن اوس په تاريخ کښې د دې سړي او د دۀ د استوګنې ببت اربيل پته معلومه نۀ ده.

د پاړه چنار سره نزدې يو مشهور ځائے شلمان دے.دغه شان د شلماني او شلمانے په نوم په تحصيل چکيسراو په مارتونګ کښې شلماني شهتوت شته دے.شلمان،سلمان[او دغه شان شلماني ،سلېماني هم وئيلې شي]هم لوستې شي.چې لفظ سلېمان ترې جوړېږي.شلماني يوه پښتنه قبيله هم ده."۱۶

سليم خان د بره ذکر شوو نومونو تجزيه په دې ډول کوي.او ليکي چې:

"که چرې صيدا او يهودا مونږ زېده او ساميريه شارون "ښاروي ښرون" د ښرولو ځائے وګڼو نو سلحيم او سليم خان به سلېمان،د چکېسر يو کلے"داووت"[داووټ د تهاکوټ د پُل سره نزدې يو کلے دے]که "داؤد"او د موره/مورې غر که د ابراهيم ﷺ سره تړلے وګڼو نو د بني اسرائيلو د بزرګانو به د پښتنو د يوې خاص علاقې سره تړون ظاهر شي.اشوري پال (شري بلول،سري بلول،سري

بهلول) شلمانسر بخت نصر ،خورش او اخي اب (ترۀ-تارح) نومونه هم دې طرف ته اشاره کوي. ددې نومونو نه دا هم معلومېږي چې د یهودیانو او اسرائیلیانو د کمزورۍ په وخت ددې بادشاهانو په علاقو کښې ددې خلقو د خپلو خلقو مضبوط حکومتونه قائم وو.د دوي مقابله کول د اهلِ تورات د وس کار نۀ وو.په دغه حالاتو کښې ددې خبرې توقع مناسب ګڼل نۀ دي پکار،چې د تاریخ په وروستو وختونو کښې د پښتنو د یوې خاصې خطې د ټولو کليو له د یهودو او اسرائیلو زېرِ اثر نومونه ورکړے شول.

په دې حالاتو کښې زمونږ سره یو ثبوت کېدے شي.چې د تاریخ په پخواني ادوارو کښې د بني یهودو او اسرائیلو اباواجداد د سوات د سیند ،د جلاله د خوړ او د کابل د سیند په مېنځ کښې د موجوده علاقو اوسېدونکي وو. د دغه ځایونو په وړو وړو کليو کښې دوي خپلې اولنۍ ورځې تېرې کړې دي او هم په دغه وجه دوي د دغه کليو نومونه د همېشه همېشه د پاره د محفوظ کولو په خاطر په خپلو یاداښتونو کښې درج کړي دي او دغه بیا سینه په سینه راغلي دي او یاد شوي دي.د نن نه چې کله څلور زره کاله وړاندې د لیکلو عمل په شکل کښې راغے نو دغه خلقو د هغه کليو نومونه اولیکل.

د دغو مشرانو نسلونه وړاندې خواره شول نودوي نۀ صرف ددې ځائے د رسم ورواج د پاره استعمال شوے لفظ توره یاد وساتلو. بلکې د خپل اولني ټاټوبي سره د محبت په وجه ئې دغه کلي هم هېر نۀ کړل. او چې کله دوي ته دولت،حکمراني او جاه وجلال ملاؤ شو نو دوي خپل شریعت او قوانینو له د توره /تورې نوم ورکړو.چې

په عبراني کښې هم توره پاتې شو. ليکن په عربي کښې توراة/ تورات شو. دغه شان دوي د خپلو کليو په نومونو لوئے لوئے ښارونه اباد کړل. البته د ژبې نه د ناواقفتيا د کتاب د غلطيو او د کاتبانو د سهواً غلطيو په وجه زيات تر نومونه د عبراني، يوناني او د عربي د ترجمې په وخت خپل اصليت بائيللے وو. او کله چې د علم رڼا خوره شوه نو دغه نومونه بيا د ډېرې مشهورتيا نه وروستو کېښودې شوي دي او په نوو کتابونو کښې درج کړې شوي دي. د راز نه ډک ليک دغه نومونه دغه شان قائم وساتل، چې نهٔ واضحه وي او نهٔ چاپ شي.

دويمه نظريه دا قائمېدې شي چې کله اهلِ يهود او اسرائيل بزرګان د دغو کليو نه ووتل . نو د دوي دغه کليو په نومونو نوې قصبې او ښارونه اباد شول. او دا کوشش ئې وکړو چې دا نوې قصبې او ښارونه به په داسې ترتيب سره وي چې په دې کښې واړه واړه کلوتې وي. بيا د تورات واقعات هم په دغه کلوتو او قصبو کښې کېدل، په ليک کښې راوستلے شول. د دغه واقعاتو مقامات وروستوجوړې کړې شوي نوې ابادۍ وې. کله چې د تورات واقعات وليکلے شول نو په دغه نوي تحرير کښې هم د دغو نوو ابادو په وجه د زړو کليو او بانډو نومونه محفوظ کړې شو.

بېر سبع، ميسک، دمشق، عسق، قلزم او مصر د ښار (په دنيا کښې د مصر په نوم ملک موجود دے. په دې نوم بل يو ښار نهٔ وړاندې چرته وو او نهٔ اوس چرته شته دے.) په وجه پيرسباق، مېشک ، کلپانۍ او مصري شاه بانډې نومونه محفوظ شول. هم دغه شان ئيردين حتیٰ چې شارون، ضبيان، جدر، ضغر او حصيصون.

د تمر مردان هوتي، چراګاه، دوبيان ، ګدر، ډګر او د هشتنغر نومونو مشهورتيا وموندله.

بېت اللحم، شور، اشر، اسور ،لوظ، نود ،بېرلحي ،د روئې چينې نه شېخ جانه، شوه، لاور، کوهي برمول او د سرې چينې نومونو له تحفظ ورکړو. دغه شان د عموره او موريا په وجه سره موره او عيلام و ايلام په وجه سره د ايلم غرونو ته تاريخي حېثيت ملاؤ شوے دے." ١٧




Timergara
Chekho
Existing Places Of Shalmani Tribe
Swat
Ramora
Nawagai Barikot
Natmaira
Alladand
Batkhela
Mekhband
Palai
Bazdara Bala


North Ocean
RoC
Eldior
North Ocean
West Ocean
Andromedan Republic
Pariman Empire
Eridor
Aahn
Shalman Commonwealth
Ymerra
West Ocean
Middle Ocean
RoC
Parma
Shalman Sea
Shalman Commonwealth
Pariman Empire
Golf of Amman
Andromedan Republic
Ardash Empire
Kingdom of Lomrie
Hhellan
West Ocean
Shalman Com.
Shalman Com.
Uhrtegal Empire
Yenmath
Vimar Sea
Bish
Ardash Empire
Vemar
Duchy of Eldaar
Yilath
Varand Empire
Zilidir
Ennia
South Ocean
South Ocean
Republic of Cities (RoC)
Uhrtegal Empire
Fandar Dominion

نوټس

1.Shilmani [Shalman] Mohmands: "Loi and kam Shilman these are really sections of the Shah Mansoor Khel and the Masaud Kor, Dadu Khel Tarakzai and Halimzai Mohmands in Loi Shilman; and Kam Shilman there is a minor fraction of Asaf Khel,Dalka Kor,Dadu Khel, Tarakzai,Mohmands."
(A DICTIONARY OF THE PATHAN TRIBES ON THE NORTH- WEST FRONTIER OF INDIA, 1899. p. 203 and 1910. p.44)

شلماني مومند: [دا د شَلمان علاقې ته اشاره ده نه چې شلماني قوم ته] "په حقيقت کښې دوي د شاه منصورخېل ،مسعودکور، دادوخېل د ترکزو او حليمزو مومندو په لوئې شلمان کښې او په کم شلمان کښې د قبيلو حصې دي .
په کم شلمان کښې د آصف خېلو ،دلخاکور،دادو خېل د ترکزو او مومندو وړوکې وړوکې ټولګي هم دي". (حسن ګل بانډه وال ،"(قاموس) پښتني قبيلې او خېلونه"، اکتوبر ۲۰۰۱ ع ، مخ ۲۷۴)
[درما خېل،ولي محمد کور،وزير خېل،اصف خېل او مرادي خېل خپلو کښې يو دي.د دوي مَاجب او وېش د حلېمزو سره دے خو نور ترکزي دي. يوسف خېل،غونډه خېل،قاسم خېل،سلطان خېل،حمزه خېل او ازاد خېل.د دې نه علاوه په دوي کښې ذيلي خېلونه هم دي]
دغه شان شمس مومند په خپل کتاب "مهمند قبائل"کښې په مخ ۸۳ د مومند قبيلې د شجرې لاندې دا بره ذکر شوي خېلونه د مومند قام نه ښائي. م ج ،سيال مومند هم په خپل کتاب "مومند بابا"کښې دغه مذکوره خبره کوي.چې په کم او لوئے شلمان کښې مومند استوګنه کوي. دلته دا خبره واضح شوه چې شلماني د مومندو نه نهٔ دي او نهٔ مومند د شلمانو نه دي.بلکې دا دواړه جدا قومونه دي.

2. **Sulemani:** Some times said to be a section of Khadder Khel, but in reality a section of Wazu khel. Mohmit Khel, having land among the Khadder Khel."
(A DICTIONARY OF THE PATHAN TRIBES ON THE NORTH- WEST FRONTIER OF INDIA, 1899. p. 208 and 1910. p.185)

"سلېماني" (Sulemani): کله کله دوي د خدرخېلو په نامه بلل کېږي خو په حقيقت کښې دوي ووزي خېل (Wazu Khel) محمود خېل دي. او زمکه ئې په خدر خېلو [کدر/ قدرخېل] کښې ده." (حسن ګل بانډه وال ، "قاموس پښتني قبيلې او خېلونه"، اکتوبر ۲۰۰۱ ع ، مخ۲۴۷)

۳.. عرب: "د دلازاکو د راتلو نه وړاندې شلماني (سلېماني):
دا نوم عربو دې قوم له ،چې د کوهِ سلېمان او د هغې په خواؤشا کښې اباد وو ، ورکړے وو. دا قوم د مسلمانېدو نه وروستو په شلماني باندې ياد کړې شول.په دغه ورځو کښې شلماني د هشتنغر په علاقه قابض وو او د سلطان سوات رعايا وه". (ڈاکٹر شیر بہادر خان پنی "تاریخ ہزارہ"۔ اگست ۱۹۶۹ء ، صفحہ ۳۰۰)

۴.مېجر راورټي په کال 1864 ء کښې د[سياه پوش کافر] " On the Language of the Si-ah-pos'h Kafirs" د عنوان لاندې داسې ليکي:

" I should hardly think they were real Kafirs; and should consider that, in all probability, they were nimchahs or "half-breeds," as those people are designated who have sprung from the mixture of Afghans with the aborigines of the parts to the north of the Kabul river; viz. the kafirs, Lamghanis, Shalmanis, Deggauns, Gujars, Suwatis &c., and with each other; for the Afghans, as we know from their histories, as well as from the accounts of Persian and Hindustani writers, have been in the habit of applying the Arabic term "Kafir,' or "Infidel" very discriminately, particularly to the aboriginal people of Afghanistan bordering upon the Kabul river and its tributaries, and the people of the Alpine Panjab nearest the Indus. Hence, with them, the term Kafir might as well refer to the Lamghanis, or Shalmanis, before conversion to their own faith, as to the people whom we know by the name of Si-ah-pos'h kafirs ".

(Raverty, H.G.Capt, "JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL", EDITED BY: THE SECRETARIES.VOL.

XXXIII. Nos. I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.1864, CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS 1865. pp.267-278)

" (ددې وجوهاتو په بنا) زۀ په مشکله دا سوچ کولے نۀ شم، چې دوي حقيقي او اصلي کافر وو. او دا خيال او سوچ کوم، چې هر څومره امکان کېدے شي، دوي نيمچه يا دوه نسلي ملاپ وو. څنګه چې دغه خلقو ته دغه نامه (نيمچه) ورکړې شوې ده. کوم چې د دريائے کابل شمالي علاقو کښې د اصلي باشندګانو د افغانانو سره د اختلاط په وجه پېدا شوي وو. مثلاً کافر، لمغانيان، شلمانيان، دېګان، ګوجر، سواتيان او داسې نور ،د يو بل سره وو. څنګه چې مونږ ته د افغانانو د تاريخ نه معلومه ده او هم دا رنګې د فارسيانو او د هندوستانيانو ليکونکو د ليکلو نه معلومېږي ، دغه شان دا ټول قومونه د عربي ژبې ټکے "کافر" عادتاً استعمالوونکي را روان دي. او دا ټکے بغېر د څۀ سوچ او فکر کولو نه استعمالوي. خاصکر د افغانستان د زړو باشندګانو د پاره يا د هغوي په باره کښې کوم چې د کابل سيند سره لګېدلي دي.يا د دريائے کابل معاونينو سيندونو سره دي او د پنجاب د هغه لغړو غرونو خلقو ته هم کوم چې د اباسين سره نزدې دي ،کافر وائي.

پس د دې ټولو دلائلو نه لفظ "کافر"لغمانيانو يا شلمانيانو ته هم منسوب کېږي.مخکښې د دې نه چې دوي خپله عقيده بدله کړې نۀ وه.لکه څنګه چې مونږ ته د "سياه پوش کافر" د نامې اخستو نه معلومېږي."

د راورټي دا ټولې خبرې په قياس مبني دي.او دا قياس ئې سم نۀ دے.دغه شان نورو ليکوالو د تاريخ د بې خبرۍ نه کار اخستے دے او دوي ئې کافر ګڼلي يا ښکاره کړي دي.

اخون درويزه بابا په " تذکرة الابرار والاشرار" کښې چې د نن نه څلور سوه او اتلس کاله مخکښې په ۱۰۲۱ هـ ليکلے شوے دے.په کښې د شلمانو او لغمانو په حقله په مخ ۲۲۱ داسې ليکي:

"جمله آنست که ملا حبيب شلمانی مرد سعيد بوده وپسر او ملا رکن الدين نيز مرد اهل است".

ژباړه:"پس د دې ټولو نتيجه دا ده چې مُلا حبيب شلماني نېک بنده وو.او د هغه ځوے ملا رکن الدين هم مرد اهل يعنې د پلار په لاره وو ،يعنې هغه هم

صحيح مسلمان وو".

هم دغه شان په مخ ۲۲۲ ليکي:

"از مردم شلمانی ملا ابراہیم تا اولاد و اتباع خویش اہل سنت است و از مردم لمغانی ملک حبیب با اولاد اتباع خویش اہل سنت است".

ترجمه:" په شلمانو کښې ملا ابراهيم د خپل اولاد او د خپلو خپلوانو سره ټول اهل سنت دي.او د لمغانو ملک حبيب سره د خپل اهل اولاد او د خپلو خپلوانو اهل سنت دي".

د مېجر راورټي د ليک نه دا ښکاره ګنده ږي چې دا د اخون درويزه بابا تصنيف نه وو کتلے.ځکه راورټي شلمانيانو او لمغانيانو ته لفظِ کافر منسوب کړے دے.چې دا سراسر يوه تاريخي بې انصافي ده.(محقق)

۵. اخون درويزه بابا د پېښور په منډېزو کلي کښې يا د بُنېر د چغرزو په علاقه کښې په ۹۴۰ هـ بمطابق ۱۵۳۳ء کښې زېږېدلے وو.

د اخون درويزه بابا د پلار نوم اخون ګدا دے چې په ګدائي هم مشهور وو.خو مياظاهر شاه قادري وائي چې د دهٔ خپل نوم شريف شرف الدين وو.(شهباز محمد ،"سواستو" ،اپرېل ۲۰۱۱ ،مخونه ۹۵ – ۹۹)

د اخون درويزه بابا د نيکه نوم شېخ سعدي دے. د مور ابۍ نوم ئې بي بي قراري [قراره]دے.او د سکندر ذوالقرنېن د خاندان سره تعلق لري. "تذکرة الابرار والاشرار" فارسی ، مخ ۱۱۳)

د اخون درويزه بابا مشهور تصانيف تذکرة الابرار والاشرار، مخزن الاسلام ،ارشاد الطالبين ،ارشادالمريدين ،تلقين المريدين ، تذکرةالاولياء او شرح قصيده امالي دي . (ميا ظاهر شاه قادري "اخون درويزه بابا" ، ۲۰۰۰ء ،مخ ۱۵۷ ، خان روشن خان"یوسفزئ قوم کی سرگزشت" مخونه ۴۷۲ – ۴۹۰ ، ،شبېر افضل خان بريکوټي "مولانا اخون درويزه" ۲۰۱۰ء ،مخونه۷۲ -۷۵)

تذکرة الابرار والاشرار اخون درويزه بابا په ۱۰۲۱هـ بمطابق ۱۲۱۲ء کښې ليکلے دے. په دې کښې د سوات د سيمې ټول مذهبي ،جغرافيائي، معاشرتي او سماجي تاريخ ليک دے.په دې وخت کښې د بابا عمر اتيا کاله وو.

(عبدالحليم اثر افغاني،"روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول ، اشاعت

سوم فروري ۲۰۰۴ء، مخ ۴۸۲ ، سر اولف کيرو ،(ترجمه اردو) سيد محبوب علی،"پٹهان" ،دريم چاپ، ۲۰۰۰ء ،مخ ۲۵۲ ،

Sir Olaf Karoe, THE PATHANS,1999. P.180)

سر اولف کيرو د اخون درويزه بابا په حقله داسې ليکي:

"اخون درويزه بابا د ۱۷۷۱ ء نه وړاندې ددې علاقې د تاريخ ليکلو وړومبنے مصنف دے" . (سر اولف کيرو ، کريمي الحاج شبر محمد (ژباړن) "پښتانۀ (پٹهانز)" ،مخ ۲۷۲)

د اخون درويزه بابا شپږ ځامن وو چې نومونه ئې دا دي:

۱. عبدالباري ۲. عبدالخالق ۳.عبدالکريم (ميا کريم داد) ۴. پائنده محمد ۵ .عبدالله ۶. محمد يوسف. [ثقافت سرحد د تاريخ په ائينه کښې نومې کتاب کښې په مخ ۲۱۷ د اخون درويزه بابا نوم عبدالله المعروف الله داد او لقب اخون درويزه ذکر شوے دے .د اخون ميا کريم داد خپل نوم عبدالکريم دے او په شهيد بابا مشهور دے. د خپل وخت لوئے عالم ،شاعر او ولي کامل تېر شوے دے.د دۀ قبر په کانجو کښې دے.[ميا ظاهر شاه قادري وائي چې د دۀ قبر بيا ابوالليث المعروف لېونو بابا جي صاحب د شانګلې ښکاره کړو چې د تېرات په مقام باندې دے]. په ميا کريم داد شهيد بابا باندې د پير بابا صاحب لور شاهان ابئ وادۀ وه.(ميا ظاهر شاه قادري "اخون درويزه بابا" ،۲۰۰۰ء ،مخونه ۱۱۲ تا ۱۱۳ او ۳۸۷)

ډېر ليکوال د اخون درويزه بابا نوم عبدالرشيد ښائي. (محمد اصف خان ، "تاريخ رياستِ سوات" [۱۹۵۸ء اشاعت اول] ،مخ ۵۷ ، سرن زېب خان سواتي ،"تاريخ رياستِ سوات" ، ۱۹۸۴ ء ،مخ ۷۰)

شبر افضل خان بريکوټي او ميا ظاهر شاه قادري صېب وائي چې د دۀ خپل نوم اخون درويزه دے. (شبر افضل خان بريکوټي "مولانا اخون درويزه" ۲۰۱۰ء ،مخ ۱۵۸)

اخون درويزه بابا نۀ پاپينے وو او نۀ تاجک وو. بلکې د دۀ شجره نسب د حضرت عثمان غني سره ملاوېږي. (ميا ظاهر شاه قادري "اخون درويزه بابا" ،۲۰۰۰ء ،مخ ۱۰۷)

اخون درويزه بابا د مُلا زنګي په واسطه د حضرت سيد علي ترمذي المعروف پير بابا صاحب د بُنېر نه لاس نيوه کړې وه. او وروستو ئې بيا خپل خليفه او ماذون کړو. پير بابا صاحب، اخون درويزه بابا له په څلورو واړو طريقو کښې يعنې په قادريه، سهرورديه، چشتيه او کبرويه کښې اجازت ورکړے وو. دې ئې په پنځمه طريقه شطّاريه کښې هم خليفه او مجاز کړے وو. اخون درويزه بابا په کال ۱۰۴۸ هـ بمطابق ۱۲۳۵ء کښې وفات شوے دے. د دهٔ عمر په دغه وخت کښې ۱۰۹ کاله وو. زيارت ئې د پېښور ښار د ګنج دروازې نه بهر په لويه اديره هزارخوانی کښې دے. (عبدالحليم اثر افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول، ، اشاعت سوم فروري ۲۰۰۴ء، مخ ۴۸۷)

۲. سفېد سنګ يا سپين سنګ: سپېر سنګ او سفېد سنګ له پېښور ښهره قطب لوېديز لورې او له تهترې سهېل خاتيز ته د باړزو خليلو په تپه (تحصيل او ضلع پېښور) کښې يو تر بله بالکل نزدې پراتهٔ دي. سفېد سنګ له سپېر سنګ شمال مغرب ته دے. ("تاريخ مرصع"مئ ۲۰۰۴ء باب دويم: ،مخ ۱۲۳۱)

7. "The Shalmani have a few villages in the hills around the Koh-i-Tahtarah, and their occupation chiefly is to navigate rafts between Jalal-abad and the Peshawar valley ".
(Maj;H.G Raverty."NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN .p .221)

" تهتره [تاتره ، تحتره]: د شلمانو د کوهِ تاترې نه چاپېره واړه واړه کلوټي دي. او د دوي لويه پېشه د جلال اباد او د پېښور د وادی تر مېنځه جاله واني ده."

۸. "جلو نام شلمانے چې سردار د شلمانيو وهٔ... نقل دے د اخون درويزه بابا چې د دلو چغرزي نه ئې نقل کړے دے. چې د جلو شلماني په مرګ زهٔ حاضر وم" الخ

ګلشن روه د تاريخ مرصع انتخاب ص ۹ او ۱۰ او کليد افغاني ، د تاريخ مرصع انتخاب ص ۲۱۷ "خلو" ګلشن روه ص ۱۰ او کليد افغاني ص ۲۱۷ "له يوه چغرزي" ن ب (ص ۵۵۲/ ۵۵۳) مط ن ا "جلو" او "له ولو چغرزي" په

ځائې د ن ا د "له دلو چغرزي" نو دلته بيا د پادري هيوز هم د ګلشن روه پېروي جوته ده.

دغه ځائے به دا خبرداری مناسب او ضروري وي چې شلماني په دغه مضمون کښې ياد شوي دي.او د شلمان اوسېدونکي وو.

پلاؤډن[T.C Plowden]ليکي چې دوي د شلمان نومې ځائے نه د کوهاټ په مغرب کښې د کرمې د سيند په غاړه دے،راغلي وو. (مخ ۱۷۷)

د خيبر د درې په شمال کښې شلمان نومې کوهستاني علاقه اوس له ډېرې مودې راسې د مومندو په قبضه کښې ده. او له دې قبله [له کبله]دغه مومندو ته هم عام طور سره شلماني وئيل شي. غالباً چې هغه شلماني خلق چې په دغه مضمون کښې ياد شوي دي د کرمې له خوا دلېږدې [الېږلو] نه پس په خپل شمال مشرق لورې مزل کښې د خيبر په خوا کښې اوس شلمان نومې کوهستان او د وادی پېښاور په څۀ حصه هم قابضان شول. او دغه کوهستان هم د غو زړو استوګنانو له نسبته شلمان وبللے شو."

۹. اللّٰه ډنډ [الله ډنډ] د سوات د سيند په کينه غاړه يا سهېل غاړه د وادي سوات په رانيزي نومې تپه کښې د مشرى ځائے [دے]. (پلاؤډن مخونه ۱۷۷ ، ۱۷۸)، تاريخ مرصع" اشاعت مئ ۲۰۰۴ء باب دويم، مخونه ۱۲۳۱-۱۲۳۲)

۱۰. د دلازاک قوم د راتلو حال: د "کليات قوم دلازاک"د بيان مطابق چې هغوي په بندوبست کال ۱۸۷۰ء کښې په خپله داسې وئيلې دي:-

"زمونړه قوم دراني د سلطان محمود غزنوي په دورِ حکومت کښې يا د هغې نه پس د قندهار نه د دښمنۍ او فساد په وجه د پېښور علاقې ته راغلل. په دغه وخت کښې د پېښور په علاقه د قوم شلماني يا سلېماني قبضه وه. د دوي سره زمونړ جګړه وشوه او زمونړ قوم غالب راغے.قوم شلماني يا سلېماني د دغه ځائے نه بې دخله کړې شو او په خپله پرې قابض شو."

دا حال دغه قوم په کال ۱۸۷۲ء کښې ليکلے وو او د دې تصديق د دغه وخت مياصيب چې د ملکيار اوسېدونکے وو. چې ډېر لوئے تاريخ دان او د ضلعې

د حالاتو نه خبر وو، کړے وو". (ډاکټر شبير بهادر خان پني، " تاريخ هزاره" ۱۹۲۹ء، مخ ۳۰۴)

۱۱ "تواريخ حافظ رحمت خاني" چې پير معظم شاه تاليف کړے دے. ددې تاريخ په حقله زلمے هېواد مل څۀ دا رنګه د خپلې څېړنې په رڼا کښې ليکي او وائي چې:

په پښتو نثر نګارۍ کښې ددې تمايل تابع بل کتاب تواريخ افاغنه دي، چې د مؤلف په نوم کښې ئې محققان يوه خُلۀ نۀ دي. ددې تاريخي مسودې پير معظم شاه (۱۲۳۱ هـ ق) په ۱۱۸۲ هـ ق کال د حافظ رحمت خان شهيد (۱۱۲۰ – ۱۱۸۸ هـ ق) په امر لنډې کړي دي. او يوه مقدمه ئې په دري ژبه پرې کښلې وه. ددې کتاب اصلي مسودې د ۱۰۳۳ هـ ق شاو خوا بشپړې شوې دي، لکه چې يو ځائے په کتاب کښې راغلي دي: "نن ورځ چې سن هجري زر دربش دي، حيات دي "ځينې اضافې له ۱۰۲۰ - ۱۰۳۳ هـ ق پورې زمانو کښې پرې شوي دي.

ددې مسودو د اصلي مؤلف په باب ډېرې خبرې شوي دي. چا يو څوک او چا بل څوک ددې کتاب د مسوداتو د اصلي مؤلف په حېث ښودلې دي، مګر د تاريخ افاغنه هغه نسخه چې د دهلي د ملي ميوزيم په خطي مجموعه کښې موجوده ده. په پائې کښې ئې راغلي دي:

" تمام شدو به اختتام رسيد نسخهٔ عجيبه من تواريخ افاغنه تصنيف قطب الزمان شيخ مير داد خليل قوم موتيزي حسب الامر والاشان حافظ الملک والفرقان وحيد العصر والزمان رحمت خان به دستخطِ پير معظم شاه ولد پير محمد فاضل متوطن پيل سباک من اعمال تعلقه پشاور وکابل سنه ۱۱۸۲ هجری کذا تحرير يافت".

(د هند د کتاب خانو پښتو خطي نسخې، مخ ۱۵۹، زلمے هېواد مل، " د پښتو نثر اتۀ سوه کاله" دويم چاپ، مخونه ۳۱۳، ۳۱۴)

راورټي په خپل کتاب " *NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN*" په مخ ۱۲۳ هم دا خبره کوي. او د شېخ ميرداد خليل متوزي د مړينې نېټه ۹۷۵ هـ. ۱۵۲۷ء ښائي او د دۀ د نمسي حواله ورکوي. لکه څنګه په تواريخ حافظ رحمت خاني کښې په مخ ۳۳ ئې دي مړ ښودلے دے.

د شېخ ميرداد خليل موتيزي په حقله په "حيات پير بابا" کښې داسې ليکي چې:

"شېخ مير داد خليل داسې يو برخود غلط انسان وو. دهٔ به عجيب و غريب دعوې کولې د دهٔ وېنا وه چې الله تعالیٰ زما وړانديني کبيره ګناهونه معاف کړي دي او ائنده به ئې بيا هم معاف کوي. دا د مُلا ميرو استاد وو" (محمد شفيع صابر، "حيات پير بابا"، ۱۹۸۲ء، مخ ۱۲۲)

۱۲. د تواريخ حافظ رحمت خاني دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء په مخ ۳۱ شلماني دهګان بولي او په مخ ۴۲ وائي چې بغېر له اشنغره يعنې په اشنغر کښې شلماني وو او په دا نورو ملکونو وړاه دهګان خلق وو. دلته سوال دا پېدا کېږي چې شلماني او دهګان يونهٔ بلکې بېل بېل قومونه دي. د دهګانو ذکر په وړاندې باب کښې شته دے.

۱۳. "(شمالي شام) د منتيشا شمال کښې د امير ايدين علاقه که په دې علاقې پايه تخت تيره /تيرا وو. ابنَ بطوطه چې امير ايدين سره ئې ملاقات هم کړے وو. وائي چې تيره (تيرا) يو ښه ښار دے. کوم کښې چې ګڼ شمېر باغونه او نهرونه دي. دې د برکې ښار نه هم تېر شوے وو. کوم چې تيره (تيرا) نه د شمال په لور په يو منزل پروت دے. د دې ځائے د دنګو ونو، دهٔ (ابنِ بطوطه) ډېره ستائينه کړې ده. دغه ځائے نه په څهٔ فاصله باندې د مشرق په لور د ساغري درياب د سرچشمو په خوا کښې د حصن اليهود (د يهوديانو قلعه) او قصبةالسند، ذکر هم کړے دے. افسوس (اف سوس) ښار کوم چې دلته ساحل باندې دے. ددې نه عرب جغرافيه دان يا ليکوال ډېر ښهٔ خبر وو. دوي به دې ښار ته افسوس، اليسوس["لبسوس" تواريخ حافظ رحمت خاني مخ ۴۱۰] (سوس)وئيلو. دا ښار په دغه وجه مشهور وو چې دلته د اووه اصحاب غار يا کهف وو".

وړاندې ليکي:

په ايران کښې د تيرا يا ترين نهر (سيند) يا درياب د پاسه په دغه نوم يو ښار اباد وو. داسې ښکاري چې دا د کرخه درياب (سوس درياب) د اخري برخې معاون (مرستيال) وو. چې د کرخه درياب (سوس) ګس اړخ ته دې کښې

پرېوتو. د تيرا ښار به يقيناً د حويزه علاقه کښې پروت وو. دا ښار به د اهواز ښار مغرب ته د يوې ورځې په سفر په دغه سړک واقع وو. کوم چې اهواز نه د واسط په لور ځي. د بصنّا پردې، د قرقوت [قرقوب. تواريخ حافظ رحمت خانی مخ ۴۱۱]د نمدې غاليچې او د تيرا د ښار د مخونو اوږدۀ نقابونه مشهور وو. (خان روشن خان "تذکرہ" پٹھانوں کی اصلیت اور ان کی تاریخ" یکم جنوری ۱۹۸۰، مخونه ۳۸۱، ۳۸۹، ۳۹۰، ۴۴۸، ۴۴۷، نرګس سيماب، (ژباړه) تذکره "د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ" ۲۰۱۱ء، مخونه ۴۴۷، ۴۴۸)

۱۴. شلماني او بېسود: د دواړو افغاني قبائل ترون د شمالي شام د يوې علاقې پورې دے. شلمان، لبنان پورې نزدې يو غر او علاقه وه. په دې لړ کښې د تاريخ شام وېنا ده:

"بنو بختر خواوشا ځينې علاقو باندې د جاګيردارنو په حېث قابض وو او د دوي جاګير کښې شلمان، عيناب او بېسود غوندې ځايونه وو. د څۀ ذکر چې تاريخ کښې چرته هم نۀ دے شوے. او دا ترننه موجود دي"

خراسان کښې شلمان او بېسود نومونه جلاوطن اسرائيل د ځان سره راوړي وو. چې نن هم موجود دي. او هم په دغه نومونو شلمان او بېسود ياد ېږي.

"دا درې واړه بېل بېل قبائل دي او د دوي څه خاندانونه د افغانستان نه راغلل او د يوسفزو سره دلته يوځائے ميشته شول. د شيخ ملي په تقسيم کښې دوي ته د سلارزو سره برخه ملاؤ شوې وه چې په هغه وخت کښې دوي د يوسفزو سره په بونېر او موضع درګۍ اشنغر کښې اباد وو. دوي ته مالکانه حېثيت حاصل وو د پېبو سره نزدې ډاګ بېسود کښې هم د دوي څه کورنۍ ابادې وې. (نرګس سيماب تذکره "د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ" مخ ۴۴۲، "تواريخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل اور انکی تاريخ"، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخونه ۴۰۸ - ۴۰۹-۵۹۳، خان روشن خان، تذکرہ پٹھانوں کی اصلیت اور انکی تاریخ، مخونه ۳۷۹، ۳۸۰)

۱۵. کله چې شلمانو او دلازاکو يوسفزو له دانشکول، عنبر، دوآبه او باجوړ ورکړو او پرې ميشته، نو د دوي نظر د سوات او د ګېر چاپېر په زمکو هم وو. چې څنګه به دا زمکې قبضه کړي. د يوسفزو او مندېو کسانو به تجارت

کولو او د سوات د جغرافيائي ماحول نه ښه خبر وو. لارې کوڅې او ټول رؤ ګودر ورته معلوم وو. متل دے چې"اور له راغلے دکور مېرمن شوے" ځکه مېجر راورټي د يوسفزو او مندړو په حقله داسې ليکي چې:

The Yusufzis and Mandars soon after the Dilazaks allowed them to settle in the Do-Abah, being in a poverty-striken condition, used to carry salt and mats into Suwat for sale. They thereby acquired knowledge of the country, and set their eyes upon it, determining, if possible, to obtain a footing therein as soon as they should be strong enough to attempt it. It was with a view of getting a footing in Suwat that Malik Ahmad gave his sister in marriage to Sultan. Some, indeed, say, that numbers of the Yusufzis and Mandars took service with the Sultan."
(H.G,Raverty,"NOTES ON AFGHISTAN AND BALUCHISTAN ,2001. P.24)

"غربت وهلي يوسفزي او مندړ چې کله دلازاکو په دوآبه ميشته کړل. دوي به په دغه وخت کښې سوات ته د خرڅ د پاره مالګه او اندېري (ميزرې) راوړل. هم دغه شانتي دوي د ددې علاقې(سوات) په حقله معلومات حاصل کړل او په دې علاقه ئې سترګې ښخې کړې.دا عزم ئې وکړو که چرې ممکنه شوه او دوي مضبوط شول او پښه ئې ښخه کړه نو په دې علاقه به حمله وکړي.ملک احمد ددې ځائے د قبضه کېدو د بهانې لټولو د پاره خپله خور سلطان اوېس ته واده کړه.بعضې خلق وائي چې د يوسفزو او مندړو څۀ خلقو به د سلطانِ سواتٔ سره نوکري کوله".

(تواريخ حافظ رحمت خاني (پښتو)،دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ،مخ۲۵،" تذکرة الابرار والاشرار"فارسي ، مخ۸۸ ، جميل يوسفزی ،"يوسفزی تهذيب"، ۲۰۱۲ء ،مخونه ۱۷۱ - ۱۷۴ ،"تواريخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاريخ" ، ۲۰۱۷ء ،اشاعت دوم، مخ ۱۲۱)

۱۲. ډهېرۍ: بخته ډهېرۍ چې دا د تانې يو تاريخي ځائے دے.په ۱۲۷۵هـ کښې ليکلے شوے د ميا عبدالحق د يو قلمي فارسي ديوان نه دا معلومېږي چې په دغه ورځو کښې به ئې دې ځائے ته بخته قلعه وې .ميا عبدالحق ددې "بختې قلعه" اوسېدونکے وو. پخوا به ئې دې ته "بختې ډهېرۍ" وې.موجوده

وخت کښې ورته بخته وائي.

۱۷. د هندي لغت "گاتهی" په جمع صيغه کښې راوړے شوے دے په دغه مناسبت گاتهی د دوو غرونو مېنځ کښې تېرې شوې سختې لارې ته وائي. (ماخوذ)

بله داچې د يوسفزيو په ژبه کښې لويو لويو تړو، کمرو او ډبرو ته گټې وئيلې کېږي. د مهورې د غرۀ گټې اوس هم په جسامت کښې دومره غټې دي چې بنده ورته حېران پاتې شي، زما په خيال ددې نه گاتهی نۀ بلکې گټې مراد دے.(محقق)

18. Trap is a Pus'hto word, and from it is found the verb "trap wahal," "trapedal,"and "trapwul."It is Curious to note the use of avitiated Sanskrit word,-gor, from ghor,-with a Pus'hto word, a complete proof, and some philosophers will say, that the Afghan are "a purly Aryan race".

(Maj;H.G.Raverty,"NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN"p.202)

۱۹. د قزان شاه د مرگ واقع په" تواريخ حافظ رحمت خاني" کښې په مخ ۱۲۱ داسې بيان شوې ده.

"پس له هغې يوه مياشت پس د پسرلي موسم شروع شو.موسم د بسندور (بسنت) راغے او بسندور د کفارو يوه ورځ ده لکه زمونږه د اختر.هر کله چې پسرلے راشي، دوي سره نر ښځې اسباب د عېش جوړ کړي لاسونه سرۀ کړي.ښې ښې جامې واغوندي.شراب خوري شروع کړي او د سپل سپاتې د پاره صحرا ته وځي.قزان شاه په دغه ورځ هم د بسندور شرکت ته تللو چې د رالبړلي شوي د الياس زی د لورې کسانو په غشو اويشتو او مړ ئې کړو. سر ئې ترې پرېکړو او خان کجو له ئې د لنډي سيند غاړې ته يوړو خان کجو پرې ډېر خوشحاله شو.

۲۰. اخوند درويزه په " تذکرة الابرار والاشرار" کښې په مخ ۹۵ د سوات قبضه دولس کاله ښائي." تاريخ مرصع" کښې په مخ ۲۹۰هم دا خبره دولس کاله ذکر ده.په "يوسفزی تهذيب" نومې کتاب کښې په مخ ۴۹ او ډاکټر خالق زيار،ترجمه: "دا خاوره او دا خلک"،جنوري ۱۹۹۶ء په مخ۱۱۸ هم دغه د

دولسو كالو ذكر دے.

۲۱. دولس قبيلې: د حضرت يعقوب عليه السلام د لياه نه شپږ، د راخيل / ربشال نه دوه د بلباه نه دوه او د زلفه نه هم دوه ځامن وو. بلباه او زلفه ئې خادمې وې. ټولې قبيلې دولس جوړېږي چې لس پكښې وركې شوي دي. د دوو قبيلو مشر د حضرت سلېمان عليه السلام ځوے رحبعام او د لسو قبيلو مشر يربعام شو. د رحبعام سلطنت مركز يروشلم او د يربعام دارالخلافه ترضه شوه. (پروفېسر خواجه محمد سائل، "يهوديت او پښتانۀ"، اگست ۲۰۱۲ء مخونه ۷۲، ۱۱۲)

◈◈◈

حوالې

۱. درويزه، اخوند، "تذکرة الابرار والاشرار" فارسی، ناشر اسلامی کتب خانه قصه خوانی، پشاور، مخ ۹۴ [تالیف: ۱۰۲۱ هـ]
- حبيبي، عبدالحی، علامه پوهاند "د افغانستان لنډ تاريخ"، ژباړن محمد داؤد وفا، دانش خپرندويه ټولنه پېښور پښتانهٔ واکمن (۵۰۰۳هـ خواوشا) زمري ۱۳۷۹ لمريز، مخونه۲۱۴- ۲۱۵
۲. افضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان "تاريخ مرصع" مئ ۲۰۰۴ء، باب دويم، مخونه ۲۸۸، ۱۲۳۱- ۱۲۳۱- ۱۲۳۲
-T.C.PLOWDEN, SELECTIONS FROM THE TARIKH-I-MURASSA p.178 and Appendix-iv. p.ii
- صاحب بهادر، اے جی هستنگز، کپتان "تاريخ پشاور" ۱۸۶۹ء لغايت ۱۸۷۴ء، مخونه ۲۳۷- ۵۲۰- ۵۴۸
- محمد حيات خان، خان صاحب بهادر "تواريخ حيات افغانی"، ۱۸۶۷ء، مخونه۱۷۹ - ۴۴۳-۴۶۹
۳. درويزه، اخوند، "تذکرة الابرار والاشرار" فارسی، ناشر اسلامی کتب خانه قصه خوانی، پشاور، مخ ۱۵۹
- اثر، عبدالحليم افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول، اشاعت سوم فروري ۲۰۰۴ء، مخ۴۵۱
- محمد اختر، پروفيسر، (ايډيشنل سيکرټري)، تاجک سواتي و مملکت گبر تاريخ کے ائينه ميں، ۲۰۰۲ء، مخ ۱۷.
- کوئيهوړ، نوشېروان، توروال کے قبائل، ناشر: گندهارا هندکو اکيډمي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخونه۱ – ۲
- نعماني حنفي، عبدالبصير، "خزينة الاولياء" مې ۲۰۰۲ء، مخونه ۱۰۴ - ۱۰۵
- خان، سليم، "پختون پُشتي ابراهيمي قوم"، يکم جون ۱۹۹۵ء،

مخونه۱۰۴ – ۱۰۶ ، ۱۱۲

-یوسفزی، جمیل، "پاڅون"، په تنقیدي مطالعه یو نظر، دوه میاشتنۍ جلد:۱۳ ګڼه :۳ مۍ -جون ، ۲۰۱۸ ء ،مخونه ۵۱- ۵۵

- کریم ،ارشد ،"ماهنامه نظر"،چیف ایډیټر: ګوهر، ګوهر علي ،جلد اول شماره ۳ ،فروري ۲۰۰۸ ء ،مخونه ،۹ -۱۴

- محوله بالا ،جلد دوم شماره ۳، مارچ ۲۰۰۸ ء،مخونه ۱۵ – ۱۹

______،"انګازې"، شعري مجموعه ، عامر پرنټرز اینډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۵ء ، مخ ۲۷

- محمد ،شهباز،" تانه دَ ادب ځانګو تذکره" تانه ادبي ټولنه ملاکنډ ، عامر پرنټرز اینډ پبلشرز پېښور ،نومبر۲۰۱۸ ء، مخ۹

- Karim,Arshad, "Shalmani Writers Promotes Sufism with their Peace Building Characteristics in the Region as "Composite Heritage"
South Asia Composite Heritage(SACH), Institute for Social Democracy(ISD), New Delhi, India,Issue No.46,April-June,2017.pp.12-13

-District Census Report Malakand, 1998, Census Publication No.76. Population Census Organization Statistics Division Government of Pakistan Islamabad, February 2000.p.6

- A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE Punjab and North-West Frontier Province. [Presently Known as Khyber Pukhtunkhwa]Based on the Census Report for the Punjab, 1888, by the late Sir DENZIL IBBETSON, K.C.S.I.,
and the Census report for the Punjab, 1892, by the Hon. Mr. E.D. MacLAGAN,C.S.I.,and compiled by H.A.ROSE.
Vol.II. A.-K. Lahore: PRINTED AT THE "CIVIL AND MILITARY GAZETTE" PRESS BY SAMUEL.T.WESTON.1911.pp. 241-242

۴.محمد اختر، پروفېسر، (ايډيشنل سيکرټري) ، " تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں"، ۲۰۰۲ء، مخونه ۳۸۰، ۳۸۴، ۳۹۴

۵.گنډا پور، شېر محمد خان، ابراهيم زئ. " تواريخ خورشېد جهان" ۱۸۹۴ء، در مطبع اسلاميه لاهور به اهتمام کرم بخش مهتمم مالک مطبع، مخ۳۱۲

-علوي، سراج احمد، " تاريخ پشتون (ترجمه اردو) "(تواريخ خورشېد جهان) ۱۹۹۱ء، مخونه۵۴۷، ۲۸۴

۲. معظم شاه، پير، " تواريخ حافظ رحمت خاني "، جدون پريس پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ، مخونه ۳۰- ۳۲، ۴۲، ۴۸- ۵۱، ۲۳- ۲۲ – ۸۱، ۱۰۳ – ۱۰۴، ۱۳۵

_____، "تواريخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاريخ" ترتيب و حواشی خان روشن خان، ۲۰۱۷ء، اشاعت دوم، مخونه ۸۳- ۸۵، ۹۲- ۱۰۱- ۱۰۵، ۱۱۹- ۱۳۵، ۱۵۷- ۱۵۹، ۱۹۵

-Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN"(1888), Published by: Sang-e-Meel Publications, Lahore, 2001.pp.36,103,123,125,175-176,201-202,222,224-225,231,234, 240-241 .

- خان روشن، خان ، "يوسفزئ قوم کی سرگزشت" ، فروری ۱۹۸۲ء ، مخونه ۴۲- ۴۹، ۲۳۱، ۳۷۲- ۳۹۸

_____ ، تـذکره" پٹھانوں کی اصلیت اور ان کی تاریخ"، جنـوري ، ۱۹۸۰ء ، مخونه ۱۸۲، ۳۷۹- ۳۸۰

- سيماب ، نرگس (ژباړه) تذکره "د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ" ۲۰۱۱ء ، مخونه ۳۲ - ۲۲۸ او مخونه ۲۱۴، ۴۴۲

-محمد اختر، پروفېسر، (ايډيشنل سيکرټري) ، " تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں" ، ۲۰۰۲ء، مخ ۳۷۲.

-سواتي، سرن زېب خان، "تاریخ ریاستِ سوات"، ۱۹۸۴ ء، مخونه ۴۷- ۶۰
-محمد اختر، پروفېسر، "تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں"، ۲۰۰۲ ء، مخ ۳۷۶
-Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN", 2001.p.23
- ياد طالبي، عبداللطيف، ډاکټر "پښتانهٔ قبيلې وپېژنئ" ،د افغانستان د علوموا کاډمي، ۱۳۷۰ هـ مخونه ۲۲۸ – ۲۳۲
Courtesy:
-benawa.com
-www.khyber.com
-http://en.wikipedia.org/wiki/shalman
-http://www.shalman.iwarp.com/whats_new.html
-shalmannews.blogfa/sa_shalman@yahoo.com
- يادطالبي، عبداللطيف، ډاکټر "پښتنې قبيلې"، پېښور ۱۳۸۸ ل/ ۲۰۱۰ز، مخونه ۱۸۰، ۳۰۵- ۳۰۶
-خان، محمد اصف، "تاريخ رياست سوات" و سوانح حيات باني رياست سوات مياگل عبدالودود، اشاعت اول ۱۹۵۸ ء ،مخونه ۴۵- ۶۶
- محوله بالا ،اشاعت پنجم ۲۰۱۶ ء ،مخونه۳۴ – ۵۰
- بانډه وال، حسن گل ، "(قاموس) پښتنې قبيلې او خېلونه"، اکتوبر ۲۰۰۱ ع ، مخونه ۲۴۷، ۲۷۴، ۲۵۰
- پنی، شبیر بهادرخان، ډاکټر، "تاریخ هزاره" ، اگست ۱۹۶۹ء، مخونه ۳۹۸- ۳۰۱، ۳۰۴
____، "تاريخ هزاره" ، ۲۰۱۶ ، مخونه ۴۲، ۳۰۱- ۳۳۲
-مومند ،م ج ،سيال، "د پښتنو قبيلو شجرې"، فروري ۲۰۱۵ء، مخ ۲۵۶
-رونـد مياخېل، محمد عمر، پوهنوال ، "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې"، ۱۳۸۳ لمريز ،مخ ۴۳۴
-خلیل، حنیف، "پشتون قبیلے اور انکے لہجے" ،۲۰۰۸ء ،مخ ۱۲۰

-ظفر کاکا خېل، بهادرشاه ،سید ،"پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې"، نهم ځل ۲۰۱۲ء ،مخ ۱۱۱۲
-یوسفزی، جمیل، "مملکتِ یوسفزئ کے قبائل"، ۲۰۱۲ ء ،مخونه ۲۰- ۳۵
-یوسفزی ،جمیل، "یوسفزے تهذیب"، ۲۰۱۲ء ،مخونه ۴۷- ۵۲
-حکیمزے ،بدرالحکیم، "سوات میں انتہاپسندی کے چند محرکات"، عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور ،۲۰۱۵ء ، مخ ۱۵
- حکیمزے ،وکیل، "د بر سوات تاریخ نسلي، سیاسي او سماجي جوړښت"،دسمبر ۲۰۰۷ء ، مخونه ۳۳- ۱۷۴
______ ،"دغه زمونږ کلے دے"، ۲۰۰۴ء ،مخونه ۱۰۴ – ۱۰۵
-باغی،انور بیگ "د بونېر تاریخ" ،اشاعت سوم ۲۰۱۷ ،ء مخونه۹۳- ۹۴، ۵۰۲
______ ، "تاریخ یوسفزی او ریاستِ سوات"، ۲۰۱۸ء، مخونه ۱۲۴، ۴۳۰
- شاهد ،سلیمان "گمنام ریاست"حصه اول،اشاعت ششم، ۵ جنوری ۲۰۱۵ ء ، مخونه ۷۹- ۸۷
- سوهدروی،کامران اعظم، "پٹھان قبائل"، مخونه ۳۸۳، ۴۰۲- ۴۰۷
- سحاب ،خان، "تاریخ ہزارہ"،مکتبه جمال لاهور، ۲۰۱۴ ء ، مخونه ۷۳، ۷۷- ۷۸

- WHO's WHO(Confidential) in the Dir, Swat and Chitral Agency, Corrected upto 1st September 1933, p.2
- See ibid., Corrected upto 1st June 1937, p.v
- See ibid., Corrected upto 1st July1950, p.vi .

Courtesy:

- www.tolafghanistan.com
- youtube.com (Khyber Agency Map)

-اخون خېل،حېدر علي، "بونېر خدوخیل تاریخي، تحقیقي او ثقافتي جائزه" ،۲۰۰۸ء ،مخونه ۱۱۳- ۱۱۹

-رحيم ،رحيم شاه، "غته خزانه"، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سيلرز مينګوره سوات ،۲۰۱۵ء،مخ ۲۸۲

- واټسن ،ايچ ډي ،"هزاره گزٹیر"،(ترجمه اردو) پروفېسر افتخار احمد، مكتبه جمال لاهور، ۲۰۱۳ء ، مخونه۴۱، ۲۷۰

- بلاله،عبدالقيوم، حافظ خېل، "داستانِ سوات"،جان کتاب كور كبل سوات،مارچ ۲۰۱۰ء، مخ ۱۳۵

۷.محمد اختر، پروفېسر، (ايډيشنل سيكرټري) ، " تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں"، ۲۰۰۲ء، مخونه۳۷۸- ۳۸۰

Courtesy: http://news.manshera.com.pk

8. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" , 2001.pp.218,270

۹.گنډا پور، شېرمحمد خان ابراهيم زئ، " توارىخ خورشيد جهان" ، ۱۸۹۴ء ، مخ۳۰۹

۱۰. محمد حيات خان، خان صاحب بهادر "تواریخ حیات افغانی"، ۱۸۶۷ء ،مخ ۴۴۳

-اثر،عبدالحليم افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول، مخ۳۸۴

- ياد طالبي،عبداللطيف،ډاكټر "پښتنې قبيلې"، مخ۲۴۸

- خان روشن،خان، "یوسفزئ قوم کی سرگزشت"، مخ ۳۲۰

- صاحب بهادر،اے جی هستنګز،کپتان" تاریخ پشاور"، ۱۸۶۹ ءتا ۱۸۷۴ء، مخ ۵۲۰

- اخون خېل،حېدر علي، " بونېر خدوخېل تاريخي ،تحقيقي او ثقافتي جائزه"،مخ۱۴۳

- شاهد ،سلېمان "گمنام ریاست"،حصه اول ، مخ۱۰۲

- بانډه وال، حسن ګل، "(قاموس) پښتنې قبيلې او خېلونه" ،مخ ۲۵۰

۱۱. علوی، سراج احمد، "تاریخ پشتون(ترجمه اردو)" تواریخ خورشید جهان، ۱۹۹۱ ء مخونه ۵۴۷-۵۵۳

۱۲. سیال، غازي، "هغه سندرې چې فوک نهٔ دي؟" ډائریکټیوریټ آف کلچر حکومت خیبر پښتونخوا، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۷۲

۱۳. محمد حیات خان، خان صاحب بهادر، "تواریخ حیات افغانی"، ۱۸۶۷ء، مخ ۱۱۱

- صاحب بهادر، اے جی هستنګز، کپتان" تاریخ پشاور"، ۱۸۲۹ء تا ۱۸۷۴ء، مخ ۱۲۲

Courtesy:

14.http://en.wikipedia.org/index.php?title=Shalmaneser_V&oldid=845289521

@Sayce,ArchibaldHenry(1911)"Shalmaneser"(https://archive.org/stream/encyclopaediabri24chisrich#page/798

-(http://www.nino-leiden.nl/publication/babylonia-689-627-b-c)

-http://www.mechon-mamre.org/p/pt/pt2kings17.htm#3)

2kings18:9(http://www.mechonmamre.org/p/pt/pt2kings18.htm#9)

-Hoyland,Rebort G, "ARABIA AND THE ARABS From The Bronze Age to the coming of Islam"2001 by Routledge 11 New Fetter Lane,London EC4P 4EE.pp.59-63

- سائل، خواجه محمد، پروفیسر، یهودیت او پښتانهٔ، اګست ۲۰۱۲ء مخونه ۱۲۸، ۱۲۹، ۱۸۳

۱۵. خان، سلیم، "پختون پُشتي ابراهیمي قوم"، چاپ یکم جون ۱۹۹۵ء، مخ ۹۴

۱۶. محوله بالا، مخ ۱۰۴

۱۷. محوله بالا، مخونه ۱۱۲- ۱۱۷، ۱۱۹- ۱۲۰

- چودهري، غلام رسول چیمه، پروفیسر، "مذاهبِ عالم کا تقابلی جائزه"، علم و عرفان پبلشرز لاهور، جنوري ۲۰۰۲ء، مخونه ۳۵۴-۳۵۶

درېيم باب

شلماني د مستشرقينو په نظر کښې

د پښتنو دې سيمې ته چې کوم مستشرقين ليکوال وخت په وخت په څۀ مهم يا د نوکرۍ په مد کښې راغلي دي. دوي چې کومې څېړنې او رپورټونه خپل سرکار ته وړاندې کړې دي د دوي دغه رپورټونو ته ددې دور ليکوال او څېړنکار ډېر په درونډ نظر ګوري.

دغه څېړنکارو کښې هنري جارج راورټي ،سر اولف کېرو، مېجر آرټي ائي رجوے او سرجن جنرل ايډورډ بالفورشامل دي. دې مستشرقينو د مسلمانانو ليکوالو د کتابونو نه استفاده کړې ده. کوم چې په فارسۍ ژبه کښې دي.په دې کښې د اخون درويزه بابا "تذکرة الابرار والاشرار"د مولانا منهاج الدين ابو عمري عثماني "طبقات ناصرى"،د افضل خان خټک" تاريخ مرصع" او د شېر محمد خان ګنډا پور ابراهيم زۍ "تواريخ خورشېد جهان" په خصوصي توګه د ستائينې وړ دي.دغه واړو مستشرقينو چې د شلماني قام په حقله کومې رائې څرګندې کړي دي. دلته د هغوي د ليک يو مختصر جاج خپلو لوستونکو ته سره د پښتو ترجمې وړاندې کولې شي.

"The greatest part of them are the descendants of the aboriginal inhabitants whom the Afghans found there when

they conquered those parts at the end of the, and beginning of the fifteenth century. They are also called Suwatis, and Degans; and are, with the Shalmanis and other tribes, such as Hindkis, Awans, Paranchahs and others, the original people of these parts. It is strange that those who say so much about Herodotus, and the Iiaktues (Haktues)[*The "Aparytae" and the "Sattagyddae" Notes on Afghanistan and Baluchistan. P.282*], who they contend are the Afghans, do not first provide for these people, who were in those countries when the Afghans conquered them, and had been there countries previously".1

ژباړه: " د پنځلسمې صدۍ په اول او په اخري کښې چې کله افغانانو دغه سیمه ونیوله نو دوي ئې دغه نامه ومونده .دغه خلقو ته سواتیان او دهکان وائي.د دوي سره شلماني او نورې قبیلې لکه هندکي، اعوان، پراچکان وغیره هم وې.او هم دغه خلق د دې سیمې اصلي خلق دي.

"The fort of Gibari or Gabari appears to be the very same as Gabar-Kot, which the Mughal Badshah, Babar, subsequently took from Mir Haider, the Gabari. The Shalmani with whom the Yusufzis and Mandars, of the Khakhi division of the Afghan nation, first came into contact, when they, in after years, retired from Kabul to Nangrahar, were divided into three steps of Divisions:- Gabari[not from Gabr, a fire-worshipper: it is a different word], Mutrawi, and Mumiali. The rulers were descendants of the Jahangirian Sultans- Sultan Behram and Sultan Pakhal".2

ژباړه: " ګبري یا ګَبري قلعه هم هغه د ګبر کوټ قلعه معلومېږي کومه چې مُغَل بادشاه بابر اخر کار د میر حیدر (چې ګبري وو) نه

ونيوله. د شلمانو په اول ځل د يوسفزو او مندڼو چې د افغان قوم د خښې څانګې نه وو واسطه پرېوته. کله چې دوي په وروستو کلونو کښې د کابل نه قندهار نه پستنه شو. دوي(شلماني) په درېوو ذيلي څانګو ګبري [چې ګبري نۀ دي.اتش پرست دا يو مختلف بل لفظ دے]متراوي، مميالي کښې تقسيم وو. د دوي حکمران چې سلطان بهرام او سلطان پکهل وو چې د جهانګيري سلطان اولاد (نسل) دے".

Shalmani,Shilmani: A tajik tribe, erroneously styled Dihgan (lit.husbandman) found in the Peshawar valley. Raverty says they camefrom Shalmani (now Shalozan) and Karman in the Kurram valley, and obtained the district of Ashnaghar, now Hashtnagar, becoming subjects of the Jahangiri Sultan, Awes of Swat. This tract they lost when the Yousafzai and Mandar Pathan overran it and they are now reduced to a few small villages in the hills round the Tahtara Koh and chiefly employed in navigating rafts between Jalalabad and the Peshawar valley.Raverty says they were divided into 3 septs,Gabari (not from Gabr, a fire-worshipper), Mutrawi and Mumiali. Their rulers were descendants of the Jahangiri Sultans (Behram and Pakhal)who held all the country north of the Kabul river from the Tagao to the Pir Panjal range and likewise some parts on the south bank of the Kabul as far south as the Sufed Koh. Sultan Awes was the Gabari Sultan of Swat. In Hazara the Shilmani appear to have adopted the name of Sulaimani. They live mostly in the Khalsa tract of that District, and are closely connected with Utmanzais.*[The said paragraph is taken from the Tabaqat-i-Nasiri p 1044]*.3

ژباړه:" شَلماني يا شِلماني په اصل کښې تاجک قبيله ده.چې په غلطۍ سره ورته دېګان [کاشتکاران/ مزارعين] وئېلې

شول.دا د پېښور په وادۍ کښې مونډلې کېږي. راورټي وائي چې:

"دوي د شلمان، چې اوس ورته شلوزان او کرمان وئيلې کېږي چې په کرم وادۍ کښې دے دوي د هغې نه راغلي دي او اشتنغر ضلع چې اوس ورته هشتنغر وئيلې کېږي ترلاسه کړه.دوي د سوات د سلطان اوېس چې جهانګيري سلطان ورته وئيلې کېږي رعايا جوړه شوه. شلمانو د هشتنغر علاقه په هغه وخت کښې چې کله پرې يوسفزو او مندړو پښتنو يلغار وکړو ،بائيله. اوس دا شلمانے قوم په يو څو وړو کليو کښې چې د تاترې چاپېره محدود دي او زياتر د جلال اباد او پېښور د وادۍ تر مېنځه جاله واني کوي.

راورټي وائي چې شلمان په دريوو غټو قبيلو ، ګبري، ګبري،متراوي او ممياليِ[دا ګَبر-ګبْر- نۀ دے چې په معنی د اور سجده کوونکي شماريږي]د دوي سلطان د جهانګيري سلطانانو اولاد دے [بهرام او پکهل]

دوي د کابل د درياب د شمالي برخې ټګاو نه واخله د تر د پير پنجال د غرئيزې سلسلې پورې په قبضه کښې لرله. او هم دغه شان ئې د کابل د سيند د جنوبي د څۀ برخو نه واخله جنوب طرف ته د سفېد کوه پورې قابض وو.

سلطان اوېس د سوات ګبري سلطان وو. په هزاره کښې شلمانو د سلېماني نوم اختيار کړے دے.دوي زيات تره د ضلع هزارې په خالصه علاقه کښې اوسي او د اتمانزو سره نزدې ترون لري."

The Shalmani race inhabits the village of Shalman. On the Tartara hill in the Khaibar range. Elphinstone says they are originally from Kurram, were afterwards in Tira, and again in Hashtnuggur. [Hashtnagar or Ashtnagar].4.

ژباړه: "شلمانے قوم / نسل د تاترې د خېبر د غرونو په سلسله د شلمان په کلي کښې اوسي- الفنسټين وائي چې دوي بنيادي طور باندې د کُرم دي.او ددې نه پس په تيراه کښې او د هغې نه پس بيا په هشتنغر کښې استوګن شو".

"-Tartara mountains north of the Khaibar pass, and to Hashtnagar during the fifteenth century. At the end of the same century, the Yousafzai drove the Hashtnagar section into swat, and from that time they sought protection with the Mohmands, who had also taken possession of the country north of the Kabul river, and thus have become affiliated with them.

The tract of country occupied by the Shilmani is to the north of the Loargi [Lawargay] plain, between it and the Kabul river, being bounded on the east by the Dabbar hill, and on the west by the Shilban Gakh [Ghakhay or Ghashay]. It is divided into four portions, the Kam Shilman valley, Prang Darra glen, Loi Shilman valley, and from Shinpokh in the mouth of the Kam Shilman glen, along the right bank of the Kabul river. The tribes'abutting as this tract is the Mullagoris on the east, the Shinwaris on the south, and the Mohmands on the west and north.

The tribe is not well off, and are [is] consequently badly armed, but can muster about 1,000 fighting men. About 100 are in service in the Khaiber rifles, but none in the native army.The most convenient Centre for enlisting them in Peshawar".5

ژباړه:"د خیبردرې د شمال طرف ته د تاترې د غرونو نه د پنځلسمې صدۍ په اخر کښې یوسفزوچې د اشتنغر شلماني سوات ته بې دخله کړه نو هغوي د مومندو سره پناه واخسته او د دریائے کابل شمالي سیمه ئې ونیوله او دغه رنګ دوي د مومندو سره وترلې شو. د علاقې هغه برخه او ټوټه کومه چې شلمانو قبضه کړې ده، د لواړګي د مېداني علاقې قطب ته ده.د لواړګي او د کابلي سیند په مېنځ ومیانه چې نمر خاتهٔ ته ئې ډېر غر محصور کړي. او نمر پرېواتهٔ ته ئې شلبن غاښې د ے. د شلمانو دا علاقه په ثلورو برخو کښې تقسیم ده::

د کم شلمان وادي، او د کم شلمان د تنګي په خُلهٔ کښې د شین پوخ نه د کابل سیند په ښۍ غاړه پرته علاقه ده.ددې قطعې په اخري سر چې د کومو قبیلو ورسره مشترکه سرحد د ے نو هغه مشرق طرف ته ملاګوري، سهېل طرف ته شینواري او مومند نمر پرېواتهٔ او قطب طرف ته دي.بهر حال د شلمانو قبیله اسوده حاله نهٔ ده.او نهٔ ښهٔ اسلحه لري.مګر بیا هم زر تنه جنګیالي رامخې ته کولې شي. دوي تقریباً سل کسان په خیبر رائفلز کښې دي.مګر په قومي لښکر کښې ئې هېڅوک نشته.پېښور د دوي د بهرتۍ اسان او سهولت ناک ځائے د ے."

"On the south, including the 'Ash- Naghar district, with the exception of 'Ash- Naghar itself,
Which [This], with its fortress, was still in the possession of the Shalmanis. The large tract of country extended from Hisara'h Kanda'h to Hisar-i-Balul, Katlang,Hisar-i-Be-gham,Sangawo,Sher-Khana'i,the Baz Dara'h as for as the Mhora'h[A famous village of Mhora'h situated in the

bottom of the Mohra'h mountain range & also Chander Gupth Mhora'ia belongs to this mountain range] and Malakand Passes into Suwat, Tuti [Kot & Totai villages of the district Malakand], Kaj- Kala'h[Katkala'h Talash Lower Dir],and Siorna'h;[Near Wartair village in District Malakand] in fact,the whole plain country under the mountains, or "Tahat-ul-Jibal," as those words signify".6

ژباړه: "سهبل طرف ته چې پکښې هشتنغر ضلع شامله ده.او هشتنغر ښار پکښې په خپله شامل نهٔ وو.هشتنغر او د هشتنغر سره خپلې قلعې تر اوسه پورې د شلمانو په قبضه کښې وې.د زمکې دا لويه ټوټه (علاقه) د حصار کندي نه تر حصار بهلول ،کاټلنګ، حصار بېغم، سنګاو ،شېر خانه، بازدرې[کوزه باز دره او بره بازدره] او تر د مورې او د ملاکنډ په دره ور داخله شوې د سوات، ټوټي، کج قلعه [کاټکله تالاش دېر پائېن]او سورنه [درګۍ ورتېر سره نزدې يو مشهور کلے] پورې په حقيقت کښې او ورسره د غرونو لاندې ټوله همواره علاقه د "تحت الجبل"[د بره جميع ملکونه چې اوس هم په دغه علاقو کښې شلماني استوګن دي.] د الفاظو نه معلومېږي د شلمانو په قبضه کښې وه".

"Ash-Naghar-the name the district now called Hasht-Nagar was known by in ancient times, and down to the time these surveys were made- at the period when the Yusufzis and Mandars, expelled from the neighbour hood of Kabul by the Mughals, issued from the Khaibar defile, and besought the Dilazak Afghans to assign them lands on which to dwell, was in the possession of the Shalmanis. They are one of the Tajiks tribes, now known to us, but erroneously so, as Dihgans or Dihkans, which words merely mean a husbandman, and have been very loosely used.They *came*

originally from Shalman, subsequently known as Shanuzan and Shaluzan, and Karman, which dara'hs appear to have been their ancient seats, and hence they are known to history *Shalmanis*. They had been displaced by other tribes from the westward, by the Khalj,Ghuzz, and other Turks, in all probability.

The Shalmanis of 'Ash-Naghar, at this period were subjects of Sultan Awes of Suwat, son of Sultan Pakhal, one of the Jahangirian Sultans mentioned elsewhere.

The governor of the' Ash-Naghar district dwelt in the Hisar of 'Ash-Naghar, the place above referred to,which can be distinguished from Peshawar on a clear day.

At the time of the Yusufzis and Mandars came into these parts, the governor of 'Ash-Naghar was the Mir, Hinda, son of Arzu, a Tajik of the family of the Dud-Al, and he was a Sardar of renown, and one of the bravest men of his time.His authority extended over the whole tract of country south of the mountains bounding the Dara'h of Suwat in that direction, which tract extended as far east as the river known as the Kalah or Kala-Parni.He resided within the Hisar or fortress of 'Ash-Naghar, which was stone built, and a place of great strength,situated on a mound of considerable elevation. After the Yusufzis and Mandanrs obtained possession of 'Ash-Naghar, and that district was subsequently assigned to the Muhammadzi tribe of Afghans,who still possess the district, it become the residence of Malik Fath Khan, son of Malik Said Khan, son of Malik Khizr Khan, a Barakzi of the Muhammadzi tribe. At the time these surveys were made the fortress was in ruins.

There are few Shalmanis at present to be found in the Peshawar district, but there are numbers, under the name of Dehgans, dwelling in the neighborhood of Jalal-abad, in Bajawr, and in Lamghan; and there are two villages of Shalmanis, bearing the same name in the Khaibar mountains, between the Tahtara mountain range and the

river of Kabul and some in Agror, east of the Indus". 7

ژباړه: "هشتنغر ته چې په تېرو وختونو کښې ورته هشتنګر وئېلې کېدو. کله چې يوسفزي او منډړ د کابل نه مُغلو راوشړل او د خيبر د تنګې درې نه راووتل نو د دلازاکو افغانانو نه ئې په پېښور کښې د اوسېدو د پاره ئې زمکه وغوښته کومه چې د شلمانو په قبضه کښې وه. دوي د تاجکو د يوې قبيلې نه دي. مګر په غلطۍ سره دوي ته دېګان يا دهقان وئېلې شي. چې ددې ټکو معنې د "کروندګر" دي. دا ټکي ډېر بې توکه استعمال شوي دي. بنيادي طور دوي د شلمان نه راغلي دي. کوم ته چې "شنوزان" "شلوزان" او کرمان هم وئيلے شي. دغه د دوي اصل ټاټوبے وو. د دې نه وړاندې دوي هغه قبيلو بې کوره کړي وو کومې چې د مغرب د لورې نه راغلې وې. دغه قبيلې خلجي، غوز او نورې ترکۍ قبيلې وې.

د اشتنغر شلماني په دې وخت کښې د سوات د سلطان اوېس بنِ سلطان پکهل (چې د جهانګيري سلطانانو نه وو) رعايا وو. د اشتنغر صوبيدار د اشتنغر په قلعه کښې اوسېدو د کومې ذکر چې وړاندې شوے دے. دغه ځائے اوس هم د پېښور نه د ورځې په رڼا کښې ليدے شي. په هغه وخت کښې چې کله يوسفزي او منډړ د پېښور خواؤشا علاقو ته راغلل، د هشتنغر صوبېدار مير هندا وو. چې د ارزو (ارجو) ځوئے وو. د دے ددال (دودال) خاندان تاجک وو. د دے ډېر زړور او شجاع وو. د دهٔ حکمرانې د سوات د غرهٔ د لمنو پورې تر جنوبه او د کلپانۍ [مردان] پورې وه. د کانړو جوړه دغه مضبوطه قلعه په يو دنګه لوړه ډهېرۍ اباده

وه، اوسېدو.بيا کله چې هشتنغر يوسفزو او مندڼو اونيوو، نو هشتنغر د افغانانو محمدزي قبيلې بارکزي شاخ ته حواله شو، چې تر نن حينه د دوي په قبضه کښې دے.هشتنغر د ملک فتح خان چې ځوے د ملک سعيد خان ځوئے د ملک خضر خان د استوګنې ځائے دے.

زمونږ د سروې په وخت د دغې قلعې کنډرې موجود وې. په موجوده وختونو کښې د پېښور په ضلع کښې شلماني ډېر کم کوز دي.ليکن د دېګانو په نوم په جلال اباد،باجوړ او لغمان په علاقو کښې په ګڼ شمېر استوګنه لري. د تاترې د غرونو او دريائے کابل په مېنځ وميانه کښې دوه کلي د شلمانو دي.چې هم د شلمانو په نوم موسوم دي. او څه د اباسين شرقي لورې ته په اګرور کښې هم شته".

"There is a small elevated valley still known as Shalman after this people. It is situated on the southern bank of the river of Kabul, between Dhaka'h and Micharnai' , but nearer the former, and lying in the Tahtara'h (but not " Tartara, "for there are not two "r's" in the word, but there are two "h's") route, also known as the Ab-Khana'h route, between Peshawar and Dhaka'h. A short distance east of the latter place the river of Kabul makes a bend from east to north-east for ten miles, and then bends again almost due to south for the same distance.

After that it makes a sharp turn,at right angles, to the east again. This sharp turn just opposite the middle of the Shalman valley,which there down towards the river. Coming from Peshawar you first reach the village of Kam Shalman, or Shalman-i-Khurd, or lesser Shalman, at the eastern, end of the valley, and at the other, Lo-Shalman or Shalman-i-

Kalan,or Greater Shalman. A few Shalmanis inhabit the former village, and the latter is inhabited by part Mohmands, and part Mullagoris, an Afghan clan long connected with and dependent on the Mohmands. They also have several small hamlets in the mountains near the right bank of the river Kabul, where it bends sharply to the south as mentioned above.
There are still a few Shalmanis to be found scattered about in some of the villages to the north of the Landaey Sin or river of Kabul, as the Settlement and Census Reports Show".8

ژباړه: "یوه وړوکي شان دنګه لوړه وادي، د شلمان په نوم مشهوره ده،دا وادي د کابل درياب په سُهېلی اړخ پرته ده، يعني د ډهکي او مېچنی په مېنځ کښې. مګر د پخواني تاترې په لار چې د آب خانه لار په نوم هم مشهوره ده د پېښور او ډهکي په مېنځ کښې تېره ده.د مؤخر الذکر ځائے مشرق طرف ته په لړه فاصله د کابل درياب د نمرخاتهٔ نه قطب او نمرخاتهٔ طرف ته تر د لسو ميلونو پورې يو پېچومې خوري.او بيا دوباره پېچومې خوري سُهېل طرف ته.تقريباً د هغې وړومبنی فاصلې پورې او د دغې نه وروستو سمدستي بل پېچومې د قائمې زاوې په شکل بيا نمرخاتهٔ ته خوري.

دا سمدستې تاؤ يا پېچومې د شلمان وادی عېن مېنځ و مېانې برخې ته مخامخ دے. چې په دغه مقام دا وادي (شلمان وادي) کابل سيند طرف ته ررغښتې ده.د پېښور نه په راتلو اول به کم شلمان چې ورته شلمان خورد يا وړکے شلمان هم وائي،ته راورسې.او د دې وادی په بل سر لوئے شلمان (شلمان کلان يالوئے شلمان)

ته ډېر کم شلمانیان په پخواني کلي کښې استوګنه کوي. په مؤخر الذکر کښې څۀ مومندان او څۀ ملا ګوري نمر خاتۀ ته استوګنه کوي. ملاګوري چې یوه افغاني (وړوکې قبیله) ده د لرغوني زماني نه د مومندو سره تړلې او د دوي طفېلي ده. د کابل دریاب ښي غاړې ته د دوي نورې هم وړې وړې ابادۍ او بانډې په غرونو کښې دي. چې دا غرونه یو دم سهېل طرف ته کږېږي، لکه څنګه چې ئې بره ذکر شوے دے.

اوس هم معدودې چند شلمانیان خوارۀ وارۀ قطب طرف ته (د لنډي سیند د کابل دریاب) ملاوېږي.لکه څنګه چې د سیټلمنټ یا د شماریاتو د (مردم شماري) د رپورټ نه معلومېږي".

"To clearly understand their subsequent monements it must be mentioned that,At the time of Yusufzis and Mandanrs were expelled from the province of the Kabul, after the massacre of their chief and notables, the Dilazak Afghans were exceedingly numerous and powerful. They were the first Afghan tribe that entered the district of Bagram,or the Peshawar valley.The Akhund Derwezah, states distinctly that they first came to Nangrahar, or Nek-Anhar, from the west or south-west, and subsequently passed on the east wards. This was previous to the time of Amir Timur,The Gurgan.Having entered the Peshawar valley, they entered into alliance with the Shalmanis, who had also been obliged to leave their former seats in Karman and Shaluzan at some previous period, and who were then subjects of the Sultan of Suwad."9

ژباړه: " د دوي د حتمي حرکاتو په صفا توګه د پوهېدلو دپاره دا ذکر کول ضروري دي . کله چې د یوسفزو او منډنو د قتلِ عام

نه پس چې څه وخت دوي د کابل د صوبې نه اویستلې شو دغه وخت دلازاک پښتانه ګڼ او مضبوط وو. دا د پښتنو وړومبې قبیله وه چې وادي پېښور یا باګرام ته داخله شوې وه. اخوند درویزه په خصوصي توګه دا بیان کوي چې دوي اول ننګرهار یا نېک انهار ته د مغرب یا جنوب مغرب د لورې راغله. او بیا مشرق طرف ته لاړه. د امیر تیمور ګورګاني د زماني نه وړاندې واقعه ده. پېښور ته په داخلېدو دوي د شلمانو سره اتحاد وکړو. چا چې د دوي نه وړاندې خپل ټاټوبي کړمان او شلوزان پرېښي وو. دا وخت دوي د سوات د سلطان رعیت وو".

When the fugitive Khas'his appealed to the Dilazaks for aid, they also held the eastern parts of Bajawr,as I have already related at page123; and their territory extended from the Jinda'h river to the Kala-Parni and the mountains of Suwat,with the exception of the Ash-Naghar district which belonged to their allies,the Shalmanis,it included all the tract of country from Bajawr to the Indus,north of the river of Kabul, and all south of it as far as the hills now held by the Afridi tribe,from Dhakah to Atak.

The Do-Abah was assigned to the fugitives, but a portion of their tribes and allies had remained behind when they first obtained it. They soon began to follow the others on becoming aware that they had got a place to dwell in.Not finding the Do-Abah sufficient for all, the khas'his began to appropriate part of Bajawr, with the consent of the majority of the Dilazak chiefs as previously related.Soon after they possessed themselves of the greater part of it, as far west as Nawa'h-ga'iand Hindu-Raj, and began to east longing eyes upon 'Ash-Naghar.They soon expelled the Shalmanis from hence,and shortly after began to make inroads into Suwat.

The Muhammadzi tribe, which had joined the Yusufzis, but were neither Khas'his nor Gharis, were like other tribes at that time,without a settled country. While the Khas'his dwelt in the Kabul territory they dwelt on the same lands as the Gagyanis".10

ژباړه: "چې کله پناه غوښتونکو خشيانو دلازاکو ته د امداد د پاره درخواست وکړو نو د دلازاکو د باجوړ شرقي حصې هم په قبضه کښې وې.لکه څنګه چې ما (راورټي) په مخ ۱۲۳ بيان کړے دے. او د دوي سرحدونه د جيندي سيند نه تر کلپانۍ پورې او د سوات د غرونو پورې خواره وو.صرف هشتنغر ضلع په کښې شامله نۀ وه.هشتنغر د دلازاکو د پلويانو د شلمانو په قبضه کښې وه. دا علاقه د باجوړ نه واخله تر د دريائے سيند د مشرقي حصې پورې د شلمانو په قبضه کښې وه.دغه شانتې د دريائے کابل د قطب نه واخله تر د سهېل پورې دومره لرې چې نن سبا د ډهکې نه واخله تر اټکه پورې د افرېدو قبيلې په قبضه کښې ده.دوآبه دغه پناه ګزينو (غوښتونکو) ته حواله شوه. ليکن د دوي د قبيلو او پلويانو يوه حصه شاته پاتې وه.کله چې دوي اول ځل دغه علاقه ترلاسه کړه نو دغه پاتې قبيلو او پلويانو هم لکه د نورو وړاندېنو په شان د زمکې د لاندې کولو د پاره کوششونه شروع کړل. اوس دوآبه د دوي ټولو د پاره کافي نۀ وه.نو خاشيانو (يوسفزو) د دلازاکو اکثرو سردارانو په رضا مرضۍ سره د باجوړ څۀ برخه د خپل ځان د پاره د نيولو هڅه وکړه.ډېر زر دې پناه ګزينو ځان ددې زمکې مالکان کړل. او د باجوړ مغرب طرف دومره لرې چې تر ناؤګۍ او هندو راج پورې او د دې نه پس ئې په

هشتنغر هم د حرص سترګې ښخې کړې.دوي ډېر زر شلماني د هشتنغر نه اويستل او په سوات ئې هم چپاؤنه شروع کړل.محمد زی قبيلې چې د يوسفزو سره ئې ځان تړلے وو ،دوي په خپله نۀ خاشيان وو او نۀ غري وو. لکه د نورو قبيلو خپله سيمه نه لرله.او کله چې خاشيان د کابل په حدودو کښې اوسېدل دوي هم د ګګيانړو په شان په هاغو زمکو بودوباش کولو".

"Tahtara'h and Shalman (i.e., the small tract of table land between Tahtara'h and Dhakah), but, subsequently, they made up matters with the Dilazaks, and gained a footing within the Pas'haur boundary; and the Dilazaks treated them with the great generosity and consideration. Some of the greybeards of the Yusufzis, however, states, that the fugitives came into the Pas'haur district by the Khaibar route, and were desirous of obtaining possession of the lands dependent on the Bar-bar Ju-e or rivulet, but this the Shalmanis, who were on terms of friendship and alliance with Dilazaks, who were the first of all the Afghans tribes that arrived in those parts (that is to say, east of the Khaibar defile) resisted."11

ژباړه: " تاتره او شلمان (هغه د زمکې يوه وړه ټوټه چې همواره ده)د تاترې او ډهکې په مېنځ کښې يوه سطح مرتفع ده.ليکن اخر يوسفزو د دلازاکو سره خپلې خبرې روغې کړې او د پېښور په حدودو کښې ئې قدم کېښودو.دلازاکو د دوي سره ډېره د فراخدلۍ او معامله فهمۍ سلوک وکړو.د يوسفزو ځينې ځينې سپين ږيرې بيان کوي چې يوسفزي پناه ګير کله پېښور ته د خېبر په لار راغلل او د باړې په رود باندې اوبه کېدونکو زمکو د

اخستو ارزومند وو. ليکن شلماني چې د دلازاکو سره په دوستۍ وو او ورسره ئې ډله پره هم وه. (شلماني اول پښتانهٔ دي چې دلته پېښور ته راغلي وو) شلمانو د دې غوښتنې مخالفت وکړو".

"In1221 [A.D] the Mongols under Chingiz Khan established a loose supremacy over it. About the close of the fifteenth century, a great tide of Afghan immigration flowed into the District. Before Timur's invasion the Dilazaks had been settled in the Peshawar valley, in the alliance with the Shalmani, a Tajik race, subject of the rulers of Swat."12

ژباړه: " په کال ۱۲۲۱ء د چنګېز خان د سېوري لاندې منګولو دلته يو پړخمنه حکمراني قائمه کړه. د پنځلسمې صدۍ په پائې کښې د افغانانو وطن پرېښودونکو يوه لويه چپه دې وطن ته رادننه شوه. د تېمور د حملې نه وړاندې دلازاک د شلمانو (چې نسلاً تاجک دي) په اتحاد د پېښور په وادۍ کښې استوګن شوي وو، دوي د سوات د حکمران رعايا وو".

"It is said to derive its name from its eight chief villages, which probably occupy the site of the ancient Peukelaotis or Pushkalavati. General Cunningham, however, believed the modern term to be a corruption of Hastinagara, the city of Hasti. The Astes of Arrian.Raverty gave the old name as Ashnagar, but he does not explain his derivation, Before the Yusufzai Afghan settled in the Peshawar valley, Hashtnagar was held by the Shalmanis, a Tajik Race, subjects of the Sultan of Swat, and the Hisar of Hashtnagar was the capital of a province which extended to the Kalpani. After Babar's time it became the strong hold of a Muhammadzai chieftain.The inhabitants are Muhammadzai Pathan".13

ژباړه. "وئيلې شي چې دې علاقې خپل نوم د هاغه اتوو (۸) غټو غټو کليو نه اخذ کړے دے چې غالباً د قديمې زمانې پيوکلاتيز يا پشکلاوتي په ځايونو اباد دے. جنرل کنگهم باوجود ددې نه موجوده نوم لره د هستي نګره يو وران شکل ګنړي. يعنې د هستي ښار د اريان استيز - راورټې دې له پخوانے نوم اشنګر ورکړے دے. ليکن هغه ددې ماخذ ذکر نۀ کوي. د يوسفزو په پېښبور وادۍ کښې د ميشته کېدو نه وړاندې هشتنګر د شلمانو په ولقه کښې وو چې يو تاجک نسل دے، او د سوات د سلطان رعايا وو او د هشتنګر حصار د صوبې صدر مقام وو چې تر د کلپانړۍ پورې غزېدلے وو. د بابر د وخت نه وروستو دا ځائے د محمد زۍ قبيلې يو ګړهے جوړ شو. او اوس ددې ځائے اوسېدونکي محمد زي پښتانۀ دي."

په "Frontier and Overseas Expeditions from India" کښې په باب دويم "د مهماتي فوج په تيرا کښې د خيبر او اکاخېلو افريدو خلاف ۱۹۹۷ ء - ۹۸ ء" کښې چې په خيبر او د مومندو په علاقو کښې د انګرېزانو کومې معرکې شوې دي په هغې کښې شلمانو، ملاګورو، شينوارو او افريدو چې کومه حصه اخستې ده. هغه ټول اسباب د تاريخ پاڼو ته سپارلي دي. چې ځان له د يو بېل کتاب ليکلو پامته داره دي. دلته يوه لنډه شان واقعه تاسو ته وړاندې کولې شي.

"All was now confusion inside the fort, and about 11A.M. the end came, the gate being opened from within, and the lashkar swarming into the post. The Mullagori and Shilmani

sepoys, numbering about ninty men, faught their way out, and escaped to the Shilmani country with a loss of two killed and two wounded.The reminder of the garrission joined the lashkar. The post was looted and burnt of the garrision, one native officer, five sepoys and nine followers were killed, one native officer and six sepoys wounded.The losses of the enemy were said to be from 200 to 250."14

ژباړه: "د قلعې دننه هنر او غوبمه جوړه وه.او د ورځې په يولس بجې د دغه غوبمې خاتمه اوشوه.د دننې نه د قلعې دروازه لرې شوه او لښكر په پوسټ لكه د ګنو مچو ورننوتو.د ملاګورو او شلماني سپاهيان چې په شمېر كښې لس اتيا (۹۰) وو، په زور ځا ن له لار كوله او د شلمانو علاقې ته ئې تېښته وكړه.په دغه كښې دوه مړه او دوه زخميان شول.باقي قلعه بند كسان په لښكر كښې شامل شو.پوسټ وسوزلے او لوټ شو.په دې قلعه بند كسانو كښې يو مقامې افېسر، پنځه سپاهيان او نهه پېروكار قتل شو. يو مقامي افېسر او شپږ سپاهيان زخمي شو .او دښمن د دوو سوو نه واخله تر دوه نيم سوو افرادو د وژنې نقصان موندلے وو ".

حوالې(References)

1.JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL, EDITED BY:THE SECRETARIES.VOL. XXXIII. Nos.I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.-1864 CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS 1865.pp.148-149

Secondary references:
https://www.biodiversitylibrary.org/item/119070
https://ia800605.us.archive.org/17/items/JournalAsiaticSXXXIII/JournalAsiaticSXXXIII.pdf

2.RAVERTY,H.G"TABAKAT.I.NASIRI"AGENERAL HISTORY OF THE MUHAMMADAN DYNASTIES OF ASIA,INCLUDING HINDUSTAN,FROMA.H.194 [810A.D.To A.H. 658],[1260 A.D.],AND THE IRRUPTION OF THE INFIDEL MUGHALS INTO ISLAM.BY: THE MAULANA, MINHAJ-UD-DIN, ABU-UMAR-I-USMAN.BY MAJOR H.G.RAVERTY, and Translated from original Persian Manuscripts BOMBAY NATIVE INFANTRY RETIRED Vol. II. London: PRINTED BY GILBERT & RIVINGTON,1881.p.1044

3.A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE PUNJAB AND NORTH-WEST FRONTIER PROVINCE VOLUME III, L-Z BASED ON THE CENSUS REPORT FOR THE PUNJAB, 1883, BY THE LATE SIR DENZIL IBBETSON K.C.S.I. AND THE CENSUS REPORT FOR THE PUNJAB. 1892. BY THE HON.MR. ED. MACLAGAN, C.S.I, AND COMPILED BY HA.ROSE, NIRMAL PUBLISHERS AND DISTRIBUTORS.pp.401-402.

4. THE CYCLOPAEDIA OF INDIA AND OF EASTERN AND SOUTHERN ASIA, BANGALORR IN THREE

VOLUMES. VOL.II. H-NYSA. THIRD EDITION. Unverranderter Nachdruck der 1885 Bei Bernad Quaritch in London erschienenen Ausgabe.Graz/Austria.Printed in Austria.p.205.

5. RIDGWAY, R.T.I, MAJOR. 40th PATHANS, HANDOUTS FOR THE INDIAN ARMY, "PATHANS" Compiled under the order of the Government of India, Publishing date Nil.p.240.

6. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" .p.125.

7. See ibid., pp. 175-176

8. See ibid., p. 176 [Footnotes].

9. See ibid., p.221

10. See ibid., p. 222

11. See ibid., p.222 [Footnotes]

12. Imperial Gazetteer of India Provincial Series North-West Frontier Province, 1908.p.148

13. See ibid., p.162.

14."Frontier and Overseas Expeditions from India", Compiled in the Intelligence Branch,Army Headquarter,India.Vol.II North-West Frontier tribes between the Kabul and Gumal,Published by: D.K.Publishers Distributers(P)Ltd.4834/24,Ansari Road,Darya Ganj, New Delhi, 1907-11. p.73

-"Military Operations on the North-West Frontiers of India" (*Letter from Captian H. Daly,C.I.E.,Deputy Secretary to the Government of India,Foreign Department,to the Chief Secretary to the Government of the Punjab,dated Simla 23rd October 1897)* p.165.

- H.C.WYLLY, CB, COLONEL, "FROM THE BLACK MOUNTAINS TO WAZIRISTAN" MACMILLAN AND CO, LIMITED ST.MARTIN'N STREET,LONDON 1912.pp.224-226,317-320

◈◈◈

څلورم باب

دهقان،دهګان، دېګان او دهکان څوک دي؟

په تېرو بابونو کښې په دې باندې سرسري ليک شوے دے. دلته د دې نومونو په تاريخي حوالو جاج وړاندې کولے شي.
اکثر تاريخ دانان يا څېړنکار د بل حوالې ورکوي خو ځان د ټکي په لغوي او اصطلاحي معنو نۀ پوهه کوي. او د خپل انده ئې تشريح کوي. دلته د څۀ حده پورې دا کوشش شوے دے چې خپلو لوستونکو ته دغه نومونه د تاريخي شواهدو په رڼا کښې وړاندې کړې شي. چې آيا دا لفظ د کومې علاقې يا ژبې نه راغلے دے او دلته ئې زمونږ په سيمه څنګه تاريخي دوام موندلے دے. چې اکثر مؤرخين ئې د يو قوم د پاره بې توکه او بې محله پکاروي. مختلف لُغات د دې ټکي په مفهوم يا په تشريح کولو کښې يو شان په نظر راځي. هم دا رنګه د تاريخ کتابونه په دې متفق دي.
حضرت سلمان فارسي د دهقان په حقله وائي چې : کانَ ابی دهقان قريتهِ . يعني زما پلار د خپل قوم چودهري / سردار/ رئيس وو.١
لکه يو بل ځائے کښې د دهقان د لفظ مطلب داسې ښائي:
دَهْقَنَ - الْقَومُ فُلاَناً: د قوم سردار، رئيس يا چودهري جوړېدل.
تَدَهْقَنَ. چودهري يا رئيس. الدهقنةُ (مصدر) سردار درياست.

الـدُهْقَانُ والـدهُقَانُ مطلب ئي د ے چـودهري .زيلـدار، نمبـردار. دهاقنةٌ ودَهَاقِينُ – الدَهْقَانُ- تاجر.۲

دهقان باالکسر بالضم .التاجر.

الدهقان .القويّ على التصرف مع حدة الحکم والمحيط الأعظم.

الدُهْقَانُ. التاجر فارسي معرّب (چې د بلې ژبې نه يو ټکي راوړي) وقـالَ ابـنِ السـمعانى و مقـدم القريتـه او صـاحبها (بخراسـان والعراق) معرب عن فارسي (د خراسان او عراق په ژبه کښې).۳

زعيم فلاحى العجم.د عجمو د زمیندارو نګران.رئيس الاقليم (د يوې علاقې رئيس)۴

خـان روشـن خـان پـه تـذکره کښـې د ديشـان ،دودان،دودګـان يـا دېګان په حقله داسې ليکي چې:

"غـرض داچـې سـواتي پښـتنو چې کلـه د الـغ بيـګ او د بـابر د اطاعـت نـه انکـار وکړو او مقابلـه ئې وکړه، دا ببلـه خبره ده چې ماتې ئې وخوړو. ولـې تـر کلونـو پـورې پـه دې علاقـه قـابض پـاتې شو .د يوسفزو په راتګ د هغوي د مخ نيوي توان ئې او نۀ لرلـو او د هزارې ضلعې مخه ئې وکړه.

هلته د سواتي پښتنو په نوم ياد شو.د سوات د وتلو نه پس پـه هزاره کښې چې هغوي کومه علاقـه لاندې کړه هغـې تـه د سـلطان پکهال په نوم د"پهکلى "نوم ورکړے شو.

بيا په اتلسمه صدۍ کښې د سيد جلال بابا په مشرۍ کښې دې قبيلـې د هـزارې د شـمالي علاقـې نـه تُـرک اويسـتل او پـه ټولـه غرئيزه او مبداني علاقو باندې قابض شو. دا قبيله په ډېرو ذيلي څـانګو کښـې ويشـلې شـوې ده.د مثـال پـه توګـه ګبري،مميـالي،

عالي، متراوي، دودان، دودګان يا دبګان چې دا يو نوم دے .او دا وخت دوي په دودال يادېږي.

د فتوح البلدان ليکونکے ليکي چې :

دودان يو قام وو .د شام په پوله "آرمنيه" چې کوم مدعي دے ،چې هغه نبی دودان بنِ خزيمه (خريمه) کښې دے، بموجب تورات، دوان بنِ يقشان بنِ ابراهيم عليه السلام ".

معلومه دې وي چې آرمينه کښې د جلاوطن اسرائيل ذکر شوے دے .بني اسرائيلو کښې يو دودان خاندان هم وو .دا خلق د محمد غوري سره اشتنغر ته راغلي وو .۵

د تاريخ خورشېد جهان مصنف د طائفه کياني د عنوان لاندې داسې ليکي:

احوال طايفه کيانی

بدانکه طائفه کيانی از نسل کيان اند و مغل چغته از نسل چغتائی خان ابن چنگيز خان و مغل شاخے از ترک است قزلباش معنی لغوی آن سُرخ سر و معنی اصطلاحی آن سُرخ کلاه است و اين قزلباش از اولاد آن ترکان اند که در ايران خاندانهاے معزز بودند . ازبک شاخے از شاخهاے ترک است . وچگان بيار قوم هندونسب است . دهقان تاجيک است . هندکی مسلمان از نسل هندو ۶

ژباړه ئې سراج احمد علوي د "تاريخ پشتون" په نوم په اردو ژبه کښې کړې ده .د پښتو ترجمه ئې په دے ډول ده:

"کياني نسل د کيان ګروه نه دے. او د مُغلو د چغته ،چغتايي خان د نسل نه دي چې د چنګيز خان ځوے دے .او مُغل د ترک يو شاخ دے .د قزلباش لغوي معنیٰ د سُرسَرده او په اصطلاح

کښې سرې ټوپۍ ته وئيلې شي.او دغه قزلباش د ترکو د هغه خاندان نه دي چې په ايران کښې په معززه خاندانونو کښې شمارلے کېږي. ازبک هم د ترکانو د يو شاخ نه دي او دېګان بيا (بهيا) د هندو نسب قوم نه دي.دېګان تاجک دي او د هندکي هندو نسل مسلمانان ورته وئيلې شي". ۶

د قبيله شلماني د وجه تسميه د ليکلو په وخت د دېګان تشريح نۀ ده شوي.دېګان يا دهقان ئې نسب تصور کړے دے. دا يوه پېشه خو کيدې شي ليکن نسب نۀ شي کېدے.ښکاري چې مؤلف دخورشېد جهان ته د ديګان يا دهقان د تاريخي پس منظر علم نۀ وو.ځکه ورته دۀ دهقان هندي ليکلے دے.

دغه شان د" تواريخ حيات افغاني" ليکوال محمد حيات خان د دېګان قوم حال څۀ په دا رنګ بيانوي او ليکي چې:

"دا قوم ډېر پخوا د افغانستان قطب او نمر خاته ته اباد وو. اوس صرف په کونړ،باجوړ بالا او لغمان کښې ملاوېږي.په کونړ کښې دا يو ببل قوم دے.او د دوي يو سردار هم دے.چې د سېدانو نه دے.دۀ ته بادشاه هم وئيلے شي.في الحال سيد بابو جان بادشاه رئيس کونړ دے.او د کابل د عامل امير د طرفه نه د واسطه وصولي عامل مقرر دے.د ديګانو ژبه هغه ده کومه چې د بابر په تاريخ او په طبقاتِ اکبري کښې د لغماني ليک ده.داسې معلومېږي چې دېګاني ژبه کښې اکثر سنسکرت او فارسي او بعضې پښتو الفاظ هم دي.زيات تر الفاظ د سنسکرت سره سمون خوري. د دې نه دا معلومېږي

چې دېګان د هندو نسب نه وو. لیکن د هند کیانو سره ئې څۀ تعلق نۀ وو. وئیلې شي چې د افغانستان خلق په غلطۍ سره دهقان دېګان ګڼي. نو ځکه تاجک او دېګان هم یو ګڼي. لیکن دا قول غلط دے. څنګه چې وړاندې لیکلي شوي دي چې تاجک د اسلام د راتلو نه وروستو دې ملک ته راغلي دي. او دېګان د دوي نه وړاندې په هندو دهرم کښې په دې ملک کښې اباد وو. ۷

A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE Punjab and North-West Frontier Province Vol.II.1911.

کښې د دهقان په باره کښې داسې لیکي:

"Dehqan,Dihgan, Dihqan, an Iranian(Tajik)tribe(or rather class, as the word means husbandman) which is represented by the SHALMANI of the Peshawar valley.Raverty says that the Chaghan- Sarai valley on the West side of the Chitral river also contains several large Dihgan villages which owe allegiance to the Sayyids of Kunar".8

ژباړه: دهګان، دېګان، دهقان یوه ایراني (تاجک) قبیله یا یوه طبقه ، څنګه چې دا لفظ د کروندګر معنی لري. چې شلماني د پېښور د وادۍ او سېدونکي د هغوي نمائندګي کوي. راورټي وائي چې وادي چُغان سیرۍ کومه چې د چترال سیند قبلې لورې ته پرته ده. په دغه وادۍ کښې هم یو څو غټ دهګان کلي شته دے چې هغوي د کونړ د سیدانو تابعدار او مطیع دي.

په تاریخ الارسل والملک کښې د دېګان وضاحت د تاریخي جنګونو او فتوحاتو په رڼا کښې داسې شوے دے چې:

"Then Yazid persisted in the siege, stationing the troops on every side of the city, thereby cutting off its supplies. When the Turks tired and were unable to fight the muslims, for the siege and trail weighed heavily on them, Sul, the dihqan1 of Dihistan, sent to Yazid, saying,"I will make peace with you on the condition that you provide safe-conduct for me, for the members of muy household,and for my animals, in which case, I will deliver the city to you, together with its contents and its inhabitants".

ژباړه"بيا يزيد پـه محاصره اسرار وکړو (پـه محاصره کولو جه شو) او د ښار په دواړو طرفونو ئې فوځونـه ؤغورځول او د بېره ئې کـړل.او دغـه شـان ئـې ښـار تـه د اسـتعمال د څيزونـو ترسـيل او رارسول پرېکړل.کله چې ترکانو کوشش وکړو او د مسلمانانو سـره د جنـګ د کولـو جوګـه نـۀ شـول ولـې چـې ددي محاصـره او ازمېښت په دوي باندې ډېر ګران پرېوتل.سُل (Sul)چې دهستان د دهقانانو نه وو. يزيد تـه ئې استازے ؤلېږلو .ورتـه ئې ووئيل چې" زۀ به ستاسو سره ارو مرو د امن معاهده وکړم خو هغه پـه دې شرط چې تۀ ما ته زما د کورنو د افرادو او دغسې زما د ډنګرو او زما د سامان او د دې ښار د اوسېدونکو پـه حفاظت سره د وتلو اجازت راکړے.بيا به تا ته زۀ پـه داسې حال کښې هله ښار حواله کړم".

"The dihqan was the village head and a member of the lesser feudal nobility of Sassanian Persia who, after the Arab conquest, continued to be responsible for local administration and the collection of tribute. In Transoxiana, the local rulars were designated by the term dihqan."9

"دهقــان د کلــي ســرپنچ (مشــر رئــيس) وو. او د ساســانيانو ايرانيانو د جاګيردارانو د لړې يا کمې درجې اشرافيه. چې هغـه د عربو د فتح نه پــس د مقـامي انتظامي امورو د خراج د غونډولو او جمع کولو ذمه وار وو. په ترکمانستان کښې مقامي حکمرانانو ته د دهقان اصطلاحي تکے نومېدهٔ".

د شيخ شرف الدين مصلح سعدي شيرازي رحمة الله عليه د کتاب ګلستان نه هغه حکايت نقل کولې شي کوم چې د دهقان په باره کښې دے. د ګلستان هغه اردو ترجمه چې مولانا قاضي سجاد حسين صدر مدرّس عاليه فتح پوري دهلي کړې ده. هو بهوستاسو د وړاندې ده.

حکایت یکے را از ملوک مرضے هائل بود که اعادتِ ذکرِ آں ناکردن
ایک بادشاہ کو ایک ایسا خوفناک مرض تھا جس کا ذکر نہ کرنا
اَولےٰ طائفہ از حکمائے یونان متفق شدند کہ مر ایں درد را دوائے
بہتر ہے یونانی حکیموں کا ایک گروہ اس بات پہ متفق ہو گیا کہ اس مرض کی کوئی دوا
نیست مگر زہرہ آدمی کہ بہ چندیں صفت موصوف باشد بفرمود طلب
نہیں بجز ایسے آدمی کے پتّے کے جو اتنی صفات رکھتا ہو بادشاہ نے تلاش کرنے کا حکم
کردن دہقان پسرے را یافتند براں صورت کہ حکیماں گفتہ بودند پدر و مادرش
دے دیا لوگوں نے ایک چودھری کے لڑکے کو انہی صفات کا پایا جو حکیموں نے بتائی تھیں اس کے ماں باپ
را بخواندند و بہ نعمتِ بے کراں خوشنود گردانیدند و قاضی فتویٰ داد کہ
کو بلایا اور بے شمار دولت دے کر ان کو راضی کر لیا اور قاضی نے فتویٰ دے دیا کہ
خون یکے از رعیت ریختن سلامت نفسِ پادشہ را روا باشد جلاد قصد کرد
بادشاہ کی جان کی سلامتی کی خاطر رعیت کے ایک آدمی کا خون بہانا جائز ہے جلاد نے قتل کا ارادہ کیا
پسر سر سوئے آسماں برآورد و تبسم کرد ملک پرسید کہ دریں حالت چہ جائے
لڑکے نے آسمان کی طرف سر اٹھایا اور مسکرایا بادشاہ نے دریافت کیا کہ یہ ہنسنے کا کیا

لہ دہقان۔ گاؤں کا رئیس۔ زمیندار۔ ۲ حکیم سے مراد یہاں طبیب ہے یا عقلاء۔ ۳ فتویٰ شرعی حکم جو قاضی وغیرہ جاری کرے۔ ۴ جلاد اگرچہ عربی محاورے میں کوڑے اور دُرّے لگانے والے کو کہتے ہیں مگر فارسی والوں کے محاورے میں اُس شخص کے لئے بولا جاتا ہے جو بادشاہ کے حکم سے مجرموں کو قتل کرتے ہیں یہ ایک ظلم کی تعریف ہے ...

حکایت ؎ یکے از ملوک با تنے چند خاصاں در شکارگاہے بزمستاں
ایک بادشاہ اپنے چند مخصوص لوگوں کے ساتھ جاڑوں کے زمانہ میں کسی شکارگاہ
از عمارت دور افتادند تا شب درآمد خانۂ دہقانے ؎ را دیدند ملک گفت
میں آبادی سے دور نکل گیا یہاں تک کہ رات ہوگئی تو انہیں ایک دیہاتی کا گھر نظر پڑا۔ بادشاہ نے کہا
شب آنجا رویم تا زحمت سرما نباشد یکے از وزرا گفت لائق قدر بلند
رات وہاں گذاریں تاکہ سردی کی تکلیف نہ ہو ایک وزیر نے کہا ذلیل دیہاتی کے گھر
پادشاہاں نباشد بخانۂ دہقانے رکیک ؎ التجا کردن ہم اینجا خیمہ بزنیم و
پر پناہ لینا بادشاہوں کے بلند مرتبہ کے مناسب نہیں ہے اسی جگہ خیمہ لگاتے ہیں
آتش افروزیم دہقان را خبر شد ماحضرے کہ داشت ترتیب کرد و پیش
اور آگ روشن کرتے ہیں دیہاتی کو پتہ چل گیا جو کچھ بھی گھر میں تھا تیار کیا اور پیش
آورد و زمین بوسید و گفت قدر بلند سلطان بدیں قدر نازل نشدے
کیا اور زمین کو بوسہ دیا اور کہا بادشاہ کا بلند مرتبہ اتنی قدر بات سے نہ گھٹتا
ولیکن نخواستند کہ قدر دہقان بلند شود سلطان را سخن گفتن او مطبوع
لیکن ان لوگوں نے نہ چاہا کہ ایک دیہاتی کا مرتبہ بلند ہو جائے۔ بادشاہ کو اس کی بات کا ڈھنگ پسند
آمد شبانگہ بمنزل او نقل کردند بامدادش خلعت ؎ و نعمت فرمود
آیا رات ہی کو اس کے گھر میں منتقل ہو گئے صبح کو بادشاہ نے اس کو خلعت اور انعام عطا کیا

۱؎ دہقان، دہگان کا معرب ہے۔ جو زمیندار اور گاؤں کے کھیا نمبردار وغیرہ کے معنوں میں آتا ہے۔ ۲؎ رکیک کے معنی سست اور ضعیف کے ہیں یہاں مجازی معنی استعمال کئے گئے ہیں۔ ۳؎ خلعت بکسر خاء وہ فاخرہ عمدہ لباس جو بادشاہ کی طرف سے دیا گیا ہو۔

شنیدندش کہ قدمے چند در رکاب سلطان بود و می گفت **قطعہ**
اس کے بارے میں سنا ہے کہ چند قدم بادشاہ کے جلو میں تھا اور کہہ رہا تھا

ز قدر و شوکت سلطان نگشت چیزے کم — از التفات بمہمان سرائے دہقانے
بادشاہ کے مرتبہ اور شان و شوکت میں سے کچھ کم نہ ہوا — ایک دیہاتی کے گھر کا رخ کرنے میں
کلاہ گوشۂ دہقان بآفتاب رسید — کہ سایہ بر سرش انداخت چوں تو سلطانے
دیہاتی کی ٹوپی کا کنارہ آفتاب سے جا لگا — اس لئے کہ تجھ جیسے بادشاہ نے اس کے سر پر سایہ ڈال دیا

دبادشاه مرتبه په دې لاندې کېدې نه شوه . لیکن د دې خلقو دا خوښه نۀ وه چې د یو دیهاتي (دهقان) مرتبه اوچته شي".

د بره حکایت د نفسِ مضمون نه دا معلومېږي چې دهقان د دېګان معرب دے چې معنیٰ ئې د زمیندار او د کلي د نمبردار ده. ۱۰

د "سلطان" "سلطاني" نه علاوه د تاجک سواتي يوه اهمه سماجي برخه د وضاحت قابله ده دوي ته دهګان، دهقان هم لیکلې شوي

دي یا وئیلي شوي دي. څکه سرجن مېجر هنري والټ بلیو په "The Races of Afghanistan" کښې د دهګان یا دهقان (Dihgan or Dihcan)په حقله داسې لیکي چې:

Amongst the Tajiks are some agricultural communities who are called Dihwar in the West of Afghanistan, and Dihgan or Dihcan in the eastern provinces. They represent, it would appear, the Dahae of the ancient Greek writers, and are merely rustics or villagers, as the above Persian words imply;though the incient Scythian tribe of the Daae or Dahae were a numerous and powerful people in their day"11

ژباړه."په تاجکانو څهٔ کروندګر ټولې هم دي.چې هغوي ته په لوېدېز افغانستان کښې دیهوار(Dihwar) او د افغانستان په شرقي ولایتونو کښې ورته دهګان یا دهقان (دهکان) وئیلې شي.داسې معلومېږي چې دا الفاظ د قدیم یوناني لیکوالو لفظ "داهي"(Dahae)څرګندوي.او دا خلق محض بانډېځي یا ګنوار دي. لکه څنګه چې د پورتنو ذکر شوو فارسي لفظونو نه پته مطلب راوځي.اګر چې لرغوني سائتهین دائے یا داهے (Dahae,Daae) قبیلې والا خلق په خپلو وختونو کښې ډېر ګڼ او طاقتور وو."
د بره بیان نه د تاجک په حقله دوه قسمه نظریات وړاندې راغلل. یو دا چې تاجک د عربو او ایرانیانو مخلوط نسل دے. څکه ورته تاجک وائي. د بلیو د دې نظریې سره اتفاق نشته.۱۲
محترم عبدالحلیم اثرافغاني د د ېګان په حقله داسې لیکي او د مشهور مؤرخ میګتینهز [D.N.MACKENZIE] حواله ورکوي چې:

دا خلق عرب طائیان دي. (عربین تائي Arabian Tie) یعنې د سبائي نسل خلق دے، چې د سن ۵۰۰ ق م نه په دې علاقه کښې اباد وو. او په افغانستان کښې د دېګان او د وادي پېښور په پخواني تاریخ کښې د دهقانان په نوم یاد شوي دي. د دې قوم خلق د مغربي پاکستان په مختلفو حصو کښې تر نن ورځې اباد دي. او د دغې نه علاوه په خصوصیت سره د سمت مشرقي او سمت شمالي افغانستان کښې په وادي کونړ، لغمان، کوهستان، ربزه، کوه دامن، تګاب، نجراب او پنج شېر وغېره په علاقو کښې د اندراب تر علاقې پورې د یوشت (۲۱) لکهه په تعداد کښې غونډ اباد دي. او د سوویت روس په ریاستونو کښې د تاجکستان په نوم یوه علاقه ددې قوم د خلقو موجود ده. د اشتراکي نظام د لاندې دي.[دا اشتراکي نظام توټې توټې شوے دے]الیکن مسلمانان دي او نسل عرب دي. چې د جنوبي عرب نه راغلي دي"۱۳.

"A DICTIONARIES OF THE PATHAN TRIBES ON THE NORTH- WEST FRONTIER OF INDIA,1899 and 1910"

کښې د دېګان په حقله داسې لیکي چې:

Dehgan:A tribe inhabiting Kunar,Laghman and Nangrahar. A few Dehgans are also to be found in Zurmat[Zurmal or Zarmal] and Bajaur.The Dehgans are said to be descendants of the Indian races originally inhabiting North-Eastern Afghanistan.14

او د سواتي د عنوان لاندې داسې لیکي چې:

Swati:

"The original inhabitants of Swat sometimes called Dehgans, and according to some authorities, of Indian origion.Driven out of Swat and Buner by the Akozai-Yusufzais the end of the fifteenth century,they emigrated eastwards,under the leader ship of Said Jalal Baba, a son of the famous Pir Baba of Bunir.Crossing the Indus.They settled in Tikri,Allai,Deshi,Nandihar,Pakli,Konsh,Bogarmang,Agror, Balako and Garhi Habibullah,North of Hazara, of which their desecedants are the present inhabitants".15

سواتي: "د سوات اصلي اوسېدونکي چې کله نا کله ورته دېګان هم وئيلے شي. او د ځينو تاريخ دانانو د وېنامطابق دوي په اصل نسل هندوستاني دي.کله چې دوي د پنځلسمې صدۍ [اراورتې اولسمه صدۍ ليکلې ده] په اخر کښې اکوزو يوسفزو د سوات او د بونېر نه بې دخله کړل نو دوي د سېد جلال بابا ١ چې د [حضرت سيد علي ترمذي] پير باباد ځوي [کړوسے]وو د هغه په مشرۍ کښې مشرق لورې ته هجرت وکړو.او کله چې دوي په دريا سيند پورېوتل نو دوي په ټکرۍ، الائي،دېش،ننډهار، پکهلۍ، کونش،بوګرمنګ، اګرور، بالاکوټ او د هزارې په شمال ته په ګړهي حبيب الله کښې دېره شو .دا موجوده باشندګان د هغوي د اولاد نه دي".

په" قاموس پښتې قبيلې او خېلونه" کښې د دهګان يا دېګان په حقله داسې ليک دي:

i. هغه قام چې په کونړ ،لغمان او ننګرهار کښې په پښتنې سيمو کښې اوسېږي.لږ شمېر ئې په زرمل او باجوړ کښې هم شته.

ii. دېګان يوه کورنۍ ده چې په محمد خېلو کښې

او سبړي. ملخ. ماليزاد ،دوړ.''۱۲

"NOTES ON AFGHANISTAN AND مېجر راورټي په
"BALUCHISTAN كښې د دهګانو په حقله د "The Dara'h of
"Chaghan-Sarae د عنوان لاندې ليكي چې:

"This dara'h contains several large villages belonging to the race of people called Dihgan or Dikhan, the former belong the I-rani or Tajik, and the latter the'Arab mode of writing the word(and which literally signifies a peasent or agriculture, not the name of a tribe or race), and lies on the west side of the river Chitral or Chitrar. These people pay allegiance to the sayyids of Kunar".17

ژباړه: " په دې دره كښې يوڅو غټې كلي د دېګان يا دهكان قبيلې هم شته دے. په دې كښې(اول الذكر)ايراني يا تاجک لفظ دي.او دويم لفظ دهقان د عربۍ دے.(ددې لفظ مطلب يا مزارع دے.او دا د يو نسل يا ذات نوم نۀ دے) دوي د چترار يا چترال د سيند مغرب طرف ته دي. دا خلق د كونړ د سيدانو عقيدت مند دي"

"A CONCISE PAHLAVI DICTIONARY"كښې
D.N.MACKENZIE د دهګانو په حقله داسې ليكي:
Dahigan, (dehgan) Countryman.18

د سواتيانو په حقله په تفصيل سره الفنستين(Elphinstone) واحد ليكونكے دے،دے وائي چې:
"سواتيانو ته په بعضې وختونو كښې دېګان (Deggauns)وئيلے شي داسې ښكاري چې هندوستاني نژاد دي. دوي د اول نه د يو

سلطنت واکداران وو. چې د Hydaspes د قبلئزې کنارې نه تر جلال اباده پورې خوره وه. دوي افغان قبائلو په قلاره قلاره د سوات او بونېر د تنګو واديانو پورې محدود کړل. کوم چې د دوي اخري رياست وو. د پنځلسمې صدۍ د پائې پورې يوسفزو د دوي نه دا هم وترورړو." ۱۹

په "*تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے آئینہ میں*" پروفېسر تنوير حسېن د دهقان تفصيل څه په دارنګ بيانوي او ليکي چې:

"لفظ تاجک د ټولو فارسي ويوونکو د پاره استعمالېږي. خوا که هغه د ذوالقرنېن د نسل نه دي او که د هغې نه نۀ دي. مګر د (ګبري) يا د (مغ) اصطلاح د تاجکو د يو مخصوص طبقې سره تعلق لري. د کومو چې د حکمران او مرزبان[د زمکې حاکم يا د سرحد افېسر] کورنو سره تعلق وو. د دوي سماجي او نظام په دوو طبقو باندې وو. يو "سلطان" يا "سلطاني" او دويم "دېګان، دهګان يا دهقان" وو. او دا طبقاتي تقسيم د اعلیٰ او ادنیٰ په مېنځ کښې بغېر د څۀ سماجي رتبې نه وو. بلکې دا صرف او صرف يو سياسي او نظامي تقسيم وو. کوم چې په پخواني ايران، بلخ، بدخشان او سيستان کښې رائج وو. په نسلي اعتبار سره "سلطان" او "دهقان" د يوې قبيلې خلق وو. ليکن د حکمراني طبقې د پاره مخصوص خطاب "سلطان" او "سلطاني" وو. دهګان يا دهګانان به په بااختيار مرزبان او فرمانروائے اقليم باندې يادېدل يا مخاطب کېدل. ځکه چې د يو بادشاه يو ځوے به په يو وخت کښې حکمران اعلیٰ جوړېدے شو. د دغه خاندان نور خلق به د صوبو يا مخصوصو سيمو حاکمان وو. او دغه به په دهګان بللې کېده.

د ننني لفظ کوم چې ورته عام خلق کاشتکار او مزارع (Peasant) وائي. د دوي په شان به نۀ بلل کېدل. بلکې د دوي درجه او حېثیت د"رئیس ده" وه، او په خپلو مقبوضه علاقو کښې د کُلي اختیار مالکان وو. د دښمنانو او دوستانو سره په هر قسمه معاهدو کولو باندې دا قادر خلق وو".

په تاجک قبیله کښې د "سلطان" او "دهګان" تاریخي پس منظر

په تاریخ افغانستان کښې عبدالحی حبیبي په مخ ۱۹۲ باندې د سلطان پکهل او سلطان بهرام د حکومت ذکر څۀ داسې کړے دے. او لیکي چې:

"آنهار بلقب (سلطان) میخواندند. این دودمان در دره پیچ کنر (کنړ) مرکز داشتند وافسانهائے محلی آنهارا باولاد ذوالقرنین منسوب میدانستند"

ددې عبارت نه دا واضحه کېږي چې سلطان بهرام او سلطان پکهل دا دواړه ورونه چې د سلطان کهجا من ابنِ هندو د دوي خانداني خطاب (سلطان) وو. او د ذوالقرنېن د نسل سره تړلے کېږي مګر دا سکندر مقدوني نه وو. څنګه چې مېجر بلیو (Major Bellew) او مېجر راورټي (Major Raverty) په خپلو تصانیفو کښې ذکر کړي دي.

مېجر راورټي لیکي چې:

"When the Kashi tribe of the Afghans acquired pre dominance in Bajawar, Suwad and Buner and parts adjacent,

and Babar Badshah overcame HaiderAli, the Gibari Sultan of Bajawar, and occupied his strong hold (ie. Gibar fort), and Sultan Awes, Son of Sultan Pakhal, the last Sultan of Suwad, also of the Gibari tribe, had to abandon his kingdom and take shelter in the Dara'h of N, Hak, Niaka'h or Niak, further north, the people of territories in question consisting of the tribes of Tajzik race, also known as Dikkans and Dihgans, were either wholly expelled from them or with few exceptions abandoned their old seats to find new homes, where they might dwell in safety from Afghan invaders from the west-ward. As the tracts immediately west of the indus and north of Buner, extending from the eastern boundary of the Kashkan or Chitral State to Tahakot belonged to, and were still inhabited, by people of their own race, who had not been interfered with (and have not, to this day, to any considerable extent), they were of necessity forced to cross the Indus, to find a new country, those of their own race, not having room for them to dwell with them.

"They began to cross the great river in the direction of Tahakot…And following the example of Afghan invaders of their own country, they overcame the tribes of Khakah and Bamdbah, whose chief had been the ancient ruler of these parts east of the Aba-Sin, forced them back, and took possession of the territory of Pakhal for themselves. Having for the most part, come from suwad, they were styled Suwadis or Suwathis, by their immediate neighbors; but they consisted chiefly of the triles refered to at page 117 and 237.

ددې اوږد اقتباس نه يو څو اهم خبرې وړاندې راغلې:

۱. د باجوړ حکمران حېدر علي او د سوات حکمران سلطان اوېس دواړه ګبري سواتي وو.

۲. د سوات او باجوړ باقي خلق د تاجکو د مختلفو شاخونو نه

دي. (چې په دې كښې متراوي او ممیالي شامل دي).

۳. دا خلق (تاجک سواتي) په سوات او باجوړ كښې د حكمرانۍ د ختمېدو نه پس د مېداني علاقو نه لاړل او د خپلو خپلوانو سره اوسېدل. دا علاقه د بنېر د قطب او د چترال د نمرخاته غرونو نه واخله تر د تهاكوټ پورې خوره وه.

يعنې د چغرزو د علاقې نه واخله تر كوهستان سوات، چترال تر مېنځه (سره د موجوده ضلع شانګلې) د علاقې د تنګوالي/ كم والي په سبب په دريائے سيند پوربواتۀ او په پكهلۍ ئې قبضه وكړه.

۴. پكهلۍ ئې په قوم كهكها او په قوم بمبه باندې واخسته. چې دا قوم د دريائے سيند په نمرخاته كښې د پخوانو حكمرانانو (تركو) ماتحت وو.

ددې نه دا هم ثابته شوه چې قوم (بمبه او كهكها) ډېر په خوا په پكهلۍ كښې د تركو د كاردارانو په حېث اوسېدل. او د قوم بمبه په حقله روايت كوم چې په تاريخ وېس هزاره كښې ليكلے شوے دے. چې قوم بمبه په اصل كښې قريش دي او د دوي مورثِ اعلیٰ سلطان كاشف دجهانګير په وخت كښې پكهلۍ ته راغلے وو. او د (سلطان كمال ترک د لور سره ئې وادۀ كړے وو) سمه خبره نۀ ده.ولې چې دوي او جهانګير د وخت نه هم مخكښې د پكهلۍ د تركو كاردار را روان وو.

په امپيريل ګزټيئر آف انډيا كښې هم ليک دي ،چې:

په پكهلۍ كښې بمبه او كهكها قومونه د تركو فرمانروا او كاردار وو. د سكندر مقدوني د حملې په وخت كښې د بدخشان

او کنړ حکمران (خوري نس (Khorienes) وو. په غرونو کښې اوسېدونکي خلق سکندر خپل مطیع (فرمانبردار) جوړ کړل، د بدخشان او کنړ حکمراني ئې په دویم ځل خوري نس ته حواله کړه. د بدخشان او کنړ په غریزه درو کښې او سېدونکے خلق د کورش (Cyrus) د اولاده، د دۀ د رشته دارو او د سپایانو د نسله نه وو. کوم چې کورش د بلخ د فتح کېدو نه پس دغلته پرېښودي وو. ددې تذکرې ابو الفضل په آئین اکبري کښې او ددې نه پس په عالمګیر نامه او سیر المتأخرین کښې هم شوې دي. خوري نس د بدخشان حکمران او بسوس (Besus) د بلخ حکمران د ذوالقرنین (کورش بزرګ) د نسل نه دي. او قبیله تاجک سواتي د دوي پسماندګان دي.

د بلخ او بدخشان د جنګي مهم جویۍ نه پس چې کله سکندر مقدوني وزګار شو نو دے د هندوستان په مهم روان شو. دۀ هندوکش په لسو ورځو کښې عبور کړو. او د چاریکار سره نزدې سکندریه (Alxandria) کښې ئې ټکاؤ وکړو. دا ځائے د کابل په قطب کښې دے. او هم ددې ځائے نه د دریائے کابل د وادیانو د مهم شروعات اوشول. په کوهِ دامان کښې سکندر خپل فوځ په دوه برخو کښې اوېشلو.

د فوځ د لوئے برخې مشري ئې هفس تیون (Hyphaestion) ته وسپارله او دے ئې (دره خیبر) نه نېغ د ټیکسلا په شاهراه اولېږلو. او په شمالي علاقو کښې د اوسېدونکو خلقو او قبیلو د سرکوبۍ د پاره ئې په خپله د دویمې برخې مشري واخسته او وړاندې لاړو.

[(ماخوذ) Gates of India by Col:Thomas Holdich]

سکندر د لغمان اسپاسین، د پنجکوړې ګوارین او د سوات اساکینین مغلوب کړل. او ددې قبائلو نه علاوه د کنړ په مشرق کښې د نیسائینو (Nysan) سره هم ملاو شو. چې د ے خلقو ځان ته یوناني الاصل وئیلو. د یوناني النسل د خلقو دلته اوسېدل څهٔ د حېرانتیا خبره نهٔ ده.

ځکه چې سائرس (Cyrus) د دور نه وړاندې دا علاقې د آسوري او (ماد) د امپائر برخې وې. چې د دهٔ حکمراني د یونان پورې وه. او زیات تر خلق د یونان ددهٔ په فوځ کښې نوکران وو. د هخامنشي په دور کښې هم داریوش او اردشیر اول،دوم، دریم د فوځ لویه برخه د یوناني سپایانو وه. او د سکندر اعظم سره په جنګ کښې هم (امین تاس)په کمان کښې د یوناني فوځ د سکندر خلاف ولاړ وو.

په دې وجه نیسائن کابکوس(Bacus)د آسوریانو د ماد ملازم سپه سالار کېدے شي. ځکه چې دهٔ بهآسوریانو یا ماد د پاره دا علاقې فتح کړې وې او څهٔ یوناني به هم دلته په دې علاقو کښې چرته اوسېدلي هم وي.

د سکندر اعظم ان نسائن (Nasaen)اساسین او ګوارین د هخامنشي د دور د تاجکو ګبریانو مطیع او رعایا ګڼل به سمه وي.

تاجک ګبري قبیله د ذوالقرنبن د نسب په وجه د شمالي علاقو د پخوانو اوسېدونکو حکمرانان وو او دوي د سکندر اعظم د

حملې د وختــه پــورې حکمرانـــان را روان وو. کــه چــرې دې حکمرانانو روايتاً ځان د سکندر ذوالقرنېن اولاد ښودلے وې نو دا سکندر مقدوني نۀ دے بلکې دا کورش کبير دے. ځکه چې د سکندر مقدوني د حملې په وخت کښې د بلخ بسوس (Besus) او بدخشان حکمران خوري نس چې د هخامنشي د خاندان سره وو.

سلطان پکهل او سلطان بهرام د تاجک ګبري قبيلې حکمرانان کنړ وو. د دوي تعلق د دره پيچ د سلاطينو د خاندان نه وو.

د دوي شجره نسب د عبدالحی حبيبي او د اخوند درويزه بابا د وېنا مطابق د سکندر ذوالقرنېن سره ملاوېږي.

[اخوند درويزه (تذکره مخ ۱۰۷) او عبدالحی حبيبي" تاريخ مختصر افغانستان" ،مخ ۱۹۲(ماخوذ)]

دويمه يوه نظريه دا هم ده چې تاجک خالصاً فارسي (ايراني) دي.او د دهقان نوم بــه صرف د دغه فارسي ويونکو د پاره استعمالېدو کوم چې زراعت پېشه وو يا د دغه پېشې سره منسلک وو . دا لفظ به صرف په هغه علاقو کښې وئيلے کېدو.کوم خلق چې فارسي (ايراني) اقتدار منونکي وو.

د مېجر بليو (Major Bellew)دا دويمه زړه نظريه د زوړ تاريخ سره مطابقت خوړونکي ده او په ډېره صحيح دليل باندې اډانه لري.

د قبيله سوادي [سواتي] درې شاخونه (ګبري، مميالي، متراوي] په اصل کښې تاجک دي. په دوي کښې "سلطان (سلطاني) او د دهګانو تقسيم صرف په نظامي او معاشي نظام باندې دے.

د سلطان او دېگان (دهگان) د خطاب استعمال

"سلطاني"یا"سلطان"د گبریانو (گبري) حکمرانانو د طبقې خطاب وو. مېجر راورټي لیکي چې:

"Sultan here do [does] not refer to monarches by which title the chiefs of Kashkar [Qashqar] are known, as well as Sayyids. It is a mere title by which the Gibari Chief and their families were styled"

"یعنې د سلطان مطلب د یو مطلق العنان حکمران نهٔ وو. بلکې دا د کاشکار [قاشقار] (چترال) د حکمرانانو د خطاب "شاه" او "بادشاه"په رنگې یو خطاب وو.
دا صرف یو خطاب دے چې په دې به گبریانو خپل سرداراو د هغوي خاندان ښکاره کوو".

یعنې په نورو الفاظو کښې ددې مطلب دا شو چې "سلطان" به د حکمران په ځائے استعمالولے شو.او سلطاني به د دوي د خاندان د نورو خلقو په مېنځ کښې د فرق / بېلتون د پاره استعمالېدو. په دې الفاظو سره په عالمگیر نامه کښې په دې داسې تذکره شوې ده:

"وآخرالامر در سرزمین سواد و بجور اقامت ریختہ .... ودرآن سرزمین گروۓ کہ لقب سلطانی یافتند وخودراازنژاد دختری سلطان سکندری پنداشتند مرزبان بودند......بہ چیرہ دستی وخیرہ رُوئی بر سلطانان اینجان تصرف واستیلاء یافتند"

د یوسفزو په حقله تذکره کوي او داسې لیکي چې:

"یوسفزي اخر په سواد او باجوړ کښې میشته شول او دغلته یوه قبیله (گروه) چې په "سلطاني"لقب یادېدله. دې قبیلې

(ګروه) خپل ځان د سلطان سکندر د لور د لورې نه ثابتوو. د دوي نه ئې دا علاقه په قبضه کښې واخسته او پرې متصرف (قابض) شول. ددې نه دا واضحه شوه چې سوات په سياسي او معاشرتي تقسيم کښې د دوو طبقو وجود وو. يوه هغه طبقه کومه چې حکمرانه وه او د "سلطان" يا "سلطاني" په نوم به مخاطب کيدله. او دويمه طبقې ته به دېګان يا دهقان وئيلے کيدل. د دې طبقې په قبضه کښې د زمکو انتظام او د ماليات د وصولۍ کار وو. دا د دېګانو يا دهګانو صرف د مزارع په حېثيت نۀ وو. بلکې خپل مخصوص دائره ملکيت کښې خود مختاره او ځانګړي وو. او لقب دهګان د دوي د پاره عزت او د تکريم وو".

د دهګان وضاحت

په جلد اول اردو دائره معارف (انسائيکلو پيډيا) کښې د دهګان او دهقان وضاحت شوے دے. دهګان د فارسۍ ژبې تورې دے چې معرب ئې دهقان دے. دا لفظ د رئيس ده (نمبردار يا اوچت درجې د خلقو د پاره) مستعمل وو. د ساسانيانو په جاګيرداري نظام کښې د دهګان حېثيت د بنيادي اکائۍ وو. دوي به د خپل کليو د زمکو ماليه راغونډوله. مسعودي په (مروج الذهب) کښې ليکلي دي، چې ددوي پنځه طبقې وې. د ساسانيانو نه پس چې کله عربو په ايران قبضه وکړله نو قابضينو د ساسانيانو د مال ګزارۍ په نظام کښې څۀ تبديلي ونۀ کړه. او د دهګانانو هغه حېثيت ئې برقرار وساتو. البته لفظ

دهګان ئې معرب په دهقان کړو او دهقان لفظ ئې ليکل شروع کړل.

د وخت د تېرېدو سره سره په معاشي نظام کښې د تبديليو په سبب د دهقان حېثيت د يو مزارع پورې محدود شو. چې تر اوسه پورې قائم دے.په اصل کښې ساسانيانو دا نظام د اسوريانو او بابليانو نه خپل کړے وو. ددې شروعات د عبراني لفظ "دېګان" دے.

د مال ګزارۍ نظام دېګانيه (Deganya) تر اوسه په اسرائيلو کښې رائج دے.انسائيکلوپيډيا براټنيکا (مائيکروپيډيا).ريډي ريفرنس انډکس III مخ ۴۳۵ باندې د دېګانيه وضاحت داسې دے:

"Deganya collective name of two Kibbutzim in Israel"

او د لفظ Kibbutzim تشريح په انګرېزۍ لغت کښې داسې شوے دے.

Kibbutzim: Jewish Collective System of Agriculture settlement.

.په اسرائيلو کښې د زرعي بندوبست اجتماعي نظام ته Kibbutzim وئيلے شي.او کله چې د دوو يا د دوو نه زيات زرعي اجتماعي نظامونه يو ځائے کړے شي نو دې نظام ته دېګانيه (Deganya) وئيلے شي.او دېګانيه ددې نظام اکائي (Unit)ده.

عربيانو چې کله ايران فتح کړو نو په خراسان،آذربائجان، طبرستان او سيستان کښې د عربو اکثر جنګونه د دهقانانو او د مرزبانو سره شوي دي او صلحې (صلح نامه) به هم د دهقانانو سره

کېږي.

المثنیٰ د زندوَرو باشندګان مطيع کړي وو او عروه بنِ زېدالخيل الطائي ئې د الزّوابي لوري ته اولېږلو. الزاوابي د يو کس په سر د څلور درهمه په حساب سره د دهقانانو سره صلح وکړه.

د جلولا د جنګ په واقعاتو کښې هم ليک دي چې يزد د جرد حلوان نه وتښتېدو نو هاشم بنِ عتبه ورپسې د دجلته الشرقي د طرف نه ئې پرې په نواحي السواد کښې چهاپې ووهلې او وړاندې مهرود تا اورسېدو. د دغه ځائے دهقانانو درهمونه ادا کړل او صلحه ئې وکړه. د جلولا جنګ په ۱۲هـ کښې شوے دے.

"وئيلے شي چې په دهقانانو کښې جميل بنِ بَصْري دهقان الفلاليج، والنهرين او بسيطام بنِ نرکسي دهقان بابل وخطيرنيه او الرفيل دهقان المال او فېروز دهقان نهرالميک وکوتي اسلام قبول کړے وو".

د بره عباراتو نه د دهقان د اصليت او حېثيت اندازه لګېدے شي. چې په ساساني دور کښې د دوي څۀ حېثيت وو. او دا حېثيت د اسلام په اولني دور کښې هم قائم وو.

څۀ ګبري (چې د بابل او السواد (عراق بين النهرين) سره ئې تعلق لرلو) د اسلام په اولنو ورځو کښې ئې اسلام قبول کړے وو. ليکن د طبرستان او سيستان (زابلستان) ګبري حکمران هغه شان په دين زردشت قائم وو. او تر د درېمې صدۍ هجرۍ د مياني پورې لا مسلمانان شوې نۀ وو. د ساسانيانو په دور کښې وروستو مسلمانان شول. ساساني هم د ايراني نسب ګبري (مغ) وو، ليکن

مسلمانان شوي وو. سوادي هم په اوله کښې د عراق (السود) او سېدونکي وو. چې وروستو د هخامنشي او ساسانیانو په دور کښې د سیستان (زابلسان) حکمران شول. او تر صدو صدو په دې علاقو د حکمرانۍ نه پس رتبیل نهم (چې ګبرئي نوم وو. تاریخ افغانستان بعد از اسلام از عبدالحی حبیبي) د یعقوب لیث د لاسه ئې شکست وخوړو او قېد شو. او د زابلستان نه د رتابله حکومت خاتمه اوشوه. د ساسانیانو سره ګبري سواتي د یو هم نسب او یو مذهب منونکي په حېث په اقتدار کښې شامل وو. او د مختلفو علاقو حکمرانان پاتې شوي وو. په دې وجه په جاګیردارانه نظام کښې د مال ګزاري د دوي د سیاسي ژوند یو مستقبل عنصر پاتې شوے دے.

تخت و تاج او حکمراني اګر چې د یو مخصوص خاندانه پورې وو. مګر د قبیلې نور وګړي د کلي، یا د یو علاقې د زمیندار په حېث مرزبان او دهګانان بللې کېدل. دوي په خپل محدود حکمرانۍ کښې دننه خود مختاره وو. او د هر قسمه فېصلې کولو صلاحیت ئې لرلو. د انګرېز د دور تاریخ دانان چې د دهګانانو د اصلي پس منظر نه د لاعلمۍ په سبب دوي د [۲] Peasant (کاشتکار)، کسان، مزارع) په نومونو یاد کړي دي. دا اصطلاح سمه نۀ ده.

په" حدود العالم" کښې په مخ ۹۸ داسې لیک دي.

"Kukyal, Ataligh, Lulgh (Ulgh) are three prosperous and pleasant villages, situated on the slope of mountain(Babarakuh); their princes(dihqan)were Yubghuz's

brothers."

د علاقې خلخ (قارلوق ترک) د ذکر کړې شوي درې کليو سربراه تـه Prince (دهقـان) لـيکلے شـوے دے. او دا درې واړه دهـاقين (شهزادګان) د خلخ بادشان (چې به ورته يَبْغُوْز وئيلے شول) ورونه وو"

په تاريخ سيستان کښې د ربيع بنِ زياد د زرنج په ښار د حملې په سلسله کښې درج دي. چې کله د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ پـه دور حکومت کښې ربيع بنِ زياد چې د ذالق د ښار فتح کولو نه پس د سيستان د ښار (زرنج) لورې تـه مخـه وکړه. د شاه سيستان نوم ايران بنِ رستم بـنِ آزاد خوين بختيار وو. د ښار (زرنـج) نـه بهر مقابله وکړه. پـه جنګ کښې د طرفينو کافي مړي وشول او ډېر مسلمانان په کښې شهيدان شوي وو. ددې نه پس شاه سيستان، ايران بنِ رستم د "مؤبد مؤبدان (قاضي القضاة) او د سيستان د بزرګـانو سره د مشورې کولو نه پس ربيع بـنِ زياد تـه د روغې جوړې پيغام اولېږلو. او دا ئې وليکل چې:

"ما به حرب کردن عاجز نيستيم، چراکه شهر مردان و پهلوانا نست اما با خدائے تعالیٰ حرب نتوان کرد و شما سپاه خدائے د وما اندر کتابها درست بيرون آمدن شما آں محمد رایں دولت دير بباشد صواب صلح باشد تا اين کشتن از هر دو گروه بره خيزد، رسول پيغام بداد، ربيع گفت از خرد چنيں واجب کند که دهقان می گويد وما صلح دوستر از حرب داريم"

" مونږ د جنګ کولو نه عاجزه نهٔ يُو. ځکه چې دا ښار (زرنـج) د تکړه خلقو او پهلوانانو د اوسېدو ځائے دے. ليکن مونږ د خدائے سره جنګ کول نهٔ غواړو. او تاسو (مسلمانان) د خدائے سپايان يئ. او مونږه په خپلو ديني کتابونو کښې دا لوستي دي چې د

حضرت محمد ﷺ راتلـه (ظهـور) بـه کېـږي. او د مسلمانانو حکومت به تر ډېرې مودې پورې وي. بهتري په صلح کښې ده. چې کومې دوه ډلې دي. په دې کښې دي د وينو بهېده ختم شي. پېغام رسوونکي پېغام ورسوو. ربيع ووئيل په دهقانانو (د دې پېغام په نتيجه کښې) دا واجب کېږي (چې صلح دې قبوله کړې شي) او مونږه هم د جنګ کولو په نسبت صلحه زياته غوره ګڼو.

د بره عبارت نه دوه خبرې واضحه کېږي. يوه دا چې د دين زردشت مطابق د حضور ﷺ دنيا ته د راتلو او د دين اسلام د برترۍ بشارت په کښې شوے دے. دويمه اشاره دا وه چې زرنج (سيستان) ئې د دهقان په خطاب سره ياد کړے دے.او هم د صفحې په حاشيه (۵) باندې د دهقان تشريح په لاندينو الفاظو سره شوې ده:.

"دہقان" (دراصل رئيس طبقہ سوم مردم ايران (وآستريوشان) وبزرگ.برزيگراں بودہ. ولی دراسلام بہ.بزرگان ايران دہقان می گفتند واحياناً بادشاہ ومرزبان يک شہر و صفحی راہم بنام دہقان می خواندہ اندہ عرباں.برائے دہقاناں از لحاظ حکمت و عقل ودرايتی کہ درآناں سراغ داشتہ انداحترامانی قائل بودہ اند در حقيقت ايں دہقانان بعد از محو شدن طبقہ سواران کہ صنف عالئ ايرانياں بودہ اند سمت رياست وکلانتری.بر مردمانِ ايران داشتہ اند. واحساسات ملی وحکمۃ و آداب ايرانی بہ وسيلہ آناں درايران پابرجاو محفوظ بودہ است ". (تاريخ سيستان بہ تصحيح ملک الشعراء بہار مخ۸۱ حاشيہ ۵)

ژباړه: دهقان په اصل کښې په مردم ايران کښې د درېمې طبقې رئيسان دي.او د دوي برزيګران بزرګان وو. په اسلامي دور کښې د ايران بزرګانو تـه بـه دهقانـان وئيلے کېدل.او احياناً د يو ښار بادشاه يا مرزبان ته به دهقان وئيلے کېدو. عرب د دوي (دهقانانو)

د عقل ،حکمت او معامله فهمی قائل وو. په اصل کښې دا دهقان طبقه د سوران د ختمېدو نه پس چې (ايران د عظمت او لوړتيا يو علامت وو) د ايران په خلقو ئې حکمراني او برتري لرله. او د ملي يووالي ،حکمت(تنظيم) او ايراني آداب هم ددې دهقانانو په وسيله محفوظ او مستحکم وو.

د بره ذکر کړې شوي عبارت نه د دهقانانو د اصليت او حقيقت په بنهٔ توګه پته لګېدے شي.دوي په جنګ کښې د سورو ببرړه، په امن کښې بادشاهان د ولايت د صوبو او مملکت په حېث د رئيس ده يا د رئيس ښار او د ايراني سياست علمبردار او د تهذيب محافظين وو.

په تاجک سواتيانو کښې د (سلطان) او (دهګان) وجود کوم چې د ايراني ثقافت نمونه ده هم دغه امر د دوي د فارسي الاصل د ثابتولو د پاره کافي ده.

فاتحين عرب د دهقانانو د حکمت او تدبر ډېر قائله وو. ددې يو ژوندے مثال دا دے.چې کله عبدالعزيز بنِ عبدالله بنِ عامر په کريز، بست او کابل يرغل وکړو نو کابل شاه د ترکانو د فوځ سره سره د مسلمانانو هم مقابله وکړه. نزدې وه چې د مسلمانانو فوځ شکست خوړلے وے.ليکن عمر بنِ شان العاري (د البلاذري مطابق فتوح مخ ۱۴۰۵)ابو عفراء عمير المازني حمله وکړله او د مسلمانانو شکست ئې په فتح کښې بدل کړو. عبدالعزيز فتح بياموندہ او سيستان ته واپس شو.يو ورځ رستم بنِ مهر هرمرزد مجوسي د دوي په محفل کښې ناست وو ،چې عبدالعزيز ورته مخاطب شو او ورته ئې ووئيل :

"دہاقین را سحتنان حکمت باشد مارا ازاں چیزے بگو".

رستم ځواب ورکړو:

(نادان مردماں اویست که دوستی بروے افتخال دارد) بے حقیت وپرستش یزدان چشم دیدی میکند ودوستی بازنان بدرشتی جوید ومنفعت خویش بہ ازار مردم جوید".

عبدالعزيز ووئيل چې (نور هم څۀ اووايه! نو رستم وړاندې دا ووئيل:

" آب جوی خوش بود تا بدر یار سد، خاندان بسلامت باشد ہر چند فرزنداں نہ زاید ودوستی میان دو تن بصلاح باشد چند بد گوئی درمیان نشود ودانا ہمیشہ قوی بود. چند ہوا بر وغالب نہ گردد وکار پادشاہی وپادشاہ مستقیم باشد چند وزیران بصلاح باشد"

رستم مجوسي دهقان وو. ليکن د دۀ ددې پرمغزه وېنا نه دا پته او اندازه لګېدې شي چې په ايراني معاشره کښې دهقان د ځومره عقل او پوهې نمونه وه. دا خلق په خپله حکمرانان وو او د حکمرانۍ د طريقې او دستور پوهان وو. په دې پس منظر کښې د دهقان لقب د عزت او تکريم وو. بعضې ليکونکي د دهقان ددې پس منظره د ناپوهتيا په وجه دوي عام کاشتکار ګڼلي دي.

د انګرېزۍ ژبې، تمدن او فکري عمل نتيجه به دا کېده چې مونږ خپل تهذيبي اساس په خپل نظر سره اوتلو. د دغه نوي ناسمه سوچ له کبله د دهقانانو (سلطانانو) اولاد ته ځان په دې بدې ښکاري چې خپل نسبت د "دهقان" سره وتړي. او بيا په غم د پاسه غم دا دے چې د سواتيانو موجوده نسل ته د خپل ملي اساس او د تهذيبي ورثې د بربادېدو د سره احساس نشته. او هم دغه سبب دے چې د موجوده دور تاريخ دانانو د خندا او مسخرو په جوړ د دوي په حقله بې سرو و پښو قيصې مشهورې کړې دي.

اکثر سواتيان د ذوالقرنين د پخواني او ډېرو معتبرو تاريخي رواياتو په پُچ کولو هم لګېدلي دي. او خپل ځان د غلامانو د يو نسل سره په تړلو باندې فخر محسوسوي.

بني اسرائيل پنځه سوه کاله پورې د مصر د فرعونيانو غلامان پاتې شوي وو. ددې نه پس د آشور بادشاه سخيرب شام او فلسطين درې ورې کړو او دوي ئې قبديان کړل. په ۷۰۵ ق م کښې ئې دوي "نينوا" او "ماد" ته بوتله.

او ددې نه پس نبوکد نصر (بخت نصر) په ۵۸۶ ق م کښې لکونه بني اسرائيل قبد کړل. او بابل ته ئې بوتلل. او کله چې په ۵۳۹ ق م کښې کورش کبير (سائرس) د بابل فتح کېدو نه وروستو دوي له ازادي ورکړه نو صرف يو څو زره کسان واپس شول او پاتې بني اسرائيلو د غلامۍ په نسبت د يروشلم ازادۍ له ترجيح ورکړه. د ۷۰۵ ق م نه راغلي، دا بنی اسرائيل د خپلې مدني او ثقافتی ورثې نه جدا کړې شوې وو. او د مقامي خلقو سره د يو والي (رشتو) په وجه د دوي تهذيب، تمدن، ثقافت، ژبه او رسم ورواج په مکمله توګه بدل شوي وو. دوي مذهب موسیٰ عليه السلام پربښے وو. عيسائيت، زردشت، هندومت، بدهمت او په اخر کښې دين اسلام ئې قبول کړو، يو نوے ثقافت ئې خپل کړو. او د يو خاص طرز معاشرت په وجه ئې د دغه ځائے د مقامي خلقو په اشتراک سره يونوے افغاني تمدن اوزېږوو. او د دے (تمدن) په جوړښت کښې په لکونو نۀ بلکې په کروړونو غېر بني اسرائيلي د افغانانو حصه وه. کوم چې د ايران او افغانستان اصلي اوسېدونکې وو ".۲۰

د دېګانو خېلونه

دېګان قبيله هم لکه د نورو قبيلو په مختلفو ذيلي شاخونو کښې تقسيم ده.
دېګان خېل: د دتاخېلو ،دېګان خېل د دتاخېلو کورنۍ د عبدالخېلو سره اوسي . بورا خېل ،محمود خېل، اوتمانزي، درويش خېل، وزير (ل) دغه شان دېګان نور په دې قبيلو کښې تقسيم شوي دي لکه:
دېګان خيل : حاجي خېل، عثمان خېل ،لختي خېل، باقي (بکا) خېل ، ولي خېل، اوتمانزي، درويش خېل ،وزير (ل)
داسې نور هم ذيلي شاخونه لري لکه:
دېګان خېل: مغدود خېل، کسرانزي، عنايت خېل، کمال زي، عثمان، مندڼ.۲۱

د دېګان قوم استوګنې

څنګه چې په دېګان قوم باندې په تېرو صفحاتو کښې په تفصيل سره بحث اوشو. هم دغسې ددې قوم په نامه باندې څۀ کلي يا باندۀ هم موجود دي.
دېګان باندۀ ملاکنډ: دا باندۀ په مشهوره غرئېزه سلسله کوه موره کښې د ملاکنډ په تحصيل تانه بائيزۍ يونين کونسل پلۍ کښې د بازدرې کلي د پاسه ده.
د لرغوني ادوارو نه په کښې ګوجر قوم استوګن دي.دا باندۀ د يوسفزو د راتلو نه پس د خان کورو (پلۍ درې خوانين) په قبضه

کښې راغله.تر ډېرې مودې پورې به ګوجرو دغه خوانينو له قلنګ ورکولو.خو اوس ډېر وخت وشو چې دغه قلنګ يا کم شوے دے او يا د نشت برابر دے.دا ډېره زرخېزه بانډه ده.د دې ځائے د خلقو روزګار،غوا ، مېښې،بيزې او ګډې ساتل دي. د دې بانډې مشرق ته ولوکس، قبلې ته کامبېله ، بوګرې،کاسو او د مورې بانډې کلے دے.قطب ته د سوات ښائسته او زرخېزې بانډې کس، سنډوکه، انار بانډه او چوا پرتې دي. جنوب ته د برې بازدرې مشهور کلے دے. چې د شلمانو کورنۍ په کښې اوس هم موجودې دي.او د خان کورو (يوسفزي خانان) لويه کورنۍ په کښې په ګڼ تعداد اوسېږي.

د ېګان بانډه خادګزۍ دير پائين: دا بانډه يوځانګړے حېثيت لري. په تحصيل چکدره اډينزۍ کښې دا بانډه په يونين کونسل خادګزو کښې ده. د يوسفزو د راتلو نه وړاندې او د زمکو د وېش نه هم ډېر پخوا راسې په دې بانډه کښې ددې ځائے نسلي قبيلې دېګان، سواتي، شموزي او اصيل وغېره قومونه اباد دي. چې تراوسه په کښې ميشته دي. او ددغه ځائې د زمکو خاوندان دي.ډېره زرخېزه او ښائسته بانډه ده.

د يوسفزو د راتلو نه پس ددې بانډې زمکه په وېش کښې د خادګزو د خلقو رسېدلې ده. او ځان يې واکداران ګڼي .چې سمه خبره نۀ ښکاري. دېګان يو نسلي قوم دے. او ځان له يو تاريخي مقام د سوات په تاريخ کښې لري.دا علاقه د کال ۱۹۲۲ ء پورې د سوات د حکمران لاندې وه.

دېګـان بانـډه شـينۍ ضـلع سـوات: "د سـواتي قـوم شـناخت يـوه تـاريخي الميـه" د عنـوان لانـدې ليـک دي چـې: "د شـين (شـينۍ) نمرخاته ته د دېګانو کلے موجود دے (حواله لفظونه ډاټ کام)

په دې بانډه کښې مختلف قومونـه استوګنه کوي چې پـه کښې دېګان، شـلماني، باباخېـل ،سـواتي او ګـوجر شـامل دي. ددې زمکـې واکداران د پخوا نـه دا بـره قومونـه وو. خـو د يوسـفزو د راتګ او قبضې نه پس په دې زمکو موجوده وخت کښې د شـين د خانانو قبضه ده. او ځان ددې بانډې مالکان ګڼي. ۲۲

◈◈◈

نوټس

۱.سېد جلال بابا: د دهٔ خپل نوم سيد عبدالجلال ځوے د سيد ميا قاسم بابا ځوے د سيد ميا مصطفیٰ ځوے د حضرت سيد علي ترمذي المعروف پير بابا دے. د دهٔ دوه ځامن وو. د يو نوم شاه زمان وو. د شاه زمان درې تبرې وې. د اولنۍ تبر نه ئې سيد نظام، سيد عظيم شاه او سيد اکبر شاه وو. د دويمې تبر نه نور شاه(غازي بابا) رحمت شاه او عزت شاه وو. د درېمې تبر نه سيد عرب شاه او سيد ولي شاه وو. د بابا د دويم ځوي سيد ابدال اولاد نهٔ وو.(سيدبهادر شاه ترمذي ،مؤلف "پير بابا سيد علي ترمذي تاريخي وتبليغي کارنامے" مارچ ۲۰۱۷ء، د شجرې مخ ۱۴۵او بالمشافه انټرويو ۳۱ اګست،۲۰۱۸ء)(محقق)

2. **Peasants/Tenants:** "Sam Ranizai, the tract of the country lying south of Malakand on the Peshawar border, was upto 60 years ago the property of the Ranizai. The leading villages then combined, and by a successful revolution threw off the Ranizai connection. They are inhabited by a mixed population of Utman Khels, Khattaks, Shilmanis, Swatis and other tribes-all originally tenants of the Ranizai".
(i.WHO's WHO(CONFIDENTIAL) in the Dir,Swat and Chitral Agency,Corrected upto 1st September 1933, Government of India Press, New Delhi,1933.p.2,(ii)WHO's WHO Corrected upto 1st June1937.p.v,(iii)WHO's WHO Corrected upto 1st July1950.p.vi)

ددې ثبوت يو دا دے چې بعضې انګرېز ليکوالو شلمانو ،اتمانخېلو. خټکو او سواتو ته د لفظ Tenants اصطلاح هم استعمال کړې ده. خو بې جائېداده نور قومونه چې په يوسفزو کښې هم دي Tenants دي. ځکه دغه کورنۍ د يوسفزو زمکې په اجارو خوري. او جائېدادونه نهٔ لري.اګر چې د وخت ښېړو وهلي دي، زوررورو ترې جائېدادونه قبضه کړي دي.چې تر نن ورځې پورې دا کار جاري دے.(محقق)

حوالې

۱.مسند امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه مخ ۴۴۱ جلد ۵، البدايه والنهايه ،مخ ۳۸۰ جلد ۲
۲. المنجد (عربی اردو لُغت)دار الاشاعت اردو بازار کراچي، ۱۹۷۵ ،مخ ۳۴۱
۳.مرتضیٰ زبيدي، تاج العروس عربی لُغت من الجواهر القاموس، مخ ۳۵/۸۴
-ابو الفضل مولانا عبد الحفيظ بلياوي،مصباح اللغات (عربی لُغت)
-الميزان اردو بازار لاهور ،۲۰۰۴ء، مخ ۲۵۳
-فيروز اللغات اردو جامع، مخ ۴۵۹
۴. فيروز ابادي، محمد بنِ يعقوب،القاموس المحيط، مخ ۱۵۴۲،س ن
۵. ـخان روشن، خان ،تذکره" پٹھانوں کی اصلیت اور ان کی تاریخ" ،طبع ششم نومبر ۱۹۹۲ء ،مخونه۱۸۲- ۱۸۷
-سيماب، نرګس (ژباړه) تذکره "د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ"، ۲۰۱۱ء ،مخونه ۲۲۰ – ۲۲۱
۶.ګنداپور، شبر محمد خان ابراهيم زئ،"تواريخ خورشيد جهان"، ۱۸۹۴ء ،مخ۳۱۶
-علوي، سراج احمد ،"تاريخ پشتون" (ترجمه اردو) ، تواريخ خورشيد جهان، ۱۹۹۱ء مخونه۲۰۹او ۲۸۴
۷. محمد حيات خان، خان صاحب بهادر" تواريخ حيات افغانی"، ۱۸۶۷ء،مخونه۱۹۳ او ۴۲۷-۴۲۸
8. A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE Punjab and North-West Frontier Province.Based on the Census Report for the Punjab, 1888, by the late Sir DENZIL

IBBETSON, K.C.S.I.,
and the Census report for the Punjab, 1892, by the Hon. Mr. E.D. MacLAGAN,C.S.I.,
and compiled by H.A.ROSE.
Vol.II. A.-K.
Lahore: PRINTED AT THE "CIVIL AND MILITARY GAZETTE"PRESS BY SAMUEL.T.WESTON.1911.p. 233

- JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL, EDITED BY:THE SECRETARIES:
VOL. XXXIII. Nos.I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.1864 CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS. 1865. p. 148

9. Bibliotheca Persica Edited by Ehsan Yar-shatter
THE HISTORY OF al-Tabari (Ta'rikh al-rusul wa'l muluk) Volume xxiv The Empire in Transition, Translated and annotated by: David Stephan Powers Cornell University, State University of New York Press, Albany 1989.pp. 44-45

.احمد بن يحيیٰ بن جابر الشهير بالبلا ذری، فتوح البلدان (المتوفی ۲۷۹ه) ترجمه: سيد احمد مودودي ،تخليقات: علی پلازه ،۳ مزنگ روډ لاهور ، ۲۰۱۰ء مخ ۳۵۱

۱۰. شيخ شرف الدين مصلح سعدي شيرازي رحمةالله عليه از مولانا قاضي سجاد حسين صدر مدرّس عاليه فتح پوري دهلي ،گلستان مترجم،مكتبه رحمانيه اقراء سنټر ،غزني سټرېټ اردو بازار لاهور، ۱۴جنوري ، ۱۹۲۰ ، مخ ۶۰ باب ۱،مخ ۱۳۹ باب ۳

-افريدي، مولانا مفتي مُنير خان، "جمالستان پښتو شرح وگلستان سعدي رحمةالله عليه"، جديد مکتبه رشيديه، محله جنګي پېښور، دويم ځل چاپ ۲۰۱۲ء، مخ ۲۸۷

11.Bellew, Henry Walter, "The Races of Afghanistan: being a brief of the principal nations inhabiting the country,

(1880)" (2008) p.111

۱۲. محمد اختر، پروفیسر، (ايډيشنل سيكرټري)، "تاجک سواتی و مملکتِ گبر
تاریخ کے ائینہ میں"، ۲۰۰۲ء، مخ ۳۱۰.
۱۳. اثر، عبدالحليم افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد
اول، اشاعت سوم، فروري ۲۰۰۴ء، مخ۴۸۸
- بريكوټي، شبير افضل خان "مولانا اخون درويزه"، ۲۰۱۰ء، مخونه
۲۳۱ - ۲۳۲

14. A DICTIONARY OF THE PATHAN TRIBES ON THE NORTH- WEST FRONTIER OF INDIA, 1899. p. 56
_____, 1910. p.13
15._______, 1899. pp. 210-211
_____, 1910. p.45
- Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN"(1888),2001.pp.278-283.

- سوهدروی، کامران اعظم، "پٹھان قبائل"، ۲۰۱۵ء، مخونه ۴۰۲-۴۰۷
- سحاب، خان، تاريخ هزاره، مکتبه جمال لاهور، ۲۰۱۴ء، مخ ۷۸
۱۶. بانډه وال، حسن ګل، "(قاموس) پښتني قبيلې او خېلونه" پنځمه
كلنه څېړنه، اكتوبر ۲۰۰۱ع، خپرونكي، مخ۲۰۷

17. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN"(1888),2001.p.107.
18.D.N.MACKENZIE Professor of Iranian Studies at the University of Gottingen"A CONCISE PAHLAVI DICTIONARY" LONDON, OXFORD UNIVERSITY PRESS NEW YORK TORONTO, First published,1971,Reprented(with correction)1986.p 108
۱۹. انعام الرحيم، ډاكټر، ايلن ويارو، ترجمه فضل معبود، "سوات ساجی

جغرافیہ قبائلیت اور جدیدیت کے درمیان" . اګست ۲۰۰۵ ،مخونه ۹۷- ۹۸
-اخون خېل،حېدر علي." بونیر خدوخیل تاریخی ،تحقیقی او ثقافتی جائزہ" . ۲۰۰۸ء مخونه ۱۱۴ او ۱۳۵
۲۰. محمد اختر، پروفېسر .(ايډيشنل سيکرټري) ." تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں". اشاعت ۲۰۰۲ء، مخ۳۰۲- ۳۱۸
-يوسفزے ،محمد جميل [شموزئ سوات] "پشتونوں کی جڑیں" . ايډيشن اول، اکتوبر ۲۰۱۲ء ،مخونه ۲۲ - ۷۳
-محوله بالا ، دويم ايډيشن جنوری ۲۰۱۸ء ، مخونه ۸۲ – ۹۵
- افضل خان بنِ اشرف خان بنِ خوشحال خان " تاريخ مرصع"، مئ ۲۰۰۴ء باب دويم: ، مخ ۱۱۸
- روند مياخېل،محمد عمر .پوهنوال "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې" . ۱۳۸۳ لمريز ،مخ۴۳۲
- محمد حيات خان. خان صاحب بهادر"تواريخ حيات افغانی"، ۱۸۶۷ء ، مخونه ۶۸ او ۴۶۷
-ظفر کاکا خېل، بهادرشاه ، سيد ، "پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې" نهم خل ۲۰۱۲ء ،مخونه۱۰۳۹- ۱۰۴۳
- خان،محمد اصف،"تاريخ رياست سوات" سوانح حيات جناب ميا ګل ګل شهزاده،فېروز سنز پېښور [۱۹۵۸ء اشاعت اول] ،مخ ۲۷
- محوله بالا ،اشاعت پنځم، ۲۰۱۲ء، مخ ۵۰
-سواتي،سرن زېب خان،"تاريخ رياستِ سوات ، ۱۹۸۴ء ،مخ ۵۹- ۶۰
- مومند ،م ج،سيال"د پښتنو قبيلو شجرې" فروري ۲۰۱۵ء، مخ ۸۲
- شاهد ، سلېمان "ګمنام رياست"حصه اول مطبع اويس لاهور اشاعت ششم ،۵ جنوری، ۲۰۱۵ ،مخ۱۰۳
-اثر، قاضي عبدالحليم ،باجوړ ،تعليق و تصحيح: محمد بلال ياسر.

باجوړ پښتو ادبي کاروان، القلم پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۲،
مخ ۲۸
-اکبر ایس احمد، ډاکټر، "میلینیم او کرزما د سوات په پښتنو کښې"،
ترجمه سید تقویم الحق کاکاخېل، حبیب الرحمان (قلندر مومند)،
پبلشر ډائریکټر پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۷۸ء، مخ ۴۹
-معظم شاه، پیر، " *تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاریخ* " ترتیب و حواشي
خان روشن خان خان، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخونه ۸۴، ۹۲، ۱۰۲،
۱۰۴، ۱۰۵، ۱۲۱، ۱۳۳
- معظم شاه، پیر، تواریخ حافظ رحمت خاني، جدون پریس پېښور،
پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي دویم ځل چاپ ۱۹۸۷ء، مخونه
۳۱، ۴۲، ۴۷، ۵۰، ۵۱، ۶۲، ۷۸
-یوسفزی، جمیل، " مملکتِ یوسفزئ کے قبائل"، ۲۰۱۲، مخونه
۳۲-۳۴
-وکیل حکیمزے، "د بر سوات تاریخ نسلي، سیاسي او سماجي
جوړښت"، دسمبر ۲۰۰۷ء، مخ ۱۷۸
-صافي، عبدالحنان "صافي قام"، سلېمان کامل مرکه پبلي کیشنز
مردان، ۲۰۱۴ء، مخ ۲۱۵
-Raverty, Major H.G. “NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN”pp.36, 107,123,175,176,202,240,278.

- JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL, EDITED BY:THE SECRETARIES.VOL. XXXIII. Nos.I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.1864 CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS 1865.pp. 148 & 268
-Karoe,Olaf,Sir,THE PATHANS(550 B.C.A.D.1957)Oxford University Press Karachi,1999. pp.175-183
- کېرو، اولف، سر، کریمي الحاج شبر محمد (ژباړن) "پښتانهٔ (پټهانز)"

،دانش خپرندويه ټولنه پېښور. ۱۳۸۴ ل/ ۲۰۰۴م. مخونه ۲۲۸-۲۸۰

_____، (اردو ترجمه) سيد محبوب علی، "پټهان"، پبلشر: ډائريکټر پښتو اکېډمي آف پېښور، بار سوم ۲۰۰۰ء ،مخونه ۲۴۷ - ۲۵۸

- باچا، شبر علي، "کسان دفتر". عامر پرنټرز پېښور، جنوري ۲۰۱۷ء، مخ ۱۲۱

- صاحب بهادر، اے جی هستنګز، کپتان"تاريخ پشاور". ۱۸۲۹ء تا ۱۸۷۴ء، مخونه ۵۴۲- ۵۸۸

-Akhundzada, Arif Hassan, "THE LOST TAJIK OF PAKISTAN" The Friday Times, 04 August,2017.pp.2-4

_____, "THE KINGDOM OF SWAT AND THE LOST TAJIKS OF NORTH PAKISTAN" Biannual Research Journal "Pashto" Volume 46 No: 654, Pashto Academy University Of Peshawar, July-December,2017.pp.31-32,34.

۲۱.باندهٔ وال، حسن ګل ، "(قاموس) پښتني قبيلې او خېلونه"، پنځمه کلنه څېړنه ، اکتوبر ۲۰۰۱ ع ،مخ ۲۰۷

۲۲.د محقق ذاتي سروې او معلومات، ۲۰۱۸ء

-Said Badshah Bukhari,Syed, Ali Haider Laeeq,Muhammad Tahir, "*Land Cover Atlas of Pakistan, Pakistan*" Forest Institute, Peshawar, Land Cover Map of Malakand Protected Area ,Februray,2002.p.55

پنځم باب

آياشلماني سړبني پښتانۀ دي؟

د پښتنو قبيلو په حقله چې کومو ليکوالو او څېړنکارو څېړنې کړي دي، په دې کښې د څۀ ليکوالو رائې دا ده چې د قېس عبدالرشيد د ځوي سړبن نه شلماني دي. او دا ګڼلې شي چې شلماني سړبني پښتانۀ دي. په دې باب کښې په دې بحث شوے دے .چې آيا سړبن سره د شلمانوڅۀ تعلق دے؟

د دوي په حقله نوره څېړنه پکارده.چې وشي.دلته د هغه ليکوالو ليکونه وړاندې کولې شي کومه چې موضوع ده.

شلماني چې څوک سړبني پښتانۀ ګڼي په تاريخي توګۀ به د دې خبرې سره څوک اتفاق ولري؟او کنه؟

پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير د سړبن په حقله داسې وائي چې:

"سړبن د پښتو د لفظ "څړبند"نه وتے دے.د څړبند مطلب دے "چراګاه"د څر يا څرولو ځائے. چونکه پښتانۀ د چراګاهونو او د کرکروندې د زمکو خاوندان وو. په دې وجه دوي ته "څړبندي" وئيلے کېدل.چې بيا ترې سړبني جوړ شول."١

محقق ډاکټر عبداللطيف ياد طالبي د "شلماني" د عنوان لاندې داسې ليکي چې:

"شلماني د افغانانو په پخوانو تاريخونو کښې دېګان بللې شوي.خو دا روايت صحيح نۀ دے.شلماني په پښتنې شجرو

کښې سړښي پښتانۀ دي."٢

ياد طالبي صيب بيا وائي چې:

"زمونږ پښتانۀ پوهان او نسب پېژندونكي شلماني له اړه سړښي پښتانۀ ګڼي چې د مومندو په تېرې قبيلې ورګډ بړي. دوي د پښتونخوا د خيبر ايجنسۍ په دره کښې د تاترې په خواوشا کښې استوګنه لري"

د شلمان كلمه د سلم، سريمان او سلېمان سره ډېره ورته ښكاري چې د پښتنو د يوې لرغونې سيمې (روه) نوم دے. او تاريخ حيات افغاني د روايت نه هم د شلمان او سُلېمان١ اړيكه ښكاري٣

په" افغان ادبي بهير" كښې د شلمانو د سړښو سره د تړون په حقله داسې ليک دي چې:

"مونږ په تاريخ كښې ډېرې بېلګې لرو. چې كله يوه سيمه د يو قوم يا خېل او يا د يو ټبر په نوم ياده شوې ده .او كله بيا يوه كورنۍ او يا يو قوم د سيمې په بل نوم نومولے شو ے دے.

دا خبره د څېړنې وړ ده چې آيا "شلماني" په وړومبي سر كښې د سړښو پښتنو يوه څانګه وه. او كه دغه سيمه د لرغوني تاريخ په رڼا كښې په دغه نوم يادېده.

"شلمان" په نوم د اسيريا (اوسني عراق او سوريه) يو لرغونے باچا هم تېر شوے دے- چې د بني اسرائيلو له يو باچا "هوشي" سره ئې جګړې كړې وې .او په انجيل كښې ئې يادؤنه شوې ده (بائبل انسايكلوپېډيا). د انجيل او د شلمان باچا او د پښتنو د

شلمان د سيمې تر مېنځ ممکنه اړيکه د څېړلو ښۀ موضوع ده.

له زابل، غزني، باميان، کابل، باګرام، کاپيسا نه راواخله تر ټېکسلا پورې دغه سيمه د ګندهارا په نامه يادېده ... ولې له زيږد نه سوونه کاله پخوا د افغانستان په لرغوني تاريخ کښې زابلستان او کابلستان هم د يونانيانو تر مهاله پورې ډېر مشهور وو.

له غزني نه تر بنو هم هغسې د ننګرهاره تر اټکه او د اباسين د دوآړو غاړو نه را واخله تر حسن ابداله پورې دغه سيمه په يو او يا په بل نوم ياده شوې ده.

په بريتانيکا او اسلامي دائره المعارف کښې راغلي هغه شمېر کډوال افغانان چې هند ته تلي ،د روهيله (روهيل کنډ) په نوم ياد شوي دي.

اروابناد غبار د پښتنو سيمه د "روه" په نوم هم ياده کړې ده. د "روه" کلمه په اوستا کښې د "اوروه" (urva) په نوم کښل شوې او د مېنځنۍ اسيا د ۱۲ سيمو په لړ کښې يوه د "روه" سيمه هم راغلې ده.

چې دوست شنواري "روه" بيا د "سيريمه" (سلېمان) کلمې مترادفه ګڼلې. دا رنګ که "پانيني" د سنسکرت ژبې ګرامر پوه (۳۵۰ ق م) په اووه وېناوؤ کښې د روهيتا ګيري کلمه راغلې ده. ډارمستېټر د روه څلور خوا وې داسې راپېژني:

"د پښتنو هېواد درې سيمې لري. يوه برخه ئې برطانوي هند پورې تړلې شوې، بله برخه ئې د ازادو قبائلو په نوم (ازاد سرحد) او دريمه برخه ئې په ټول افغانستان پورې اړه لري .چې د درې

پېړو په موده کښې (۳۰۰ کاله) د روه (غرهٔ) په نوم ياده شوې ده. ددې برخې (روه) شمال ته سوات او باجوړ، سوېل ته ئې سبي او بکهر (سندهـ)، ختيز لور ته ئې حسن ابدال او لوېديز پلو ته ئې کابل تر قندهاره پورې". (د ډارمستېټر پښتو څېړنې ...د پښتو ټولنې چاپ ۱۳۲۲ کال)

د روه په سيمه کښې يوه مشهوره سيمه شلمان ده. او دا يوه غرئيزه سيمه ده. کله چې يوسفزي "تاترې" او "شلمان" ته راورسېدل نو بيا ئې له دلازاکو سره روغه وکړه ... له دې يادونې نه داسې برېښي چې شلمان يوه جغرافيائي سيمه وي. نهٔ يو خېل او نهٔ د پښتنو کومه څانګه؟

يو بل دليل دا دے چې يوسفزي ددې سيمو اوسېدونکو سره يو وار نهٔ په څو څو واره جنګېدلي دي. چې خليل او دلازاك د ببلګې په توګه يادولے شو. ولې يوسفزو په اشنغر کښې له شلمانو سره يوه سخته جګړه کړې ده. چې په پائې کښې ئې د شلمانو مشر "جلو" ووژلے شو. دلته داسې معلومېږي چې دا د يو ټبر نوم دے.او يا ذا هغه وګړي چې له شلمان نه راغلے وي!؟ کله چې شلمانيانو ماتې ؤخوړه نو د سوات سلطان (اويس) دوي سوات ته ؤبلل او هلته ئې دېره کړل. کله چې د ملك احمد او د سوات د واکمنې کورنۍ تر مېنځ خبښې ؤشوه نو بيا شلمانيان ورو ورو تر سخاکوټه پورې خوارهٔ شول. دا چې دوې دهګانان بللې شوي، يوه خبره ئې دا ده .چې د سوات واکمنې کورنۍ چې پښتانهٔ نهٔ وو. هغوي دوي ته پناه ورکړه ولې چې دوي سرېښي پښتانهٔ وو .چې له خپلو نورو تربورانو سره يو ځائے له ترنك او

غزني نه دلته راغلي وو؟ د "اوستا" په نوم يو کتاب کښې د دوي يادؤنه شوې ده.

ښائي چې د دهګان تور له دغه ځايه په دوي لګېدلے وي... په دې کتاب کښې لولو: "... د پاړسو کلمه د وړومبي ځل له پاره په بلېك او بلېسك (Black Obelisk) آشوري واکمن، شلمان زرسوم (Assyrian Shalmaneser) پـه فـوځي دفتـر کښـې لـه (۸۴۳) مخزيږدي کال نه دغه کلمه کښل شوې ده .... "(اوستا اکاډميسن جاوېد لمن ليك مخ ۱۲) دا چې ددې ربښه دومره پخوانۍ ده خو ښائي هغه د دوست شنواري خبره چې په خپل کتاب کښې په روايتي بڼه کښلي چې ګني فرېدون درې ځامن لرل. چې سرم (سلم، سريمان او سلېمان) تور او ايرج نومېدل (پښتانۀ څوك دي؟ دوست شنواري ۷- ۸ مخونه)

خو ځنې څېړونکي د ياد شوي نوم سره "شلمان" ګډوي او بيا ئې د "روه" برخه بولي؟ دا چې د ژبپوهنې له مخې دا خبره څومره سمه ده .په دې اړه بشپړې څېړنې ته اړتيا لري. ولې دا خبره ښکاره ده .چې شلمانيان له نورو ترېورانو سره چې په يادو شوو سيمو کښې مېشته وو، يو ځائے راغلي دي. چې مومند (ځکه خو ئې د مومندو يوه څانګه ګڼي) د ببلګې په توګه يادوو. هم دا رنګه داؤدزي، خليل، خمکني، ملاګوري، اتمانزي، يوسفزي، ګګيانې، مندړ، خاښې خېل، ترکاڼې، خوېشکي، شينواري، سالارزي، او نور هم د يادولو وړ دي.[۴]

دلته لږ وضاحت ضروري دے چې ايا مومند دې سيمې ته کله راغلي دي؟او شلماني د کله نه دلته استوګن وو.

شمس مومند په خپل كتاب مهمند قبائل كښې "د مومندو موجوده علاقه جات ته راتګ"د عنوان لاندې د شبر محمد خان په حواله د هغه د كتاب "FATA د مخ ۸۳ په حواله داسې ليكي چې:

"مومند په نسبت د نورو پښتنو ګاونډيانو افغاني دي.دوي په كال ۱۴۰۰ عيسوی كښې د شمالي افغانستان نه راغلي دي او د دريائے كابل په شمال كښې ئې استوګنه اختيار كړې ده. د څه وخت نه پس دوي د باجوړو نه كمالی او مېتهې واديانې او د شينوارو نه ئې د شلمان علاقه قبضه كړه". ۵

اوس كه دلته وكتلې شي نو شلماني د سوات د سلطانانو يعنې تاجكو (د ګبري سلطنت) نه هم وړاندې راغلي دي.چې تاريخ ئې ډېر زوړ دے.شلماني په ټوله پښتون خوا كښې ميشته دي او خپل يو ځانګړے تاريخ لري.لكه چې وړاندې هم واضحه كړې شوې ده.

◈◈◈

نوټس

۱. په اصل کښې د کوه سلېمان زوړ نوم شلمان وو. پروفېسر سخاؤ دالبیروني مترجم د سلېمان په ځائے شلېمان درج دے. کومې غرئېزې سلسلې ته چې افغانان (افغان قبائل) سلېمان او کوه سلېمان وائي. دا د افغانانو په بنیادي تاریخ کښې شلېمان وو. په پښتو ژبه کښې د سین او شین تبادله روانه خبره ده. بلکه دا لفظ شمېلان هم راغلے دے. (استعمال شوے دے.) شمېلان، شلېمان که چرې واقعتًا اصلي الفاظ وي. نو بیا دا خبره چې شلمان ددې الفاظولړې نۀ دے. او دا لفظ د سلېمان سره سمون خوري.

اخون درویزه بابا د ټولو نه وړاندې دکوه سلېمان او سلېماني ذکر کړے دے. په هندوستان کښې نعمت الله هروي هم کوه سلېمان د افغانانو وړومبے مسکن ګرځولے دے. ابن بطوطه د دۀ نه وړاندې په ۱۳۴۰ء خواوشا کښې د افغانانو لیده کاته په وادي کرم کښې کړي وو. او په دې وجه دۀ وادي کرم ته کرمان [کړمان] وئیلے دے. کومو نومونو ته چې مونږه شلمان او کرمان وایُو. دا په اصل کښې د شلمان غر او یا شلمان وادي کرم وو.

د کرمان په نوم نور هم مقامات شته دے . د مثال په توګه په ایران کښې دشت کرمان، قندهار سره نزدې کوه کرمان کوم ځائے کښې چې احمد شاه ابدالي د خېل ژوند په وروستو ورځو کښې اوسېدو.

وادي کرمان (کرم) چې د کوهاټ نه د مغرب په لور پروت دے. د هنګو نه وړاندې ټل، سده او پاړه چنار ددې وادۍ اهم ځایونه دي.

د غه لاره محمود غزنوي، ابنِ بطوطه او تیمور لنګ هندستان ته د راتګ د پاره استعمال کړې وه". (جمیل یوسفزی ، "مملکتِ یوسفزئ کے قبائل"، ۲۰۱۲ء ، مخونه ۲۰- ۲۱)

حوالې

۱. یوسفزے ،محمد جمیل [شموزئ سوات] "پشتونوں کی جڑیں" ، ایډیشن اول ،اکتوبر ۲۰۱۲ء ،مخ۲۳

.محوله بالا ، دویم ایډیشن جنوری ۲۰۱۸ء ،مخ۳۳

۲. یاد طالبي،عبداللطیف،ډاکټر"پښتني قبیلې"،۱۳۸۸ ل/ ۲۰۱۰ز، مخ ۱۸۰

۳. ______ ، "پښتانهٔ قبیلې وپېژنئ"، ۱۳۷۰هـ ،مخونه ۲۲۸ – ۲۲۹

Courtesy:

-benawa.com

-www.khyber.com

په شکریه:

۴. د لیکنې سرچینه: Afghan adabi baheer

د دې لیکنې انټرنټي پته : http://www baheer.com

۵.مومند ،شمس،"مهمند قبائل(کل اور آج)"،حرم پرنټرز پېښور،بارِ سوم، جنوري ۲۰۱۶ء، مخونه ۴۶ – ۴۷

◇◇◇

شپږم باب

دره خېبر ته د افريدو نه علاوه
د نورو قومونو راتګ

حاجي خيال افريدي "تاريخ پختون الافغان"نومې کتاب ليکلے دے. په دے کښې دهٔ د نورو قبائلو نه علاوه د دشلمانو هم ذکر کړے دے.چې خېبر ته دوي څنګه راغلي دي.او کله راغلي دي؟

د دغه کتاب په عنوان "نقشه براۓ افريدی ۸ قوموں کی تقسيم اور علاقه" کښې د دې قوم په حقله داسې ليکي:

"قوم شلماني په کم شلمان،شين پوخ غر او د دريائے کابل په غاړو اباد دي.دوي د افريدو قبيلو اکاخېلو،امل خېلو، ميريخېلو او کمري خېلو په دعوت په کال ۱۸۱۰ ء کښې دلته اباد شوي وو.دوي د ګېګن قوم نه دي.او شلماني ورته څکه وائي چې په هر فصل کښې به شل منه غله دوي له افريدو ورکوله [يا دوي افرېدو له ورکوله]" . ۱

دلته د حاجي خيال صبب يوه قيصه چې په مخ ۵۶۰ ذکر ده . دا واقعه په ۱۸۳۴ء کښې شوې ده، داسې بيان کړې ده:

" په دې جنګ کښې رنجيت سنګهـ ۴۴۰ افريدي د جرګې ممبران شهيدان کړل.ددې جرګې مشري ملک ايمل خان افريدي کوله. چې دې په کښې هم ووژلے شو.دغه ځائې په امل چبوتره مشهور دے.او دے ځائے ته "سپينه تانه".وئيلې شي.۲

ابن بطوطه ددې نه وړاندې په ۱۳۴۰ ء خواوشا کښې په دې علاقه کښې د افغانانو د قبیلو سره ملاؤ شوے دے.ددې نه علاوه اخوند درویزه بابا هم د ټولو نه وړاندې د کوه سلېمان او سلېماني ذکر کړے دے.۳

افضل خان خټک د جنګ خېبر حال په تاریخ مرصع کښې داسې بیان کړے دے چې:

جنګ خېبر په ۱۰۸۳ هـ (سنه زر درې اتیا) کښې شوے دے. د دې جنګ دوه لوئے کردارونه ایمل خان مومند او دریا خان افریدے وو.۴

خوشحال خان خټک د جنګ خېبر په حقله اشعار وئیلې دي.او د دې جنګ ټوله خاکه ئې په کښې بیان کړې ده.دلته څه شعرونه وړاندې کولې شي. چې دا دي:

چې دانا تر نادان لاوژني بتر
مګر نهٔ دے دا ژوندون څهٔ معتبر

چې مې فهم فکر وکړو باور وکړه
په دا باغ کښې ګل و خار دے برابر

چې د کومو غرونو راغے چرته درومي
اباسیند لاپه دا هېڅ نهٔ دے خبر

د شلمان غرونه په دا کله خبر دي
چې زرګونه په شلمان کښې شول ډېر

نـهٔ اسـمان ځينـې خبـر دے نـهٔ دا زمکـه
چــې عــالم شــو پــه طوفــان زېــر وزبــر

پـه يـوه زمـان کښـې څـهٔ قـدرت ښـکاره کـا
چـــې قـــادر دے توانـــا الله اکبـــر

مکافـات د کـوم ګنـاه د کـوم شـامت دے
چـې ډبـر د ميـر جملـه ۱شـو درسـت تبـر

۱ .ميرجمله د محمد امين خان صوبېدار کابل پلار وو.
بيا د جنګ تاريخ پـه شعرونو کښې څهٔ دا رنګه بيانوي.او وائي چې:

کـال د غفـج وو پـه خيبر کښـې هـورِ
مُغــل بنــد شــوے هــم کُنــډِ بــورِ

مهمنــد شــنواري څــو افريــدي وو
واړه وهلـــــے د يـــــادو تـــــورِ ۵

ډاکټر عبداللطيف ياد طالبي په خپل کتاب"پښتانهٔ قبيلې وپېژنئ"کښې د شلمانيو په حقله داسې رقم طراز دے:
"شلمانيو په تاريخ کښې ډېرې تورې وهلې دي.دوي د مغلو او انګرېزانو په وړاندې په مړانه جنګېدلي دي.او خپل پښتني رسالت ئې سرته رسولي دي.شلمانيانو د مغلو په خلاف د

اپمل خان مومند او دريا خان افريدي د مبارزو ټينګه ننګه کړې ده."٦

زما مقصد دا دے چې خوشحال خټک د شلمان په زمکه کښې مهمند ،شينواري او افريدي ياد کړي دي.او خيال صېب ټوله خبره افريدي قوم ته راکاږي.او ليکي چې:

په ۱۸۰۲ ء کښې شينواري ددې ځائے اوسېدونکي جوړ شوي دي.دا خبره سمه نۀ ده.او نۀ ئې څۀ تاريخي ثبوتونه شته.چې په کوم تاريخي کتاب کښې دي.

ددې نه علاوه خيال صېب شلمان يا شلماني د مومندو نه حسابوي.شلماني او شلمان خبره په تېرو بابونو کښې په تفصيل سره شوې ده.بله خبره دا ده چې اپمل خان مومند چې خوشحال خټک ئې ذکر کړے دے.چې مومند دے.او حاجي خيال صېب دے افريدے ښودلې دے.نو يا خو خيال صاحب د مومند په ځائے افريدے ليکلے دے او يا دا بل اپمل خان افريدے دے.چې تاريخ ئې لنډ دے. اود خوشحال بابا اپمل خان مومند خو د خيبر د جنګ هاغه دے.

پاتې شوه خبره د فصل چې شلمانو به په هر فصل کښې شل منه داني يا خراج ورکولو او يا اخستو نو په دې وجه دوي ته شلماني وئيلے شي.يا "شلمانه" او يا قوم "شلمان"!

حاجي خيال مخکښې داسې وائي خو اردو ئې د قواعدو ضوابطو نه بهر ده.مونږه ئې ترجمه داسې کړې ده:

"نو دغه رنګې د کال ۱۸۰۲ ء نه پس شينواري قام په لنډي کوتل ميشته شو.په کال ۱۸۰۹ ء کښې د شلمانو يعني د مومندو

سره د کابل درياب په غاړه جګړه وشوه.شلماني قام چې په جلال اباد کښې دغه وخت اباد وو.اېمل خېل قبيلې د شلمانو ليکه د يرغمال په طور ورکړه.او دا پرېکړه وشوه چې د کال به شل منه دانې اېمل خېل قبيلې له ورکوي.په کال ۱۸۱۵ء کښې شلماني قام خراج ورکول بند کړل.او د شلمان قام په نوم باندې ئې استوګنه شروع کړه.يعنې د فصل شل منه افغاني کوم چې د پاکستان د دوو منو برابر دي.په پښتو ژبه کښې ورته شل منه وئيلې شي.وروستو په دغه نسبت باندې دغه قام شلماني وبللې شول".٧.

ډېره د افسوس خبره ده که چرې حاجي خيال لړ تاريخي کتابونه لوستلے وې .په کومو کښې چې د شلمان د علاقې او د شلمانو ذکر دے که هغه مسلمانانو ليکوالو او که مستشرقينو کړے دے.پکار وه چې حوالې ئې موجودې وې.که په شلمان کښې د شلمانو نه شلمانه جوړېږي نو پکار ده چې په قندهار،ايران ،لبنان،ليبيا ،شام او سعودي عرب کښې ورته هم "شل مانه" يا "شلمانه" نوم وئيلے شوے يا په تاريخي کتابونو او لرغوني ادوارو کښې ورته هم دا نوم استعمال شوے را روان وې.

شلماني د شلمان د سيمې په وجه شلماني دي؟ او که د شلمانو دلته د راتلو په وجه ددې ځائے نومونه کم شلمان او لوئے شلمان شوي دي؟.دلته ډېر ليکوال په دې خبره سوچ يا څېړنه نۀ کوي. خو بس ګام ترې اړوي. کوم شلماني چې د دې شلمان چې په پاکستان کښې دے ايا د دې ځائے نه تلي دي؟. او که نۀ ددې ځائے دا شلماني د هاغه شلمان نه راغلي دي؟.کوم چې په لرغوني

تاريخ او شواهدو کښې موجود دي، د هاغه شواهدو نه دا نتيجه راوځي چې د شلمان سيمه د شلمانو په وجه شلمان بللې شوې ده، نۀ چې شلمانيان د شلمان د سيمې په نسبت شلمانيان دي.

ډاکټر علي افريدي په خپل کتاب "پښتو ادب تـه د خيبر بخښنې" په مخ ۵۳ هم داسې ليکلي دي چې:

"شينوارو به دوي ته د څه معاهدې لاندې شل منه غله ورکوله.او د دې شلو منو په مناسبت ورته شلماني ووئيلې شو".

دا دواړه ليکوال د يو بل د خبرو رد کوي.او څۀ ځائے نۀ نيسي او نۀ د دوي دا دعوىٰ څۀ دمستندو حوالو نه را روانه ده!

د بعضې ځايونو او کليو د نومونو سره هم دغه رنګ ټوقې کولې شي. چې دغه خبرې اکثريت د ګپ شپ د حده پورې وي.خوليکوالو له چې څۀ په لاس ورشي نو هغه ئې بغير د څۀ لټون نه د کاغذ پاڼو ته وسپاري.او دغه رنګه مضحکه خېز شئيانو له د تاريخ نوم ورکړے شي.دغه رنګ يو مثال د سوات په سيمه د ابوهې کلي د وجه تسميه په توګه بيانېږي.چې دوه پنجابيان پلار او ځوے د ابوهې کلي په خوا کښې روان وو. بچي پلار ته غږ وکړو چې " ابو" او هغه ورته ووئيل چې "ها □"او دغه رنګ د دې ځائے نوم "ابوها" شو.دا قسمه ملنډې بې شمېره دي.

◈◈◈

حوالې

۱. افریدی، حاجی خیال "تاریخ پختون الافغان" "۱۹۹۸ء، صفحات ۴۴۹ و۴۵۰

۲. محولہ بالا، صفحہ ۵۶۰

- افریدي، علي، ډاکټر، "پښتو ادب ته د خیبر بخښنې"، خورونکې ډائریکټر پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي. ۲۰۱۷ء، مخونه ۵۳-۵۴

۳. یوسفزے، جمیل، مملکتِ یوسفزے کے قبائل، مخونه ۲۰ ـ ۲۱

۴. افضل خان "تاریخ مرصع "مئ ۲۰۰۴ء، مخ ۳۴۹

۵. خټک، پریشان، پښتون کون؟ مخونه ۴۴۱ ـ ۴۴۳

۶. یاد طالبي. عبداللطیف. ډاکټر "پښتانهٔ قبیلې و پېژنئ" مخ ۲۳۰

ـــــ "پښتني قبیلې" ۲۰۱۰ء، مخ ۱۸۰

۷. افریدی، حاجی خیال "تاریخ پختون الافغان "۱۹۹۸ء، صفحات ۵۵۹ ـ ۵۶۰

اووم باب

د جهانګيري سلطانانو او مغُلو سره د يوسفزو رشتې

رشتې کول د فطرت يو داسې عمل دے.چې د دې په وجه انسانان يو بل ته نزدې کېږي.خپلولي جوړه شي.او د يو بل په ښهٔ او بد کښې په کار راځي.

څنګه چې دا عمل زمونږ د ټولنيز ژوند يو اهم عنصر دے.خو بعضې رشتې داسې وي چې ددې په شا خو يا يو مذهبي، سماجي او يا يو سياسي مصلحت ،مقصد او غرض وي.دغه واړه مقصدونه خو ظاهر په نظر نهٔ راځي خو شا ته په پس منظر کښې ئې پټ ډېر اهم مهمات وي.رشتې يو بل ته د نزدېکت يوه ښهٔ ذريعه ده.د دغې کورونو د يو بل نه باک ختم شي.او تلل راتلل ډېر په اسانه کېږي.اکثر دغه سياسي رشتې چې د لوښو او خوئيندو وي د ناکامۍ سره مخ شي.چې عام طور په نظر راځي.

او که دغه رشتې کاميابي پاتې شي نو ښهٔ سياسي فائدې ترې هم اوچتېدې شي. د پخوا راسې د حمکرانې او سياسي طبقات دا خواهش پاتې شوے دے او اوس هم جاري دےچې خپلې رشتې د داسې کورونو سره وکړي .چې دوي ته ترې سياسي پُشت پناهي حاصله وي. او د دغه حکمرانو کورونو نه مالي او مادي فائدې اوچتې کړي.دغه شان که مونږه د خپل تېر تاريخ مطالعه

وکړو نودا به واضحه شي چې چا دغه کارونه کړي دي؟ او د دغو رشتو نه ئې څومره فائدې اخستې دي. څومره خلق ئې زورلے دے.؟او څومره خلق ئې د خپل مال اسباب نه لاس په سر کړي دي؟ دغه مثال دلته د قابضې طبقې يا طبقو دے. بابر بادشاه چې دې سيمې ته په څۀ غرض راغلے وو. او شاته ئې څۀ مقاصد وو؟دغه شان د سوات د سلطانانو څۀ حال وشو او د رشتو نه ورته څۀ ملاؤ شو او څۀ ئې بائېلل. ښکاره خبره ده چې د تاريخ پاڼې ترې ډکې پرتې دي.

دلته د مغل حکمران بابر باچا د يوسفزو سره د مراسمو په حقله يوه لنډه شان تبصره وړاندې کولې شي:

"د بابر خپل نوم ظهير الدين محمد وو. بابر په ترکۍ کښې زمري ته وائي. بابر په کال ۱۴۸۳ء کښې په فرغانه کښې پېدا شو. د پلار نوم ئې عمر شېخ مرزا وو. د دولسو کالو په عمر کښې ئې پلار وفات شو. فرغانه يو وړوکے رياست وو. بابر د فرغانے حکمران شو. فرغانه د اُزبکستان يو ښار دے. د بابر پلار د تېموري خاندانه وو. چې نسلاً ترک وو. مور ئې د چنګېزخان د خاندانه وه. بابر ته په خپل نسل ترک فخر وو. د خپلې تخت نشينۍ نه درې کاله پس په کال ۱۴۹۷ء کښې ئې سمرقند فتح کړو. بابر چې د خپل ابائي رياست د حصول نه مايوسه شو نو د کابل مخه ئې ونيوله. په کال ۱۵۰۲ ء کښې د کابل حاکم الغ بېګ مرزا چې د بابر ترۀ وو مړ شو. په کابل کښې شرونه او فسادونه شروع شول. مقيم نومې يو امير چې د شاه بېګ (ارخون) ورور وو په کابل قبضه کړې وه. بابر په کابل حمله وکړه او کابل

ئې په ۱۵۰۴ ء كښې قبضه كړو. [۹۱۰هـ حافظ رحمت خاني مخ ۱۳۴]
په كال ۱۵۰۷ ء كښې بابر د غلجي پښتنو په مهم روان شو. دا پښتانهٔ د بابر د قندهار دواړو د اقتدار نه ازاد وو. "سرده "نومې ځائې ته چې بابر اورسېدو نو هغه ته ووئيلے شول چې د يو فرسنگ۱ په فاصله مهمند پښتانهٔ ډېر غافله پراتهٔ دي. د هغوي لوټل پكار دي. ددې نه بابر انكار وكړو اووې ئې ووئيل چې زما د پاره د خپل رعيت لوټل ناممكن دي.
د كال ۱۵۱۸ ء پورې د بابر د مهماتو حال نهٔ دے معلوم. هم په دغه كال هغه ته د دريائے سيند نه پورې د علاقو مېدانونه ورياد شول. دغه ځايونو ته تلل او لارې د پښتنو د علاقو نه تېرې شوې وې. په كرمه، گومل، خيبر او تالاش درو كښې پښتانهٔ قبائل اباد وو. د دغه لارو څوكيداران په رضا يا په زور د ځان سره ملگري كول يوه اهمه خبره وه. اوغېر ددې نه دغه ځايونو ته رسېدل گران كار وو. د بابر د خپلې وېنا نه څرگنده ده. چې د اباسيند او كابل تر مېنځه پښتانهٔ لا چا نهٔ دي ايل كړي. څهٔ وخت سوات، باجوړ. هشنغر او پېښور د كابل د رياست حصې وې. ولې د بابر په وخت كښې دا حصې بيا ازادې وې. او د پښتنو په قبضه كښې وې. ځكه بابر دا ضروري گڼله چې تر هنده ټولې لارې محفوظې كړي. په دې لارو كښې چونكه يوسفزي اباد وو. د بابر او يوسفزو د ترمېنځه ژور تعلق وو. هر كله چې بابر كابل فتح كړو نو په ابتداء كښې بابر په يوسفزو ډېر مهربانه وو۲. ليكن دلا زاك چې د يو سفززو قديمي دشمنان وو. د بابر په زړهٔ كښې د يوسفزو په حقله شكوك او شبهات پېدا كړل. او د ملك احمد د وژلو

اراده ئې وکړه.

ملک احمد چې خبر شو نو سمدستي د بابر په خدمت کښې حاضر شو او ځان ئې ورته پېش کړو. چې د بادشاه حکم دے چې څۀ کوي؟بابر د ملک په دغه کار خوشحاله شو. خلعتونه ئې ورکړل. خلوت ته ئې بوتلو. شراب نوشي شروع شوه. بابر په نشه کښې ګډا شروع کړه .ملک احمد به بابر له انعام ورکولو چې په هره پېره به ئې يوه يوه اشرفۍ ورکوله. ملک احمد خوشحاله راغے .ليکن بيا هم بابر د يوسفزو په علاقه حمله وکړه. فصلونه ئې تاله کړل. او په دغه سلسله کښې د فقيرۍ په جامه کښې د مورې غر ته راغے. کوم ځائے چې يوسفزي اوسېدل. د شاه منصور کور د غرۀ په وېخ کښې وو. هلته لاړو. او د شاه منصور لور بي بي مبارکه ئې وليدله. بابر د بي بي مبارکې د رشتې د پاره ملک احمد ته وېنا وکړه. ولې ملک احمد دې خبرې ته تيار نۀ وو. ملک احمد ته پته وه چې ددې نه مخکښې هم د بابر په ترۀ الغ بېګ او په خان مرزا لاغري يوسفزۍ جينکۍ وادۀ شوې وې. ولې د هغې نتيجه د يوسفزي قوم د بربادۍ نه بغېر بل څۀ او نۀ وتله. ملک احمد منکر شو چې زمونږ کره د وادۀ جوګه جينۍ نشته. بابر له چې د لوئې اختر په موقع کومه غوښه ورکړې شوې وه هغه دغه غوښه د يو ګټ لاندې کېښودې وه. بابر ورته اووې چې زۀ درغلے ووم. ماته چې کومه غوښه ملاؤ شوې وه. د فلاني ګټ لاندې پرته ده. چې دغه ئې ثبوت دے. بهر حال يوسفزي د دې خبرې جوګه نۀ وو. چې بابر ته ئې انکار کړے وې. بي بي مبارکه وادۀ شوه. او د يوسفزو د پاره ئې ترې د ښۀ سلوک طمع لرله. او د بي بي مبارکې

په خُلهٔ او درخواست ئې د يوسفزو وارہ قصوروُنه معاف کړل.

"د بي بي مبارکې نه مخکښې د بابر ورومبۍ ښځه شهزادګۍ عائشه سلطانه وه. دغه وخت د بابر عمر وولس کاله وو.

د بابر او عائشه سلطانه د يو بل سره مينه نهٔ وه. او په ورځو ورځو به حرم ته نهٔ تلو. په خپله وائي چې خپلې مور به په ديکو ديکو مياشت څلوېښت ورځې پس حرم ته لېږلم".

دغه شان د بابر د يو هلک سره مينه هم وه. چې نوم ئې "بابري" وو. دا مينه د لېونتوب تر حده پورې وه. وائي چې کله به بابري زما کمرې ته راغے نو ما به د شرم نه سترګې نهٔ شوې مخامخ کولې.

بي بي مبارکه د اکبر تر زمانې ژوندۍ وه. او ددې څهٔ اولاد نهٔ وو شوے. په مغل بېګماتوکښې دا مير من په "افغاني بېګم" مشهوره وه.

يو بل ليکوال جميل يوسفزی په "يوسفزی تهذيب" نومي کتاب کښې په مخ ۲۲۲ ليکي چې "په مغل حرم کښې بي بي مبارکه د بېګه بېګم په نوم بللې شوه.

د بابر د ياداشتونو نه د يوسفزو او د بابر د تعلقاتو د روايتي افسانې ترمېنځه څهٔ نا څهٔ تعلق څرګندېږي. د يوسفزو د وکيل (ملک شاه منصور) په وړاندې د بابر په نشه کښې بې خوده کېدل. د بي بي مبارکې د خپلې قبيلې د خراج سره راتلل، بيا په دې قبيلې د حملې التواء.

او ددې نه پس په يوسفزو حمله نهٔ کول داسې خبرې دي چې د بابر او ددې قبيلې تر مېنځه د مفاهمت غمازي کوي. او دا ظاهره

خبره ده چې د مفاهمت په دې کوشش کښې د بي بي مبارکې لویه برخه وه. د بي بي مبارکې سره د بابر د وادهٔ نه دا واضحه پته لګي چې د بابر دا نکاح د یو سیاسي نوعیت وه. بابر د یوسفزو په وجه د هرې خطرې نه ځان د دې رشتې په وجه بچ ساتلے وو. که چرې دا سیاسي مسئله نهٔ وه نو بابر به هیچرې هم په هندوستان کښې ابراهیم لودهي له شکست نهٔ وو ورکړے.

د کال ۱۵۱۹ء د مني په موسم کښې بابر په دریم ځل د پښتنو په مهم د کابل نه را روان شو. او په خیبر راوتلو. دا ځل هغه بیا د یوسفزو په اراده راغلے وو. د یوسفزو سره اګر که د بابر خپلولي شوې وه ولې داسې معلومېږي چې دې طاقتورې قبیلې د بابر پړې ته غاړه نهٔ کېښوده. بابر چې پېښور ته راغے نو د دلا زاکو په مشوره ئې د هشتنغر د لوټلو فېصله وکړه.

بابر ته چې د هشتنغر څومره صفت شوے وو. دومره مال اسباب ورله په لاس رانغلو. او هم په دې کال سلطان اوېس سوات پرېښودو.

په کال ۱۵۱۸ء-۱۹ء کښې بابر د یوسفزو په مهم روان شو. بابر د باجوړ د نیولو نیت وکړواو یو دلازاک پښتنون ئې د سفیر په ډول د جباري[ګبري] قبیلې رئیس سلطان حېدر علي ته چې د باجوړ حکمران وو، واستولو. سلطان د باجوړ پرېښودو ته تیار نهٔ وو. او اخر بابر په باجوړ په ډېر طاقت سره حمله وکړه. او باجوړ ئې واخستو.

ددې نه پس بابر داسې وائي: "د جمعې په ورځ په یوسفزو پښتنو د حملې په غرض د سوات په لار کوچ وشو. کېمپ ئې هغه

ځائے ولګولو کوم ځائے چې د باجوړ او جندول سيندونه يوځائے کېږي.شاه منصور چې د سلېمان شاه ځوے وو دلته حاضر شو.او ډېره خوندوره د نشې نه ډکه مزيداره شېريني ئې د تحفې په ډول پېش کړه.ددې نه يوه حصه ما وخوړله. يوه حصه مې طغائي ته او دويمه حصه مې عبدالله کتابدار ته ورکړه.په دې کښې داسې نشئز خيزونه وو.چې کله ماښام اميران د مشورې د پاره جمع شول.نو زۀ د خپلې خېمې نه باهر نۀ شوم تلے.مخکښې وائي چې د سلطان اوېس سواتي په مشوره ددې علاقې د خلقو نه ځلور زره خرواره وربېژې د لښکر د پاره وغوښتلې. او د وصولولو د پاره مې سلطان اوېس ولېږلو.دې ځنګلي خلقو دومره محصول چرته نۀ وو ورکړے.د يوسفزي قوم د بهترۍ په خاطر ما د خپل خېرخوا ملک شاه منصور لور غوښتلې وه.هغه د خپل قام د لورې نه د وکيل په ډول راغلے وو.مونږ لا په دې پړاؤ کښې وو.چې ددې جينۍ د يوسفزو د خراج سره د راتلو خبر راورسېدو.ماښام مونږ د شراب نوشۍ جلسه وکړه.چې په هغې کښې مو سلطان اوېس هم شامل کړو. او د هغه سره مو پټه جرګه وکړه.ددې ځائے نه مونږ کوچ وکړو او چې وړاندې لاړو نو د شاه منصور کشر ورور ملک طاؤس خان خپله وربره مخکښې پړاؤ ته راورسوله.دا ميرمن د باجوړ قلعه ته ولېږلې شوه.ولې چې سلطان اوېس بابر تسليم کړے وو.اګر چې د بابر هغه هڅې چې د سلطان اوېس د دارالخلافې منګلور د فتح کېدو د پاره ئې کړې وې،شنډې شوې وې.

بابر يوسفزي پابند کړي وو چې په سلطان اوېس يعنې په سوات حمله و نۀ کړي.ولې بابر ته چې کله يو ځل بيا د بدخشان

په حقله بد بد خبرونه راورسېدل هغه د پښتنو د غورېونو تاوهلو نه بغېر کابل ته په تلو مجبوره شو.۱

د یوسفزو د سلطان اوېس سره رشته

یوسفزي چې کله د کابل نه راوشړلے شول او د کابل نه پېښور ته راغلل.نو د سوداګرۍ او تجارت په غرض به سوات ته تلل راتلل.څنګه چې پرې وړاندې تفصیلي ذکر شوے دے.

د بابر د یوسفزو سره رشته شوې وه.او د دغې رشتې په اړ کښې ئې خپل سیاسي مقاصد پوره کړي وو. بابر ته هر وخت لاس په نامه وو.هم دغه رنګه یوسفزي د کاروبار په غرض به دې علاقې ته تلل راتلل.د هر څۀ نه خبرو وو.لارې کوڅې او ګودرې ورته معلومې شوې وې.حتیٰ چې د سلطان سره ئې نوکري هم کولې.او دغه تګ راتګ اخر د ښځو په رشتو کښې بدل شواو په سلطان اوېس د ملک احمد خور وادۀ شوه.نور هم رانزدې شول.او دڅه وجوهاتو له کبله اخر سلطان اوېس د ملک احمد دغه خور ووژله.دا هم په سوات د قبضې یوه وجه کېدې شي.ځکه چې د ملک احمد د خور په لاس نیوه کښې د میرهندا او ملک احمد سره د راغلو ملګرو په مېنځ کښې خبرې ترخې شوې وې او اخر هغه څۀ اوشوکوم چې یوسفزوغوښتل.یعنې دا سیمه د یوسفزو په قبضه کښې راغله.۲

◈ ◈ ◈

نوټس

۱.فرسنګ:۳ ميل ،۳ فرلانګ او ۲۰ ګز(۱۸۰۰۰ فټ) تواريخ حافظ رحمت خاني،مخ ۵۰

۲.دغه رنګ شهنشاه اورنګ زېب هم په پښتنو کښې روپۍ تقسيم کړې وې.جاګيرونه ئې ورله ورکړي وو.انعامات او مناسب ئې ورته بخښلي وو.افغان قبائل او مشران ئې د خان ملګري کړي وو.چې په کښې د خوشحال خان خامن د دريا خان افريدي مريدان او د يوسفزو د ليډر باکو خان خامن هم شامل وو.(صافي، عبدالحنان ،"صافي قام" ،مخ ۱۹۵)

حوالې

۱.ظفر کاکا خېل، بهادرشاه، سید، "پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې،"۲۰۱۲ء ،مخونه ۳۹۸- ۳۹۹، ۴۰۷، ۴۰۸ – ۴۱۱، ۴۱۳، ۴۱۵

- خاتون، اسماء، مراد، ثانیه، تاریخ (د ووم ټولګي)، خیبر پښتونخوا ټیکسټ بک بورډ پېښور تعلیمي، ۲۰۱۶ء- ۲۰۱۷ء ،مخونه ۲ – ۳

- معظم شاہ، پیر "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل اوانکی تاریخ"، صفحہ ۱۵۷

- خالق زیار، ډاکټر، (پښتو ترجمه) "دا خاوره او دا خلک"، جنوري ۱۹۹۶ء ،مخونه ۱۱۸-۱۱۹

- محمد اختر، پروفیسر، تاجک سواتی ومملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں، ۲۰۰۲ء، صفحات ۳۷۳- ۳۷۵.

- Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" pp.222-224

- Karoe, Olafe, Sir, THE PATHANS ,1999. P. 180

- کیرو، اولف، سر، (اردو ترجمہ) سید محبوب علی، "پٹھان" بار سوم ۲۰۰۰ء ، ص ۳۵۳

۲. معظم شاه، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خاني (فارسي پښتو) مخونه ۶۳ – ۶۴

-اخوند خیل، حیدر علی، بونیر خدوخیل تاریخی، تحقیقی او ثقافتی جائزہ ۲۰۰۸ء صفحات ۱۱۶- ۱۱۷

اتم باب

جنګ کاټلنګ کښې د شلمانو ګډون

ډاکټر شبېر بهادرخان پني په تاريخ هزاره کښې د جنګ کاټلنګ په حقله داسې ليکي چې:
"کله چې يوسفزو واړه سوات واخستو او پرې قابض شو نو د دغې نه پس ورته يو لوئے خنډ دلازاک وو. اوس دلازاک وَرکول د دوي لوئے مقصد وو. د سوات د قبضې نه وړاندې دلازاکو يوسفزو له دانش کول، انبار او باجوړ هم ورکړے وو. او دائې ورته هم ووئيل چې په زور د شلمانو نه اشنغر هم واخلئ. کوم چې د سلطان سوات رعايا وو.
يوسفزو په دوابه، دانش کول، انبار او باجوړ وادۍ تر لاشوړې پورې قبضه وکړه. او دجندول نه واخله تر پنجکوړې سيند پورې راورسېدل. لښکر په چارسده حمله وکړه. او قبضه ئې کړه. او دغه شان د دلازاکو په علاقه د مردان نه ترکلپانۍ پورې قابض شول. هم په دې دوران په کال ۱۵۱۹ء کښې بابر هم راغلو. دلازاک د خپلې علاقې هشتنغر د يوسفزو نه د واپس اخستو په غرض د بابر سره يو ځائے شو. د بابر د تلو نه پس ګګيانو په دلازاکو حمله وکړه. خو د ببلې په مقام ئې سخته ماتې وخوړه. ملک احمد دا يوه بهانه جوړه کړه چې دلازاکو په ګګيانو ظلم کړے دے. او کوم يوسفزي چې په

سمه (مردان- صوابی) کښې اباد دي دوي ته ترې هم د حملې ويره ده ځکه ئې په دوي باندې د حملې کولو تياري وکړه.

يوسفزو، مندړو، اتمانخېلو، ګدون، محمد زو په شريکه په دوي حمله وکړه. او يو زبردست جنګ د کاټلنګ او شهباز ګړهې په مېنځ د "ناله ګدر" په مقام وشو. دلازاکو شکست وخوړو. هغوي د کابل د سيند د جنوب په لور په اباسين پورې وتل. او چهچهـ هزارې ته لاړل.

جنګ کاټلنګ: د بابر په کاټلنګ د حملې ۱۵۱۹ء او د دهلي د فتح ۱۵۲۲ء په مېنځ وميانه دور کښې غالبًا شوے دے. په دې جنګ کښې ملک احمد د دلازاک خان۱ د لور سره واده هم کړے وو. لهذا د دلازاکو چهچهـ هزارې ته تلل غالبًا په ۱۵۱۹ء کښې شوي دي.۱

په جنګ کاټلنګ کښې مېجر راورټي د نورو قومونو سره د شلمانو د حصې اخستو حال داسې ليکي:

"To carry out his plan ssuccessfully,Malik Ahmad and his advisor determined to bring the whole of the Khas'hi tribes together, and to bring their allied tribes into the field also.All the Yusufzis and Mandars of Suwad, Bajawar, 'Ash Naghar, and the Samah'h,assembled,together with their allies, the Utman Khel, Jzadun, and Muhammadzi tribes, the last named being promised the district of,Ash-Naghar for their help,together with portions of Afghan and other tribes, such as K's'hars[Kakhar], Rahwarnis, Kasis, Rarnis, Shalmanis,Suwadis, and others, the vassals and servants of the Yusufzis and Mandars."2

ملک احمد چې د ټولو يوسفزو سردار وو. د خپلې قبيلې خلقو

به ورته هر وخت د ګګیانو په وهلو پېغور ورکوو. ګګیاني چې دلازاکو وهلي وو. ملک احمد به شپه ورځ په دې سوچ کښې وو چې څنګه به دا بدل اخلي. دلازاک هم ګګیانو ته د شکست ورکولو په وجه ډېر مست شوي وو.

یوه ورځ د یوسفزوخورلڼې د بګیاړې په نالې کښې جامې وینځلې او بې حجابه ناسته وه. چې د دلازاکو یوه ډله چې د کاله پانړې نه بګیاړې ته تلې وه. یو حرام زاده د هاغې زنانه پړونړے راواخستو او را ئې وړو.

دغه کس ملک احمد ته بدې ردې هم ووئیلې. چې زما څوک هم څۀ نۀ شي کولے. ملک احمد ددې خبرې نه خبر شو. دا خبره هر لورې ته خوره شوه "ملک احمد دا ووئیل چې زۀ به د سلطان شاه نه نۀ یم" که د دڅرست خښې بدله مې وانۀ خسته.

دا دوه داسې واقعې دي. چې د جنګ کاټلنګ د کولو سبب جوړ شو. آیا دا خبره سمه ده او که نۀ! خو بیا هم جنګ وشو او دله زاک واړه ددې ملک نه اوشړلے شول.

په دې جنګ کښې شلماني اتمانخېل، ګدون، کخار یا کشار راهوڼي (رواڼـي)، رڼي، کاسي، سواتي او بړېس (بړېچ) شامل وو، شېخ ملي د کابل نه پاتې یوسفزي او نورو قومونه هم راوستل. ملک احمد دغه واړه قبائل د جنګ د پاره راغونډ کړي وو.۳

خان روشن خان په جنګ کاټلنګ کښې د شلمانو د حصې په حقله داسې لیکي:

"ملک احمد دلته د لښکر د راغونډولو په فکر کښې شو. هغه د

سوات او سمې اشتنغر واړه يوسفزي او خپل خپلوانو او دوستانو سره داتمانخېل، مشواني، ناهيار، وردګ، لواني، ګدون، ککخار، راهوني، رنې، بوقي، کاسي، سواتي، شلماني اوبړېس نه علاوه ټول ئې د کاټلنګ نه چاپېره کښېنول"۴

هم دغه شان په "سرګزشت" کښې خان روشن خان ليکي چې:

"ددې مالکانو سره په مواضعاتو زور منډې، پلې [شېر خانه] کښې لودهيان، غازي خېل، شلماني، او توراني (توراڼي) اوسېدل دا ځلور واړه افغان قبائل د شېخ ملي په ذريعه او د ملک احمد په دعوت د افغانستان نه راغلل، او د يوسفزو په حمايت کښې او د دلازاکو په خلاف په جنګ کاټلنګ کښې شامل شول".۵

◈◈◈

نوټس

۱. د تاريخ هزاره په مخ ۲۹۸ باندې ذکر دے چې په دې جنګ کښې د دلازاک د خان د لور د خان کجو سره واده وشو. او بيا هم د دې کتاب په مخ ۲۹۹ د دلازاک خان د لور د ملک احمد سره هم واده ښودلے شوے دے چې ايا دا د ليکوال غلطي ده او که نه دا دواړه جدا جدا خوئيندې وې!؟ (محقق)

حوالې

۱. پنی ،شبیر بهادر خان . ډاکټر، "تاریخ هزاره". اګست، ۱۹۲۹ء، مخونه ۲۹۸- ۲۹۹

- Karoe,Olaf, Sir, "THE PATHANS" 1999. pp. 179-180

- کیرو، اولف، سر، کریمي، الحاج شبیر محمد (ژباړن) "پښتانهٔ (پټهانز)" چاپ نېټه ۱۳۸۴ ل/ ۲۰۰۴م. مخونه ۲۷۴- ۲۷۵

____، (اردو ترجمه) سید محبوب علی، "پټهان" .بار سوم ۲۰۰۰ء ،مخونه ۲۵۲- ۵۵۳

2. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN",2001, pp. 224-225

۳. معظم شاه، پیر، تواریخ حافظ رحمت خاني. دویم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ،مخونه۱۳۳- ۱۳۵

____، "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل اوانکی تاریخ" ترتیب و حواشی خان روشن خان، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخونه۱۹۳- ۱۹۵

۴.خان روشن، خان ، "یوسفزئ قوم کی سرگزشت" ،فروری ۱۹۸۲ء ، مخ۱۵۲

۵. محوله بالا، مخ۳۹۸

- شاهد ، سلیمان "گمنام ریاست" حصه اول اشاعت ششم، ۵ جنوری ۲۰۱۵ ،مخ۸۷

- مومند ،م ج،سیال "د پښتنو قبیلو شجرې" ،فروري ،۲۰۱۵ء، مخ۷۴

-اخون خېل،حېدر علي، بونېر خدوخېل تاریخي ،تحقیقي او ثقافتي جائزه ،۲۰۰۸ء، مخونه ۱۱۸- ۱۱۹

نهم باب

د حضور ﷺ د حدیثو په رڼا کښې د زمکې په ناجائزه قبضه سزا

د زمکې د قبضې په حقله په کتاب" المظالم" صحیح البخاري حدیث۱۳ کښې بیان دے چې:

حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ ،أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي طَلْحَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ،أَن عَبْدَ الرَّحمانِ بْنَ عَمْرِو بْنِ سَهْلٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّ سَعِيدَ بْنَ زَيْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ"مَنْ ظَلَمَ مِنَ الارْضِ شَيْئًا طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ"

ژباړه:مونږ ته ابو الیمان بیان وکړو وې وئیل چې مونږ ته شعیب خبر راکړو هغه زهری ته اووئیل چې ماته طلحه بن عبد الله دا بیان وکړو او هغه ته عبد الرحمان بن عمر بن سهل خبر ورکړو ،چې سعید بن زید ووئیل چې ما د رسول ﷺ نه اورېدلي دي .حضور ﷺ فرمائیلې دي .هر هغه کس چې څۀ زمکه په ظلم سره وتروړي نو د اووه زمکو طوق به (د قیامت په ورځ) د دۀ په مرۍ کښې واچولے شي.

هم په دې کتاب المظالم کښې حدیث ۱۴ کښې بیان دے چې:

"د ابو معمر بیان دے ،هغه ته عبد الوارث،هغه ته حسین معلّم ، هغه ته یحییٰ بن ابی کثیر ،هغه ته محمد بن ابراهیم،هغه ته ابو سلمه عبد الله بن عبد الرحمان بن عوف بیان کړے چې د هغه او د

څه نورو خلقو تر مېنځه په زمکه جګړه وه. دوي حضرت عائشې ؓ ته د دغې ذکر وکړو. دې وفرمائيل:

"اے ابو سلمه په ناحقه د زمکې اخستو نه ځان ساته، ځکه چې نبی ﷺ فرمائيلې دي. چې کوم کس يوه لوېشت زمکه په ظلم سره واخلي نو هغه ته به د اوؤ زمکو طوق په غاړه کړې شي".

◈◈◈

وېش (Wesh)

د زمکې "وېش" چې ورته دفترِ شېخ ملي وائي د دې نظام د ښۀ او بد خبره نۀ ده. سوال دا دے چې په ټولنيز ژوند کښې د دې خاورې د مختلفو نسبونو، قبيلو او شاخونو تر مېنځه په سياسي او سماجي تړون کښې وېش څۀ کردار ادا کړے دے؟ هغه زما په خيال دا دے:

۱. د زمکو خاوندان د محکوموطبقو په ذاتي ژوند اثر اندازه کېدل. دوي ته په درنه سترګه د نۀ کتلو په سبب وصلي خلقو ته سزاګانې ورکول.

۲. کنډريان ورته په کنډر (فقير نامه يا ستانه دار) ګڼه وو.

۳. په وادۀ کوژدن کښې د خان حجرې له چرګ او غوښې وړل.

۴. مېلمه د خان او کټ بستره د کنډري د کور نه به حجرې ته وړلے کېدله.

۵. په ډومېسائل پابندي او په ډومېسائل کښې د لفظ يوسفزی اجازت نۀ ورکول. چې تر اوسه ډېرو خلقو ته د خپل نسب، نسل يا خپل پته نشته. چې مونږ څوک يو او خپل مو څۀ دے؟

٦. داسې جرګه Constituteكول يا په وجود كښې راوستل چې د بې كوره او بې زمكو خلقو د تقديرونو اختيار د دوي سره وو. لويه وجه ئې دا وه چې د دغو خلقو دوتر وو. او بې دوترو خلقو ته په ټولنيز ژوند كښې د فېصلې كولو يا د خپلې ازادانه رائې وركولو هېڅ قسمه اختيار نۀ وو. يعنې فېصلې به د برې نه لاندې (Top to Bottom)كېدلې.

٧. اوس هم د دغو خلقو اكثريت په ابادۍ كښې د ٢ نه تر ٥ فی صده پورې دے. دوترونه١ د دوي دي.

ځكه دا خاندانونه نسۀ امدن لري. بچې ئې په بالا سكولونو، كالجونو او يونيورسټيانو كښې سبقونه وائي. د ملك په حكمرانۍ او بالا طبقو كښې دوي شمېرلې كېږي. كله په يوه پارټۍ كښې او كله په بله پارټۍ كښې ازادانه شركت كوي. ټكټونه هم دوي ته ملاوېږي.

◈◈◈

قابض جاګيردار يا نسلي خلق او علاقائي د زمكو وېش

ډاكټر اكبر ايس احمد د زمكې د خاوندانو په حقله خپل خيال په دې رنګ وړاندې كوي او ليكي چې:

نسلي خلقو د دې سيمې د زمكو قبضه كېدو د پاره څۀ كړي دي "بدلې اخلې" "وژنې" "اوباسي" "حملې" كوي، او مړېږي نۀ. هغه دا ټول هر څۀ د "سياسي اقتدار"د پاره كوي او اقتدار "د زمكې په

ملكيت"كښې څرګند برېږي. ځكه نو هغه له خوا مخوا په زمكه قبضه كول پكار وي. او بله دا چې د دې سيمې د ټولې ابادۍ پنځمه برخه يوسفزي خانان دي. چې د ټول سوات نمائندګي كوي.دا خانان چې د يو نسل نه دي او په خپلو كښې په ښېښو راغونډ دي ځكه د دوي په لاسو كښې په حكومتي سطح هم او په سياسي سطح هم طاقت مجتمع دے.او هغه زاړه خلق (وصلي) چې په دې قبائلو كښې ژوند كوي تر اوسه تحليل دي.

د زمكې په قبضه كښې بېروني عواملو هم خپل كار په ښۀ توګه سر ته رسولے دے.او د دې ځائے خلقو له ئې د مودو راسې سياسي طاقت وركړے دے.

د برطانوي منتظيماتو څه مجبورۍ او څه داسې پاليسۍ وې چې د هغوي په ذريعه ئې خپل حكومت له دوام وركړے وو.كه يو طرف ته ئې د Divide and Rule په پاليسۍ عمل كوو او د دير او سوات حكمرانان ئې په خپلو كښې جنګول نو بل لورې ته ئې د ثوبا اثره خلقو چې عام طور د زمكې خاوندان وو،په ذريعه عامه محنت كشه طبقه په فشار كښې ساتلې وه.فيرنګي خپلو ملګرو له وسله هم وركوله او د ماجب ۲ په صورت كښې ئې ورله مالي امداد هم كوو.دغه مراعات اوس هم هغوي ته حاصل دي.

دغه وجه وه او دۀ چې "زمكه د طاقت او حېثيت بنياد وو" د زمكو د كاشتكارۍ نظام د فاتحانو يوسفزو ،مالكانو او د هغوي د رعيت تر مېنځه يو شخړه ده.مالكان برسر اقتدار او په هر لحاظ اشرفيه ګڼلے شي او مقامي فقيران كاشتكاران يا د رعيت ابادي د دوي بېګار كوي.

اوس دا خلق یو ځائے استوګنه، روزګار، غم ښادي هم کوي خو رشتې نهٔ کوي. ځکه چې لوئے تفاوت ئې زمکه ده. یوسفزي به زاړه وي خو شجرې ئې زړې نهٔ دي. مغل مؤرخانو د پښتنو د پشتونو شجرې جوړې کړې دي. او هم په دغه شجرو دوي ځان ممتاز او بر ګڼي. یوسفزو د ماتحت او بالا دست تصورّ جوړ کړو. ۱

"کسان دفتر"چې د شبر علي باچه یوه ذاتي ډائري وه. ددې قسمه وېش یا قبضې تفصیل داسې لیکي:

دلته ئې خُلاصه وړاندې کولې شي.

"شخړه دا ده چې د زمکو د خاوندانو او محکومو طبقو په مېنځ کښې په زمکو د قبضې او دوباره اخستو د پاره په مختلفو ادوارو کښې تحریکونه چلېدلي دي او لا تر اوسه په ملاکنډ، سوات، کوز دیر ، بره دیر او اشتنغر کښې د مالکانو او مزارعینو کېسونه روان دي. د شریکان، غله ډهېر ، مفتي اباد تحریک، مزدور کسان او عوامي خېل تنظیمونو په نومونو د تحریکونو اغاز د اوسني مالکانو (قابضینو) او زړو مالکانو (کاشتکار/ کسان) ترمېنځه د دوو ډلو سیاسي او اقتصادي جنګ وو او دے.

خو بیا هم قابضینو ۳ دغه تحریکونه د څهٔ حده پورې ناکامه کړل. ځکه چې مقامي انتظامیه کښې هم د دغه خلقو د خاندان خلق په کرسو ناست وو او دے. او په حکومتي سطح ئې دغه تحریکونه وچقول چې ثبوتونه ئې موجود دي. کسانان څنګه مړه شول او چا ووژل؟.

په دې قسمه وېش، تقسیم یا قبضه کښې هېڅ اسلامي پهلو په

نظر نۀ راځي.ځکه چې دا صرف د سياسي بالادستۍ د پاره يوه جګړه ده.او مُلا ددې د پاره استعمال شوے دے.ځکه چې د مُلا هره خبره به حرفِ اخر ګڼلې شوه.دا خدائي ورکړي دي چا ته پرې د قبضې حق نشته. ځکه خدائے چې څوک څنګه پېدا کړے دے نو داسې به وي. دا د خدائے کارونه دي. د مُلا ناسته پاسته هم د حجرې سره وه. هدايات به څنګه او چا ورکول، ښکاره خبره وه.

سماجي اثرات ددې قبضې دا وو او دي. چې دغه د زمکو مالکان لا تر اوسه خپلو خوئېندو او ميرات شوو له په جائېداد کښې حصه نۀ ورکوي.د مثال په توګه که چرې په يو خاندان کښې به يو کس مړ شو چې د جائېداد خاوندبه وو خو نارينه به ئې نۀ وو جينکۍ به ئې وي نو تربورانو به ئې زنانوو له حصې نۀ ورکولې. حتٰى چې دغه زنانه به ئې هم تقسيمولې.اوس عدالتي نظام دے.زنانې دعوې کوي او حصې اخلي.

د لور او د ځوي په وادۀ کښې چرګان وغېره حجرو له وړل ،په کنډريانو بېګارونه کول،غوبل، اشر او لۀ لور دا ټول کارونه د کنډريانو کار وو. د نسلي خلقو کورونه په ختهو لېؤهل داسې کارونه وو. چې د انساني حقوقو صراحتًا خلاف ورزي وه.

ځکه متعلقين او مستفيدين (Stakeholders) د يو بل خلاف شول مرګ ژوبلې په کښې وشوې. جائېدادونه او مالونه اوسوزېدل او د يو بل د غم ښادو نه بائېکاټ اوشو. ۲

د شېخ ملي علاقائي وېش

په پنځلسمه صدی، کښې هغه همه علاقې کومې چې يوسفزو د سوات او د کلهمې پښتونخوا په لر او بر کښې نيولې وې د هغې انتظامي انصرام او په هغه قبائلو کښې په "سائنسي بنياد تقسيم" دا کار اګر چې ډېر ګران کار وو. خو بيا هم شوے دے.

"د زمکو د دغه تقسيم خواوشا ۹۳۰ هـ، بمطابق ۱۵۳۳ء کال معلومېږي. هم په دې دور کښې شېخ ملي خپل مشهور دفتر مرتب کړےوو. چې په" دفترِ شېخ ملي۴" يادېږي.

دا وېش يا تقسيم د ۱۵۱۹ء نه تر ۱۵۲۲ء پورې شوے دے.وائي چې کله جنګ کاټلنګ وشو نو دا تقسيم د يوسف نامې کورا کور وشو.دا علاقه دار تقسيم په نيم باجوړ، سوات،بونېر، تېنول،تهوله سيمه تر نوښاره او د اباسين تر غاړې په دې زمکو مشتمل وو.

په دې کښې اتمانخېل، ګدون، کشار، رواڼي، کانسي، ګوجر۵ او نور مخلوط اقوام د ځان سره په طور د مرستيالو وساتل.

وائي چې شېخ ملي نهايت، متقي، قيام الېل۶ او صائم الدهر۷ سړے وو.هر چرته چې به تلو خدمتګار به ورسره کوزه د اودس ګرځوله. او دے ماتحت وو،ملک احمد مقتدا د دُرست يوسفزي مندڼ وو. دے د هرې چارې او هر مهم غم خور وو. همګي ملکونه تپه په تپه کور په کور د دۀ په دفتر ختلي وو. او دۀ وېشلې وو. او

تر اوسه پورې هم د دغه تقسیم په یوسف منډ خصوصاً په سوات کښې جاري دے.[۳]

د شيخ ملي دفتر په حقله په لړ ردوبدل سره په مختلفو کتابونو کښې ليکوالو د خوشحال بابا مشهور شعرونه نقل کړي دي چې په دې رنګ دي.

په سوات کښې دا دوه څيزه دي جلي
يو مخزن د درويزه دے بل دفتر د شيخ ملي[۴]

بل ځائے داسې ليک دے:

دوه کاره دي په سوات کښې يو خفي دے بل جلي
مخزن د درويزه دے يا دفتر د شيخ ملي[۵]

بل کتاب داسې وائي:

دي په سوات کښې دا دوه څيزه که خفي دي که جلي
يو مخزن د درويزه دے بل دفتر د شيخ ملي[۶]

داسې هم ليک دي:

دوه کاره دي په سوات کښې که خفي دي که جلي
مخزن د درويزه دے يا دفتر د شيخ ملي[۷]

جېمز ډارمسټېټر په خپل کتاب "د پښتونخواد شعر هار و بهار" نومې کتاب کښې داسې ليکي:

په سوات کښې دي دوه کفره يوخفي دے بل جلي
يومخزن د درويزه دے بل دفتر د شيخ ملي[۸]

يو بل ليکوال شبر افضل بريکوټي هم داسې ليکلي دي چې په

سوات کښې دوه څېزه يا دوه کفره موجود دي.
هر څنګه چې دے خو مطلب ئې واضح دے. په سوات کښې کور په کور او دکان په دکان مخزن الاسلام موجود دے. خو د راورټي خبره چې ما پسې ټول سوات ؤلټوو خو د هېڅا سره دفترِ شيخ ملي په لاس را نۀ غلو. کېدے شي چې دا موجود وي انکار ترې نۀ شي کېدے. خو د هاغه وخت مشرانو چې کوم وېش کړے وو. کېدې شي چې پکښې د نورو قبائلو سره د زياتي له کبله دغه دفتر يلغمار شوے وي؟ دا واحد کتاب يا دفترِ شيخ ملي چې د وخت دوړې پرې ترښه پرتې دي چا رابښکاره نۀ کړو.
هم دا رنګه خوشحال خان خټک په يو بل ځائے کښې د ګرځينده وېش (خسنړے) په حقله داسې همک وېنا کړې ده. او وائي چې:

کال په کال د ملک په هسک کاندي باختونه
بې لښکرو په خپل ځان کاندې تاختونه۹

مطلب ئې دا دے چې د دې وېش په ذريعه به کال په کال د سوات خلقو د خپلو کورونو او زمکو نه لاس وينځلو. او بغير د څۀ جنګ جګړې به دوي په يو بل دهاړه کېدل.

"Report on the Tribes of Dir,Swat and Bajour Together with the Utman Khel and Sam Ranizai".

نومې کتاب ترجمه ئې "دا خاوره او دا خلق" دے. وېش داسې بيانوي:
"په نولسمه پېړۍ کښې د پيرنګي هند په ځينو ضلعو کښې د واکمنۍ د بدلون د نظام نخښې نخښانې معلومې شوي دي. هم دا

رنګه د (Tentonic Nark Temure) او د روس د نولسمې پېړۍ د کليو د سر دوباره تقسيم د نظام سره په کښې يو شان والے په نظر راځي.دا د زمکې د بيا بيا تقسيم نظام د پيرنګي افسرانو او د ملکيت د تکامل د ادارو د طالب علمانو د پاره د ډېرې دلچسپۍ وړ وو.ځکه چې په دې کښې هغوي ته د دې فکر په تائيد کښې معلومات په لاس راتلل. د کوم په بنياد چې دا وئيلې شي ،چې د ملکيت وړومبے شکل په هر ځائے کښې اجتماعي وو. او بيا وروستو ئې نجي شکل اختيار کړے دے.ولې بيا هم وېش هغه يوائنے نظام دے.چې د زمکې تقسيم په کښې د نسبونو يا خېلونو (قبضه نسبونه يا خېلونه تر ې مراد دے) په بنياد کېږي.

د مېک مېهن او ريمزے د رپورټ يو په زړۀ پورې اړخ دا دے. چې د وېش په حقله په ليکلي ډول يو بشپړ تفصيل وړاندې کوي.البته دا په تفصيل سره وئيل ګران دي.چې د دوي دا دعوىٰ تر کومه حده رښتيا ده.چې دا نظام د دير، سوات او باجوړ په ټولو قبيلو کښې موجود وو.ځکه چې اکثر شواهد صرف په يوسفزو کښې د دے نظام نخښې ورکوي.خو په دې خبره کښې شک نشته چې د بنو ضلعې د مروت نه علاوه نور چرته هم په پښتنو قبيلو کښې دې قسمه نظام وجود نۀ دے لرلے. د نولسمې پېړۍ په اخر کښې دا نظام ختم شو. د پېښور د ضلعې په يوسفزو کښې هم د وخت تېرولو سره ورو ورو دا نظام د مېنځه لاړو.اګر چې د ۱۹۳۱ء پورې د دے نظام اثار موجود وو. پيرنګي افسرانو نۀ غوښتل چې دا نظام جاري پاتې شي.ځکه چې د دې سره جنګ جګړې پېدا کېدلې او زراعت کښې چا خپله پيسه نۀ

لګوله. اوهم دا وجه وه چې په رات شوۀ ضلعو کښې دا نظام په مستقل تقسیم بدل کړو.٬٬١٠

کله چې د ملاکنډ د پولټیکل ایجنټ په سر پرستئ کښې په نومبر ۱۹۷۴ء کښې ٬٬رواج نامه ملاکنډ ایجنسي٬٬جوړه شوه او لیک ته اوسپارلې شوه نو په دې کښې هم د زمکې مالکان چې د جرګې ممبران وو. دوي ته اختیار ورکړے شو. بلکې د رواج نامې په مخ ۳۸ د ٬٬شفع٬٬د عنوان لاندې د سوات رانیزئ و بائیزئ لاندې لیک دي چې:

٬٬کوم قوانین یا رولز چې د شفع یا بیع سره متعلق دي او د سم رانیزئ دي. مونږه واربده. په دې باندې مو ډېر بحث وکړو. او ددې بحث مباحثې نه پس زمونږه رائې دا ده:

د شفع په حقله چې کوم رولز دي د دې سره زمونږه اتفاق دے. بغېر له ۲نه. د دې وجه دا چې زمونږ د سوات رانیزئ بائېزئ یوه ډېره تنګه علاقه ده او دلته خلق زیات دي. که غېر کاشتکار خلقو له معیار مقرر کړو نو زمونږ سره د پېسو یا روپو د نشت والي په وجه به مونږه په دغه کاشتکارو خلقو شفع او نۀ کړې شو. اودغه شان په قلاره قلاره به غېر کاشتکار خلق زمونږ نه په بیعه دغه زمکې واخلي.

لهذا مونږه غېر کاشتکار خلقو له معیار نۀ مقرر وو. او که چرې غېر کاشتکار خلق زمکې په بیعه واخلي نو د دوي خلاف به هر وخت شفع کېدې شي. خواه که په دې کښې سوونه کلونه ولې نۀ وي تېر شوي. او د نورو بیروني علاقو نه لکه د سوات، دېر او مردان خلق خو بیخي زمونږ په علاقو کښې په بیعه زمکې نۀ شي

اخستې. دا زمونږه پخوانے رواج دے. په رولز کښې دي. ددې فقرې اضافه وکړې شي. او د باقي رولز سره زمونږه اتفاق دے زمونږ. په علاقه کښې دي دا نافذ کړے شي. ۸
(د لیک نېټه : ۱۹۴۲/۱/۲۲)

ددې رواج نامې لیک اوس کوم طرف ته اشاره کوي.
یو غیر انساني او غیر مهذب معاشرې ته. او هغه دا چې ریاست پاکستان جوړ دے. او د رواج نامي د لیک تاریخ هم نزدې دے. خو بیا هم عمل دخل د دغه طبقاتو دے.
که چرې د رواج نامې د مخونو ۳۸ نه تر د ۴۲ پورې چې د Major W.R.Hay پولیټکل ایجنټ دیر، سوات او چترال تاریخ ۱۹۳۳/۱۰/۲۰ لاندې دستخط دے. د دغو بره خبرو مرسته کوي. او واړه اختیارات جرګې له ورکوي. نو مطلب دا شو چې د دې ځائے خلقو ته څومره شهري او انساني حقوق حاصل وو؟ د شفع کولو په ضمن کښې ډېرې واقعې دي. چې کوم غیر کاشتکار یا بې نسله یا وصلي خلق وو. د خپل کور د پاره اخستې زمکې د اصل قیمت په ځائے ورته څو چنده ګرانې ملاؤ شوې وې. وجه ئې دا وه چې په پوله یا برید به ورسره کوم د زمکې خاوند وو هغه ته ددې رواج نامې په مرسته دا حق حاصل وو چې شفع وکړي.
د یوسفزو د راتلو نه پس دوي د زړو قبائلو مقبرې هم تقسیم کړې. په خپله قبضه کښې ئې راویستې. هوارې ئې کړې.
د مقبرو د ورانېدو په حقله مېجر راورټي په خپل رپورټ کښې هم اشاره کړې ده. او شهباز محمد د دغه رپورټ د ترجمې نه اقتباس وړاندې کولې شي، چې په دې ډول دے:

" لکه د نورو مسلمانانو پښتانهٔ هم کم از کم د اديرو ډېر خيال ساتي. خو سواتيان د دغه مقبرو دومره قدردان نهٔ دي. لکه چې وړاندې ما بيان کړے چې د غرهٔ او کليو په مېنځ کښې چې کومه زمکه وي، دغه زمکه د غنمو او اوربشو د فصل د پاره وي. خو په دغه زمکو کښې څهٔ برخې مقبرو ته هم وقف وي. يو څو کاله وروستو دوي د کروندې دغه خپلې زمکې شاړې کړي. مقبرې واړوي او بيا خپل مړي په دغه شاړو زمکو کښې ښخوي. کېدے چې داد کروندې د زمکې د کمي په سبب وي خو بيا هم دا ډېر خراب رواج دے.

داچې ما ورته اشاره وکړه په داسې موقعو، په کلي کښې چې څومره قلبې وي، هغه راغونډې کړي. د اديرې د اړولو په حقله دا يو رواج دے چې وړاندې مړو ته يو اواز ورکوي، پښې راغونډې کړئ، درئې وړو، ايوه درغله، پس له دغې دوي ايوه شروع کړي او ټوله مقبره واړوي. البته دوي د ځينې هاغه شخصياتو ادب کوي کوم چې د څهٔ نه څهٔ حېثيت خاوندان وي. د دغه خلقو قبرونه دوي نهٔ ړرانوي. دوي د هاغه چا قبرونه هم نه ورانوي څوک چې د کافرو سره په غزا کښې شهيدان شوي وي. د دوي د دغه کار خو زما په مزغو کښې څهٔ وجه رانغله چې يره دوي په دې طريقه خپل قبرونه ولې چېړي. د دومره غټې ابادۍ د پاره خو د زمکې کمے دے. او يا د سواتي پښتنو حِرص زيات دے. د دوي خو چې څومره لګي، د هغې نه زياتې

داني دونې کېږي او په ډېر مقدار کنبې ئې بهر ته لېږي. يوه بله وجه زما په خيال چې د دوي کم عقلتوب دے او دريم سبب داچې د دوي بلها خپلونه دي. يو خپل د خپلو مړو په شان د نورو د مړو خيال نه ساتي. کله چې بيا وېش يا خسنے وُشي او دغه خپل بل ځائے ته لاړ شي نوي خلق راشي، هغوي بيا دغه مړي خپل مړي نه ګڼي او دغه مړو ته په تکليف رسولو هډو ستومانه کېږي نهٔ. زما په وړاندې خلقو مقبرې وارولې. چاچې ئې رهنمائي کوله، ما دهغوي نه تپوس وکړو" تاسو د مړو سره داسې کار ولې کوئ؟" جواب ئې راکړو، " دوي دې مکې ته لاړ شي" ددې نه پس به سړے د دوي نه څهٔ طمع وکړي"١٢

په وېش کښې د سېرۍ حېثيت څۀ دے؟

د شېخ ملي په تقسيم کښې سېرۍ ته هم لوئے اهميت حاصل دے.ځکه چې سېرۍ د دوو پښتنو قومونو د جائېداد د تنازعې د ختمېدو د پاره يوه هيله يا برېد وو.په دغه تقسيم کښې چې پښتنو ته کومه زمکه ورکړې شوې ده هغې ته دفتر (دوتر) وئيلے شي. او کومه چې مُليانو،سيدانو او يا نورو همسايوو له ورکړې شوې ده ،هغې ته سېرۍ وئيلې شي.دغه زمکې لا تراوسه په دغه نوم پېژندے شي .١٣

سېرۍ د دوتر نه جدا شمېرلې شي.زمونږ په علاقه کښې د سېرو بېلې بېلې طريقې او وېش دے.په دې کښې د جمات سېرۍ ،د حجرې سېرۍ،ډم سېرۍ،او د کسب ګر سېرۍ دي.چې د دوتر مالکانو به ورکولې.خود وخت تېرېدو سره دغه سېرۍ بيا د دوتر خاوندانو دوباره قبضه کړې.چې په کښې وهل ټکول هم شوي دي.د سېرۍ د بې وسه خاندان به په دوترې هېڅ چار نۀ رسېدو. او سېرۍ به ترې قبضه شوې.دغه شان د جمات سېرۍ هم د دوتر خاوندانو د جمات د مُليانو نه په زور او يا په عدالتي کېسونو وګټلې. د سېرۍ د مالکانو نه پکښې اکثر د دوتر خاوندانو سېرۍ هم ګانه کړې وې.چې بيا ورته واپس نۀ کړې شوې.څۀ خانداني سېرۍ دي .چې سيدانو ته ملاؤ شوې دي. خو دغه سېرۍ رابندې دي.د غرۀ شاملات ورسره نشته.زمکه لاندې د ميا او يا د سيد ده ، بره غر پرې د دوتر د مالک دے.زمونږ په علاقه کښې د سېرو مالکان ډېر کم دي.

د زمکو د وېش مدت څۀ وو؟

د شېخ ملي د دفتر د قانون لاندې چې په سوات کښې کوم تقسيم د خلقو ترمېنځه کېدو .د هغې معياد څلور ،اتۀ يا لس کاله وو.د ځينې ليکوالو د وېنا مطابق د دغې وېش نېټه په څه ځايونو کښې شل يا دېرش کاله هم وو. دغه عمل به په خسنې يا د چڅچو په ذريعه سرته رسولے شو. ۱۴

د هر يو کارهم شروعات وي او هم انجام !د وېش شروعات اوشول او اخرانجام ته اورسېدو. څومره چې ددې سيمې قومونه دي. نن دغه قومونه يو موټے او د ورورولۍ په پړي کښې پيئلې شوي دي. د يو بل په غم ښادۍ کښې ناسته پاسته کوي.په رشتو کښې هم تړلي شوي دي،او دخپلې سيمې په ابادۍ او ترقۍ کښې لګيا دي په شريکه کار کوي.

په دې ليک کښې څه د ذاتي عناد خبره نشته چې چا ته پرې څه صدمه او ياخفګان اورسي.تاريخ ليکل، شواهد راغونډول او يوه حقيقت پسندانه تجزيه پېش کول تاريخ دے.د تاريخي حقائقو نه چشم پوشي پکار نه ده .ځان اوچت حسابول او نورو قبائلو او قومونو ته په سپک نظر کتل هم د يو نقاداو څېړنکار خاصه نۀ ده.څوک چې خپل ملي اتلان داسې حسابوي چې نور قومونه يا قبائل د دوي د وړاندې هېڅ نۀ وو.او که وو ،نو بس د دوي دا اتلان وو!يا داسې مقالې وړاندې کول چې په ګاونډ کښې ورسره په سوونو کلونو ميشته قومونه نظر انداز کړي.داسې

ويډيو ګانې جوړې کړي چې يو راغلے مېلمه د کور واکدار ثابت کړي. او د پښتنو د وحدت باني وشمارلې شي!

که دلته يو سياسي بحث وڅېړونو نتيجه به ئې دا وي چې تر اوسه د پښتنو په نامه نۀ يو سيکولر، نۀ يو مذهبي واکداره ، نۀ خود مختاره او نۀ يوازاد رياست په وجود کښې راغلے دے چې پښتانۀ پرې من الحيث القوم وياړ وکړي.چې دا زمونږه په څه وخت کښې د پښتنو ملي واکداره رياست وو.نور دې په دې ثوک نۀ پښتانۀ او نۀ پښتو خوري.او نۀ دې د پښتنو په نوم ثوک خپل سياست له دوام ورکوي.ځکه چې دغه کسان هر ځائے او په هر نشست کښې بره پګړې ترلې ناست وي.او د پښتو ،پښتون د واک اختيار او د پښتو ژبې د ودې دعويدار را روان دي.د دې نه زما هر ګز يوې سياسي پارټي يا ګوند مطلب نۀ دے.بلکې هغه کسان دي ثوک چې په قلم د نورو پښتنو قبيلو سپکاوے کوي.

◈◈◈

نوټس

۱.د تاڼې کلي د خان خېلو او خان کور په مېنځ کښې د دوتر وېش په دې توګه دے:

ټل اول بازید خېل: دوتر ۱۴روپۍ

کنډاخېل: دوتر ۷روپۍ

جمېل خېل د پښتنو یوه کورنۍ ده چې بازید خېل دي او د جائېداد په ټل کښې حصه لري .دوتر ۷روپۍ

ټل دویم: علي خېل :دوتر ۱/۲ .۱۴روپۍ

بابا خېل: دوتر ۱۳.۱/۲روپۍ

ټل دریم ناګوال: دوتر ۱۴روپۍ

شېر خانه ،باز دره او زور منډۍ دوتر =۱۴ روپۍ مشترکه

څلورم ټل: خان کور :۱۴روپۍ

کټورخېل: دوتر۸روپۍ

شاه احمد خېل: دوتر۲روپۍ

ټوټـل افـراد: ۳۴۱۷ ،جـد امجـد :۱۴ ، کـل افـراد: ۳۴۳۱، مـړه ۹۵۲، ژوندي:۲۴۷۹

اجمالي دوتر خان کور او خان خېل تاڼه۱۱۲روپۍ

حسـابات اراضـي: ۱ روپـۍ= ۲۴ تـوري = ۳ ټنګـه، ۱ ټنګـه = ۸ تـوري= ۱/۳روپۍ

ادهېلۍ= ۱/۲روپۍ، ۲ادهېلۍ =۱روپۍ ،پاؤ=۱/۴روپۍ، ۴پاؤ = ۱روپۍ

-پروفېسر عالمګیر خان (عمر تقریباً ۷۰ کاله) ولد عظیم خان (خان کور) د هغه د ذاتي ډائرۍ نه، ۵ اکتوبر ،۲۰۱۸ء، مازیګر: ۵:۳۰ بجې ،د خان کور او خان خېل تاڼې کلي په حقله بالمشافه بحث او معلومات اخستې شوي دي.

-مشتاق علي ولد منصوب علي خان (عمر ۵۵ کاله) علي خېل تاڼه د دوتر په حقله معلومات او بالمشافه بحث ۱۵ جنوري. ۲۰۱۷ء

نوټس

۱.د تاڼې كلي د خان خېلو او خان كور په مېنځ كښې د دوتر وېش په دې توګه دے:
ټل اول:بازيد خېل: دوتر ۱۴روپۍ
كنډاخېل: دوتر ۷روپۍ
جمبل خېل د پښتنو يوه كورنۍ ده چې بازيد خېل دي او د جائېداد په ټل كښې حصه لري .دوتر ۷روپۍ
ټل دويم: علي خېل :دوتر ۱/۲ .۱۴روپۍ
بابا خېل: دوتر ۱/۲ .۱۳روپۍ
ټل دريم:ناګوال: دوتر ۱۴روپۍ
شېر خانه ،باز دره او زوړ منډۍ دوتر =۱۴ روپۍ مشتركه
څلورم ټل: خان كور:۱۴روپۍ
كټورخېل: دوتر۸روپۍ
شاه احمد خېل: دوتر۲روپۍ
ټوټل افراد: ۳۴۱۷ ،جد امجد:۱۴ ، كل افراد:۳۴۳۱، مړه ۹۵۲، ژوندي:۲۴۷۹
اجمالي دوتر خان كور او خان خېل تاڼه۱۱۲روپۍ
حسابات اراضي:۱ روپۍ= ۲۴ توري = ۳ ټنګه،۱ ټنګه = ۸ توري= ۱/۳روپۍ
ادهېلۍ= ۱/۲روپۍ، ۲ادهېلۍ =۱روپۍ،پاؤ=۱/۴روپۍ، ۴پاؤ = ۱روپۍ
-پروفېسر عالمګير خان (عمر تقريبًا ۷۰ كاله) ولد عظيم خان (خان كور) د هغه د ذاتي ډائرۍ نه، ۵ اكتوبر ،۲۰۱۸ء، مازيګر: ۵:۳۰ بجې ،د خان كور او خان خېل تاڼې كلي په حقله بالمشافه بحث او معلومات اخستې شوي دي.
-مشتاق علي ولدِ منصوب علي خان (عمر ۵۵ كاله) علي خېل تاڼه د دوتر په حقله معلومات او بالمشافه بحث ۱۵ جنوري، ۲۰۱۷ء

۲. کرسي نشين /ماجب اخستونکي: هغه خلق وو څوک چې د برطانوي حکومت په امورو او په سياسي لوبه پوهه وو هم دغو خلقو ماجبونه اخستل. تفصيل ئې دا دے:

په دير (کوز دير او بره دير)، سوات(شانګله او بونېر) او ملاکنډ کښې ماجب اخستونکي ۱۳۵ او په چترال کښې ۱۰۴ کسان وو.

(WHO's WHO (CONFIDENTIAL) in the Dir, Swat and Chitral Agency, Corrected upto 1st September 1933, Government of India Press, New Delhi, 1933, pp.3-28)

په دير (کوز دير او بره دير)، سوات(شانګله او بونېر) او ملاکنډ کښې ماجب اخستونکي ۳۳۲ او په چترال کښې ۱۰۹ کسان وو.

(WHO's WHO(CONFIDENTIAL), Corrected upto 1st June 1937, pp.1-169)

په دير (کوز دير او بره دير)، سوات(شانګله او بونېر) او ملاکنډ کښې ماجب اخستونکي ۲۰۲او په چترال کښې۷۷ کسان وو.

(WHO's WHO(CONFIDENTIAL),Corrected upto 1st July1950,pp.1-151)

په دې کښې څهٔ مُليان ، ميانګان، صاحبزادګان ، اخوند زادګان وغېره او څهٔ پکښې د سرخ پوش تحريک (Red Shirt Movement) سره تعلق لرونکي کسان هم دي.چې د دوي نومونه پکښې شامل دي.خو دغو کسانو ته ماجبونه نهٔ ورکړې کېدل.او د هغې وجه دا وه چې برطانوي حکومت دغو کورنو او کسانو ته د شک او د خپل دښمن په نظر کتل.

په دې حقله د مردان سره تعلق لرونکي ياسين اخون د ۱۸۹۵ء په غزا چې کومه چاربېته ليکلې ده هغه د تاريخ يوه حصه ګرځېدلې ده.ياسين يو بې تعليمه شاعر وو. د مردان د انګرېز ډي سي سره چپړاسي وو.په ۱۹۰۱/۹/۱دغه چاربېته دهٔ په بل چا په کاغذ ليکلې ده.کوم منظر چې د جنګ د ياسين د وړاندې تېر شوے وو.او چا چې پکښې کردارونه ادا کړي وو.د هغې تفصيل ياسين په دغه چاربېته کښې خوندې کړے وو.پښتو اکېډمي پېښور په کال ۲۰۰۸ء کښې دغه چاربېته شائع کړې ده.په

"MILITARY REPORT AND GAZETTEER ON DIR, SWAT AND BAJAUR PART-I (Second Edition) GENERAL STAFF,INDIA,1928 CALCUTTA GOVERNMENT OF INDIA PRESS,1928".

رپورټ کښې چې کومو خلقو ته دغه مراعات او ماجبونه اخستل په مخونو ۱۰۵ ، ۱۰۶ د ټرائبل سپېشل الاونسز په مد کښې د ورکړې تفصیل درج دے. او دغه شان همېش خلیل ،د چاربېتې پخواني شاعران، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ،چاپ:۲۰۰۸ء ،مخونه ۷۸۸ – ۷۹۹ او ګلشنِ اشعار افغاني مخ ۷۲باندې هم د ماجب اخستونکو تفصیل ورکړے شوے دے. زماسره چې کومه د لاس لیکلې شوې چاربېته ده.دغه د څۀ لږ ډېر ردو بدل سره د اکېډمۍ د چاپ شوې چاربېتې نه په الفاظو کښې او د افرادو په نومونو کښې بدله ده.

د حضرت مولانا عبدالوهاب مانکي صاحب ذکر چې شاعر یاسین اخون د مردان په خپله چاربېته کښې کړے دے.د هغې رد سعید شاعر په "فتح بشارت" نومې کتاب اشاعت ۱۳۲۶ھ [۱۹۰۶ء] مخونو ۱ – ۲ او ۷۰کښې کړے دے.چې دا په مانکي صاحب بهتان دے.د دغه کتاب نه د نمونې د پاره یو څو اشعار وړاندې کولے شي.

په هر ملک په هر وطن او کور په کور
بد وئیل به صاحب جې ته هر مخ تور
جاهلان د مسئلې نه ناخبر وو
په ازار د صاحب جي کښې سراسر وو
او حال دا چې ملاکنډ کښې شېخ یمین
څوارلس شلې کافر ان کړه زېر زمین
په شمار شپږ شپېته له کاملو متقیانو
شهیدان شوله د صاحب د مریدانو
هم موره کښې په زرګونو ډېر لښکر
شېخ یمن وو کښېنولے زبر زبر
د ملاکنډ جهاد په امر د صاحب

يمين کړے وو خبردار شه عجائب
او يمين و خاص خادم د صاحب وروره
په معروف نهي منکرو لور د لوره
په اجراء د شريعت کښې مقرر وو
له طرف د صاحب جي په سمه غر وو
او جاهلو به وئيل مانکي صاحب
غزا نۀ کړي له فرنګ اخلي ماجب

وارړندې په مخ ۷۰ داسې وائي:

که خان خېلو ددې ملک نه کړو راپورته
او به نۀ ګوري فرنګ زمونږ دې لور ته

که خان خېل ئې د تانې شو مددګار
پس په سوات کښې به داخل شي سور کفار

د فتح بشارت اصلي او زوړ چاپ زما سره دے. د کاپۍ په مېنځ وميانه کښې د څه مخونو کمے هم دے.بله اهمه خبره داده چې حضرت مولانا عبدالوهاب مانکي صاحب په داتائے سرحد کښې په مخ ۱۲۷ چاپ جولائي ۲۰۰۰ء کښې تاريخ ولادت ۱۸۰۲ء او تاريخ وصال ۱۹۰۴ء دے.نو ښکاري داسې چې فتح بشارت د مانکي صاحب د وفات نه پس ليکلے شوے دے.(محقق)
۳:د دوه اړخيزو معاهدو او ملګرتياګانو نه علاوه څۀ شے پنځوس زره بابوزي د زرو پښتنو مالکانو خلاف راپاڅېدو نه منع کوي؟يا څۀ شے شل زره د تانې اوسېدونکي د پنځو سوو پښتنو مالکانو خلاف راپورته کېدو نه ساتي.يو جواب ئې دا کېدے شي."د مجبورونکي اختيار استعمال د زور داستعمال په امکان يا په استعمال د کرائې د سپاهيانو[د بره تنظيمونو په خلاف وسله وال ګروپ] په شکل کښې چې خانانو ساتلي دي." (اکبر ايس احمد،

ډاکټر میلینیم او کرزما د سوات په پښتنو کښې، ۱۹۷۸ء ،مخ ۱۱۲)

۴.د دفتر شیخ ملي په حقله مېجر راورټي وائي چې:

"په اګست کال ۱۸۵۲ء کښې ما یو هوښیار قندهارے سړے* اولېږو. د ے سړي زما سره د څوکالو نه کار کولو. دۀ په پښتو ژبه زما د مقصد پوره کولو تر حده ښۀ پوهه لرله . ماته دا خبر راکړے شوے وو چې د دفتر شیخ ملي یو نقل د تاني د مشرانو سره دے. تانه د سوات یو ډویژن دے دا کتاب د یوسفزي قبیلې په تاریخ ، د سوات او پېښور د شاوخوا په سیمو د یوسفزو د قبضې په حقله دے."

[* قندهارے سړے: مولوي محمد اسماعیل قندهارے د انګرېزانو سره معروف سړے وو. زما په یاداښتونو کښې راغلي وو چې دے په ۱۸۳۸ء کښې سندهـ تـه لاړ.د راورټي د استاذانو سخه وو.او د ژوند تر پایه د انګرېزانو د پښتو معلم وو.د هېوز او پادري لېونتال له پاره ئې د عیسوي مذهب ځیني کتابونه هم په پښتو کړل. او په ۱۹۱۳ء کښې ؤمړ.(زلمے هېواد مل ، د پښتو نثر اتۀ سوه کاله ،مخ ۷۰۰)]

۵.ګوجرو ته خو تر اوسه په دفترِ شیخ ملي کښې حصه نۀ ده ملاؤ شوې.خو چې ارواښاد محمد نواز طائر صیب دا اشاره چاته کړې ده.کېدے شي په تانه یا په بل کلي کښې دا قسمه خلق وي؟

۶. قیام الېل اګرچې ډېر لوئے صفت دے.خو د حېرانتیا خبره دا ده "د تواریخ حافظ رحمت خاني په مخ ۵۱، ۵۲ داسې لیک دي چې:

د دلازاکوغل غدوي به همېشه راپورېوتل یوسفزي نور لاچار شو. اخر ملک احمد و خیل تومن ته ووئیل چې تاسو هم څوک یوه شپه ور پورې وځئ.د دلازاکو مال موېشي پټ راولئ شائد چې په داسې سبب څۀ حذرو کا. له بدو دست بردار شي،نور یوه شپه یوسفزو غلۀ ورپورېوتل وراغلل.دملک محمد خان دلازاک چې په هغه وخت کښې د دلزاکو نامي سردار وو خاصه د سورلۍ ښاغلے اس ئې پرېکړ را ئې ویستو. شیخ ملي اکازي مندنړ لره ئې ورکړ.شیخ ملي به همېشه په دغه اس سورېدو او د پیادؤ سره څوکېداري به

ئې کوله"

۷.صائم الدهر: د ډېر لوئے ولي او صوفي کار د ے.خو عجیبه خبره ده چې زمکې ئې د زړو قبائلو نه په زور ضابطه قبضې کړلې تقسیم ئې په خپله خوښه وکړو. او د شپې ښکته پورته کېدل او روژې نیول څۀ نااشنا خبره او کار د ے.مونږ داسې یو مثال د نبی ﷺ او د اصحابو کرامو په دور کښې هم نۀ د ے لیدلے.بله دا خو عجیبه تقسیم وو چې زاړۀ خلق نۀ یهودیان وو او نۀ هندوان وو. خالص مسلمانان او پښتانۀ وو.

◈◈◈

حوالې

۱.اکبر ايس احمد ، ډاکټر ، "ميلينيم او کرزما د سوات په پښتنو کښې "،ترجمه سيد تقويم الحق کاکاخېل.حبيب الرحمان (قلندر مومند)، ۱۹۷۸ء ،پبلشر ډايريکټر پښتو اکېډمي پېښور ،مخونه ۲۵ = ۲۷ ، ۳۷ – ۳۸ ، ۶۰ – ۶۱، ۷۰ – ۷۹

۲.باچا ،شير علي، "کسان دفتر "، عامر پرنټرز پېښور ،جنوري ۲۰۱۷ء،مخونه ۴ –۳۵۱

۳. معظم شاه،پير، "تواريخ حافظ رحمت خاني "، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ،مخونه ۲۵-۲۶

4. Ahmad,Shakeel,Dr, "*Swat Nama of Khushal Khan Khattak*"Publisher:Pashto Academy University of Peshawar, Printed date.Nil, p.94

۵.بريکوټي ،شبر افضل خان "مولانا اخون درويزه "، ۲۰۱۰ء ،مخ ۱۴۳

۶.يوسفزے، اباسين ، "د پښتونخوا باني ملک احمد بابا "، ۲۰۱۴ء، مخ۱۵

۷.سلطان روم ، ډاکټر ، احمد فواد ، پروفېسر، "ترجمہ: رياست سوات " (۱۹۱۵ءتا ۱۹۶۹ء)، ۲۰۱۳ء ، مخونه ۱۹۳-۱۹۷

۸.مستېټر ،جېمز ډار،د پښتونخوا د شعر هارو بهار،خپرونکي:پښتو ټولنه،مهتمم حبيب الله رفيع د ۱۳۵۲ء کال د زمري ۱۵ ،مخ ۱۹۱

9.Ahmad,Shakeel,Dr,"Swat Nama of Khushal Khan Khattak"Publisher:Pashto Academy University of Peshawar, Printed date.Nil,, Chapter:1, p.5

-افضل خان بنِ اشرف خان بنِ خوشحال خان "تاريخ مرصع "، مئ ۲۰۰۴ء

، مخ ۳۷۸

-Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN", 2001, pp. 205-210

- یوسفزی ،جمیل، "یوسفزئ تهذیب"، ۲۰۱۲ء ، مخ۱۷۲

۱۰.خالق زیار، ډاکټر، دا خاوره او دا خلک، ترجمه:

" Report on the Tribes of Dir, Swat and Bajour Together with the Utman Khel and Sam Ranizai"

پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ،جنوري ۱۹۹۲ء، مخونه ۷ – ۱۱

۱۱. خان، ظفر علي خان(پي سي ایس) ، "رواج نامه ملاکنډ ایجنسي"، پبلشر منظور عام پریس پشاور، نومبر ۱۹۲۴ء، مخ ۳۸ ،د لیک نېټه: ۲۲/۱/۱۹۴۲

۱۲.محمد ،شهباز (ترجمه پښتو) "سوات ۱۸۵۸" ۲۰۱۲ ء ، مخونه۵۲- ۵۳

-An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan, to the source of the Suwat River's with an Account of the Tribes inhabiting those valleys. By Capt; H.G.Raverty, 3rd Regiment Bombay N.1,
Journal of the Asiatic Society of Bengal Vol.XXXI No.I to V, 1862 .pp. 53-54

۱۳.محمد ،شهباز (ترجمه پښتو) "سوات ۱۸۵۸" ۲۰۱۲ء، مخ ۵۵

-Sultan-i-Rome, Dr, LAND OWNERSHIP IN SWAT: HISTORICAL AND CONTEMPORARY PERSPECTIVE. September 2-4, 2002, pp.1-13

۱۴.محمد ،شهباز (ترجمه پښتو) "سوات ۱۸۵۸"، ۲۰۱۲ ء ،مخ۶۰

-درویزه ، اخوند "تذکرة الابرار والاشرار" (فارسي) ، مخ ۱۰۶

-معظم شاه، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خاني"، دویم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ،مخ ۲۷

-اکبر ایس احمد، "ډاکټر، میلینیم او کرزما د سوات په پښتنو کښې"، ۱۹۷۸ء ،مخ ۷۲

-پنی ،شبیر بهادر خان، ډاکټر، "تاریخ هزاره"، اګست ۱۹۲۹ء، مخ ۳۰۰

-انعام الرحیم ،ډاکټر، ایلن ویارو ،ترجمه: فضل معبود، "سوات سماجی جغرافیہ قبائلیت اور جدیدیت کے درمیان". اګست ۲۰۰۵ ء ،مخونه ۲۴او ۹۸

-یوسفزی، "جمیل، یوسفزئ تهذیب"، ۲۰۱۲ء ،مخ۲۸۴

-خان، محمد اصف، "تاریخ ریاست سوات" سوانح حیات جناب میا ګل ګل شهزاده، [۱۹۵۸ء اشاعت اول]، مخونه ۴۲-۴۷

-محوله بالا ،اشاعت پنځم، ۲۰۱۲ء، مخونه ۳۵-۳۶

-معظم شاه، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاریخ" ،ترتیب و حواشی خان روشن خان، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخونه۳۲۲-۳۲۸، ۲۲۸-۲۷۱

-MILITARY REPORT AND GAZETTEER ON DIR, SWAT AND BAJAUR PART-I (*Second Edition*) GENERAL STAFF, INDIA, 1928. CALCUTTA GOVERNMENT OF INDIA PRESS, 1928.pp.101-102.

-رضا ،محمد افضل، "د پښتو د نثر تاریخ "دریم ځل چاپ، نومبر ۲۰۱۰ء، مخونه ۱۰۷ – ۱۱۷

-مومند ،م ج ،سیال "د پښتنو قبیلو شجرې" ،فروري ۲۰۱۵ء، مخ ۷۵

-طائر ،محمد نواز، "د ادب ترش دویمه برخه ادب ساز"، پبلشر: محکمه ثقافت خیبر پښتونخوا ،۲۰۱۰ء ،مخ ۹۵

.محمد حیات خان، خان صاحب بهادر "تواریخ حیات افغانی"، ۱۸۶۷ء

،مخونه ۱۹۵-۱۹۶

-سواتي، سرن زېب خان، "تاريخ رياستِ سوات" ، ۱۹۸۴ء ، مخونه ۶۱-۶۲

- بلاله، عبدالقيوم، حافظ خېل، "داستانِ سوات"، مارچ ۲۰۱۰ء، مخ ،۱۱

-عبدالرشيد ،ميانجوخېل، "تذکره علماء کبار و مشائخ عظام"، صوبه سرحد پاکستان ،به اهتمامِ ميا ظاهر شاه قادري، مکتبه غوثيه مدين سوات ،س ن، مخونه ۵۴ –۵۵

-باغی، انور بېگ "د بونېر تاريخ "، اشاعت سوم ۲۰۱۷ء ،مخ ۴۹۲

-اخون خېل، حېدر علي، "بونير خدوخېل تاريخي ،تحقيقي او ثقافتي جائزه" ،۲۰۰۸ء ،مخونه ۱۱۹-۱۲۴

-رومان، انور، پروفېسر، ترجمه، "پٹھانوں کے رسم ورواج اور تاریخ" "Pakhtoon Wali" JAMES W.SPAIN ، ګوشه ادب جناح روډ کوئېټه ،پاکستان، ستمبر ۱۹۸۸ء ،مخ ۱۲۴

◈◈◈

لسم باب

هغه پښتانهٔ او نور متفرق قومونه چې په افغانستان او خيبر پښتونخوا کښې اوسېږي

څنګه چې په تېرو بابونو کښې تر خپله وسه پورې د پښتنو د اصل نسل د منبع معلومولو پله تر څه حده هڅه شوې ده. خو په جار او دعوې سره دا نهٔ شي وئيلے چې پښتانهٔ يا نور قومونه څوک دي؟ څېړنکارو پرې تر د خپله وسه پورې لوئې سترې کړې دي. او لا لګيا دي.

دلته په هغه قبائلو يا قومونو بحث کولے شي. کوم چې ليکوالو کله پښتانهٔ کړي دي او کله ئې غير پښتانهٔ کړي دي؟ کله ئې د يو شاخ يعنې د يوې قبيلې ذيلي شاخ ګرځولے دے. او کله د بلې !؟ لکه څنګه چې د شلماني قام مسئله ده.

پوهنوال محمدٌ عمر روند مياخيل د دغې قبائلو فهرست داسې ورکړے دے. کوم چې په افغانسان کښې استوګنه کوي.

(۱) عرب (۲) بنګښ (۳) بابړ (۴) تاجک (۶) پشه يا پشاوي (۶) خنجاني (۷) برکي يا ببرکي (۸) فرملي (پرملي يا برملي) (۹) سرديهي (۱۰) هزاره او ايماق قومونه (۱۱) کياني (۱۲) چغته (مغل قوم) (۱۳) قزلباش (۱۴) ازبک قوم (۱۵) دېګان قوم [دهکان ، دهقان ، دهګان] (۱۶) هندکي قوم (۱۷) هندوان (۱۸) سواتي قوم (۱۹) شلماني قوم (۲۰) تبرائي قوم (۲۱) لبزګي قوم

(۲۲) کشـميري قـوم (۲۳)د کردانـو قـوم (۲۴) ارمنـي قـوم(۲۵) قلمـاق قـوم (۲۶) حـبش قـوم (۲۷) يهـود قـوم (۲۸) دولتشـاهي قوم(۲۹) بلوڅ (بلوچ) قوم (۳۰) متفرق قومونه.۱

مېجر راورټي د څۀ پښتنو قبائلو په حقله داسې وائي چې:

" I noticed in some of the statistics of the Do-Abah district, furnished in the "Settlement Returns" that,in classing the tribes inhabiting it, there are "Pathans," "Moghals," "Dalazaks," :Mohamand," "Gigianis,"etc. This is a strange inconsistency, for it would lead the unwary to imagine that what are here termed moreover, that they are not Afghan. Perhapes they are "Aparytee" or "Satagydae," according to the newest theory; what they may be six months hence who shall say? "Saggids," perhaps."(2)

"د دوابې په شمارياتو کښې زما د نظر لاندې راغلي دي.کوم چې په "Settlement Returns" کښې ورکړے شوي دي.چې کوم قبائل په دوآبه کښې ووسي،د هغوي درجه بندي داسې کولې شي.

دلتـه پټانـان (پښـتانۀ) ،مُغل،دلازاک،مهمنـد (مومنـد)او ګګيـاني وغېـره دي.دا يـو عجيبـه غېـر مسـتلقه (پـه يـو ځـائے نـۀ اودرېدونکي) خبره ده. چې ددې حقيقت نه غېر واقف (خلق) بـه پـه دې سوچ مجبور کړے شي چې دلته (په شمارياتو کښې) (مهمند/ مومند) د ګګيانو او دلازاکو نوم ورکړے شوے دے.چې هغـوي پښتانۀ (پټانان) نۀ دي.او نور داسې دي، چې هغوي وائي چې دا متذکره قبيلې پټانان (پښتانۀ) دي. او علاوه د ددې نـه نور داسې دي،چې هغوي وائي چې دا پټانـان نۀ دي.شـائد چې دوي اپريتـي (افريدي) يا سَتَګدي د نـوي تهيـورۍ (نظريـې) مطابق دي،څوک

څهٔ وئيلې شي. چې د نن نه شپږ مياشتې پس به دوي بيا څهٔ وي؟شائد "سَکدي".

د دلازاکو په حقله بيلو (Bellew)داسې وائي چې:

" Very little is known regarding the origion of the Dalazak people.There are grounds,however,for believing that they were originally of Scythic origion, and came into their position here with the great irruption of the Jat and Katti, which in the fifth or sixth century drove the native Gandarians to emigrate westward to the Helmand valley".(3)

" د دلازاکو د اصل نسل په حقله ډېر کم معلومات دي.ليکن په دې خيال باندې د ډېرو خلقو دا عقيده ده چې دلازاک بنيادي طور باندې سائتهين قوم دے.او دلته کښې دلازاک د جاټ او کټيانو (کټي) قوم په حبث د يو حمله اور په شکل راغلو.هغوي په پنځمه يا شپږمه صدۍ کښې ګندهاريان چې د دې ځائے ،ځائي اوسېدونکي وو.هغه ئې د وادۍ هلمندنمر پرېواته لور ته په تلو مجبوره کړل".

راورټي وائي:

"I held a conversation with some dalazaks at a place east of Hazrao. I said: "It has been asserted that the Dalazaks are of 'Arab descent and not Afghans.' They replied: 'None but the ignorant could have made such a statement. We are Afghans, and are of the Kir-rai sept (i.e., karlarnis).Akbar Badshah caused the greater part of the tribe to be removed into Hindustan from this district, and settled them at and around Shuja-pur.' I inquired: 'Are they still to be found there? They replied: 'Yes, some are still to be found there, but the tribe has become much depressed. " (4)

"د حضرو په مقام ما د دلازاکو سره يوه مذاکره وکړه.ما ورته اووې چې تر اوسه پورې دا خبره کېږي .چې دلازاک عرب النسل دي. نه چې افغان؟ دوي (دلازاکو) جواب راکړو چې دا بيان به صرف او صرف بې خبرو او جاهلو خلقو جوړ کړے وي. مونږه افغان يُو او د کرارۍ (کرلاڼي) نسل نه يُو. ددي ضلعي نه اکبر بادشاه ددي قبيلې زياته حصه هندوستان ته بوتله.او د شجاع پور خواوشا ته ئې اباده کړه.بيا ترې ما پوښتنه وکړه ايا دلازاک يا کرلاڼي قوم اوس هم هلته موندلے کېږي؟.دوي جواب راکړو او.اوس هم څۀ کسان هلته ملاوېږي.ليکن دا قبيله ډېره زياته تتربتر شوې ده".

“Babar Bâdshah refers to the Anbhar and Pun-yalaey route in his “Tuzuk” under thye year 925 H. (1519 A.D.).He was encamped, he says, at the junction of the Bajawr and Panj-Korah rivers,and, having held council with the Dalazaks Afghans(he always styles them Afghans,because he knew who had what they were ,he was advised to proceed by that route,cross the river of Suwat above the Ash-Naghar district, and invade the Sama’h of the Yusufzis”.(5)

بابر بادشاه په خپل کتاب "تزک" کښې انبار او د پنڅيالۍ لار ته اشاره کوي.په کال ۹۲۵هـ او ۱۵۱۹ء کښې په دې لار راتېر شوے وو.

هغه د باجوړ او پنجکوړه سيند په ملاپ باندې پړاؤ اچولے وو. او د دلازاک افغانانو سره ئې د صلاح مشورې وکړې (بابر همېشه دې خلقو ته افغان وائي او هغه ته دا پته وه چې دا خلق

څوک وو)

هغه ته دا نصیحت وکړے شو چې په دغه لاره ځه او د هشتنغر د ضلعې لړ بره په دې سیند [سوات سیند] پورې ووځه او د یوسفزو په سمه باندې حمله وکړه ".

"We may safely conclude that, if the Dilazaks had been either "Budhists," "Scythians," "Rajputs," or "Sikhs," Khan Kaju would not have styled them Afghans. As a proof of the hazy and uncertain ideas entertained respecting the Dilazaks and "Pathans" generally, we have merely to turn to a Settlement Report on the Agror district of Hazarah in the Punjab, by Captain Wace, who gives the following list of "Pathan" tribes or clains in it.

"***PATHANS***"

Akazai.	Utmanzai.	Lodi.
Hassanzai.	Gormazai.	Kamalzai.
Chagharzai.	Yusufzai.	Toghai.
Mada Khel	Mamu Khel(sic)	Khattak
Bunerwal	Akhund Khel(sic)	Aziz Khel
Bangakh(sic)	Khodo Khel	Durani
Shalmani	*Dilazak*	Miscellaneous, etc.etc."

Here it will be noticed that he puts now the Shalmanis as Afghans or Patans [Pathans], which they are not, but he is correct with respect to the Dilazaks".(6)

"مونږ اوس په ډېر احتیاط ددې خبرې دا نتیجه راوښکلې شو که چرې دلازاک"بدھ مذهب" "سائتهین" "سکهان" وے نو خان کجو به دوي ته افغان نهٔ وے وئیلے.د دلا زاکو او پټانانو په باره کښې چې کوم تت او ناقابل یقین خیالاتو له که مونږ عام په ذهن

كښې ځائے وركوو ،موږ له پكار دي چې په پنجاب كښې د هزارې اګرور ضلعې د سيټلمنټ رپورټ ته توجه وكړو.چې كيپټن ويس (WACE) كړے وو.هغه په دغه رپورټ كښې د پټانانو قبيلو او خېلونو لاندې وركړے شوے فهرست وركړے دے.

پټانان [پښتانۀ] "PATHANS"

اكازی، اتمانزي، لودي (لودهي)، حسن زي،ګورما زي ،كمال زي،چغر زي، يوسفزي ،طوغی (توغي)، مداخېل ، ماموخېل ،خټک ،بنېر وال ،اخوند خېل، عزيز خېل ، بنګښ ،خدوخېل ، دراني ، شلماني ، دلازاک او متفرق واړه قومونه.

دلته كښې دا خبره د نظره تېرېږي چې هغه شلمانو ته افغان يا پټانان وائي كوم چې هغوي حقيقتًا نۀ دي.ليكن د دلا زاكو په باره كښې د هغوي وېنا دُرسته (ټيک) ده".

خېر الحكيم حكيم زے داسې ليكي چې دغه پښتانۀ او غېر پښتانۀ قومونه څوک دي؟

"د محمود غزنوي١ په لښكر كښې هر قسمه پښتانۀ او غېر پښتانۀ افغانان وو.لكه افريدي،روغاني، شلماني، ،وردګ ،سركاني،مشواني، صافي،او مُغل چې په ګوجرو كښې شمار شوي دي.اوس هم ځان ته سواتيان وائي.خو هبځ په كښې ځان ته متراوي سواتي نۀ وائي.٧

◈◈◈

نوټس

[1] دلته د محمود غزنوي په حقله هم څه ثبوتونه وړاندې کولې شي، چې آيا محمود غزنوي سوات ته راغلے وو او که نۀ ؟ پروفېسر محمد اختر په خپل کتاب " تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں اشاعت ۲۰۰۲ء په مخ ۱۳۴ د هغه د راتلو حال داسې ليکي:-

د" تاريخ رياست سوات" اکثر ليکوالو د رياست سوات د تاريخ د ليکلو په وخت"قبرات" ئې وادي سوات تصور کړے دے.چې دا بالکل غلطه ده. محمود غزنوي په سوات ښخې حمله نۀ ده کړې.او نۀ د هغه د حملې په وخت د سوات يو حکمران په رضا ورغبت اسلام قبول کړے وو.اونۀ ئې خپلې رعايې ته د اسلام قبولولو وئيلې وو.

په ناردين کښې هر قسم مېوې کېدې او د مېوو په کښې ډېر باغات وو.هوا ئې هم يخه وه.لکه څنګه چې د سوات ده.خو په دغه وخت کښې په سوات کښې دومره باغونه نۀ وو.صرف د خوراک څښاک فصلونه په کښې کېدل.خو دا يوه شالي زاره علاقه وه.اوس ناردين سوات تصور کول د لاعلمۍ وجه ده.اسکندر اعظم په باجوړ او سوات حمله کړې وه.او بيا په مهابڼ (مهابن) د مهم د پوره کولو په وخت ئې په امب (Embolina) کښې کېمپ لګولے وو.مګر يونانيانو د سوات د مېوو او بدھ مت د خانقاهونو او د هندوانو د مندرو ذکر نۀ دے کړے.

هم دغه شان سيد عبدالغفور قاسمي صيب په خپل کتاب "اعلیٰ حضرت حکمرانِ رياستِ سوات کے سوانح حيات" ۳۰ جولائي، ۱۹۳۹ء په مخ ۱۲ هم دې خبرې ته اشاره کړې ده چې:

"حضرت پير خوشاب غازي چې د سلطان محمود غزنوي سپه سالار وو. هغوي د سوات د اخري راجاګيرا قلعه فتح کړې وه.او د دغه غرۀ په خوا کښې دفن دے".

"پروېش شاهين په خپل کتاب د "د سوات ګلونه" مخ ۷۵ باندې د پېر خوشحال ذکر کړے دے. کوم چې شهباز محمد په خپل کتاب سواستو کښې په مخ ۶۷ باندې او سلېمان شاهد په ګمنام رياست مخ ۵۶ حصه اول اشاعت ششم ۲۰۱۵ء کښې پير خوشحال ياد کړے دے".

د سوات په تاريخ کښې د محمود غزنوي د وخت داسې څۀ ليکلے تاريخ نشته چې د هغه د حملو يا د هغه د جنګي سپه سالارو واقعات په کښې درج وي. په دې لړ کښې څېړنکارو له د نورو څېړنو کولو ضرورت دے. (محقق)

حوالې

۱. روندمياخېل، محمد عمر، پوهنوال "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې" اشاعت ۱۳۸۳ لمريز، مخونه ۱۲- ۱۳

2. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" , 2001.p.217

3. Bellew, Henry Walter, "The Races of Afghanistan: being a brief of the principal nations inhabiting the country, (1880)"(2008) p.65

4. Raverty, Maj; H.G. "NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN", 2001.p.35

5. See ibid., p.184.

6. See ibid., p.225.

۷. حکيمزے، خبر الحکيم، "د برسوات تاريخ، نسلي، سياسي او سماجي جوړښت". دسمبر ۲۰۰۷ء، مخ ۱۷۴

يولسم باب

د شلماني قام استوګنې او پېژندګلو

په نړۍ کښې چې څومره اقوام استوګنه کوي نو د دوي به خوامخوا چرته د استوګنې ځائے وي.ضروري نۀ ده چې دغه قومونه يا قبائل دې هم هلته وي.کوم ځائے چې دوي زېږېدلي وي؟د وخت سره سره به يا دغه قومونه د قبائلي جنګونو په وجه او يا د معاش د پاره د خپل مورني ټاټوبې نه تلي وي.

هم دغه شان په دغه قبائلو کښې يوه قبيله د شلماني قام هم ده.که د تاريخ د پاڼو پلټنې وکړې شي نو د يوې قبيلې د استوګنې بنيادي معلومات به چرته چا ته په صحيح توګه لا په لاس نۀ وي ورغلي.بلکې په خپل قياس او يا په هغه ليکونو او معلوماتو بنياد ږدي او تاريخ به رقم کوي ،کوم چې دستياب وي خوا که هغه پښتانۀ ليکوال دي او که مستشرقين دي.بعضې ليکوالو خو ځينې قبيلې د مېنځه وړي دي.په نوم شته خو څۀ تاريخي ليک يا ثبوتونه ئې نشته دے.چې په تاڼه کلي کښې هم څۀ قبيلې موجودې دي.

د دې څېړنې بنياد هم د نورو ليکوالو په ليک او په خپله هغه ځايونو ته په تګ او د شلماني قوم د خلقو سره په بحث و تمحيص اډانه لري.

په دې باب کښې هغه ځايونه په ګوته کولے شي کوم ځائے چې شلماني استوګنه لري.او يا ئې استوګنه کړې ده. څۀ کلي داسې هم دي چې د شلمانو سره منسوب دي.خو شلماني په کښې نشته.

دلته د شلماني قام داستوګنو په حقله د ځينو تاريخي کتابونو اقتباسات رانقل کولے شي:

د هزاره ګزټئير ۱۹۰۱ء مطابق د" پټهان قبائل" د عنوان لاندې ايچ – ډي واټسن ليکي چې:

" شلماني/ سلېماني په پهلړه کښې ۴۵، په امب کښې ۲۲، په مانسهره کښې ۲۷۱، په هري پور کښې ۹۷۸، په ايبټ اباد کښې ۵۴، ټولې ښځې ۲۵۵ او سړي ۷۵۵ دي.د دوي کُل شمېر ۱۴۱۰ جوړېږي.دا شمېر د هزارې ضلعې په مختلفو تحصيلونو او رياستونو کښې وو".۱

دغه شان په هزاره ګزټئير کښې د سلېمان يا شلماني په حقله داسې ليک دي چې:

"په دوي کښې ډېر قابل ذکر سلېمان [سلېماني] يا شلماني دي.دوي د اتمانزيو سره نزدې په خالصه کښې او د هري پور قبلې لور ته د پنځوو ميلو په فاصله په پنياکلي کښې اباد دي.شلماني د کاکړو پښتنو د قبيلې سره تعلق لري.دوي ډېر مضبوط او ښۀ کاشت کوونکي يعنې زراعت پېشه خلق دے.د دوي د سر سړے احمد خان ۱د ے.چې د لوئے عمر خاوند دے.دوي ته دراني دورِ حکومت ياد دے. په دغه دور کښې دوي د حکومت د وفادارۍ سره سره ښۀ خدمات هم ترسره کړي وو.د دوي سره شپږ سوه (۲۰۰) روپۍ جاګير دے.او دوي ته ۱۵۰ روپۍ انعام [ماجب]

هم ملا وبړي" ۲

په تاريخ هزاره کښې خان سحاب د شلمانو د استوګنې په حقله داسې خپله رائې ځرګنده کړې ده .او ليکي چې:

"د تربېلې او سېدونکو شلمانو، ګوجرو او ترين قومونو د خپل حفاظت او د تنولو (تنولي) د دست درازو نه د منع کېدو د پاره اتمانزي قوم راوغوښتو. دا د اکبر بادشاه دور وو. بيا وروستو اتمانزي قوم د شلمانو ،ګوجرو او ترينو نه لويه علاقه قبضه کړه". ژباړه۳

هم دغه شان موصوف په دغه کتاب کښې د شلمانو په حقله داسې ليکي چې:

"سُلېماني/ شلماني پښتانهٔ دي":د دوي مورث اعلىٰ دراز خان ساکن چارباغ د کابل (جلال اباد) خان وو.د سلېمانخېل قبيلې سره ئې تعلق لرلو.د دهٔ اولاد هزارې ته راغے او په تربېلې ،تهپلې او بهاروکوټ وغېره کښې په بره غاړه د دريائے دوړ اباد شول.د ګوجر قوم نه پس د تربېلې زړه ابادي د شلمانو ده".ژباړه ۴

کامران اعظم سوهدروي د شلمانو په حقله په خپل کتاب "پټهان قبائل" کښې داسې ليکي چې:

"طاهرخېلي قوم کوم چې د احمد شاه ابدالي د دورِ حکومت نه لږ وړاندې په ۱۷۴۷ء کښې علاقه جات ګهړي و ګندګر ته راغلي وو.ددې قوم نه وړاندې دغه علاقې د سلېماني (شلماني) قوم بلغاوري وې.په رهن،بيع او غلبه وغېره باندې دغه قوم (طاهرخېلي)په شلماني قوم دخل وموندلو".ژباړه۵

ډاکټر شېربهادر خان پني په" تاريخ ہزارہ" کښې په" بندوبست هزاره ۱۸۷۲ء "د عنوان لاندې داسې ليکلي دي چې:

"د تربېلې زړه ابادي د شلمانو ده.د دوي نه پس اتمانزی قوم راغے. د دولسمې صدی عيسوی نه مخکښې دا قوم دلته اباد وو.د دوي خاص ابادي په موضع تهپله (کومه ابادي چې په موجوده تربيله ډېم کښې ډوبه ده) کښې وه.دلته حاجي محمد قاسم راغے نو د اخون په لقب ياد کړے شو.وائي چې شلماني د مومند قوم نه دي". ژباړه۶

خان روشن خان په "یوسفزے قوم کی سرگزشت" کښې په ضلع هزاره کښې"يوسفزي او د هغوي تعلق دار"دعنوان لاندې ليکي چې:

"يوسفزو د نورو قومونو نه علاوه د ځان سره په دې علاقه کښې خپل حمايت کوونکي افغان قبائل شلماني، ترين،کاکړ،پني او مشواني هم اباد کړل".ژباړه۷

دغه شان بل ځائے ليکي چې:

"په جلاله (سمه جلاله) کښې د شلماني قبيلې شپږ خاندانونه اباد دي".ژباړه۸

منشي ګوپال داس په " تاريخ پشاور" کښې د تحصيل دوابه ،تپه دوابه ذيلي تپه ګګياني فاضل ملاح قوم شلماني لاندې او هم دغه شان خان روشن خان په "يوسفزئ قوم کی سرگزشت" کښې د ګګياني قبيلې د سرخط لاندې په شق ۹ کښې ليکي چې:

"په موضع ګړهي جاله بانان (جاله وانان) کښې د فاضل

افغان (فاضل ملاح) قوم شلماني اولاد اباد دے".

ژباړه ۹

دغه شان په يو بل ځائے کښې ليکي چې:

"په جنګ کاټلنګ کښې د شيخ ملي په ذريعه او د ملک احمد په دعوت د يوسفزو د کومک د پاره شلماني شامل شوي وو. شلماني ئې په مواضعات پلي او زور منډي کښې اباد کړل. دوي اوس هم په دغه کليو کښې استوګنه کوي".

ژباړه ۱۰

اخون درويزه بابا په "تذکرة الابرار والاشرار" کښې، حيات محمد خان په "تواريخ حيات افغاني" کښې مُنشي ګوپال داس په "تاريخ پشاور" کښې او محمد عمر روند مياخېل "د پښتنو قبيلو شجرې او مبني" نومې کتابونو کښې د شلمانو د استوګنو په حقله داسې ليکلې دي چې:

" په پيل کښې شلمانې د کرمې د سيند په غاړه په شلمان کښې اوسېدل. بيا تيراه ته لاړل. له هاغه ځايه پېښور ته او بيا هشتنغر ته لاړل، د يوسفزو سره د جنګونو په سبب په اله ډهنډ (سوات) کښې سلطان اوبس ميشته کړل" ژباړه ۱۱

ډاکټر عبداللطيف ياد طالبي په خپل کتاب " پښتانهٔ قبيلې وپېژنئ" کښې ليکي چې:

" شلماني خواري کښ خلق دے او زيات تر د سوداګرو په چارو بوخت دي. ځکه چې سيمه ئې غرنۍ [غرئيزه] او کرکيله پکښې کمه ده. په ټوله پښتونخوا کښې د شلمانو مجموعي شمېر ۳۰۰۰۰ تنه خلق ښودلي شوي دي" ۱۲

اوس دلته د هغه كليو نشاندهي كولې شي په كومو كښې چې شلماني قام تر نن ورځې پورې استوګنه كوي.تفصيل ئې دا دے:

ضلع ملاکنډ:تانه كلے، جلاله تانه ،الـه ډهنډ(شلمانو) ،بټ خېله ،سخاكوټ خاص ، شېر خانه،پلی،زورمنډی،بازدره بالا ،سرکے بالا ،غني ډهېری،بامه ډهېری،بامه كنده، خركي ډهېری،هېرو شاه او كچي كوپر.

دير پائين:رامورہ،چکدرہ، دربار چکدرہ ،بارورې،چیخو،اوچ ،خانپور،تېمرګره،بلامبټ تېمرګره،مېدان،ثمرباغ،خزانه،جندول تور قلعه او باريكاب شاه .

باجوړ:ناوګی.

مومند:ناوګی ،يخ ډنډ تمانزی،انبار، پنډيالی،پړانګ غار، تركزی، حليمزی،صافي،خوئيزی،بائيزی او لاشوره.

سـوات:ابوها ،بريكوټ،ناټمېره،ناوګی،شـموزی،مېنګوره امـانكوټ، چنارخوړ،ډوغلګے،برابرو ،شـينګرتان، چاړمـا، پشـتونی، بلكـاری، ګـوالېری، پشـتونی چـم، برتانـه،بِها، جمنارې،آواری،شـينړ،ملم جبـه،فتح پور،سـيج بنړ،روړينګـار ، خـوازه خېله،میاندم،شمک،جوره،شانګواټی،شـېراترپ ګاشـكوړ، شـېرپلم چم،شـېرپلم ګـټ ګړهی،متـه ،سـمبټ، بېدره،درشـخېله،باز خېلـه،خرېړی چم،لابټ،شـار بنړ،منګلتـان، چارباغ،كوټنی،ډهېری بابـا ، لنډ ےكس،بابو ، فقيـرا ، شـالپين، شولګر، تاروګے،ماهی(شاه ډهېری)سنګوټه او منګلور.

شـانګله (تحصـيل پـورن):كولالی ،چوګا ،بابنـا او مارتونـګ

شلمانو کلې.

تحصيل الپوری: شلمانو ژړې ملک خېل، لال خانے الپوری، کس، شاليزاره، لړی، ډهېرۍ، بانډه چينه لبلونۍ، غوربند ډهېرۍ، دولت کلې، ميانکلې (پير اباد) ملا بابا کنډاؤ، شاپور، داموړۍ، ډهېرۍ پير خانه، پاګوړۍ ببلي بابا، کروړه، اوپل، پونيال، چېدم، شلمانو کلې چکيسر، ملا بانډه چکېسر، سکنۍ چکېسر، بشام، ټانګو، کوز کاټا، پونيال نورۍ، فېزه، جامره، ماچاړ، کوټکے، مانېړۍ سر، شانګله ټاپ، کوړمنګ، رانيال، دندۍ، مېره، چاټ، شلوپيا، شاپوټ او نوګرام کروړه.

[د ببلي بابا بازار د پاسه چې کوم د شلمانو کلې دے. دغه په شلمانو مشهور دے خو شلمانے قام پکښې نشته. (محقق)]

لنډي کوتل (لوئے شلمان): ګل اباد (چينګۍ)، درماکو، کونستر، دره تنګے، کنډاؤ کلے، حساګے، دره سروبے، دره اوږده، دره نرۍ، دره خمخۍ، دره شينيلو، دره شين پوخ او دره پړانګ.

کم شلمان: بره کلے، کوز کلے، سپين جمات او باغ کلے.

ضلع چارسده: شوډاګ، کوډو کلے، باغ کلے، عمرزۍ، شلمانو بر کلے، تورنګزۍ، کينا ور تنګے، پړانګ غار، جانوکے کلے، ترلاندۍ، شلمانو کوز کلے، شلمان اباد، مندنې، ترخه او دوابه شبقدر.

صوابۍ/ټوپۍ: موسیٰ خېل، محله شهيدان، اُتله، ګدون شلماني، کنډ، بوړۍ، او بېر ګلی (ګدون شلماني د صوابۍ، هري پور او بونېر په سنګم پروت کلے دے)

ضلع پېښور: بنیادي، کوهاټی، بډهه بېره، دیر کالوني ،شاهین مسلم ټاؤن، ورسک روډ او حیات اباد.

ضلع مردان: مردان خاص، جاړو حافظ اباد ،شېر ګړهـ بائیزو خرکې، جلاله، تخت بهایی، کاټلنګ، سروبې، رُستم، سدوم (سدوهم)، بکټ ګنج او مدینه کالوني.

بونېر: پولانډ، ایلم، ساره، سالارزو، نیمکی، کاټکله، شوپړنګ، پنج پاؤ، حسن خېل، کوز بونېر، نوګرام او پنج تار.

(انور بېګ باغي، "تاریخ یوسفزی او ریاست سوات" مخونه ۴۳۰ – ۴۳۱)

ایبټ اباد: ایبټ اباد خاص، شاه کوټ کلې، الائي، مانسهره، اوګی، امب، تهپله او ګوریان.

صوبه سندهـ: فیوچر کالوني، قائد اباد، شاه لطیف کالوني (کراچی) او ټنډو جان محمد حېدراباد

په پنجاب کښې په بهاول نګر کښې شلماني استوګن دي، ددې نه علاوه په ضلع کوهاټ کښې هم شلماني شته. ۱۳

نوټس

۱. په هزاره ګزټئير کښې چې کوم احمد خان د شلماني قوم سره تړلے شوے دے چې آيا دا څوک دے؟ په "تاريخ هزاره" ۱۹۷۹ء کښې "بموجب هزاره ګزټئير ۱۹۰۷ء" د سر خط لاندې ډاکټر شېربهادر خان پنی په مخ ۳۱۰ باندې چې کومه حواله ور کړې ده. ډاکټر صېب، احمد خان دلازاک ښائي او د احمد خان شجره نسب پرې هم موجوده ده او دغه شان په هزاره ګزټئير ۱۹۰۷ء کښې ايچ - ډي واټسن په مخ ۴۱ احمد خان د شلماني قام نه ښائي.اوس دلته احمد خان څوک دے؟شلمانے يا دلازاک؟ (محقق)

حوالې

۱. واتهسن، ايچ ډي، هزاره گزټير، (اردو ترجمه) پروفېسر افتخار احمد، ۲۰۱۳ء، مخ ۲۷۰

۲. محوله بالا مخ ۴۱

۳. سحاب، خان، تاريخ هزاره، ۲۰۱۴ء، مخ ۷۳

- سوهدروی، کامران اعظم، "پتهان قبائل"، ۲۰۱۵ء، مخ ۳۸۳

۴. سحاب، خان، تاريخ هزاره، ۲۰۱۴ء، مخونه ۷۷-۷۸

- پني، شبر بهادر خان، ډاکټر "تاريخ هزاره" ۲۰۱۲، مخ ۳۳۱

۵. سوهدروی، کامران اعظم، "پٹھان قبائل"، ۲۰۱۵ء، مخ ۳۹۰

۶. پني، شبر بهادر خان، ډاکټر "تاريخ هزاره"، ۲۰۱۲، مخونه ۴۲، ۳۳۲

۷. خان روشن، خان، "يوسفزئ قوم کی سرگزشت"، فروری ۱۹۸۲ء، مخ ۳۵۱

- معظم شاه، پير، "تواريخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاريخ"، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخ ۵۸۰

- خان روشن، خان، تذکره "پٹھانوں کی اصليت اور ان کی تاريخ"، ۱۹۸۰ء، مخ ۱۷۲

- سيماب، نرگس (ژباړه) تذکره "د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ"، ۲۰۱۱ء، مخ ۲۱۴

۸. خان روشن، خان، "يوسفزئ قوم کی سرگزشت"، فروری ۱۹۸۲ء، مخ ۳۶۳

- معظم شاه، پير، "تواريخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل او انکی تاريخ"، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخ ۵۹۱

۹. صاحب بهادر، اے جی هسنگز، کپتان "تاريخ پشاور" زير انتظام راے بهادر منشی يوپالداس صاحب اکسيرا اسسٹنٹ کمشنر"، ۱۸۶۹ء تا ۱۸۷۴، مخونه ۵۴۴-۵۴۵

-خان روشن، خان ، "یوسفزئ قوم کی سرگزشت" ،فروری ۱۹۸۲ء ، مخ ۳۷۲

.۱۰_____ ، "یوسفزئ قوم کی سرگزشت" ، مخ ۳۹۸

- معظم شاہ، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل اوانکی تاریخ" ۲۰۱۷ء اشاعت دوم، مخ ۱۹۵

_____ تواريخ حافظ رحمت خاني، دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء ،مخ ۱۳۵

.۱۱ دروېزه ، اخوند "تذكرة الابرار والاشرار" فارسی ، مخ ۹۴

-روند مياخېل، محمد عمر، پوهنوال "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې " ۱۳۸۳ لمريز ،مخ ۴۳۴

-صاحب بهادر، اے جی هستنگز، کپتان "تاریخ پشاور" زیر انتظام رائے بہادر منشی

یوپالداس صاحب اکسیرا اسسٹنٹ کمشنر" ، ۱۸۲۹ء تا ۱۸۷۴ ، مخونه ۲۳۷ ، ۵۴۸

- محمد حيات خان، خان صاحب بهادر "تواریخ حیات افغانی" ، ۱۸۶۷ء ،

مخونه ۱۷۹، ۴۲۹

.۱۲ ياد طالبي، عبد اللطيف، ډاکټر "پښتني قبيلې" ، ۲۰۱۰، مخ ۲۳۰

.۱۳ د محقق د خپلو ذرايعو نه معلومات.

دولسم باب

په تاڼه کلي کښې د شلمانيانو پس منظر

زمونږ د خاندان يعني د شلمانو راتګ سوات ته او بيا د هغه ځائے نه پس زمونږه د جدِ امجد راتګ تانړې کلي ته څنګه شوے دے؟زمونږه د خاندان په ذاتي يادابنتونو کښې د هغې تفصيل موجود دے. په اپريل ۱۹۲۹ء کښې دغه يادابښتونه کوم چې سينه په سينه راروان وو، په باقاعده طورکاغذ ته وسپارلے شول. چې تفصيل ئې په دې ډول دے:

زمونږه غور نيکه د خيبر ايجنسۍ په علاقه شلمان کښې د لوئے شلمان او سپدونکے وو. هغه د سوداګرۍ په غرض د لوئے شلمان نه سوات ته راغے. په چارباغ سوات کښې ميشته شو. او هم هلته په حق اورسپدو. په شا ئې درې نارينه اولاد پرېښودل. هغوي په چارباغ کښې د زميندارۍ او تجارت کار کوو. د خپل پلار محترم په قدم ئې قدم کېښودو. پرهېزګاري او رياضت ئې شروع کړو. د مشر نامه محمد بهرام وه، هم هلته د يو جماعت امام مقرر شو. د ټولو نه کشر ورور د خپلو مشرانو وروڼو د مرضۍ خلاف څۀ داسې کار وکړو چې دواړه مشران وروڼه ترې خفه شول. نو په دې وجه هغه کشر ورور چې نامه ئې محمد يعقوب خان وه، د هغه ځايه د تناؤل د امب دربند د خان خواته لاړو. او هلته په يو جماعت کښې استوګن په رياضت کښې مصروف شو. څۀ موده

پس هغه د عبادت نه علاوه د یرغل ګرو خلاف جنګونو کښې برخه اخستل شروع کړل او نوم ئې تر لرې لرې لاړو. د هغه د مړانې، ریاضت او تقوىٰ نه متأثره د تناؤل خان هغه ته خپله خور په نکاح کړه. او د معاش د پاره ئې د دوړ سیند او سرن سیند مېنځنې علاقه تهپله ورکړه. چې هلته د هغوي اولاد تر ننه ورځې موجود دے. په هغوي کښې د مشهورو خانانو نومونه غلام محي الدین خان او رسالدار محمد شریف خان دي. چې د دغه کلي مشران وو. او د دغه خانانو زمونږه د مشرانو سره تعلقات وو.

د چارباغ نه د هغوي مېنځنے ځوے چې نامه ئې محمد ایوب خان وه، د خپل کشر ورور په لټون کښې ځائے په ځائے ګرځېدلو په دې دوران کښې ډهېرۍ الـه ډهنډ تـه راغے. چې هلتـه پـه یـو جماعت کښې د علاقې خانان او نور خلق د هغه معتقد شو. او څهٔ لږه ډېره زمکه او د اوسېدو د پاره کور ئې ورله وکړو. هم هلته پاتې شو او د یو مولوي صیب د کوره ئې واده وکړو. د اولاد خاوند شو. بیاد هغه ځائے نه په څهٔ وجه پلۍ، بائزوخرکے او د دغه ځایه سخاکوټ ته لاړو. بـه اوږد ژوند ئې وموندو ګڼ اولاد ئې درلود. اولاد ئې تر ننه په پلۍ، بائیزو خرکے، هېرو شاه، کچي کوپر او سخاکوټ کښې موجود دے. په شلمانو مشهور و معروف دي.

مشر ورور محمد بهرام په چارباغ کلي کښې په امامت او ریاضت کښې د ژوند تېرولو نه پس خپل اخلف دوه هلکان پرېښول او په حق اورسېدو. په دې دواړو ورونو کښې پاتې ورور د پلار په ځائے اودرېدو. او بل ورور چې نامه ئې عبدالسبحان وه

په غرض د ديني علومو حاصلولو اوچ علاقې اديانزو ته راغے. هلته ئې دعلماؤ نه ديني علم حاصل کړو. د رامورې د خوانينو (ملکانانو) په خواهش ئې په رامورہ کښې په يو جماعت کښې امامت اختيار کړو، هلته استوګن شو. څۀ موده پس ئې په اله ډهنډ ډهېرئ کښې خپل رشته داران ولټول او په هغه کورنۍ کښې ئې نکاح وکړه.

د رامورې خلق د دې صاحب د ديندارۍ نه دومره متأثره او مرعوب شو. چې دۀ ته ئې کافي شولګرې او داماني زمکه او د اوسېدو د پاره کور د سېرۍ په توګه وبخښل. د دۀ انصاف او شرعي فېصلې چاپېره مشهورې شوې. نو په دغه وجه هغه د علاقې قاضي مقرر شو. او تر اخره پورې ئې د مقدماتو فېصلې کولې. د ډېرې مودې د ژوند نه پس د هغه هم دوه نارينه اولاد پاتې شو او وفات شو. په دې دواړو ورونو کښې مشر ورور ګوجر خان بابا چې خپل نوم ئې عبدالحئ وو، مګر د ډېر مال او ډنګرو په خرولو په ګوجر خان مشهور شوے وو. د ديني تعليم نه د محروم پاتې کېدو په وجه ئې زميندارې اختيار کړه. او کشر ورور عبدالعظيم ئې د خپل پلار په قدم ،قدم کېښودو او د خپل پلار په ګدۍ کښېناستو. د وفات نه پس ئې دوه ځامن عبدالحکيم (عبدالحکم) او عبدالخالق پاتې شول. مشر سبق اونه وې او کشر ورور عبدالحکيم ديني تعليم حاصل کړو او د خپل پلار نيکه په ځائے د امامت او قضاء په کار معموره شو.

عبدالحئ المعروف ګوجر خان زمونږه جد امجد د خپلې زميندارۍ په دوران کښې چا سره وران شو. جګړه ئې وکړه او

قتل ئې د لاسه وشو. د اتلسو کالو په عمر کښې هر څۀ جائېداد مال حال ئې خپل ورور عبد العظيم ته پرېښودل او تانې کلي ته راغے. په تانه کښې د محمود خان بابا سره استوګن شو. محمود خان بابا د تانې د کندي بازيد خېلو مشهور او نر خان وو. کله چې هغه ته پته اولګېده چې عبد الحئ د راموړې د مشهور قاضي مرحوم عبد السبحان ځوے دے، نو هغه د ډېرې مهربانۍ نه کار واخستو د خپلو ځامنو په شان ئې د خپل سېوري لاندې ؤساتو. د اوسېدو د پاره ئې ورته يو پلن کور ورکړواو د خپل دوتر ئې اختيار مند کړو. دې ئې په نورو پاتې نوکرانو ناظر مقرر کړو. خو په دغه زمانه کښې به د پښتنو په خېلونو کښې په دوتر جنګونه کېدل نو د محمود خان بابا په ملګرتيا کښې عبد الحئ (ګوجرخان بابا) د جمبل (جنبل) په نښته کښې ګډه وکړه. په دغه وجه او سبب د محمود خان بابا اولاد ته جمبل خېل ووئيلے شول. بلکې څنګه چې د دغه وخت دستور او قاعده وه چې د يو مشهور جنګ يا د مېدان وهلو نه به وروستو د هغې واقعې د ياد تازه کولو په غرض به هغه کس په هاغه نوم نومولے شو. ځکه نو دا خېل هم په جمبل خېل مشهور شول.

د محمود خان بابا د وفات نه پس دهغوي اولاد د دښمنۍ په وجه د تانې نه شړونکي شول. بازدرې ته لاړل. او د جائېداد د حفاظت د پاره ئې عبد الحئ بابا نګران پرېښودو. هغه په اعتباري توګه د هغوي د مال جائېداد ناظم پاتې شو. او جائېداد ئې د هر قسمه بربادۍ نه بچ ؤساتلو. اګر چې بااثره خلقو په هغه ډېرې او هر قسمه سختۍ وکړې. چې هغه د محمود خان بابا د

جائېداد نه لاس په سر شي.او د دستور مطابق د محمود خان جائېداد وويشلے شي.خو ګوجر خان بابا هر قسمه قربانۍ ته تيار په خپل فرض تېنګ ولاړ وو. اول ئې ورله دهمکي ورکړه چې د دغه جائېداد نه لاس په سر شي چې په دې کار اونه شو نو بيا ئې ورله دا لالچ ورکړو چې په دغه زمکه کښې به درله برخه درکړو.او چې په دغې هم کار اونه شو نو قتل ئې پرې رواړولو چې په دغه طريقه دا خنډ د مخې نه لرې کړي.

بيا ددې نه وروستو په ګوجر خان بابا د فرد جرم لګولونه پس ئې د خالي په ورځ د هغه د وژلو حکم ورکړو.د زيارت په ورځ ئې ورته اخري حکم واورولو چې خپل اخري خواهش اووايه.هغه اووې چې يوه شپه او ورځ ما ته چهټي راکړئ.او د هغه په ځائے د هغه يو ځوئے کښېنوئ.خو جرګې د دې سوال په جواب کښې اووې چې د لسو زرو روپو په ضمانت کښې هغه ته چهټي ملاوېدې شي؟پس د دې نه ګوجر خان بابا خپل يو ځوے د موسیٰ خېلو(کوټې کلي)ته د يو دوست چې نوم ئې جيّا دوبي وو،خواته ولېږلو.دے ډېر مالدار وو او د هغه پير بهائي هم وو.ټول احوال ئې هغه ته اوئيلو. جيّا دوبي چې کله د خپل دوست د حال نه خبر شو نو هم په هغه ورځ ئې په قچر د روپو بار د اعظم خان حجرې ته راورسوو.چې دا هغه روپۍ دي او د ضمانت په توګه حاضرې دي.زما دوست له دې د يوې شپې او ورځې د وعدې مطابق چهټي ورکړې شي.خانان د هغه په ايثار او قربانۍ ډېر متأثره شول.او ګوجر خان بابا ته ئې هغه درنګ رخصت ورکړو.د هغه ځايه په دؤ کورته راغے د خپل بال بچ سره د ملاقات

او ډوډۍ خوړلو نه پس د ماسختن په وخت په سیدو کښې د خپل استاذ سیدو صاحب د ملاقات کولو په غرض روان شو.چې د خپل پیر اخري ملاقات او دیدار وکړي.هغه د سحر په مانځه کښې د سیدو صاحب سره په جمع کښې شامل شو.خو سیدو صاحب ته اګر چې دا معلومه شوې وه چې عبدالحۍ د هغوي د ملاقات د پاره موجود دے.باوجود د هغې عبدالحۍ بابا ته ئې هیڅ توجه ونۀ کړه.او خپل خلوت ګاه ته لاړو.او د ماسپخین دمانځه پورې هلته وو.

عبدالحۍ بابا ډېر کوشش وکړو او د سیدو صاحب د خدمتګار پاسني مُلا صاحب۱ په واسطه ئې ډېرې عریضې اولېږلې. مګر ملاقات ئې او نۀ شو.

اخر د ماسپخین د مانځه د پاره چې سیدو بابا صاحب بهر تشریف راوړو نو عبدالحۍ بابا د تسلیماتو پېش کولو نه پس په مانځه ودرېدو.د مونځ ادا کولو نه پس باباجي صاحب خپلې خلوت خانې ته تشریف یوړواو لږ ساعت پس چې کله عبدالحۍ بابا د بابا صاحب د ملاقات کولونه مایوسه شو او د روانېدو په غرض اودرېدو نو د پاسني مُلا صاحب په اواز باندې هغه د ملاقات کولو د پاره خلوت خانې ته دننه لاړو.د هغه د مایوسۍ او بدل رنګ تپوس کولو بغېر ئې د کلي د حال احوال او د هغه د کور د احوالو تپوس شروع کړو.خو بابا صاحب ډېر په تادۍ کښې وو ځکه چې د وعدې مطابق هغه ته هم په هغه ورځ حاضرېدل وو.او بل طرف ته د دوست د ضمانت د ضبط کېدو هم خطره وه.اعلیٰ حضرت باباجي صاحب ته ئې دومره قدر ووئیل

چې تول روغ جوړ دي.خو زما صرف ستا اخري مُلاقات او ديدار ارمان وو. د وعدې مطابق ماته هلته حاضرېدل هم دي او سفر هم کافي ډېر دے.ما ته اجازت راکړئ. باباجي صاحب مسکے شو او هغه له ئې دوه انار ورکړه.او ورته ئې اووئيل چې په دې انارو کښې يو اعظم خان له او بل انات خان (عنايت خان) له ورکړه.او زما سلام ورته ووايه .دغه شان عبدالحیٔ بابا ته د تلو رخصت ورکړے شو.هغه د سيدو صاحب مبارک لاسونه اخري بار ښکل کړه او د فراقت اوښکې ئې د سترګو نه بهېدې.چې د باباجي صاحب مخ مبارک ته ئې نظر شو نو هغه تک سور لکه د سکروټې په شان وو.او په مسکا کښې ئې هغوي ته د خدائے په امان ووې. عبدالحیٔ بابا چې کله د جماعت نه را ووتو نو حېران درېان شو.چې ورځ خو لاړه تېره شوه،د مازيګر د اذان وخت شو.د خدائے پاک په تکيه او د خپل پير استاذ صاحب په اجازه روان شو.هم د هغوي د وېنا مطابق د هغوي د حېرت انتها پاتې نۀ شوه چې کله هغه تانړې ته راورسېدو نو د مازيګر اذان وشو.هغه حق حېران او د پير کامل د کراماتو قائل شو.د مونځ ادا کولو نه پس نېغ حجرې ته راغے مذکوره خوانينو ته ئې د باباجي صاحب سلام ووې او دواړو ته ئې انار پېش کړل.په هغوي کښې د خپلو پلويانو د وېنا مطابق عنايت خان خپل انار پرېکړو.او شا و خوا ته ئې دانې په خپلو ملګرو د تبرک په جوړ تقسيم کړې او وئې خوړې.اعظم خان دا ووئيل او انار ئې يو خوا ته کېښودو چې بابا صاحب ته زمونږ په مېنځ کښې د جګړو او فېصلو کښې دخل کول مناسب نۀ دي.مونږه د هغوي هره خبره نۀ شو منلے.نو هغه

کسانو چې هغوي داني خوړلې وې سخت غصه شول او وئيل ئې چې د بابا صاحب په باره کښې مونږه هېڅ خبره نۀ شو برداشت کولې.دغه شان خبره ورانه شوه.او کومو کسانو چې د انار دانې خوړلې وې هغوي عبدالحئ بابا په خپل حفاظت کښې واخستو. او اواز ئې وکړو چې که په چاکښې همت وي نو هغه دې په عبدالحئ لاس پورته کړي.دغه شان هغوي د عبدالحئ نه تاؤ شو.او خپلې محلې بازيد خېلو ته ئې په حفاظت او د فېصلې نه خلاص راوستو.دغه شان اعظم خان حېران په حجره کښې پاتې شو.په بله ورځ د عنايت خان د ډله باندې کېدو اعلان وشو.او د صاحب د سوات د كراماتو په وجه عبدالحئ د قتلېدو نه هم بچ شو.د خپل محسن محمود خان بابا د اولاد د جائېداد حفاظت ئې هم په ښۀ شان سره وکړو.دغه شان د محمود خان بابا اولاد د هغه ځائے د خانانو سره باهمي رشتې هم کړې وې او د هغوي په واسطه ئې دلته روغه جوړه وکړه.لس کاله پس خپل کلي او کور تانړې ته واپس راغلل او په ځائے شول.خپل جائېداد ئې سنبال کړو ،د عبدالحئ بابا نور هم دوي عزت شروع کړو.عبدالحئ بابا د دوه نوي کالو (۹۲)په عمر کښې وفات شو.هغوي ځلور ودونه کړي وو.په هغې کښې يوه بي بي د اله ډهنډ د خپل خاندان نه وه.د هغې نه شپږ هلکان او درې زنانه اولاد پېدا شوي وو.او د درېمې ښځې نه ئې صرف يو هلک ګلاب شاه پېدا شوے وو.عبدالحئ بابا په بر بائي پاس تانړه کلي کښې د شلمانو په مقبره کښې دفن دے.په ګور ئې رحمت شه.

د عبدالحی بابا المعروف ګوجرخان بابا د اولاد تفصيل

عبدالحی شلماني اووه ځامن او درې لوڼه لرلې چې اولاد ئې تر اوسه پورې په تانړه کلي (ملاکنډ) کښې موجود دے تفصيل ئې په دې ډول دے:

۱: د عبدالله جي څلور ځامن وو. او درې لوڼه وې.

د سالکې زوجه مرزا عبدالحنان اولاد:

شمشاد، نوشاد، جهانزېب، عالمزېب، انجمن زوجه مجمد نواب شاه احمد خېل، بحرمند زوجه دوست محمد خان زور منډی، اونورالحرم زوجه صفي الله.

د غني جان زوجه شاه زمان اولاد:

شمس الحرم زوجه عبدالجليل او بدرالحرم زوجه سيد جلال تنړه کوهي صوابی.

روح لال (زوجه بخت محمد سکنه تاروجبه) اولاد:

فاطمه، خديجه او کواکب

د سيد کمال او سيد جمال څۀ اولاد نۀ وو.

د سيد کريم څلور ځامن وو. فضل شکور او فضل رحيم د اتلسو او يويشت کالو په عمر کښې مړه دي. نور دوه ځامن فضل غفور (مرحوم) او فضل وهاب دي او دوه لوڼه سوچه او نازک پري دي.

د فضل کريم اولاد: خورشيد روشن (مرحوم)، فضل غفار او

فضل احد (مرحوم) ئې ځامن دي. ګل صنور (مرحومه) زوجه نیاز محمد د شهباز محمد مور) ،بخت سرداره زوجه فضل حسن) ،بې نظیره زوجه محمد یوسف او صاحب سلطان زوجه فضل وهاب کامل ئې لوڼه دي.

۲. د عبدالمجید دوه ځامن عبدالقادر او عبدالجلال وو. عبدالقادر ئې بې اولاده وو. او د عبدالجلال یو ځوئے محمد سعید وو.

۳. دعبدالجبار دوه ځامن سید جلال او عبدالرزاق وو، سید جلال بې اولاده وو. او یوه لورئې ګرانه وه. د عبدالرزاق ځامن محمد رحیم ،فضل فضل رحیم ،سید رحیم او محمد کرم ،عقل مینه او تاجه ئې لوڼه دي.

۴. عبدالکریم د ۱۸۹۵ء د ملاکنډ په غزا کښې شهید شوے وو.

۵. عبدالرحیم د پنځلس کالو په عمر کښې په حق رسېدلے وو.

۶. د عبدالصمد دوه ځامن احمد خان او محمود خان او یوه لور رحیمه (زوجه قریب الله) وه.

۷. ګلاب شاه د پاسنو ذکر شوو وروڼو مېړنے ورور وو. د دهٔ یو ځوے محمد او یوه لور ساحنان زوجه زردوالله وه. د ساحنان اولاد کښې دوه ځامن عزیزالله ،مقبول الله او څلور لوڼه مني جان، محبوب جان، امة الهادي او عصمت دي. مني جان په محمود خان وادهٔ وه. د محمد دوه ځامن وزیر محمد (زوجه اول) او سید محمد (زوجه دوم) او یوه لور فریحون چې په شاه زمان خان باندې په باغکنډۍ، ادینزۍ، کوز دیر کښې واده ده.

د عبدالحی بابا زنانه اولاد

د عبدالحی بابا درې لونه وې.
د بدرِ جماله اولاد:دا د شريف الله مور وه.د خليل الله ،سعيد الله،نور محمد ،شاه فيروزه ، وره او بي بي نيک ذاته نيا ابی وه.
بي بي جان د مجيد الله ،نجيب الله او مجتبیٰ زوجه ارشُل مور وه او د صفي الله نيا وه.
نورحه جان د رحمت الله ،رحيم الله ، ضرب عالم زوجه عبدالمجيد او د رحم جان زوجه عبدالغفورنجيگرام مور وه. د ضرب عالم عبدالحليم،فضل رحيم،فضل واحد او عبدالواحد ځامن دي.
د رحمت الله درې ځامن بحرمند ،روشمند ، فضل خالق او يوه لور ئې سمنًا ده.
د رحيم الله ځامن کريم الله(بازدا) ،محمد اسماعيل ، محمد ابراهيم،مطيع الله او عطاءالله دي.
د عبدالله جې تبر (درهن ابی) او د عبدالصمد تبر (سيدمرجان ابی)د خپل سکه ترۀ لونه وې.او په يو کور کښې په دوؤ ورونو وادۀ وې.د عبدالصمد سخر مولوي ابوبکر وو.دواړه د ښار بټ خېلې د سنګر خېل د خاندانه وې.

تبرکاتِ مبارک آقائے دوجهان حضرت محمد ﷺ

په کال ۲۰۱۴ء کښې د مۍ په مياشت کښې د حضور ﷺ د سر مبارک ويښتهٔ (موئے مبارک) زمونږه د شلمانو کورنۍ ته د محمد اکمل خان قادري او د ارواښاد محمد اجمل قادري په لاسونو ملاؤ شو. د هغې نه پس بيا په دسمبر ۲۰۱۴ء کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ د ږيرې مبارک (لحية الشعر) د محمد اکمل خان قادري په لاس زمونږ کورنۍ ته ملاؤ شو. او دغه شان د مدينې منورې نه په ترتيب سره وخت په وخت نور تبرکات هم ملاؤ شوي دي. په اکتوبر ۲۰۱۵ء کښې د حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ د جبې مبارکې حصه او د حضور ﷺ د روضې مبارکې غلاف او خاوره د حضرت علی رضی اللہ عنہ د عمامې مبارکې او څادر مبارک حصه راقم الحروف ته محمد اکمل خان قادري راکړه. کله چې زهٔ حج له تلے ووم.

د دغه ملاؤ شوو تبرکاتو تفصيل لاندې ورکړے شوے دے. چې عاشقانِ رسول ﷺ پرې خپله نهٔ ختمېدونکې مينه ماتوي.

دتبرکاتو مبارکو فهرست

شمار	نوم	تعداد	تفصيل
۱	موئے مبارک	ا عدد	زلف مبارک حضور ﷺ
۲	موئے مبارک حضرت علی رضی الله عنه	۱ عدد	لحية الشعر (د ږيري مبارکې ويښته)
۳	د غلاف مبارک حصه	۲ عدد	روضه مبارک حضور ﷺ
۴	خاوره مبارکه	۴عدد	روضه مبارک حضور ﷺ
۵	شګه مبارکه دننه دېوال	ا عدد	روضه مبارک حضور ﷺ
۲	شګه مبارکه	۱ عدد	ګنبد خضرا
۷	د عجوه کجورې هډوکي نسبت دننه روضه	۴ عدد	روضه دننه حضور ﷺ
۸	د څادر مبارک حصه	۱ عدد	حضرت علی رضی الله عنه
۹	د قالين حصه مبارکه	۲ عدد	رياض الجنة
۱۰	د قالين حصه مبارکه	۱ عدد	مسجد نبوي ﷺ
۱۱	غلاف خانه کعبه مبارک حصه	۲ عدد	خانه کعبه
۱۲	خانه کعبه سپين استر حصه	۱ عدد	خانه کعبه
۱۳	سپين ماربل حصه مبارک	۱ عدد	روضه مبارک حضور ﷺ
۱۴	وچ شين رنګ مبارک	۱ عدد	هم دغه
۱۵	خاوره مبارکه	۲ عدد	اردن کښې چې د کومې ونې لاندې حضور ﷺ په زمکه تشريف فرما وو په دغه موقع دغه ونه شنه شوې وه
۱۲	خاک شفا مبارک	۲ عدد	مدينه منوره
۱۷	د اندرپائې مبارکې د لرګي حصه	۲ عدد	روضه حضور ﷺ
۱۸	د چوکاټ د لرګي حصه	۲ عدد	دننه روضه مبارک حضور ﷺ
۱۹	د پلاسټک حصې مبارکې	۱عدد	نسبت روضه مبارک
۲۰	پوټين پوډر مبارک	۱ عدد	نسبت روضه مبارک حضور ﷺ

۲۱	د ململ د کپړې حصه مبارکه	۱عدد	نسبت روضه مبارک
۲۲	د پوټين وچه حصه	۲ عدد	نسبت روضه مبارک کښې د رنګ وخت استعمالولے شي
۲۳	مېخ	۱ عدد	نسبت روضه مبارک
۲۴	ګلاس پلاسټک	۱ عدد	نسبت روضه مبارک
۲۵	ګټې مبارکې	۵۰۰ عدد	اسم الله او اسم محمد
۲۶	مود مبارک	۱ عدد	استعمال اُمهات المومنين (کاپي)
۲۷	جبه مبارک حصه	۱ عدد	حضرت امام حسن رضي الله عنه
۲۸	جبه مبارک حصه	۱عدد	حضرت عمر فاروق رضي الله عنه
۲۹	ټائل	۱ عدد	باب السلام مسجد نبوي صلی الله عليه وسلم
۳۰	مصَلې (صف)	۱۴عدد	مسجد نبوي صلی الله عليه وسلم
۳۱	د چوکاټ د لرګي حصه	۱ عدد	مسجد حضرت عمر رضي الله عنه

نوټس

۱. پاسنے مُلا صاحب: د دۀ خپل نوم حضرت مولانا ابوبکر رحمة الله عليه وو. دے د سيدو د غوث عبدالغفور رحمة الله عليه د لنګر واکدار وو. د سيدو بابا د وفات نه پس دے د جامع مسجد خطيب وو. پاسنے مُلا صاحب د ميا ګل عبدالودود [باچا صاحب] استاذ پاتې شوے دے. دۀ د سيدو بابا رحمة الله عليه جنازه هم ادا کړې وه. دے په سيدو کښې دفن دے.

(روحاني رابطه او روحاني ترون از عبدالحليم اثر افغاني مخ ۹۳۲ ج ۲، احوال العارفين از حافظ غلام فريد مخ ۱۱۵، خلاصة تواريخ از قاري محمد حبيب الحق مخ ۱۳، حکمران رياست سوات کے سوانح حيات از سيد عبدالغفور قاسمي مخ ۳۴ ، محمد اصف خان ، "تاريخ رياست سوات" و سوانح حيات باني رياست سوات مياګل عبدالودود ، اشاعت اول ۱۹۵۸ ء ،مخ ۹۹ او اشاعت پنجم ۲۰۱۲ ء مخ ۷۸)

دیارلسم باب

د شلماني قام د بعضې وګړو پېژندګلو

په دې باب کښې د شلماني قام د بعضې وګړو يوه لنډه شان پېژندګلو وړاندې کولے شي. د شلماني قام هغه وګړي کوم چې د ملک دننه او د ملک بهر په سياست کښې، په سائنس، تعليم، طب، فوج او ورسره ورسره په معاشرتي او سماجي مېدانونو کښې خپل خدمات د ملک د سوکالۍ او پرمختګ د پاره شپه او ورځ لګيا دي وړاندې کوي. په دغه مېدانونو کښې ئې خپل نوم او قام لا تر اوسه په اوچتو سترګو ژوندے ساتلے دے. او ان شاء الله چې دغه ورثه به خپل راتلونکي نسل ته په ميراث کښې پاتې کوي.

بله اهمه خبره دا ده چې د تېرۀ ځلورو کلونو راهسې د خپل قام ورونړو ته بار بار د دې خبرې ياد دهاني کېده چې خپلې شجرې او پېژندګلو دې د چاپ د پاره زمونږ سره شريکې کړي. کومې شجرې يا پېژندګلو چې تر اوسه لاسو ته راغلې دي. هغه دلته په کتاب کښې شاملې کړې شوې. فرداً فرداً هرې علاقې ته تلل او دغه معلومات راغونډول يقيناً چې ډېر لوئے د کړاؤ کار وو. ځوک چې په لاس راغلي دي د هغوي نه مواد تر لاسه کړي شوي دي. او چا به دا اووې چې مونږه به ئې در واستوو. خو لا تر اوسه پورې هغه کار هغوي نۀ دے کړے. د شلماني قام هغه ورونړو کومو چې

خپلې پېژندګلو راستولې دي او يا ترې بالمشافه تپوسونه او انټروېو اخستې شوي دي هغه دلته ستاسو مخې ته ايښودې شي شيدي شلماني "د کلهوړا خاندان حاکم مراد ياب کلهوړا شيدي شلماني په بيعه اخستے وو. دے په ۱۷۵۵ء کښې تېر شوے دے. دغه وخت کښې به په سندھ کښې انساني سمګلنګ کېدو. شيدي شلماني د لسو کالو يو مضبوط او طاقتور ماشوم وو. کلهوړا حاکم دې د خپل کور د کارونو د پاره ساتلے وو. کله چې ئې د دۀ ايمانداري او جسماني طاقت ته ؤکتل،نو دې ئې د سندھ په جوړ شوي فوج کښې واخستو. د دۀ د بهترينې کارکردګۍ په ښودلو ئې دې د حېدر اباد د پخې قلعې قلعه دار کړو. کله چې په ۱۷۸۲ء کښې د تالپور او کلهوړا حکمرانانو تر مېنځه د حالاني په مقام فيصله کن جنګ ؤشو نو کلهوړا خاندان جنګ وبائيلو. خو د جنګ بائيللو باوجود شيدي شلماني تر دوو کلونو پورې شکست قبول نۀ کړو. او خپله قلعه د کومې چې دے ذمه وار وو، هغه ئې تالپوريانو ته حواله نۀ کړه.

دغه شکست د مرړاني قوم د خلقو په غداري ورکړے شوے وو. شيدي شلماني ګرفتار کړے شو. د هاغه وخت تالپور حکمران د دۀ ستائينه وکړه. او د کلهوړا خاندان ښځې او واړه ئې د شيدي شلماني سره جودهپور ته ؤلېږل، کوم ځائے ته چې غلام نبي کلهوړا تښتېدلے وو او پناه ئې اخستې وه. شيدي خپله ذمه واري تر سره کړه او واپس سندھ ته راغے. د عمر کوټ د موجوده قلعه په علاقه سامارو/ آراړو کښې ئې استوګنه اختيار کړه. بيا له دغه ځايه جيمس اباد (کوټ غلام محمد) او اخر ټنډو جان محمد ښار

تـه راغـې. تـر اخېـره وختـه ئـې دغـه ځـائـې اسـتوګنه وه. د شـيـدي شلماني وفات خواوشا په ۱۸۳۵ ء كښې په ډېر عمر كښې [اتيا كاله تقريبًا] شوے دے.

دے د ټنډوجان محمد سره نزدې د کوټ غلام محمد په علاقه كښې د خداداد تـالپور د كلي پـه خـوا كښې د صـداتوره پـه قبرستان كښې دفن دے.

د شيدي شلماني څلور ځامن وو. نومونه ئې دا دي:

۱. ګل شېر ۲. فلهو ۳. دلاور ۴. محمد يعقوب.

د محمد يعقوب دوه ځامن دي د يو نـوم محمد سـومار او د بـل نـوم حـاجي خـان شـلماني دے. دے د تحصيل ډګري د اسسټنټ مختار كار پاتې شوے دے. د حاجي خان مشر ځوے اياز حسېن هم د خپل اعلى تعليم او كاركردګۍ پـه بنيـاد د ډګري تحصيل اسسټنټ مختار په چوكۍ خپلې ذمه وارۍ تر سره كوي. د دوي د خاندان خلق پـه ټنډوجان محمد كښـې پـه شـلماني قـوم او نـوم باندې پېژندې شي". ۱ ژباړه

داخون دروېزه بابـا تصنيف "تذكرة الابـرار والاشـرار" چې پـه ۱۰۲۱هـ بمطابق ۱۶۱۲ءكښـې لـيكلے شـوے دے. د شـلمانو افرادو په حقله په كښې داسې ليكلي شوي دي:

"جملہ آنست کہ ملا حبیب شلمانی مرد سعید بودہ و پسر او ملا رکن الدین نیز مرد اہل است".

ژباړه: "پس د دې ټولو نتيجه دا ده چې مُلا حبيب شلماني نېک بنده وو. او د هغه ځوے ملا ركن الدين هم مرد اهل يعنې د پلار په لاره روان وو، يعنې هغه هم صحيح مسلمان وو". ۲

دغه شان بل ځائے هم ليکي چې:

"از مردم شلمانی ملا ابراهیم تا اولاد و اتباع خویش اهل سنت است".

ترجمه: "په شلمانو کښې ملا ابراهيم د خپل اولاد او د خپلو خپلوانو سره ټول اهل سنت دي".۳

◈◈◈

حضرت خواجه سيد علي شلماني المعروف سونړيا باباجي رحمة الله عليه

ددۀ خپل نوم حضرت سيد علي دے.په سونړيا باباجي رحمة الله عليه مشهور دے.د پېدائش نېټه ئې صحيح معلومه نۀ ده.په قام شلمانے دے.د ضلع سوات [د موجوده ضلع شانګلې] په كلي سونړيا چكېسر كښې زېږېدلے دے.د سلسله چشتيې سره ئې روحاني تړون دے.په دغه سلسله كښې د حضور صلى الله عليه وسلم په دوه څلوېښتم پشت كښې او د حضرت علي رضي الله عنه نه په څلوېښتم پشت كښې دے.د دۀ مرشد حضرت خواجه نورعالم رحمة الله عليه دے.په ګجرات بخشالي مردان كښې دۀ د نورعالم رحمة الله عليه نه علمِ دين او فېض حاصل كړے وو.سونړيا باباجي رحمة الله عليه د خپل وخت يو مشهور ولي الله وو.بابا صاحب رحمة الله عليه عالم ،فاضل ،عابد او د زهدو تقوىٰ يو ځلانده ستورے وو.د باباصاحب رحمة الله عليه ډېر زيات مريدان وو.ځكه به هر وخت د دۀ په دربار كښې ډېره ګڼه وه.او هر چا به ترې فېض او دعاګانې اخستې.د نورعالم صاحب ځوے جناب شمشېر علي باچا صاحب به هم د بابا صاحب رحمة الله عليه خواله راتلو.خو بيا د چا په لمسه د سوات بادشاه مياګل عبدالودود په چكېسر بند كړو.كله چې بابا صاحب د دين علم پوره كړو نو په دندىٰ سونړيا چكېسر كښې استوګن شو.دوي چې په كوم جمات كښې امامتي او د تبليغ دين سره سره د خپلې طريقې د سبقونو او وظائفو كار كولو.هغه جمات تر نن ورځې پورې شته دے.دۀ

ځلور ودونه کړي وو. اولنۍ واده ئې د خپل ترۀ د لور محترمې دانا بېګم سره کړے وو. د دۀ د وفات نه پس دا محترمه د هغوي ګدي نشينه شوه. او تر مرګه په دغه ګدۍ ناسته وه. د دې صاحبې روضه مبارکه په شلمانو کلي چکپسر کښې د سړک په غاړه موجوده ده. او يو عمارت پرې اباد دے. دويمه بي بي سيدافزون وه. دا ابی د ملم جبې د کلي د سيدانو د خاندان نه وه. د بابا صاحب د مرګ نه پس دې دويم واده وکړو. دريمه کورودانه ئې ببره بي بي وه. د دې بي بي تعلق د ګوجرو د خاندان سره وو. د بابا صاحب د وفات نه پس دې هم واده وکړو. څلورمه بي بي ئې د علاقه غېر جدبا کلي وه. دا بي بي جسماني طور معذوره وه. د بابا صاحب د وفات نه پس دا خپلو وروڼو کلي ته بوتله. د دې څلورو واړو بيبيانو نه د بابا صاحب هېڅ قسمه اولاد نۀ وو.

شهادت: کله چې ميانګل عبدالودود په کال ۱۹۱۵ء تا ۱۹۱۷ء خواوشا کښې د سوات مشري سنبال کړه. نو دوي هېڅوک خوا که هغه سياسي پوهه لرله او که د دين يا د تصّوف د مېدان سره ئې تعلق لرلو او يا که د خپلې علاقې خانان۱ وو. مخې ته نۀ پرېښودل.

چې څوک به ورته زورور ښکاره شو او يا به په لار کښې ئې خنډ شو مياګل صېب به د لارې نه تر عمره ورکولو. داسې ډېرې قيصې د سوات په تاريخ کښې مشهورې دي. په هغوي کښې يوه د سونډيا باباجي د شهادت هم ده.

په دربارونو د دعا اخستو د پاره او بطور د خپل حاجت روا

هرانسان ځان له يوه لار خوښوي، ځکه زيات ترخلق د ولي الله په دربار يا دربارونو حاضري کوي.د دغه دربارونو نه روحاني فيض حاصلوي. ور سره ئې د نفس اماري تزکيه هم کېږي.اوبيا د دغې ولي الله يا خپل مرشد نه ورته روحاني لارې هم سمېږي.ځکه خو د حضرت سيد علي شلماني المعروف سونډيا باباجي په دربار کښې به د مريدانو تګ راتګ سېوا وو.او ددې نه علاوه د نورو علاقو خلق به هم د دهٔ دربار ته راتله.

حاکم چکېسر يو رپورټ حکمران او وزير رياست سوات ته ؤلېږلو او د بعضې غېر مقبول حکومتي خانانو تصديق ئې ورسره شامل کړو چې:

"د سونډيا مُلا اثر ډېر زيات شوے دے او الائي ننډهيارۍ ترې هم متأثره شوے دے.او ماته خصوصي اطلاع دا رارسېدلې ده. چې باجوړي خان،زرداد خان د چکېسر د غوربند بعضې ملکان او امير خان د کانا په کښې شامل دي.په دې جرګه کښې دا فېصله شوي ده. چې په يوه خاصه موقعه به سونډيا بابا ظهور کوي.د کوهستان ،شانګله پار او الائي ننډهيارۍ عوام او خواص به ورسره ملګري وي.او چونکې د غرونو په علاقه کښې ټول خلق مسلح دے.نو که دا بغاوت يو پېره شروع شو نو دفع کول به ئې ډېر ګران وي.

حکمرانِ سوات فوراً خپل وزير ته د کارروائۍ د پاره حکم ورکړو.ورسره ئې د سونډيا باباجي رحمة الله عليه د ګرفتارۍ او سيدو ته د چالانولو حکم صادر کړو.وزير حضرت علي خان خپل ورور احمد علي خان سپه سالار ؤلېږلو ،د ټول شانګله پار نه ئې اسلحه ضبط

کړه.د باجوړي خان او زرداد خان اختيارات ئې محدود کړل.او د هغه په خلاف ئې د شانګله پار هوښيار ترين شخصيت حجاب خان (خان آف شنګ)د غريخېل والوؤخان مقرر کړو". ۴

"سونډيا باباجي رحمة الله عليه ۲ګرفتار شو.سيدو ته ئې چالان کړو. او بيا شېراترپ [د سپل بانډې نه مشرق لور ته] د خپل درېوو کسانو په لاس چې يو حولدار وو خو د نسب نه اهنګر او بل ګوجر وو.د جواړې کنډاؤ اوسېدونکے وو.سونډيا باباجي ئې دغه کسانو ته د وژلو د پاره حواله کړو.بابا ئې د شېراترپ کلي [بانډې] ته بوتلو.او هلته چې د سوات باچا د واورې د جمع کولو د پاره کوم کوهې جوړ کړے وو.هغه کوهي ته ئې وغورځولو.ډېر روايتونه داسې دي چې باباصاحب رحمة الله عليه په دغه کوهي کښې ژوندے وو او څوک وائي چې وفات شوے وو.بهرحال بابا صاحب رحمة الله عليه هم په دغه کوهي کښې په ابدي خوب اوده شو". ۵

د بابا صاحب د وفات نېټه کومه چې د روضې په کتبه ليک ده هغه ۲۵ شعبان، ۱۹۴۰ء ده.او په " تاريخ سوات" (۱۹۱۵ء تا ۱۹۶۹ء)کښې ډاکټر سلطانِ روم صيب ۱۹۳۱ء ليکلې ده". ۶

انالله وانا اليه راجعون.

شهيد عبدالکريم شلماني بنِ عبدالحئ بنِ عبدالسبحان بنِ محمد بهرام په تانه کلي کښې په کال ۱۸۷۳ء خواوشا کښې زېږدلے وو.د دۀ اباو اجداد په چارباغ سوات کښې دېره وو.چې په دغه وخت کښې د سلطان پکهل (فکهل) په ټول سوات حکمراني وه.د محمد بهرام د يو ورور محمد يعقوب اولاد په امب دربند هزاره کښې اباد شوے دے.او اولاد ئې په تهپله کښې اوسېږي.د

محمد بهرام بل وروړ محمد ايوب وو. دې د چارباغ نه اله ډهنډ ته راغلے وو. بيا د اله ډهنډ نه سخاکوټ ته لاړ. د دۀ اولاد په پلی، بائيزو خرکے مردان، هېروشاه او سخاکوټ کښې ميشته دے.

کله چې په کال ۱۸۹۵ء کښې د ملاکنډ په خاوره د انګرېزانو او مسلمانانو مجاهدينو جنګ ونښتو نو د دې سيمې د سوات، بونېر، باجوړ او مومندو د علاقو نه په ګڼ تعداد کښې مجاهدين چې د دينِ محمدي ﷺ په مينه سرشار وو، ملاکنډ ته راغلل. او ښۀ په مړانه د برطانوي فوج سره ؤجنګېدل. ډېرو مسلمانانو پکښې قربانۍ ورکړې او شهيدان شول. په دې مجاهدينو کښې يو د تانې کلي شهيد عبدالکريم شلماني هم دے. په دغه وخت کښې د دۀ عمر تقريبًا ۲۲ کاله جوړېدو. د دۀ د مشر وروړ عبدالله جي لور غني جان ابۍ راقم الحروف ته داسې وئيلي ووچې:

"زما دغه تره د پتهي نه راغے د سر نه ئې ګېډ ے وغورځولو. اوکره ئې ؤخوړه. سر ئې خرئيلے وو. توره او د جنګ سامان ئې د ځان سره واخستۀ او دا ئې ووئيل چې زۀ غزا له ځم. په دغه وخت کښې زما عمر اندازتًا شپږ يا اووه کاله وو. په ښۀ بد پوهېدم. بيا خبر شوم چې زما دغه تره د ملاکنډ په غزا کښې شهيد شوے دے".

دغه وخت د ابۍ عمر ۱۰۲ کاله جوړېدو چې په ۲۱ جنورۍ ۱۹۹۴ء کښې سحر څلور بجې وفات شوې وه. د شهيد بابا شپږ وروڼه نور هم وو او درې ئې خوئيندې وې. شهيد بابا بې وادۀ

کړه.د باجوړي خان او زرداد خان اختيارات ئې محدود کړل.او د هغه په خلاف ئې د شانګله پار هوښيار ترين شخصيت حجاب خان (خان آف شنګ)د غريخېل والوؤخان مقرر کړو".۴

"سونډيا باباجي رحمة الله عليه ۲ګرفتار شو.سيدو ته ئې چالان کړو.او بيا شېراترپ [د سپل بانډۍ نه مشرق لور ته] د خپل درېوو کسانو په لاس چې يو حولدار وو خو د نسب نه اهنګر او بل ګوجر وو.د جوارۍ کنډاؤ اوسېدونکے وو.سونډيا باباجي ئې دغه کسانو ته د وژلو د پاره حواله کړو.بابا ئې د شېراترپ کلي [بانډې] ته بوتلو.او هلته چې د سوات باچا د واورې د جمع کولو د پاره کوم کوهې جوړ کړے وو.هغه کوهي ته ئې وغورځولو.ډېر روايتونه داسې دي چې باباصاحب رحمة الله عليه په دغه کوهي کښې ژوندے وو او څوک وائي چې وفات شوے وو.بهرحال بابا صاحب رحمة الله عليه هم په دغه کوهي کښې په ابدي خوب اوده شو".۵

د بابا صاحب د وفات نېټه کومه چې د روضې په کتبه ليک ده هغه ۲۵ شعبان، ۱۹۴۰ء ده.او په "تاريخ سوات" (۱۹۱۵ء تا ۱۹۶۹ء)کښې ډاکټر سلطانِ روم صيب ۱۹۳۱ء ليکلې ده". ۶
انالله وانا اليه راجعون.

شهيد عبدالکريم شلماني بنِ عبدالحی بنِ عبدالسبحان بنِ محمد بهرام په تانه کلي کښې په کال ۱۸۷۳ء خواوشا کښې زېږدلے وو.د دۀ اباو اجداد په چارباغ سوات کښې دېره وو.چې په دغه وخت کښې د سلطان پکهل (فکهل) په ټول سوات حکمراني وه.د محمد بهرام د يو ورور محمد يعقوب اولاد په امب دربند هزاره کښې اباد شوے دے.او اولاد ئې په تهپله کښې اوسېږي.د

محمد بهرام بل ورورمحمد ايوب وو. دې د چارباغ نه اله ډهنډ ته راغلے وو. بيا د اله ډهنډ نه سخاکوټ ته لاړ. د دۀ اولاد په پلي، بائيزو خرکے مردان، هېروشاه او سخاکوټ کښې ميشته دے.

کله چې په کال ۱۸۹۵ء کښې د ملاکنډ په خاوره د انګرېزانو او مسلمانانو مجاهدينو جنګ ونښتو نو د دې سيمې د سوات، بونېر، باجوړ او مومندو د علاقو نه په ګڼ تعداد کښې مجاهدين چې د دينِ محمدي ﷺ په مينه سرشار وو، ملاکنډ ته راغلل. او ښۀ په مړانه د برطانوي فوج سره ؤجنګېدل. ډېرو مسلمانانو پکښې قربانۍ ورکړې او شهيدان شول. په دې مجاهدينو کښې يو د تانې کلي شهيد عبدالکريم شلماني هم دے. په دغه وخت کښې د دۀ عمر تقريباً ۲۲ کاله جوړېدو. د دۀ د مشر ورور عبدالله جي لور غني جان ابۍ راقم الحروف ته داسې وئيلي ووچې:

"زما دغه ترۀ د پتي نه راغے د سر نه ئې ګېډے وغورځولو. اوګره ئې ؤخوړه. سر ئې خرئيلے وو. توره او د جنګ سامان ئې د ځان سره واخستۀ او دا ئې ووئيل چې زۀ غزا له ځم. په دغه وخت کښې زما عمر اندازتاً شپږ يا اووه کاله وو. په ښۀ بد پوهېدم. بيا خبر شوم چې زما دغه ترۀ د ملاکنډ په غزا کښې شهيد شوے دے".

دغه وخت د ابۍ عمر ۱۰۲ کاله جوړېدو چې په ۲۱ جنورۍ ۱۹۹۴ء کښې سحر څلور بجې وفات شوې وه. د شهيد بابا شپږ ورونه نور هم وو او درې ئې خوئيندې وې. شهيد بابا بې وادۀ

وو .د دهٔ مزار مبارک په بره بائي پاس تانړه کلي ملاکنډ کښې د سوات د سړک په غاړه د شلمانو په لويه هديره کښې د ے.[۷]

سيد جمال شلماني د عبدالله جې کره په تانړه کلي کښې په کال ۱۸۷۲ء خواوشا کښې زېږېدلے وو .دې د عبدالله جې مشرځوے وو .دهٔ وادهٔ نهٔ وو کړے. د دهٔ مزار د شلمانو په لويه هديره کښې د ے.

سيد کمال شلماني د عبدالله جې کره په تانړه کلي کښې په کال ۱۸۸۰ء خواوشا کښې زېږېدلے وو .سيد کمال د عبدالله جې دويم ځوے وو .په جنګ عظيم اول ۱۹۱۴ء کښې د فرنګي په فوج کښې وو ،کله چې فرنګيانو په بصره حمله وکړه نو هغه د مسلمانانو ترکيانو طرف ته شو .په مړانه د انګرېز فوج خلاف وُجنګېدو او بيا د هاغه ځايه پياده ايران او افغانستان په لار راغے .خپل کلي تانړې ته را وُرسېدو .دهٔ وادهٔ کړے وو خو څهٔ قسمه اولاد ئې نهٔ وو .د دهٔ مزار د شلمانو په لويه هديره کښې د ے .

سيد کريم شلماني په کال ۱۸۸۴ء کښې د عبدالله جي کره پېدا شوے وو .دې د عبدالله جي درېيم ځوے د ے.د دهٔ څلور ځامن او دوه لونړه دي.صوفي طبيعته او خاموش طبع انسان وو .ډېر حق ګو ديندار او پاکبازه وو .په کال ۱۹۲۹ ء کښې په حق رسېدلے د ے.د شلمانو په لويه هديره کښې دفن د ے .

فضل کريم شلماني د عبدالله جي کشر ځوے وو ،په تانړه کلي کښې په کال ۱۸۹۰ ء کښې پېدا شوے وو .د شکل صورت نه ډېر ښائسته او باطني طور هم د پير فقير معتقد وو .په کلي کښې

په" کاکا" پېژندے شو.د دهٔ دري ځامن او څلور لونړه دي.د دهٔ ځوے فضل غفار وائي چې زما پلار ماته دا وئيلي وو چې:
"زما د ۱۸۹۷ء د ملاکنړ غزا ياده ده". په کال۱۹۰۵ء[املټري رپورټ اينډ ګزټيئر ۱۹۲۸ء مخ ۴۱]کښې چې د موسیٰ خېلو او د تانړې د خلقو د هېبت ګرام په کلي کښې کومه جګړه شوې وه په هغې کښې دهٔ حصه اخستې وه".
دے د علاج د پاره د کوئيټې په CMH کښې داخل وو.هم هلته په ۲۲ نومبر، ۱۹۶۹ء کښې وفات شو.او د کوئيټې د فوجي قلعې په قبرستان کښې دفن کړے شو.
خورشېد روشن شلماني د فضل کريم کره په تانړه کلي کښې په ۲۴ فروري ، ۱۹۴۰ ء کښې زېږېدلے دے.د تانړې د ګورنمنټ هائي سکول نه ئې په ۱۹۵۲ء کښې لسم جماعت پاس کړے وو.په فوج کښې بهرتي شو او د اتلس کاله نوکرۍ نه پس په کال ۱۹۷۳ء کښې ريټائرډ شو. د دې نه پس ئې د اکاونټنټ اډيټر په حېث خپل خدمات په اکاونټ افېس ملاکنډ کښې ترسره کړي وو. په پرائېوېټ توګه ئې دولسم ،څوارلسم او شپاړسم (پښتو) ئې پاس کړه.او پرله پسې ئې په دغه واړه امتحانونو کښې په ټوله صوبه کښې اول پوزيشن واخستو. شپاړسم ئې په پښتوادبياتو کښې وکړو اوګولډمېډل ئې واخستو.د اکاونټ افېسرۍ اود کمېشن امتحان ئې هم پاس کړے وو.خو ترجيح ئې د پښتو لکچرر شپ له ورکړه.په ګورنمنټ ډګري کالج الپورۍ کښې ئې تعيناتي اوشوه.تر د اتلسمه ګرېډه په ترقۍ لاړو او په کال ۲۰۰۰ء کښې ريټائرډ شو.حافظ القرآن وو.د قادريې طريقې

سره ئې تعلق وو.ډېر مضبوط اهلِ سنت او د اولياء الله معتقد وو.د دهٔ پنځه ځامن او پنځه لوڼه دي.

ادبي خدمات: خورشېد روشن شلماني د پښتو شاعرۍ او نثر لويه پنګه لري.ادبي تړون ئې د پښتو ادبي ټولنې ملاکنډ او د عظيم ادبي جرګې سره وو.د دهٔ ډېرې غزلې، افسانې او مختلف مضمونونه وخت په وخت په بېلا بېلو ورځ پاڼو کښې چاپ شوي دي. د دهٔ په ژوندانهٔ د دهٔ څهٔ قسمه کتاب نهٔ دے چاپ شوے.په اتلسمه جنورۍ ۲۰۱۷ء کښې ددې دنيا نه د اخرت په سفر لاړو.د خپل کلي تانې د شهيدانو په مقبره کښې ئې اخري ارام ګاه ده.په ګور ئې رحمت شه.۸

د کلام نمونه ئې دا ده.

سپوږمۍ ماته منت باره ده چې نمر يم
زهٔ خورشېد په رناګانو منوّر يم

د هاغو سترګو نه ځار شم د هاغو سترګو لوګے شم
زهٔ خورشېد چې ورته ګورم هغه ښکته ګوري

فضل غفار شلماني د فضل کريم کره په تانه کلي کښې په ۱۲ ستمبر، ۱۹۴۷ء کښې پېدا شوے دے .په کال ۱۹۲۳ء کښې ئې د ګورنمنټ هائي سکول تانې نه لسم جماعت پاس کړے دے.او هم په دغه کال د پرائمرۍ د استاذ په حېث ئې تقرري ؤشوه.د سي ټي،بي ايډ امتحانونه ئې په ښهٔ پوزيشن کښې پاس کړي وو.

ماسټر ئې په پښتو ادب كښې كړے دے.دوه څلوېښت كاله او څلور مياشتې ئې د محكمه تعليم د پاره په لرې لرې ځايونو كښې پوره په دل جمعۍ سره د قوم د بچو تعليمي تربيت كړے دے. په كال ۲۰۰۷ ء كښې ئې د حج فريضه ادا كړه او هم په دغه كال په ۱۲ ستمبر ۲۰۰۷ء كښې د ملازمت نه ريټائرډ شو.په پښتو،اردو،فارسۍ او انګرېزۍ ژبو ښۀ عبور لري.په انګرېزۍ ژبه كښې وېنا او ليک لوست ئې مثالي دي.د خپل وخت په بهترينو استاذانو كښې شمېرلے شي. ښۀ سياسي پوهه هم لري.ډېر مېلمه دوسته،حق ګو،خدا ترسه،پاكبازه او د روحاني مسلک د سلسله قادريې سره تعلق لري.د دۀ شپږ ځامن او دوه لوڼه دي.ټولو ځامنو او لوڼو ئې د حرمينو شريفينو د تلو سعادت حاصل كړے دے.د خپلو بچو اونمسو تربيت ئې د حضور ﷺ د سُنتو مطابق كړے دے او كوي.اوس هم تر خپله وسه پورې خپلو او پردو ته د دين او دنيا د علم ښودنه كوي.

فضل غفور شلماني د سيد كريم شلماني كره په دويمه جولائۍ ۱۹۳۴ء كښې په تانه كلي كښې زېږدلے وو. ډېر پوهه ،زيرک،مېلمه پال او د نرم زړۀ خاوند وو.دۀ به د فروټو خپل كاروبار كوو.په يولسمه جنورۍ كال ۲۰۰۱ء كښې په حق رسېدلے وو.د شلمانو په لويه اديره بره بائي پاس كښې دفن دے.

فضل وهاب كامل شلماني د ارواښاد سيد كريم شلماني كره په كال ۱۹۴۷ء كښې په تانه كلي كښې پېدا شوے دے.لسم جماعت ئې د خپل كلي د ګورنمنټ هائي سكول نه په كال

۱۹۶۶ء کښې پاس کړے دے. په ادبي دنیا کښې د کامل شلماني په نامه خپله پېژندګلو لري. نوموړې د نثر او نظم په مېدان کښې مټ بر لري. په کال ۲۰۱۸ء کښې ئې "د صدف ژړا" په نوم یوه شعري مجموعه په منظرِ عام راغلې ده.

امین الکریم په تانړه کلي کښې د فضل غفار شلماني کره په ۱۷ مارچ ۱۹۷۴ء کښې پېدا شوے دے. ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي د پرائمرۍ او هائي سکول نه تر سره کړے دے. لسم جماعت ئې په ۱۹۹۰ء کښې او ډي کام ئې د ګورنمنټ کالج اف منیجمنټ سائنسز نه په کال ۱۹۹۲ء کښې پاس کړے دے. د پېښور یونیورسټۍ نه ئې د ځوارلسم ډګري تر لاسه کړې ده. په کال ۲۰۰۸ء کښې ئې د حج مبارک سعادت هم حاصل کړے دے. په ۲۰۰۷ء کښې په ګورنمنټ کالج اف منیجمنټ سائنسز کښې د جونیئر کلرک په عهده برتي شو او تر دې دمه خپل خدمات تر سره کوي.

محمد اجمل خان د فضل غفار شلماني کره په تانړه کلي کښې په ۲۱ ستمبر، ۱۹۷۳ء کښې زېږېدلے وو. ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي په سکولونو کښې حاصل کړے وو. د ګورنمنټ پولي ټیکنک انسټیټیوټ مېنګورې نه ئې په کال ۲۰۰۲ء کښې ډپلومه ان الیکټریکل انجینئرنګ تر لاسه کړه. خپل کاروبار ئې د تانړې په بازار کښې کوو. هر قسمه د بجلۍ وائرنګ، سټبلائزرز او د ټرانسفارمرو په کار کښې ښۀ ماهر وو. د قادريې سلسلې سره ئې تعلق وو. او په دغه طریقه کښې د حضرت غلام محمد

باباجي صاحب باغکنډۍ نه بېعت وو. په مۍ ۲۰۱۴ء کښې ئې د عمرې مبارکې سعادت حاصل کړے وو. يو ښۀ سماجي کارکن هم وو. د جمعې په ورځ ماسخوتن(۰۵ - ۱۱ بجې) په نولسمه فروري ۲۰۱۲ء د زړۀ لـه د دورې لـه کبلـه پـه ابدي خوب اودۀ شو. د وفات په وخت د دۀ عمر ۴۲ کالـه دوه مياشتې او ۲۸ ورځې وو. د دۀ جنازه د تانې په کلي کښې يوه تاريخي جنازه وه. يو لوئے عاشق رسول وو. او د حضور ﷺ د تبرکاتو مبارکو د راغونډولو مشغله ئې لرله .او تر ډېره حده پورې په دغه مشغله کښې ئې د برياليتوب سعادت حاصل کړے وو. د دۀ جنازه حضرت غلام محمد باباجي صاحب د باغکنډۍ ادا کړې وه. د تانې د شهيدانو په لويه مقبره کښې ئې مزار دے. درې لوڼه خوله،لياه ، بختاور او يو ځوے طلحه کريم لري.

محمد ايمل خان په دولسمه جنورۍ ،۱۹۷۲ء کښې د فضل غفار شلماني کره په تانه کلي کښې پېدا شوے دے. ابتدائي تعليم ئې د ګورنمنټ پرائمرۍ سکول۱ او ګورنمنټ هائي سکول تانې۲ نه حاصل کړے دے. دۀ په ايم ايس سي اکنامکس،ماسټر ان پبلک هيلتهـ او ماسټر ان انټرنيشنل ريلېشنز کښې ډګرۍ حاصلې کړي دي. دغه شان دۀ د بي ايډ او ډپلومه ان انفارمېشن ټيکنالوجي سندونه هم تر لاسه کړي دي. موجوده د ډسټرکټ مانيټرنګ افېسر هيلتهـ په ځوکۍ ناست دے. د سکاؤټ يو فعال کارکن پاتې شوے دے. يو ښۀ مقرر دے. ډېر سماجي او فلاحي کارونه ئې کړي دي. او په دغه سلسله کښې په ملکي او غېر ملکي ورکشاپونو کښې شامل شوے دے. د البلال فلاحي تنظيم

نوجوانان رجسټرډ صدر هم پاتې شوے دے.د دهٔ درې ځامن او يوه لور زنېره ده.

محمد اکمل خان په نهم اپرېل ، ۱۹۸۰ء کښې د شلمانو په خاندان کښې د فضل غفار شلماني کره په تانه کلي کښې سترګې غړولې دي-د ګورنمنټ پرائمري سکول ۱ نه ئې ابتدائي تعليم او د ګورنمنټ هائي سکول۲ تانې نه ئې په کال ۱۹۹۲ء کښې لسم جماعت پاس کړے دے. د ګورنمنټ ډګري کالج تانې نه ئې په کال ۱۹۹۸ء کښې دولسم جماعت پاس کړے دے- په څوارلسم کښې ئې داخله واخسته خو ډګري ئې تر لاسه نهٔ کړه-او د معاش د ګټلو په غرض سعودي عربستان ته لاړو.چې لا تر اوسه د مدينې منورې په ښار کښې مقيم دے.د قادرې طريقې سره تعلق لري.د حضور ﷺ او اصحابو کرامو تبرکات ورسره موجود دي.د دهٔ درې لونړه مېمونه،امينه ،سودا او درې ئې ځامن دي.

عبدالله خان دَ فضل غفار شلماني کره په ۱۴ اپرېل، ۱۹۸۲ء کښې په تانه کلي کښې پېدا شوے دے.لسم جماعت ئې د ګورنمنټ هائي سکول تانې ۲ نه په کال ۲۰۰۰ء کښې پاس کړے دے.دولسم جماعت ئې دګورنمنټ ډګري کالج تانې په کال ۲۰۰۴ء کښې پاس کړے دے. دا وخت خپل ذاتي کاروبار کوي.د دهٔ يو ځوے حسن کريم درې لونړه طوبىٰ،امنه او لويزه دي.

عبيدالله په پنځم مارچ ۱۹۹۲ء کښې د ارشد کريم شلماني کره

په پلې خپه تانه کښې پېدا شوے دے.لسم جماعت ئې د اقراء ايجوکيشن اکېډمي تانې نه په ۲۰۱۲ء کښې او ايف ايس سي(FSc) ئې د فيډرل ګورنمنټ کالج بټ خېلې نه په کال ۲۰۱۴ء کښې پاس کړې ده. د بي ايس ډګري ئې په جيالوجي(Geology) کښې د يونيورسټي آف ملاکنډ نه په کال ۲۰۱۸ء کښې تر لاسه کړې ده. د قادريې سلسلې سره تعلق لري - ډېر هنرمند اوخاموشه طبع انسان دے.موجوده د ايم فل جيالوجي سکالر دے.

ډاکټر احمد خان د عبدالصمد کره په ۱۱ مۍ ، ۱۹۱۱ء د سکول د ريکارډ مطابق په ۱۵ فروری ۱۹۱۲ء کښې په تانه کلي کښې سترګې غړولې وې.ابتدائي تعليم ئې د خپل کلي د پرائمرۍ نه او دغه شان اتم جماعت ئې د ګورنمنټ هائي سکول تانې نه په يکم اپرېل ۱۹۲۹ء کښې پاس کړے وو.په يکم اپرېل ۱۹۳۰ء کښې ئې د ملازمت ارډر اوشو.دۀ د ليډي ريډنګ هسپتال پېښور نه هم په دغه کال په هيلتهـ کښې تربيت اخستے وو.د خېبر پښتونخوا په مختلفو هسپتالونو کښې پاتې شوے دے.په کال ۱۹۶۲ء کښې د ملازمت نه ريټائرډ شو او بيا ئې په خپل کلي تانه کښې د احمد ميډيکل هال په نامه خپل د علاج معالجې کار جاري وساتو.په ۲ نومبر ۱۹۷۲ء کښې ئې د حج مبارک سعادت حاصل کړے وو.دے يو ښۀ ليکوال وو.او د خپلې علاقې ډېر تاريخ ئې په ليک کښې خوندي کړے دے، چې تر نن ورځې پورې ترې خپل خاندان استفاده کوي.دغه تاريخ ناچاپه دے.خو ډېر تاريخي معلومات لري. په کال ۱۹۷۹ء کښې

وفات شوے دے.

محمد اکرام د ارواښاد احمد خان کره په يکم اپرېل ۱۹۵۹ء کښې په درگئ کښې پېدا شو دے. په دغه ورځو کښې د دهٔ پلار د ملازمت په لړ کښې په سول هسپتال درگئ کښې وو. د گورنمنټ هائي سکول تاني نه ئې په کال ۱۹۷۴ء کښې لسم جماعت پاس کړے دے. په کال ۱۹۸۲ء کښې ئې د هيلتهـ اي پي ائي کورس وکړو په دسمبر ۱۹۸۳ء کښې ئې په تېمر گره هسپتال کښې د اي پي ائي ټيکنيشن په څوکئ بهرتي شو. دا وخت د ملتي پرپز هيلتهـ ټيکنيشن په څوکئ خپل خدمات تر سره کوي.

محمود خان د ارواښاد عبدالصمد کره په تانه کلي کښې په جون ، ۱۹۲۵ء کښې پېدا شوے دے. د گورنمنټ هائي سکول تاني نه ئې اتم جماعت پاس کړے وو. رائل انډين ارمي آرمډ کور يونټه کښې په کال ۱۹۴۳ء کښې بهرتي شوے وو. د يويشت کاله نوکرئ نه پس په کال ۱۹۶۴ء کښې ريټائرډ شو. په ۲۴ دسمبر، ۱۹۹۴ء کښې وفات شوے دے.

محمد نفيس د ارواښاد محمود خان شلماني کره په دويم اپرېل، ۱۹۵۴ء کښې پېدا شوے دے. د گورنمنټ هائي سکول تاني نه ئې لسم جماعت او بيا ئې تر دولسم جماعت پورې تعليم حاصل کړے دے. په ۲۱ مئ، ۱۹۷۵ء کښې په محکمه تعليم کښې د پي ټي سي استاذ په حېث نوکر شو. په يکم اپرېل، ۲۰۱۴ء کښې ريټائرډ شو.

عثمان علي د اروابناد سپين ګل شلماني كره په هببت ګرام كلي كښې په ٢٧ جنورۍ ،١٩٧٨ء كښې پېدا شوے دے. دۀ د پېښور پوهنتون نه په كال ٢٠٠٨ء كښې په پولټيكل سائنس كښې د ماسټر ډګري تر لاسه كړې ده. خپل ذاتي كاروبار كوي.

محمد سعيد غمګين په ادبي دنيا كښې د خپل تخلص له كبله په غمګين خپله پېژندګلو لري. د اله ډهنډ ډهېرۍ په شلمانو محله كښې په ٨ جولائي ،١٩٤٨ء كښې د عبدالرزاق شلماني كره پېدا شوے دے. دۀ په خپله سيمه كښې د پښتو ژبې او ادب د خدمت پاره د "يارانِ قلم" په نوم يوه ادبي ټولنه جوړه كړې وه چې لا تر ننه پورې بحال ده. غمګين صېب نثر هم ليكلي خو كوم صنف چې دۀ ته شهرت وربخښلے دے. هغه د دۀ رنګين غزل دے. "تيندكونه" او "د مديني ګلونه" ئې ناچاپه اثار دي. (رحيم شاه رحيم، واورينې څوكې، دسمبر ١٩٨٦ء مخ ٨٥)

فدا جان خليل شلماني په دريم مارچ، ١٩٦٤ء كښې په اله ډنډ ډهېرۍ كښې د شلمانو په محله كښې د اروابناد ګل رضا شلماني كره سترګې غړولې دي. په كال ١٩٨٥ءكښې ئې په پښتو ادب كښې ماسټر كړے دے. په ملاكنډ بورډ كښې د كال ١٩٩٧ء نه د اسسټنټ سيكرټرۍ په څوكۍ خپل خدمات تر سره كوي. او ددې سره سره يو ښه شاعر هم دے. په ادبي دنيا كښې د خپل تخلص خليل له كبله پېژندګلو لري.

محمد حنيف خان شلماني د اروابناد نردالله خان شلماني كره د جنورۍ په وړومبۍ نېټه ١٩٨٤ء كښې په اله ډنډ ډهېرۍ كښې

د شلمانو په محله كښې پېدا شوے دے.بي سي ايس(BCS) ئې د گورنمنټ ډگري كالج تانې نه په كال ۲۰۰۲ء كښې او هم د دغه كالج نه ئې په كال ۲۰۰۸ء كښې پرائېوېټ د لاء ډگري اخستې ده.په كال ۲۰۰۸ء كښې په ملاكنډ لېويز كښې بهرتي شو.او د سينئر محرر په حېث خپلې ذمه وارۍ تر سره كوي.

امير حمزه شلماني د ارواښاد شاه رضا شلماني كره په الهډنډ ډهېرۍ كښې د شلمانو په محله كښې په يكم فرورۍ، ۱۹۶۲ء كښې پېدا شوے دے.په كال ۱۹۸۵ء كښې په كميشنر افس سېدو شريف سوات كښې نوكر شو.په كال ۲۰۰۱ء كښې د ملاكنډ ډي سي آفس ته راغے او تر نن ورځې پورې په دغه ځوكۍ د پرائېوېټ سيكرټري په حېث خپل خدمات تر سره كوي.

محمد شفيق شلماني د حسرت شلماني په نوم پېژندے شي.دے د شېرافضل شلماني كره په ۲ جنورۍ، ۱۹۷۲ء كښې په بټ خېله كښې پېدا شوے دے.د دۀ نيكنے ټاټوبے د الهډنډ كلے دے. خو اوس په بټ خېله كښې استوگنه كوي.

نورمحمد شلماني په يكم مئ، ۱۹۷۲ء كښې د ارواښاد غني محمد شلماني كره په الهډنډ ډهېرۍ كښې پېدا شوے دے.دۀ په پولټيكل سائنس او تاريخ كښې ماسټر كړے دے.په RITE كالج تانه كښې د انسټركټر په عهده خپل خدمات تر سره كوي.

خادم محمد شلماني په ۲۵ دسمبر، ۱۹۷۴ء كښې د ملك پرهېز گار شلماني كره په الهډنډ ډهېرۍ كښې پېدا شوے دے.د گومل يونيورسټۍ نه ئې په كال ۱۹۹۸ء كښې په فزكس كښې د

ماسټر ډګري اخستې ده. په RITE کالج تانه کښې د انسټرکټر په عهده خپل خدمات تر سره کوي.

اظهارالحق شلماني په درېيم مارچ، ۱۹۹۰ء کښې په اله ډنډ ډهېرۍ کښې د شلمانو په محله کښې د عزيز الحق شلماني کره سترګې غړولې دي. دهٔ د ګورنمنټ پولي ټيکنک انسټيټيوټ مېنګورې نه په کال ۲۰۰۹ء کښې ډپلومه ان سول انجينئرنګ تر لاسه کړې ده. د سرحد يونيورسټۍ نه ئې بي ټېک (B-Tech) کړې دے. په سي اينډ ډبليو محکمه کښې د انجنيئر په څوکۍ خپلې ذمه وارۍ تر سره کوي.

راحت خان شلماني د صمد شلماني (صمت) کره په سخاکوټ کښې زېږېدلے دے. دے په کال ۱۹۳۱ء کښې د سمه رانيزۍ د سرخ پوشو مشر ټاکلے شوے وو. يو ښهٔ باأثره شخصيت وو. په کال ۱۹۳۱ء کښې د ۴۰ ايف سي آر د لاندې انګرېزانو ته د تحفظ نه د انکار او ضمانت نهٔ ورکولو په وجه د درېوو کالو د پاره جېل ته لېږلے شوے وو. په نزدې ضلع کښې ئې د سرخ پوشو د تحريک سره اړيکې لرلې. د خپلې سزا د پوره کېدو نه پس د جېل نه ازاد کړے شوے وو. (ژباړه)۹

اکرم خان شلماني د اروابښاد صمد شلماني (صمت) کره په سخاکوټ کښې زېږېدلے دے. د ذات نه د شلماني قبيلې سره تعلق لري. د دهٔ پلار د خپل کلي يو باأثره شخصيت وو. د انګرېز حکومت له ئې په مختلفو موقعو کښې ښهٔ خدمات تر سره کړي وو. اکرم په سخاکوټ کښې د يوې سياسي ډلې مشر وو. ليکن د

پولټيکل ايجنټ په اډر په کال ۱۹۳۱ ء کښې د سرخ پوش تحريک سره په اړيکو لړلو د کلي د جرګې نه ويستے شوے وو.(ژباړه)۱۰

حاجي زبير شاه شلماني د خپل کلي د يو سياسي ډلې مشر دے .په سرخ پوش تحريک کښې ئې ښۀ کار کړے دے.د دۀ په کلي کښې د دۀ مخالف يوه بله ډله په سرخ پوش تحريک کښې هم وه.په کال ۱۹۳۳ ء کښې دۀ حج ادا کړے دے.ذهين دے او خپل تجارت کوي.(ژباړه)۱۱

نيک عمل خان شلماني په يکم مارچ، ۱۹۲۸ء کښې د راحت خان کره په سخاکوټ سمه رانيزۍ کښې زېږېدلے وو، ابتدائي تعليم ئې د خپل کلي په مدرسه کښې او لسم جماعت ئې د ګورنمنټ هائي سکول تانړې ملاکنډ نه تقريباً ۴۵ – ۱۹۴۴ء کښې پاس کړے وو.بي اے او ايل ايل بي ئې د ايډورډ کالج پېښور نه پاس کړي دي.د جنرل ايوب خان په دورِ حکومت کښې د بي ډي په سسټم کښې چيئرمين وو.په ۱۹۹۷ء کښې د عوامي نيشنل پارټۍ په ټکټ د صوبائي اسمبلۍ خيبر پښتونخوا ممبر مقرر شوے وو. د دۀ شمار د باچا خان او خان عبدالولي خان په نزدې ملګرو کښې وو.دے د باچا خان د بورډ آف ټرسټيز او د پارټۍ د تهنک ټېنک هم ممبر وو.دے په ۲۰۱۱ ء کښې د زړۀ د حرکت د بندېدو په وجه په حق رسېدلے دے.۱۲

افتاب احمد شلماني په سخاکوټ کلي کښې د محمد نثار شلماني کره په يکم مارچ،۱۹۸۵ء کښې زېږېدلے دے. دۀ د

ماسټر ډګري په کمپيوټر سائنس کښې د عبدالولي خان پوهنتون مردان په ۲۰۱۱ ء کښې ترلاسه کړې ده.د شلمان Associates په نامه خپل ذاتي کاروبار کوي.

تیمور علي شلماني په سخاکوټ کلي کښې د محمد نثار شلماني کره په ۱۹ جنوری، ۱۹۸۷ء کښې زېږېدلے دے.د ایسوسي ایټ انجنیئر په حیث خپل ذاتي کاروبار کوي.

عالمزیب شلماني د اروابناد زرین شلماني کره په چیخو کلي تحصیل ادینزی ضلع دیر پائین کښې په ۱۹۷۸ء کښې پیدا شوے دے. لسم جماعت ئې په کال ۱۹۹۷ ء کښې د ګورنمنټ هائي سکول سرائے بالا نه پاس کړے دے.یو نۀ ستړے کېدونکے سماجي کارکن دے.د شلماني قام د پاره اوس هم خپل خدمات تر سره کوي.خپل ذاتي کاروبار کوي.

محمد افضل شلماني په چیخو کلي دیر پائین کښې په کال ۱۹۷۲ء کښې د غزن خان کره سترګې غړولې دي. اتم جماعت پورې ئې سبق وئیلے دے.یو ښۀ سماجي کارکن دے.د شلماني قام د یو والي د پاره خپلې هلې ځلې کوي.

محمد عارف خان په نهمه فروری، ۱۹۸۰ کښې په راموړه کلي ضلع دیر پائین کښې د عبدالقدیم شلماني المعروف ګل خان کره زېږېدلے دے. خپل ذاتي کاروبار کوي.د دوي د کورنۍ زیات تره حصه په تانه کلي کښې استوګنه لري.

محمد نعیم شلماني د حاجي شریف ګل شلماني کره په چکدره ضلع دیر پائین کښې په ۸ اکتوبر، کال ۱۹۷۳ء کښې پیدا شوے

دے. اے ائي ټيکنېشن دے .په مصنوعي نسل کشۍ حېوانات کښې تجربه لري.

مياصاحب جان په بلکارۍ متهه سوات کښې په کال ۱۹۵۱ء کښې د اروابناد مياګل جان کره پېدا شوے دے. د شلماني قام د پرمختګ د پاره هلې ځلې کوي. يو فعال سماجي کارکن دے.

عمر رحيم شلماني د اروابناد مياګل جان کره په ۲ فرورۍ کال ۱۹۶۷ء کښې په بلکارۍ کلي کښې پېدا شوے دے. لسم جماعت ئې د چپرپال هائي سکول نه په ۱۹۸۳ء کښې ،په ۱۹۸۶ء کښې ئې د ملير ګورنمنټ کالج کراچۍ نه دولسم او په ۱۹۸۸ء کښې ئې هم د دغه کالج نه د څوارلسم جماعت ډګري اخستې ده.په ۱۹۹۰ء کښې په محکمه پوليس کښې بهرتي شوے دے.د سب انسپکټر په څوکۍ خپل خدمات تر سره کوي.

عمر فاروق د اروابناد مياګل جان کره په کال ۱۹۷۲ء کښې په بلکارۍ کلي کښې پېدا شوے دے. د خپل کلي د هائي سکول نه ئې لسم جماعت پاس کړے دے.د معاش د پاره په سعودي عرب کښې دے.

سيد احمد خان شلماني په چنار خوړ ګوالېرۍ کښې د نوشاد کره په ۱۵ ستمبر ،۱۹۷۵ء کښې زېږېدلے دے. په اسلاميات هسټرۍ، پولټيکل سائنس، انټرنيشنل ريلېشنز او د ايم ايس سي پاکستان سټډي ډګرۍ ئې تر لاسه کړي دي.د سي ټي د مدرس په حېث خپل خدمات تر سره کوي.

شفيق احمد المعروف پرويز احمد د سيندني خان شلماني کره په ګټ ګړهۍ بر شېرپلم کښې په ۱۵ فروری ،۱۹۷۹ء کښې زېږېدلے دے. FSc ئې د ګورنمنټ ډګري کالج متې نه په ۱۹۹۷ء کښې پاس کړې ده. يو فعال کارکن دے.د فروټو کاروبار کوي.او د پاکستان ګوټ ګوټ ته د دې سپلائي کوي.

ډاکټر امجد علي خان په ګټ ګړهۍ بر شېرپلم کښې د محمد اقبال شلماني کره په ۲ دسمبر ، ۱۹۹۰ء کښې پېدا شوے دے.په ۲۰۱۰ء-۱۴ء کښې ئې د يونيورسټي اف ايګلريکلچرل پېښور نه ډي وي ايم کړے دے.موجوده د ډي وي ايم ډاکټر په حېث خپله ذمه واري تر سره کوي.

سيد کريم شلماني په امان کوټ مېنګوره سوات کښې په نهمه جنوری ،۱۹۷۵ء کښې د اروانباد فضل کريم شلماني کره پېدا شوے دے.د کراچۍ نه ئې په کال ۱۹۹۳ء کښې د وکالت ډګري اخستې ده.په ډسټرکټ کورټ سوات او هائي کورټ پېښور کښې خپل وکالت او خدمات په ښه طريقه تر سره کوي.د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ يو سياسي ورکر دے.

امان خان په امان کوټ مېنګوره سوات کښې په ۵ اپرېل، ۱۹۷۲ء کښې د اروانباد فضل کريم شلماني کره پېدا شوے دے. په پښتو ادب کښې ماسټر دے. په ۲۰۰۵ء کښې ئې "PCS" امتحان پاس کړو. او هم په دغه امتحان کښې ئې په ټوله پښتونخوا کښې اول پوزيشن واخستو.يو فرض شناس افسر دے. د انسپکټر په ځوکۍ خپل خدمات تر سره کوي.

محمد ايوب په چېدم کلي تحصيل چکېسر ضلع شانګله کښې په يکم فروري، ۱۹۲۵ء کښې د محمد افرين شلماني کره زېږېدلے دے. د فروري ۱۹۹۰ء نه په محکمه تعميرات و شاهرات کښې د اسسټنټ سي اين ډبليو ډېژون په حېث خپل خدمات تر سره کوي. ډېر خوږ ژبې او مېلمه دوست انسان دے. د شلماني قام د پاره اوس هم خپل خدمات تر سره کوي.

خورشېد جهان صابر د محمد بشير کره په چېدم کلي تحصيل چکېسر ضلع شانګله کښې په ۱۵ جنورۍ ،۱۹۸۸ء کښې پېدا شوے دے. په اسلاميات او پولټيکل سائنس کښې ئې د ماسټر ډګرۍ تر لاسه کړې دي. په لوکل ګورنمنټ او رورل ډويلپمنټ ډيپارټمنټ کښې خپل خدمات تر سره کوي.

تاج ملوک د اروابناد سعادت خان کره په اوپل کنډاؤ تحصيل چکېسر کښې په کال ۱۹۴۰ء کښې پېدا شوے دے. دې د معاش د پاره د کراچۍ، بنګال او د هندوستان په لور تلے دے. ښه بهترين ټېلر دے. او دغه کار تر نن ورځې جاري ساتي. دهٔ ته تاريخي واقعات زباني ياد دي. ډېر خوږ ژبې او د نرم طبعيت خاوند دے.

محمود خان په ليلونۍ کلي ضلع شانګله کښې د ګل محمد شلماني کره په يکم اپرېل، ۱۹۲۹ء کښې پېدا شوے دے. په محمکه پوليس کښې په کال ۱۹۹۳ءکښې بهرتي شوے وو. نن سبا د سب انسپکټر په څوکۍ خپل خدمات تر سره کوي.

رشيد خان د محمد نظر کره په اينځر اوبهٔ پاګوړۍ بېلې بابا

کښې په ۳۰ مارچ، ۱۹۸۴ء کښې پېدا شوے دے. د ایم اے اسلامیات ډګري ئې تر لاسه کړې ده. په محکمه پولیس کښې د ۲۰۱۰ء نه خپل خدمات ترسره کوي. موجوده وخت د هېډ کانسټیبل په څوکۍ ناست دے.

رشید علي په ۲۰ مارچ، ۱۹۸۲ء کښې د محمد نظر کره په اینځر اوبهٔ پاکوړې بېلې بابا کښې پېدا شوے دے. دهٔ په اسلامیات کښې د ماسټر ډګري حاصله کړې ده.

شمس الله المعروف شمس بهائي د ارواښاد جمروز مرزا بن عبدالحکیم شلماني کره په مُلا بابا کنډاؤ پاکوړې یونین کونسل پېر اباد شانګله کښې پېدا شوے دے. دا وخت په خپل ابائي کلي کښې اوسي.

مؤمن خان د ارواښاد شېر زمان خان شلماني کره په شمالي هشتنغر کښې په کال ۱۹۲۵ء کښې پېدا شوے دے. د ګورنمنټ هائي سکول هري چند نه ئې په ۱۹۸۲ ء کښې لسم جماعت پاس کړے دے. په مزدور کسان پارټۍ او پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ کښې یو ښهٔ سیاسي ورکر پاتې شوے دے. د سیاسي اختلافاتو په وجه ئې بیا دغه پارټۍ پرېښودې او په ۲۰۱۲ء کښې په عوامي نیشنل پارټۍ کښې شامل شو. محترم عبدالنظیف لالا او جهانګیر مومند خپل سیاسي استاذان ګڼي. مومن خان یو نهٔ ستړے کېدونکے کارکن مبارېز او ښهٔ مقرر دے.

جان محمد شلماني د ارواښاد لال زمان شلماني کره په

شڼډاګ کلي چارسده کښې په ۲۴ نومبر، ۱۹۸۱ء کښې پېدا شوے دے.د میډیکل د پېشې سره د ډېرې مودې راسې تړون لري او هم په دغه پېشه کښې خپل خدمات تر سره کوي.

فضل داد خان د محمد عثمان شلماني بن محمد جلال بن مير عالم کره په ترخه کلي تحصيل و ضلع چارسده کښې په ۱۲ مارچ، ۱۹۶۲ ء کښې پېدا شوے دے. په پښتو ادب کښې ئې د ماسټر ډګري او د فضل الحق لاء کالج پېښور نه ئې په وکالت کښې هم ډګري اخستې ده.په ۱۹۸۲ءکښې په محکمه پوليس کښې بهرتې شوے دے. د DSP په څوکۍ خپل خدمات تر سره کوي.

بـس سـتا د لـوري يـو نظـر غـواړم

چـــې دې راکــړي د ســفر حوصـــله
منـــزل تـــه لاره د خطـــر غـــواړم
د طور په ځائے چې دا ځل ما ايره کړي
يـــوه جلـــوه د بـــام پـــه سـر غـــواړم
وخت که په ببرته جاروتې شي زۀ ترې
ســور ســالو شـين مـنګے ګـودر غـواړم
تـــاج وي زينـــت د بادشـــاهانو د ســـر
زۀ ځـان پـه پښـو کښـې د دلبـر غـواړم

◈◈◈

محمد کليم عادل شلماني

محمد کليم د اروانباد محمد سليم عاصي شلماني کره دمے پـه لسمه نېټه په کال ۱۹۷۲ء کښې په تانه کلي کښې زېږېدلے دے.ايف ايـس سـي، کمپيوټراو مېډيکل ډپلومـه ئـې کـړې دي. د دارو کـارو بارکوي.

د چـا د دوو ســتر ګو اثـر دے داچــې خــوار ګرځمــه
پــه وجــود روغ ښــکارم پــه زړۀ هســې بيمــار ګرځمــه
داســـتا د مينـــې محبـــت لـــه برکتـــه اشـــنا
لـــه هـــره کـــاره اوس وتلـــے يـــم وزګـــار ګرځمـــه

د تـرې زړۀ تنـده چـې سـتا پـه وصـال ماتـه کړمـه
د رقيبـانو چـم تـه ورشـمه خُمـار ګرځمـه
خوارۀ ملګري يو ځائې کښېنو چې د توت سېوري تـه
ټپـه ،غـزل شـم پـه تـارونو د سـتار ګرځمـه
د غريبـۍ سـره کليمـه خلـوص نـۀ کمېـږي
لېوالـه هـر وختـې زۀ سـتا د دره ځـار ګرځمـه٥

محمد سعيد غمګين

پـه خېبـړو ډېـر وهلـے زمـانې يـم
زۀ لـوئے شـوے د شـلمان پـه استانې يم
زۀ غمګين خو تور ته سپين وئيلے نۀ شم
د پښتو په رنګ رنګ شوے شلمانے يم

پـه کوم قوم کښې چې د مينې ارزاني وي
نفرتونـه پـه کښـې نـۀ وي قربـاني وي
د وطن مينه اخلاص ،خلوص په کښې وي
ښـۀ تحقيـق وکـړه هغـه بـه شـلماني وي

راځي هر څنګه وختونه زمانو کښې
مشغولېږم د دوحدت په ترانو کښې
ملاقات که دې غمګين سره مقصد وي
شلمانے يم محله د شلمانو کښې

◈◈◈

فدا جان خليل شلماني

لا چې مې داغونه په ګوګل نهٔ وې
ما به در کتلې هم يو ځل نهٔ وې
ولې به په کانو تا ويشتمه زهٔ
برخه که مې خواره د ازل نهٔ وې
څومره سخت ساعت وو څومره ګرانه وه
تهٔ چې پاڅېدلے مې محفل نهٔ وې
ما به درته هم اور لګولے وو
تا کښې پسرليه! که دا ګل نهٔ وې
خوند او رنګ به نهٔ وو د محفل فدا
نن که دې وئيلے دا غزل نهٔ وې

◈◈◈

په مننه د افتخار فاروقي مُغل خېل

ارواښاد غني محمد غمګین شلماني

غني محمد په کال ۱۹۵۰ ء کښې د شلمانو په کورنئ اله ډهنډ ډهېرئ کښې د رندول شلماني کره زېږېدلے وو، دهٔ تر لسم جماعته پورې تعلیم حاصل کړے وو. او بیا په پاک فوج کښې بهرتي شو. د نوکرئ په دروان کښې د سړک په حادثه کښې په ۱۳ اګست ۱۹۷۸ء کښې وفات شوے وو. دے عوامي شاعر وو. او غمګین تخلص ئې لرلو. د دهٔ د کلام نمونې په خپل خاندان کښې د هېڅا سره نشته: د مرحوم دوه څامن او دوه لوڼه دي.
د کلام نمونه ئې ستاسو د وړاندې ده.
(د شهبازمحمد او د افتخار فاروقي په مننه)

عاشــــقئ کړمـــــه عالمـــــه ســــــودائي
پـه نصیب کښې بـه مې لیـک وه رسوائي

که دیدن مې د خپل ښکلي یار نصیب شي
خدایـــه کمه بـــه دې نـــهٔ شـــي خـــدائي

کند کچکول په غاړ کووم هسې او نهٔ شوه
درپســــې بـــه اوس کوومـــه ګـــدائي

اشنا تهٔ ئې زما خان زهٔ دې نوکر يم
په ما داسې ظلم تا له نهٔ ښائي

نور دښمن به دې پټ وي غني غمګينه
خو په خُلهٔ به درته وائي چې ښهٔ ئي

فضل ربي شلماني

فضل ربي په لاړه کلي پير خانه ضلع شانګله کښې په يکم جنوري، ۱۹۲۹ء کښې د شهيد محمد شعيب ملک کره پيدا شوے دے. موجوده وخت د پرائمرۍ استاذ دے. د "نظر پانړې" په نوم د شاعرۍ مجموعه لري.

د ملاکنډ ،د چارسدې که د شلمان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

پوهه کړه ځان ښهٔ په مطلب
معلوم دے خپل راته نسب
تاريخ دې خپل کړه راطلب

په خوا راغلي دې وطن ته د افغان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

هر خوا نعرې د بېدارۍ
لري یو سوچ د خودداري
قیصې ئې شته د سردارۍ

دوي شمله ور دي نن ولاړ په هر مېدان دي
دا واړه شلمانیان دي ،راغونډ شو په یو ځائے

د دیر د سوات او د ترخې
دي د شانګلې تر مانسهرې
لورې د دوي دي حوصلې

جوړ شو زنځیر ترې نن د یو بله قربان دي
دا واړه شلمانیان دي ،راغونډ شو په یو ځائے

سحر ماښام په خوشحالو
ورونه کوي پېژندګلو
هر سباؤن دے د سیالو

دي شلماني چې په هرځائے کښې په ما ګران دي
دا واړه شلمانیان دي ،راغونډ شو په یو ځائے

دي د دې خـــاورې او ســـېدونکي
د دې هېـــواد ښائســـته کـــونکي
د علـــــم پـــوهې خـــورونکي

په درد درمند باندې شريک د هر انسان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

د هـــر يـــو قـــوم د پښـــتونخوا
ترقـــي غـــواړي پـــه هـــر خـــوا
شـــلماني ملـــک ســـره خېـــر خـــوا

ډېر استوګن څـهٔ پـه ايـران او پـه لبنـان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

ملګـــرے د ے ارشـــد کـــريم
لـــري د ے ســـوچ فکـــر عظـــيم
راتهولـــوي نســـب تقســـيم

پـه دې کتـاب کښـې سـتائيلي ډېر ګلان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

ځـــار شـــمه ځـــار زهٔ د شـــلمان
د سيندهـــ پنجـــاب بلوچســـتان
فضـــلِ ربـــي شـــمه قربـــان

دا شـــلماني زمــا د شـــعر قـــدردان دي
دا واړه شلمانيان دي ،راغونډ شو په يو ځائے

حاجي عبدالجلال نګار

عبدالجلال د نقاب شاه شلماني کره په لوئے شلمان کښې په ۱۹۵۷ء کښې پېدا شوے دے. د غزل او نعت ښه شاعر دے. "د ګل زيرے" ئې چاپ نعتيه مجموعه ده.

توجـــه دې د رحمـــت غـــواړم د خدايـــه
دا ســـتا مينـــه محبـت غـــواړم د خدايـــه

رب دنيـــا دا ســـتا لـــه مخـــه پېـــدا کــړي
زۀ خو ستا پـه مـخ جنت غـواړم د خدايـه

مـا پـه خپلـو غلامـانو کښې حسـاب کـړه
ملګرتيـا ســـتا د اُمـــت غـــواړم د خدايـــه

شـم قربـان د محمـد ﷺ لـه ښـکلي مخـه
زۀ ئې مينـه کښې عـزت غـواړم د خدايـه

يو ګلاس که د کوثر د اوبو راکړې
زۀ دا ستا په لاس شربت غواړم د خدايه

زۀ جلال ډېر ګنهګار يمه محبوبه
په محشر دې شفاعت غواړم د خدايه

نويد عالم نويد شلماني

نويد عالم د حاجي اغا جان کره په کم شلمان لنډي کوتل کښې په ۱۵ اپرېل ، ۱۹۸۵ء کښې پېدا شوے دے. په ادبي دنيا کښې د نويد په نوم يادېږي. ددۀ دوه کتابونه"درشل" (شعري مجموعه)او "شلمان ادبي رود" (تذکره)چاپ دي.

ښکليه د الفت په تار مې وتړه
داسې د شفقت په تار مې وتړه
داسې بې بها مې کړه ناپېد مې کړه
داسې صداقت په تار مې وتړه
خدايه خپلې مينې مې سرشار لره
کلک هسې وحدت په تار مې وتړه
جګه دې پښتو شمله ساتلې ده
هوډه د عظمت په تار مې وتړه
حُسنه که مزاج تۀ د ستم لرې

حُسـنه محبت پـه تـار مـې وتـړه
بيـا چې چرتـه او نـۀ ګورم ښـکلو تـه
سـترګو د وحشـت پـه تـار مـې وتـړه
کـړو مـې د حمـزه پېـروي نـوم پېـدا
شـعر د رياضـت پـه تـار مـې وتـړه
تېره زما نويد ځواني په اور کښې شوه
عشـقه د راحـت پـه تـار مـې وتـړه

عزيز الله خان شلماني

څـۀ د هجـر تـوره شـپه ده هسـې نـۀ چې لېـونے شـم
خدائے دې خبر وکړي اوږدۀ ده هسې نۀ چې لېونے شم
سـتا يادونـه لکـه شـمعې زۀ پتنـګ هسـې سـوزېږم
مينـه څـومره دې خـوږه ده هسـې نـۀ چې لېـونے شـم
اوښکو واخستو رخصت شوې ،شوې د سترګو نه رواني
دا د دوي څنګـه رشـته ده هسـې نـۀ چې لېـونے شـم
پـه ژړا بانـدې عزيـزه د مرګـي نـه نـۀ خلاصـېږے
د هـر چـا خپلـه نبتـه ده هسـې نـه چې لېـونے شـم

◈◈◈

شريف الله شريف شلماني

شريف الله د شمس الرحمان کره په شلمانو خاص چکېسر کلي شانګله کښې زېږېدلے دے . "تنهاکي" او "پاڼي پاڼي ګلابونه "ئې چاپ شعري مجموعې دي. د ادب په مېدان کښې د شريف په نامه خپله پېژندګلو لري .

ستا د محبت په تور دنيا سړے وژلے دے
راشه کنه خلقو هغه ستا سړے وژلے دے
تا ته پته نشته دے چې ته به بې وفا شوي يې
تا ته پته نشته دے چې تا سړے وژلے دے
هر سړي ته پته ده چې دلته کښې قاتل څوک دے
هر سړے تپوس کوي چې چا سړے وژلے دے
نن ئې ښکاره اوئيل چې څوک رانه تپوس کوي
نن ئې ښکاره اوئيل چې ما سړے وژلے دے
ته په هره لاره د وختونو سره تلے يې
تا په هره لاره په ژړا سړے وژلے دے
يه شريفه اووايه باور دې پرې راځي که نه
يه شريفه اووايه اشنا سړے وژلے دے

محمد جاوېد قاصر شلماني

محمد جاويد د محمد زاده بنِ محمد اياز خان کره په کنداؤ چکبسر شانګله کښې پېدا شوے دے.په ادبي دنيا کښې د قاصر په نامه خپله پېژندګلو لري

هــر خــوا تــاؤ رانــه غمونــه
راکـــوي پـــه زړۀ داغونـــه
نـن د خُلـې نـه چې مې خېـژي
ســـوي ســـوي فريادونـــه
هـر انـدام مـې جـدا شـوے
پـــه مـــالګي ګذارونـــه
د دردونـــو بـه څـــۀ وايـــم
بـــس دردونـــه دي دردونـــه
اے خالقـه تـۀ مـو مـل شـې
دي راغلـــي ځنـــګ وختونـــه
ستا قاصر به ترې څۀ بچ شي
د غـــم راغلـــه طوفانونـــه

◈◈◈

شاه زمان بې ګناه شلماني

شاه زمان د محمد اياز خان کره په کنډاؤ چکېسر کلي کښې پېدا شوے دے. د نيکه نوم ئې کريم شاه دے. د بې ګناه په نامه خپله پېژند ګلو لري.

ګوره نخرې دې په ما ډېرې وکړې
په صحرا شپې دې په ما ډېرې وکړې

قسمته سم شه نور مې مه پرېباسه
خپلې کانې دې په ما ډېرې وکړې

نه د رنجو نه د بنګړو يمه اوس
دغه قيصې دې په ما ډېرې وکړې

نه به راوځم نه به تهٔ په بلې
دا اشارې دې په ما ډېرې وکړې

ځان کړې سنګار او ما سيزې بې ګناه
بس کړه لمبې دې په ما ډېرې وکړې

◈◈◈

ګل زاده منتظر شلماني

ګل زاده د محمد اياز خان کره په کنډاؤ چکېسر کلي کښې پېدا شوے دے. د نيکه نوم ئې کريم شاه دے. په ادبي نړۍ کښې د منتظر په نامه پېژندے شي.

ځان مې د خپل ځان په وس کښې چرته دے
ځکه مې جانان په وس کښې چرته دے
تل به وو تازه که پرې خزان نۀ وے
خو دا د ګلستان په وس کښې چرته دے
يا خو به بهار هلهٔ و راتللے نۀ
خو دا خو د خزان په وس کښې چرته دے
ما به مې جنون لږ قابو کړے وو
دا زما ناتوان په وس کښې چرته دے
راشه چې قيصه درته د زړۀ وکړم
تا غواړي نادان په وس کښې چرته دے
هسې لېونے خلقو ته ښکارمه
دا خيري ګرېوان په وس کښې چرته دے
سل ځله که خلق دلاسه مې کړي
د اوښکو دا باران په وس کښې چرته دے

◈◈◈

محمد عرفان سحر شلماني

محمد عرفان د تاج ملوک کره په کنډاؤ چکېسر شانګله کښې زېږېدلے دے. په محکمه ثانوي تعليمي فاؤنډيشن کښې د اکاونټنټ په منصب خپل خدمات تر سره کوي. د ادب په مېدان کښې د سحر په نامه پېژندګلو لري.د کلام نمونه ئې دا ده.

ژړا په محبت کښې وي خفګان په محبت کښې
پاګل ښکاري جانانه هر انسان په محبت کښې

د زړۀ په کوکي مې ستا د غم وربځې ګرځي
راښکې نۀ شو د وصل يو باران په محبت کښې
راځه چې د يو بل ګرېوان ته واچوو لاسونه
يو ځلې چې مونږ بيا شو ماشومان په محبت کښې
خپل سر په کښې بائېلمه چرته هم په بېرته نۀ ځم
تاوان ته چرته نۀ وايم تاوان په محبت کښې
قيصه د زليخې به ترې بيا هېره وي ملګرو
الله دې مبتلا کړي تول مُليان په محبت کښې

منصور هسې په دار شم که مجنون په محبت کښې
چې دار به راله ښۀ وي که بيابان په محبت کښې

شاعر الليبي محمد عبدالسلام شلماني د شوګر مريض وو. دا لاندې ورکړې شوې نظم ئې د شوګر په حقله ليکلې دې. په کال ۱۹۸۳ء کښې د دې مرض له کبله وفات شوې دې. د ده تعلق د ليبيا سره دې.

السكر....المر
اللشاعر الليبى محمد عبدالسلام الشلماني؁

انساك...؟
انساك...؟
لست أنسى وجودى
وكفاحى على امدى وصمودى
عندما جئتُ أُفق فجرٍ بديع
باسم الثغر.. ناعمًا بالشباب
بينما كنت فى الشرق اوديع
زاخر الصدر بالآمانى العِذّاب
وتوغلت عبر د رب السطوع
مسرع الخطو فى طريق الصواب
..كنت لى آينما توجهت قيدى
انساك...؟

كيف..آنســـــى وجـــــودى
وعـــذابى..على المــدى وصـــمودي

مــا دعــاك الجميــع للهجر..تبقــى
وآنا..مثلمــا تعــودت صــابر
كــل حــب يعــيش يبعــث خفقــا
فــى الفواد..وخفــق حبــك جــائر
..لــو هجرت..فقــد يــروق نشــدى
انساك...؟
ليســت أنســـى وجـــودى
ونــالى علــى المــدى وصــمودى

يفتــر الحــب مــا يعــيش ســنينا
يعضــب الالــف مــن حبيــبٍ جفــاه
كــم هجــرت هــواك فحينــا
أجفــاء الملــول جبــاء تــراه
كيــف يجفــوك مــن يعــيش رهينــا
فــى هــواك.. وانــت. بعــض د مــاء
انــت بعضــى ..فيــا ضــياع جهــودى
انساك...؟

لســـــت أنســــى وجـــــودى
وجهــادى علــى المــدى وصــمودى

يـــا أليفامـــا آلفـــت ينهـــى يـــأمر
مـــا كرهـــت القيـــود... عبـــد ســـواك
انت فى بعضى... وفى دماء ي وتسخر
مـــن ضـياع الجهـــود... دون الفكـــاك
انـــت ...دائـــي المريـــر والاســـم سُـــكر
ايـــى مُـــر يطيـــب اسـمًا ســـواك
انـــت... شـــوهت بالنحيـــب نشـــيدى
انساك...؟
كيـــف انســـى وجـــــودى
ومســـــارى مكـــبلاً بـــــالقيود
انساك...؟
انساك...؟

ژباړه

هېرول تا...؟
هېرول تا...؟
خو وجود نـه شم هېرولې
د لـه مودو مې ملې
[illegible]

ښکلي غاښونه او مهينه ځواني
په مينځ د ساخت د راختو په تلو
د امېدونو خزانې سينه کښې
د ناپوهۍ په فضاګانو کښې
په منډه تلمه د نيکۍ په لورې
خو لکه داسې چې قيدي تله کوي
هېرول تا...؟
څنګه وجود شم هېرولې
د لـه مودو مې ملې

ماخو همه جدائي نه غوښتې. چې وه لاپاتې
وومه...صابر نو ما به څنګه راغوښتو

وي دې په ژوند دا همه محبت
دا فائده ناکه مينه ستا روانه
جدائي نه لري که هرڅو شته
ګوره د ژوند سره او ډېر قبرونه؟
که چرې لاړلې يواځې شومه
هېرول تا ...؟
خو وجود نۀ شم هېرولې
دے له مودو مې ملے

ډېرې مودې د محبت کلونه
غضب زړها مې د محبوب د ستم
دا جدائي نه ځي تر اوسه پورې
هم ئې ستم او محبت دغسې
څنګه چې ظلم په ژوندون کېږي

لکه چې ته مې اوبو او هوا
وړې ته زما پرې ځينې ځينې هڅې
هېرول تا...؟
خو وجود نۀ شم هېرولے
له مودو هڅې خپلې

که ئې زرها منع کوې په حکم
که مې هرڅو قېدونه ستا نه بغېر
ته مې په وينه کښې ښکاره ئې
څوک کړې ضائع دا هڅې هم پرانيزي
اے زما تريخ مرضه نوم دې سُکر
ستا نه بل نوم ښه نشته
ته کوره چې راوړې سختې
هېرول تا...؟
خو وجود نۀ شم هېرولے
لکه شانتې قيدي يم تړلے
هېرول تا...؟
هېرول تا...؟

◈◈◈

ستائينې

ژوند د هلو ځلو نوم دے په کوموکښې چې ژوندي قامونه ژوندي کارونه تر سره کوي. او د هغې له کبله پرې خلق ژوندي پاتې کېږي.ځکه ژوند د فعال کارونو مجموعې ته وئيلې شي ،هغه کارونه چې دوامدار وي او د معاشرې عام وګړي ته پرې خبر رسولے شي.

د دې بره خبرو نه دا مطلب راوځي چې داسې ليکوال هم شته چې د هغوي ليکونه ژوندي وي نو ځکه دغه ليکوالو د نورو قبائلو په بودوباش ،سماجي او معاشرتي ژوند ،د هغوي په ادب او سياسي هلو ځلو خپل قلمونه را اوچتوي او ليک ته ئې سپاري.

اوس دغه ليک ولې شوے دے؟ايا دغه ليکوال د هاغه قام نه په څۀ وجه متأثره وو؟يا د هاغه قام يا قبيلې سره ئې څۀ اړيکې لرلې؟چې په خپل ليک کښې ئې د هاغې قبيلې يا قام له دومره تکريم ورکړو او ژوندي ئې ؤساتل؟

د دې سوالونو جوابونه پکار دي او پکاره ده چې لټون ئې وشي. شلمانے قام هغه ليکوالو او څېړنکارو ته په درنه سترګه ګوري. چې د خپل ارزښتناک ليک په سبب ئې شلمانے قام تل تر تله ژوندے ساتلے دے.

توقې ټقالې هم د ژوند يوه اهمه برخه ده.مزاح هم هغه مزه کوي چې د چا د ذات يا قام په کښې هر ګز سپکاوے مقصد نۀ وي.بلکې د معاشرې د ناشونو او کمزورو په کښې په مثبت

طريقه اصلاح کول مقصد وي. اکثر ليکوال ځان له دغه يوه لاړ خوښوي چې خپل اصل نوم د خلقو نه پټ وساتي او په خپل فرضي نوم د خپل زړهٔ براس وباسي او دغه ليک عوامو ته وړاندې کړي. کوم چې دهٔ وخت په وخت کړے وي. دلته د هغه ليکوالو ذکرکول ضروري دي کومو چې د "شلماني" په نوم خپل ليکونه کړي دي.

دغه ليکوال شلماني نهٔ دي خو د شلمانو سره ئې خپله مينه ښکاره کړې ده. په هغوي کښې اروابښاد ډاکټر حسن خان سوز، اروابښاد پير ګوهر صيب، اروابښاد رحيم شاه رحيم او انوربېګ باغي شامل دي.

اروابښاد ايوب صابر صيب په خپل کتاب "جديد پشتو ادب" کښې داسې ليکي چې:

"حسن خان سوز به د پښتو د اکثرو شاعرانو په شان طنزيه نظمونه او مضامين د "شلماني" په فرضي نوم ليکل. د خپلې زمانې په اديبانو، شاعرانو او په معاشره باندې به ئې سخت د طنز ګذارونه په زړورتيا کول"ژباړه۷

طيب الله خان چې په فرضي نوم "فقيرګل خالص"به ئې ليک کولو. د دهٔ په کتاب "ارغې برغې"باندې د محترم افتاب ګل بڼ صيب د "شلماني" په فرضي نوم د ليک په حقله په سريزه کښې خپله رائې داسې څرګندوي:

"پښتو کښې د فرضي نومونو روش څهٔ د نن څخه نهٔ دے. او نهٔ ورته بې مطلبه وئيلې شو. بلکې په ماضي کښې په دې ذريعه ليکوالانو د يو بل تر مېنځه لوئې لوئې شخړې هم پاللي دي. چې

يوه بېلګه ئې د "پښتو ادبي جرګې"د غړو ده.دغه جرګه په کال ۱۹۵۴ء- ۱۹۵۵ء کښې د اولسي ادبي جرګې (پېښور) نه پس لويه ادبي جرګه وه.چې په مردان کښې جوړه شوې وه. د دغې جرګې غړي په دوو ډلو کښې د څۀ وجوهاتو تر مخه تقسيم شوي وو. او د همايون هما د وېنا مطابق به يوې ډلې دا "ارژنګ" په نوم او بلې ډلې د" شلماني" په نوم ليکل کول.د ارژنګ په حقله له بده مرغه نۀ څۀ معلومات لرم او نۀ مواد ،ولې د کور په ذاتي کتابتون کښې چې راسره کوم زاړه تاريخي اخبارونه او رسالې موجود دي په هغې کښې د "شلماني" د نوم مواد هم شته.دغه نوم د نثر د پاره ستر افسانه نګار اروابناد ډاکټر حسن خان سوز پکارولے دے.او د نظم د پاره د عمر تر اخري وخته اروابناد پير ګوهر (شاعري امن)".۸

اروابناد پير ګوهر صيب د نظم د پاره "شلماني" څنګه استعمال کړے دے.په اووه ورځني امن کښې ئې د کلام نمونه تاسو ته د" شلمانيان"د عنوان لاندې وړاندې کولې شي.

شلمانيان

ښاغلی شلمانی [پير ګوهر" شاعر امن"]

يو د ادب زړۀ دے بل ئې پېژني نبضونه
يو شلمانے نثر ليکي بل ليکي نظمونه
مينه د پښتو ده که په يو رنګ ده که بل رنګې
يو ځائې افسانه شي او بل ځائے غزلونه
چا ترې زلفې پرېکړې چا شانه کړې او چا پټې کړې
هر چا د پښتو په ناوې وکړل خپل چلونه
واړه لامبوزن دي د پښتو په سمندر لاهو
څوک تشې سيپۍ اوباسي څوک مومي لعلونه
شين ګېډے پرتوګ د مېمونۍ غريبې څۀ شولو
چا ترې نه برشت جوړ کړلو چا ترې نه لنګونه
زوړ ثقافت وروستو وروستو ګوري او سلګۍ وهي
څۀ شوې بوسارې، کندوان، تونۍ او ګودرونه
هغه تنورونه، پالنګونه او کوهيان څۀ شو؟
ورو ورو بس ختمېږي د حجرو خوارۀ بحثونه
ډېرو پښتو اوخوړه څوک خپلې پښتو اوخوړل
رنګ رنګ کردارونه دي او رنګ په رنګ خويونه
هر ځائې چې انسان دے نو پښتون دے که غېرت لري

راکــــارېږئ ملګــــرو د دې زمکـــــې تنابونـــــه
ظلــم پـــه هــر ځــائې د ے پـــه کلهــم انســانيت ظلــم
اے د نـــــوي دور انســـــانانو يـــــو کـــــړئ زړونـــــه
دا تيــارې د جهــل د رڼــا نـــه بغېــر تلــې نـــۀ شــي
زر ده چـــې پــــه تېښــتــه شـــي راواخلـــئ مشـــعلونه
يــو ځــل کــه پــه مينــه اتحــاد مــو زړونــه زړونــه شــو
بيــا بــه درنــه ؤپوښــتم چــې ځنــګ راځــې ببلتونــه
ځــو چــې پښـتو وي ورتــه بــه خلق پښـتونخواه وائــي
ګــران پـــه خپلـــه ژبـــه دې ازغـــي دي کـــه ګلونـــه
بيــا بـــه د پـــردي تهـــذيب ســـندرې خلـــق نـــۀ وائـــي
هــر چــا سـره خونـد کـړي خپـل لبـاس او خپـل خيالونـه
علــم او هنــر چـــې د عمــل پـــه پوهـــه يـــو شـــي
کـــــړي ذره ذره د همــــــالې شـــــان دېوالونـــــه
شـــور د ے شـــلمانيه د سائنســـي دور پـــه هـــر ډګـــر
مـــخ د تصــوير يــو د ے خــو جــدا جــدا رنګونـــه۹

دغه شان ارواښاد رحيم شاه رحيم صيب "سوات نامه جواب نامه" چې د خوشحال خان د کتاب "سوات نامه" رد د ے، په خپل يو شعر کښې داسې ليکي:

مســتقر پــه هشــتنغر کښــې شــلماني وو
هغــوي هــم پــه اصــل نســل افغــاني وو ۱۰

په قند لس کليزه نمبر۷ – ۱۰ ګڼه ،نومبر-دسمبر ،۱۹۷۴ء

کښې ګل افضل داسې په شعر کښې خپله رائې څرګندوي:

که ازغي تري نه بهر شي شلمانيه
د پښتو شاړه مېره به ګلستان شي[۱۱]

يو بل ليکوال انور بيګ باغي په خپل کتاب "د بونېر تاريخ" کښې د شلمانو په حقله ليکي چې:

هم تاجک هم شلماني دي
ځائے په ځائے پکښې اوسېږي
هم سواتي هم پاپني دي
ځائے په ځائے پکښې اوسېږي
داسې نور خلق پکښې دے
ځائے په ځائے کډې خورې دي
دا د سوات ښکلے وطن دے
دا د حسن ننداري دي[۱۲]

دشهباز محمد د کتاب "تانه د ادب ځانګو" باندې ګوهر علي ګوهر صيب په خپل نظم "فهرست" کښې د شلمانو غړو ذکر د کتاب په ترتيب سره کړے دے. چې نمونه ئې دلته وړاندې کولې شي:

۱. اويا تنه ليکوال دي چې فهرست په کښې غائب
دے

اول ارشد کريم په کښې په شکل د طالب دے

۲. په قام دے شلمانے د خوند نه ډک خورشېد روشن

۳. مظلوم عبدالکريم دې الله روغ لري ژوندے دے

۴. سليم عاصي شلماني را نه هم پروست کال تلے

اباد دې همېشه وي کليم شلماني ښاغلے ۱۳

❀❀❀

حوالې

۱. هېواد مل ، زلمے، "د پښتو نثر اتۀ سوه کاله" دويم چاپ ، اسد دانش مطبع دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۰ ل/ ۲۰۱۱ ز، مخونه ۲۰۹-۲۱۰

-اثر، عبدالحليم افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول، اشاعت سوم ،فروري ۲۰۰۴ء، مخ۵۰۲

-جهان عالم ،پروفيسر، ډاکټر، خان ،باچا، "پښتو ادب په يو نظر کښې"، عامر پرنټ اينډ پبلشرز ،پېښور ، ۲۰۱۸ء، مخ ۱۲

۲. کاکاخېل، تقويم الحق، سيد ، "مخزن"، تصنيف اخوند درويزه بابا (مقدمه)، چاپ پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۸۷ء، مخ ۱۸۳

۳. صابر، محمد شفيع ، "حيات پير بابا" ،فياض مستغير پرنټرز ۱۷۰ دربار مارکيټ لاهور، ۱۹۸۲ء ، مخونه ۱۲۲-۱۲۷

-درويزه، اخوند ، "تذکرة الابرار والاشرار" فارسی، مخ۱۷۰

۴. رحيم ،رحيم شاه ، "غنمه خزانه"، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سيلرز، مينګوره سوات، ۲۰۱۵ء ،مخونه ۲۸۲ – ۲۸۸

۵. عقاب، زبير، ډاکټر ، امين ، صادق، دوه مياشتنی، نوے غږ ،جنوري ، فروري ۲۰۱۹ء ،مخ ۵۱

6. ***Libyan Poet***: http://www.libyanet.com/mas1.htm

۷. صابر، ايوب "جديد پشتو ادب" ناشر: د اماراتو پشتو ادبي ټولنه، متحده عرب امارات ، فروري ۲۰۱۲ء ،مخونه ۱۲۹ ،۲۱۵

۸. خان، طيب الله، "ارغي برغې" پښتو ادبي سوسائټي (اسلام اباد) او ګران ادبي ملګري پښتونخوا ،پبلشر عامر پرنټ اينډ پبلشرز ،پېښور

مأخذ

پښتو

۱. اثر، عبدالحلیم افغاني، "روحاني رابطه او روحاني تړون" جلد اول، اشاعت سوم فروري ۲۰۰۴ء

۲. افریدي، علي، ډاکټر، " پښتو ادب ته د خیبر بخښنې"، خورونکې: ډائریکټر پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۷ء

۳. افریدي، مولانا مفتي مُنیر خان، "جمالستان پشتو شرح و گلستان سعدي "، جدید مکتبه رشیدیه، محله جنگي پېښور، دویم ځل چاپ ۲۰۱۲ء

۴. افضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان " تاریخ مرصع، یونیورسټي بُک ایجنسي، پېښور، جدون پریس پېښور، مئ ۲۰۰۴ء، باب دویم

۵. اکبرایس احمد، ډاکټر، "میلینیم او کرزما د سوات په پښتنو کښې"، ترجمه سید تقویم الحق کاکاخېل، حبیب الرحمان (قلندر مومند)، پبلشر ډایریکټر پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۷۸ء

۶. باچا، شیر علي، "کسان دفتر"، عامر پرنټرز پېښور، جنوري ۲۰۱۷ء

۷. باغی، انور بېگ " د بونېر تاریخ "، اشاعت سوم، ۲۰۱۷ء

۸. بانډه وال، حسن ګل، "(قاموس) پښتني قبیلې او خېلونه"، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د ریسرچ څانګې پنځمه کلنه څېړنه، اکتوبر ۲۰۰۱ ع، خپرونکې ختیځ بیارغوني اداره (کور)

۹. برق، سعدالله جان، " د پښتنو اصل نسل" (اول جلد)، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۴ء

۱۰. ـــــ، " د پښتنو اصل نسل"(دويم جلد)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۰۹ء
۱۱. ـــــ"د پښتنو اصل نسل"(دريم جلد)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۰ء
۱۲. ـــــ، " پښتون قام يا نسل؟" اعراف پرنټرز پېښور، جولائي ۲۰۱۸ء
۱۳. بلاله، عبدالقيوم، حافظ خېل، "داستانِ سوات"، جان کتاب کور کبل سوات، مارچ ۲۰۱۰ء
۱۴. جان، اثر، "د پښتنو نسلي څېړنه"، ناشر جدون پريس پېښور، مئ ۲۰۱۶ء
۱۵. جهان عالم، پروفېسر، ډاکټر، خان، باچا، "پښتو ادب په يو نظر کښې"، عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۸ء
۱۶. حبيبي، علامه پوهاند، عبدالحی "د افغانستان لنډ تاريخ"، ژباړن محمد داؤد وفا، خپرندوي: دانش خپرندويه ټولنه پېښور پښتانه واکمن (۳۰۰۵ هـ خواوشا) زمري ۱۳۷۹ لمريز
۱۷. حکيمزے، وکيل، " د بر سوات تاريخ نسلي، سياسي او سماجي جوړښت"، دسمبر ۲۰۰۷ء
۱۸. ـــــ، "دغه زمونږ کلے دے"، ۲۰۰۴ء
۱۹. خاتون، اسماء، مراد، ثانيه، تاريخ (د ووم ټولګي)، خېبر پښتونخوا ټيکسټ بک بورډ پېښور تعلمي، ۲۰۱۶ء- ۲۰۱۷ء
۲۰. خالق زيار، ډاکټر، ترجمه: "دا خاوره او دا خلک"، جنوري ۱۹۹۶ء
۲۱. خان، طيب الله، "ارغي برغې" پښتو ادبي سوسائټي (اسلام اباد) او ګران ادبي ملګري پښتونخوا، پبلشر عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور، مارچ ۲۰۱۸ء
۲۲. خان، ظفر علي خان(پي سي ايس)، "رواج نامه ملاکنډ ايجنسي"،

پبلشر: منظور عام پريس پشاور، نومبر ۱۹۶۴ء
۲۳.خټک، خوشحال خان "ديوان خوشحال خان خټک"، جدون پريس پېښور، خورونکي: اداره ثقافت صوبه سرحد، ۳۱ جنوري ۱۹۵۲ء (دويمه برخه)
۲۴. خټک، فضل دين، ډاکټر، "درګه"، جنوري ۱۹۹۰ء
۲۵.خليل، همېش، د چاربېتي پخواني شاعران، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، چاپ:۲۰۰۸ء
۲۶. راهي، قمر، کرښې، کوثر پريس مردان، ستمبر، ۲۰۰۴ء
۲۷.رحيم، رحيم شاه، "غټه خزانه"، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سيلرز مينګوره سوات، ۲۰۱۵ء
۲۸.رضا، محمد افضل، "د پښتو د نثر تاريخ" دريم ځل چاپ، نومبر ۲۰۱۰ء
۲۹. روند مياخېل، محمد عمر، پوهنوال "د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې"، "[د نړۍ او بشر تاريخ لنډه کتنه] خپروونکي: مېوند خپرندويه ټولنه سبا کتابخانه، ۱۳۸۳ لمريز
۳۰.سائل، خواجه محمد، "ګوري اسپي" (د باړه مومند تاريخ اول جلد)، ۱۹۹۱ء
۳۱.ـــــ، يهوديت او پښتانۀ، عامر پرنټ اينډ پبلشر پېښور، اګست ۲۰۱۶ء
۳۲. سرحدي، قاسم "زېږون (شعري ټولګه)" شعيب سنز سوات، ۲۰۰۹ ء
۳۳. سعيد (شاعر)، فتح بشارت، اشاعت ۱۳۲۶هـ [۱۹۰۶ء]
۳۴.سواتي، سرن زېب خان، " تاريخ رياست سوات" ، ۱۹۸۴ ء
۳۵.سيال، غازي، "هغه سندرې چې فوک نۀ دي؟" ډائريکټيوريټ آف کلچر حکومت خېبر پښتونخوا، ۲۰۱۲ء
۳۶. سيماب، نرګس (ژباړه) تذکره " د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ"

عامر پرنټرز اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۱ء
۳۷.صافي، عبد الحنان، "صافي قام"، سلېمان کامل مرکه پبلي کيشنز، مردان، ۲۰۱۴ء
۳۸. طائر، محمد نواز، پروفېسر، "د قران مجيد پښتو ترجمه"، [تفسير القران] پاره ۲۶: سورة الحجرات ايت ۱۳ س ن
۳۹.ـــــ، رحمت خان، حافظ، "خلاصة الانساب"، (ترجمه او ديباچه)، ناشر پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۷۳ء
۴۰.ـــــ، "د ادب ترش دويمه برخه ادب ساز"، پبلشر: محکمه ثقافت خېبر پښتونخوا، ۲۰۱۰ء
۴۱.ظفر کاکا خېل، بهادرشاه، سيد، "پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې"، يونيورسټي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور، اول ځل، ۱۹۶۴ء، نهم ځل ۲۰۱۲ء
۴۲.عالم ګير خان، پروفېسر "د تانې د خان خېلو شجره"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء
۴۳.عبد الرشيد، ميانجو خېل، "تذکره علماء کبار و مشائخ عظام"، صوبه سرحد پاکستان، به اهتمام ميا ظاهر شاه قادري، مکتبه غوثيه مدين سوات، س ن
۴۴.عطاء الله خان، قاضي، "د پښتنو تاريخ"، دريم ځل چاپ، اپرېل ۲۰۱۲ء، يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور
۴۵.غوث خېبري، "پښتانه د ايران د پاچايۍ په تخت"، دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي ځانګه، پېښور، ۱۳۹۰ هل/۲۰۱۱ز
۴۶.کاکاخېل، تقويم الحق، سيد، "مخزن"، تصنيف اخوند درويزه بابا (مقدمه)، چاپ پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۸۷ء
۴۷.کريم، ارشد، "انګازې"، شعري مجموعه، عامر پرنټرز اينډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۵ء

۴۸.کيرو ،اولف ، سر ، کريمي. الحاج شېر محمد (ژباړن) "پښتانهٔ (پټانز)"،دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ ل/ ۲۰۰۴م
۴۹.محمد ، شهباز ،"سواستو"،انوائرنمنټل پروټيکشن سوسائيټي (EPS) دربار سيدو شريف سوات ،پاکستان،اپرېل ۲۰۱۱ ء
[تفسير سورة الحجرات الترمذي، مخ۱۶۳ جلد ۲
۵۰.ـــــ ،(پښتو ترجمه) "سوات ۱۸۵۸"،تاته ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۶ ء
۵۱.ـــــ ،"تاته دَ ادب ځانګو تذکره"، تاته ادبي ټولنه ملاکنډ. عامر پرنټرز اينډ پبلشرز پېښور،نومبر ۲۰۱۸ء
۵۲. مستېټر، جېمز ډار،د پښتونخوا دشعرهاروبهار،خپرونکي:پښتو ټولنه،مهتمم حبيب الله رفيع د ۱۳۵۶ء کال د زمري ۱۵
۵۳.معظم شاه،پير ،"تواريخ حافظ رحمت خاني"،جدون پريس پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي دويم ځل چاپ ۱۹۸۷ء
۵۴.مومند ،م ج،سيال"د پښتنو قبيلو شجرې"،يونيورسټي بک ايجنسي پېښور،فروري ۲۰۱۵ء
۵۵.ـــــ ،"مومند بابا"، يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۳ء
۵۶. ناصر علی شاه ،سيد، حيکم زے ،بدرالحکيم ،"ميا قاسم بابا"(کار او کورنی)،مشال پښتو ادبي ټولنه متہ سوات ،اعراف پرنټرز، پېښور پښتونخوا، فروري ۲۰۱۷ء
۵۷.نعماني،عبدالبصير،"خزينة الاولياء" ، مئ ۲۰۰۲ء
۵۸.هېواد مل ، زلمے، "د پښتو نثر اتهٔ سوه کاله" دويم چاپ ، اسد دانش مطبع دانش خپروندويه ټولنه، ۱۳۹۰ ل / ۲۰۱۱ ز
۵۹.ياد طالبي ، عبد اللطيف،ډاکټر، "پښتنې قبيلې"، دانش خپروندويي ټولنې تخنيکي څانګه ،پېښور، ۲۰۱۰ ء
۶۰.ـــــ ،"پښتانهٔ قبيلې وپېژنئ" ،د افغانستان د علوموا کاډمي

۱۳۷۰ھ
۶۱.يوسفزے، اباسين ،"د پښتونخوا باني ملک احمد بابا"،زاهد بشير پرنټرز لاهور، ډسټري بيوټرز يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور او شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سيلرز مينګوره سوات، ۲۰۱۴ء
۶۲.يوسفزے، سالار، "د مخ شاته مخ"،د نيټ په لاره ناچاپ اثار.

اردو

۱. ابوالفضل مولانا عبدالحفيظ بلياوی، مصباح اللغات (عربی لغت)
۲.ابو فضل، علامه مولوی محمد فدا علے صاحب (ترجمه) "ائين اکبری"، جلد اول، سنگ ميل پبلی کيشنز چوک اردو بازار لاہور، ۲۰۰۷ء
۳. مسند احمد بن حنبل، امام، " مسند امام احمد بن حنبل" (البدايه والنهايه)
۴.احمد بن يحيٰی بن جابر الشير بالبلا ذری، فتوح البلدان (المتوفی ۲۷۹ھ) ترجمه: سيد احمد مودودی، تخليقات: علی پلازه، ۳ مزنگ روڈ لاہور، ۲۰۱۰ء
۵.اخوند خيل، حيدر علی "بونير خدو خيل" (تاريخی تحقيقی او ثقافتی جائزه)، ۲۰۰۸ء
۶.افريدی، حاجی خيال "تاريخ پختون الافغان"، ۱۹۹۸ء
۷.المنجد (عربی اردو لغت) دار الاشاعت اردو بازار کراچی، ۱۹۷۵ء
۸.الميزان اردو بازار لاہور، ۲۰۰۴ء
۹.انعام الرحيم، ڈاکٹر، ايلن ويارو ترجمه: فضل معبود، "سوات سماجی جغرافيه قبائليت اور جديديت کے درميان"، اگست ۲۰۰۵ء
۱۰.اے شارٹ ہسٹری آف دی انڈين پيپل، مطبوعه ميکمن اينڈ کو لميٹڈ، لندن، ۱۹۳۴ء
۱۱..بريکوٹی، شير افضل خان "مولانا اخون درويزه" ۲۰۱۰ء
۱۲.پريشان خٹک، پروفيسر "پشتون کون؟"، پشتو اکيڈمی پشاور، ۱۹۸۴ء
۱۳. پنی، شير بہادر خان، ڈاکٹر، "تاريخ ہزاره"، دار لشفاء ايبٹ اباد ضلع ہزاره، شنائی برقی پريس لاہور، اگست ۱۹۶۹ء

۱۴. ـــــــــ، "تاریخ ہزارہ" ،مکتبہ جمال تیسری منزل اردو بازار لاہور، ۲۰۱۶ ء
۱۵. ترمذی، بہادر شاہ، سید، "پیر بابا سید علی ترمذی تاریخی و تبلیغی کارنامے " مارچ ۲۰۱۷ء
۱۶. جنیدی، اقبال ،محمد سلیم، داتائے سرحد، پریس اینڈ انفارمیشن ڈیپارٹمنٹ ، صوبہ سرحد، جولائی ۲۰۰۰ء
۱۷. چیمہ ،چودہری غلام رسول ،پروفیسر "مذاہب عالم کا تقابلی مطالعہ "،گل فراز احمد ،علم عرفان پبلشرز ۳۴ اردو بازار لاہور، جنوری ۲۰۰۶ء
۱۸. حکیمزے ،بدرالحکیم، " سوات میں انتہا پسندی کے چند محرکات" ، عامر پرنٹ اینڈ پبلشرز پشاور ۲۰۱۵ء
۱۹. خان روشن، خان ، "افغانوں کی نسلی تاریخ " ، ناشر روشن خان اینڈ کمپنی تمباکو ڈیلر جونا مارکیٹ پھول چوک کراچی نمبر ۲، ۱۹۸۴ء
۲۰. ـــــــــ ،تذکرہ" پٹھانوں کی اصلیت اور ان کی تاریخ" ، ناشر روشن خان ایجوکیشنل ٹرسٹ جونا مارکیٹ پھول چوک ،کراچی ۲ ،طبع ششم نومبر ، ۱۹۹۲ء
۲۱. ـــــــــ ، "یوسفزئ قوم کی سرگزشت " ، ناشر روشن خان اینڈ کمپنی تمباکو ڈیلر جونا مارکیٹ پھول چوک ،کراچی نمبر ۲ ،فروری ۱۹۸۶ء مطبع المخزن پرنٹرز (مکتبہ رشیدیہ) پاکستان چوک کراچی.
۲۲. خان ،سلیم ، "پختون پشتی ابراہیمی قوم" ،یکم جون ۱۹۹۵ء
۲۳. خان، محمد اصف ، "تاریخ ریاست سوات" و سوانح حیات بانی ریاست سوات میاگل عبدالودود، فیروز سنز پشاور ،اشاعت اول، ۱۹۵۸ء
۲۴. خلیل ،حنیف ، "پشتون قبیلے اور ان کے لہجے" ، قائد اعظم یونیورسٹی اسلام اباد، بسعی و اہتمام محمد جاوید خلیل ،امین پرنٹرز پشاور ،پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی ،بہ اشتراک لوک ورثہ ،اسلام اباد، ۲۰۰۸ء
۲۵. رومان ،انور ،پروفیسر "پشتون کی تاریخ" ، (اردو ترجمہ) ،
"Pathan Border Land" by James W. Spain،
گوشہ ادب ،جناح روڈ کوئٹہ ، پاکستان، ۱۹۸۸ء
۲۶. ـــــــــ ،ترجمہ، " پٹھانوں کے رسم ورواج اور تاریخ"
JAMES W.SPAIN ، "Pakhtoon Wali" ، گوشہ ادب جناح روڈ کوئٹہ ، پاکستان، ستمبر ۱۹۸۸.

۲۷. زبیدی، مرتضیٰ، تاج العروس عربی لغت من الجواہر القاموس

۲۸. سحاب، خان، "تاریخ ہزارہ" مکتبہ جمال لاہور، ۲۰۱۴ء

۲۹. سلطان روم، ڈاکٹر، احمد فواد، پروفیسر (ترجمہ) "ریاست سوات" (۱۹۱۵ء تا ۱۹۶۹ء) شعیب سنز پبلشرز اینڈ بک سیلرز، جی ٹی روڈ مینگورہ سوات، ۲۰۱۳ء [نوٹس]

۳۰. سلیمان، شاہد، "گمنام ریاست" حصہ اول، مطبع اویس لاہور، اشاعت ششم، ۵ جنوری ۲۰۱۵ء

۳۱. سوہدروی، کامران اعظم، "پٹھان قبائل"، تخلیقات: 4 بیگم روڈ مزنگ لاہور، ۲۰۱۵ء

۳۲. شیخ شرف الدین مصلح سعدی شیرازیؒ از مولانا قاضی سجاد حسین صدر مدرّس عالیہ فتح پوری دہلی، گلستان مترجم، مکتبہ رحمانیہ اقراء سنٹر، غزنی سٹریٹ اردو بازار لاہور، ۱۴ جنوری، ۱۹۶۰ء

۳۳. صابر، ایوب "جدید پشتو ادب" ناشر: دامارا تو پشتو ادبی ٹولنہ، متحدہ عرب امارات، فروری ۲۰۱۶ء

۳۴. صابر، محمد شفیع، "حیات پیر بابا" ۱۹۸۶ء

۳۵. صاحب بہادر، اے جی ہسٹنگز، کپتان، "تاریخ پشاور" ء تا ۱۸۷۴ء، گلوب پبلشرز، اردو بازار لاہور، زیر انتظام رائے بہادر منشی گوپالداس صاحب اکسٹرا اسسٹنٹ کمشنر تیار ہو کر حسب الحکم جناب صاحب فنانشل کمشنر بہادر پنجاب

۳۶. ظفر کاکاخیل، بہادر شاہ، سید (اردو ترجمہ) (۵۵۰ ق م تا ۱۹۶۴ء)، ۲ مئی ۱۹۶۵ء

۳۷. محولہ بالا، اکتوبر ۲۰۰۷ء

۳۸. ____ "پشتون اپنے نسل کے ائینے میں" اشاعت سوم ۲۰۱۷ء ۴۱. علوی، سراج احمد، "تاریخ پشتون (اردو ترجمہ)" (تواریخ خورشید جہان)، ناشر شیخ شوکت علی اینڈ سنز تعلیمی ناشران او تاجران کتب ایم جناح روڈ، کراچی، ۱۹۹۱ء

۳۹. فیروزابادی، مجید بن یعقوب، القاموس المحیط

۴۰. فیروز اللغات اردو جامع

۴۱. قادری، ظاہر شاہ، میا "اخون درویزہ بابا" ۲۰۰۰ء

۴۲. قاسمی، عبدالغفور، سید، اعلیٰ حضرت حکمران ریاستِ سوات کے سوانح حیات، حمیدیہ پریس پشاور، ۳۰ جولائی ۱۹۳۹ء

۴۳. کوئیموڑ، نوشیروان، توروال کے قبائل، ناشر: گندھارا ہند کو اکیڈمی پشاور، ۲۰۱۷ء

۴۴. کیرو، اولف، سر، محبوب علی، سید، "پٹھان" ترجمہ، ڈائریکٹر پشتو اکیڈمی پشاور، بار سوم، ۲۰۰۰ء

۴۵. گنڈاپور، شیر محمد خان ابراہیم زئی، "تواریخ خورشید جہان" ۱۸۹۴ء، در مطبع اسلامیہ لاہور، بہ اہتمام

کرم بخش مہتمم مالک مطبع

۴۶. محمد اختر، پروفیسر (ایڈیشنل سیکرٹری)، " تاجک سواتی و مملکتِ گبر تاریخ کے ائینہ میں"، ۲۰۰۲ء

۴۷. محمد حیات خان، خان صاحب بہادر، " تواریخ حیات افغانی" ۱۸۶۷ء

۴۸. معظم شاہ، پیر، "تواریخ حافظ رحمت خانی افغان قبائل اوانکی تاریخ"، ترتیب و حواشی خان روشن خان خان، اعراف پرنٹرز ندیم ٹریڈ سنٹر، پشاور، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، ۲۰۱۷ء اشاعت دوم

۴۹. مومند، شمس، مہمند قبائل (کل اور آج)، حرم پرنٹرز پشاور، بارِ سوم، جنوری ۲۰۱۶ء

۵۰. ناغر، زردار خان، "صولت افغانی"، جون ۱۸۷۶ء، کانپور

۵۱. نعمانی حنفی، عبدالبصیر، "خزینۃ الاولیاء" مئی ۲۰۰۲ء

۵۲. نیازی، محمد اقبال خان تاجہ خیل، "تاریخ نیازی قبائل"، اشاعت سوم، یکم جولائی ۲۰۰۳ء، نواز پرنٹنگ پریس ۳ لوئر مال روڈ لاہور، پاکستان

۵۳. واڈسن، ایچ۔ ڈی، "ہزارہ گزٹیئر" ترجمہ پروفیسر افتخار احمد، مکتبہِ جمال لاہور، ۲۰۱۳ء

۵۴. ہروی، خواجہ نعمت اللہ، "تاریخ جہانی و مخزن افغانی"، ترجمہ، ڈاکٹر محمد بشیر حسین، ناشران: ڈاکٹر اشفاق احمد مرکزی اردو بورڈ گلبرگ لاہور طابع: محمد زرین خان، زرین آرٹ پریس ۶۱ ریلوے روڈ لاہور طبع اول: اگست ۱۹۷۸ء، سلسلہ مطبوعات! نمبر ۱۶۱

۵۵. یوسفزے، نورالامین، "پختو، پختون اور پختونولی"، ۱۳ اگست ۲۰۱۵ء

۵۶. یوسفزے، محمد جمیل [شموزئ سوات]، "پشتونوں کی جڑیں"، عکس پرنٹنگ پریس بٹ خیلہ مالاکنڈ پاکستان، ایڈیشن اول، اکتوبر ۲۰۱۶ء

۵۷. ـــــــ، دوسرا ایڈیشن، جنوری ۲۰۱۸ء

فارسي

۱.دروېزه ، اخوند ."تذکرة الابرار والاشرار" فارسي ،ناشر اسلامي کتب خانه قصه خواني پېښور [تاليف :۱۰۲۱هـ]
۲. گنډا پور ، شير محمد خان ،ابراهيم زئ،" تواريخ خورشېد جهان" ۱۸۹۴ء ،در مطبع اسلاميه لاهور به اهتمام کرم بخش مهتمم مالک مطبع

سندهي

۱.مولائي شيدائي،رحيمداد خان. "جنت السندهـ". سنديکا اکيدمي کراچي،۲۰۰۸ء

English Books

1.A DICTIONARY OF THE PATHAN TRIBES ON THE NORTH- WEST FRONTIER OF INDIA, 1899.
2. ___, 1910
3.Ahmad,Shakeel,Dr, “Swat Nama of Khushal Khan Khattak”,Publisher:Pashto Academy University of Peshawar, Printed date.Nil.
4.An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan, to the source of the Suwat River’s with an Account of the Tribes inhabiting those valleys. By Capt; H.G.Raverty, 3rd Regiment Bombay N.1,Journal of the Asiatic Society of Bengal Vol.XXXI No.I to V, 1862.
5. BARTH,FREDRIK, “Political Leadership among Swat Pathans”,University of London THE ATHLONE PRESS NEW YORK:HUMANITIES PRESS INC,1959
6.Bellew, Henry Walter, “The races of Afghanistan: being a brief of the principal nations inhabiting the country,

(1880)"(2008
7.Bibliotheca Persica Edited by Ehsan Yar-shatter THE HISTORY OF al-Tabari (Ta'rikh al-rusul wa'l muluk(Volume xxiv The Empire in Transition, Translated and annotated by: David Stephan Powers Cornell University, State University of New York Press, Albany 1989.
8.D.N.MACKENZIE Professor of Iranian Studies at the University of Gottingen"A CONCISE PAHLAVI DICTIONARY" LONDON, OXFORD UNIVERSITY PRESS NEW YORK TORONTO, First published,1971,Reprented(with correction)1986
9. Frontier and Overseas Expeditions from India, Compiled in the Intelligence Branch,Army Headquarter,India.Vol.II North-West Frontier tribes between the Kabul and Gumal,Published by: D.K.Publishers Distributers(P)Ltd.4834/24,Ansari Road,Darya Ganj, New Delhi, 1907-11.
10.Ghazi Bin Muhammad "THE TRIBES OF JORDAN" Printed in the Hashani Kingdom of Jordan 1999 pp 14-15[Google]
11."H.C.WYLLY, CB, COLONEL, "FROM THE BLACK MOUNTAINS TO WAZIRISTAN" MACMILLAN AND CO, LIMITED ST.MARTIN'N STREET,LONDON 1912.
12. Hoyland,Rebort G, "ARABIA AND THE ARABS From The Bronze Age to the coming of Islam"2001 by Routledge 11 New Fetter Lane,London EC4P 4EE.

13.JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL, .EDITED BY:THE SECRETARIES
VOL. XXXIII. Nos.I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.-1864 CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS 1865.

Secondary references:

https://www.biodiversitylibrary.org/item/119070
https://ia800605.us.archive.org/17/items/JournalAsiaticSXXXIII/JournalAsiaticSXXXIII.pdf

14.Karoe,Olaf,Sir, THE PATHANS(550 B.C.-A.D.1957)Oxford University Press Karachi,1999

15."Military Operations on the North-West Frontiers of India" (Letter from Captian H. Daly,C.I.E.,Deputy Secretary to the Government of India,Foreign Department,to the Chief Secretary to the Government of the Punjab,dated Simla 23rd October 1897).

16.Raverty, H.G.Capt, "JOURNAL OF THE ASIATIC SOCIETY OF BENGAL", EDITED BY: THE SECRETARIES.VOL. XXXIII. Nos. I. TO V. with a Supplementary No. and an appendix.1864, CALCUTTA: PRINTED BY C.B. LEWIS, BAPTIST MISSION PRESS 1865.

17.____,NOTES ON AFGHANISTAN AND BALUCHISTAN" (1888), Published by: Sang-e-Meel Publications,Lahore,2001.

18.____,"TABAKAT-I-NASIRI"A GENERAL HISTORY OF THE MUHAMMADAN DYNASTIES OF ASIA, INCLUDING HINDUSTAN, FROM A.H. 194[810 A.D.], To A.H. 658[1260 A.D.], AND THE IRRUPTION OF THE INFIDEL MUGHALS INTO ISLAM.BY: THE MAULANA,MINHAJ-UD-DIN,ABU-UMAR-I-USMAN. BY MAJOR H.G.RAVERTY, and Translated from original Persian Manuscripts BOMBAY NATIVE INFANTRY RETIRED, Vol. II. London: PRINTED BY GILBERT & RIVINGTON, 1881.

19.RIDGWAY, R.T.I, MAJOR. 40th PATHANS, HANDOUTS FOR THE INDIAN ARMY, "PATHANS",Compiled under the order of the Government of India, Publishing date Nil.

20.Said Badshah Bukhari,Syed,Ali Haider Laeeq,Muhammad Tahir, Land Cover Atlas of Pakistan, Pakistan Forest Institute, Peshawar, Land Cover Map of Malakand Protected Area ,Februray,2002

21.Sultan-i-Rome, Dr, LAND OWNERSHIP IN SWAT: HISTORICAL AND CONTEMPORARY PERSPECTIVE.

September 2-4, 2002.
22.____ "ORIGIN OF PUKHTUNS"
THE BANI ISRAELITE THEORY Vol.LIV October-December.2006-No.4 Quarterly Journal of The Pakistan Historical Society, Published by. Bait al- Hikmat at Madinat al-Hikmah.
23.T.C.PLOWDEN, SELECTIONS FROM THE TARIKH-I-MURASSA
24.THE CYCLOPAEDIA OF INDIA AND OF EASTERN AND SOUTHERN ASIA, BANGALORR IN THREE VOLUMES. VOL.II. H-NYSA. THIRD EDITION. Unverranderter Nachdruck der 1885 Bei Bernad Quaritch in London erschienenen Ausgabe.Graz/Austria.Printed in Austria.

Confidential Who's Who

1.WHO's WHO(Confidential) in the Dir, Swat and Chitral Agency, Corrected upto 1st September,1933.
2.WHO's WHO(Confidential) in the Dir, Swat and Chitral Agency,Corrected upto 1st June,1937.
3.WHO's WHO(Confidential) in the Dir, Swat and Chitral Agency,Corrected upto 1st July,1950.

Gazetteers and Reports

1.Imperial Gazetteer of India Provincial Series North- West Frontier Province, 1908.

2.MILITARY REPORT AND GAZETTEER ON DIR, SWAT AND BAJAUR PART I ,Second Edition GENERAL STAFF, INDIA, 1928. CALCUTTA, GOVERNMENT OF INDIA PRESS, 1928.

3.REPORT ON THE TRIBES OF THE MALAKAND POLITICAL AGENCY(EXCLUSIVE OF CHITRAL),BY:CAPTAIN A.H.MACMAHON,C.S.I, C.I.E.,AND LIEUTENANT A.D.G.RAMSAY,Assistant Political Agent,Dir and Swat,Revised by LIEUTENANT:-

COLONEL R.L.KENNION,Political Agent Dir,Swat and Chitral. PESHAWAR GOVERNMENT PRESS NORTH-WEST FRONTIER PROVINCE 1916.
4.Report on the Tribes of Dir, Swat and Bajour Together with the Utman Khel and Sam Ranizai,Saeed Book Bank Peshawar,1981.

Internet Sources:(URL,Wikipedia and Google)
1. http://www baheer.com
2. benawa.com
3.http://en.wikipedia.org/wiki/shilmani;http://www.khyber.org/pashtotribes/s/shilmani.shtml
4. http://en.wikipedia.org/wiki/Tajiks
5.
http://en.wikipedia.org/index.php?title=Shalmaneser_V&oldid=845289521
6. http://en.wikipedia.org/wiki/dehqan
7. **Gilan**:
http://www.citymaphq.com/iran/avval/shalman.html
8. http://www.iranicaonline.org/articles/dehqan
9. John Nawas "Tribes and Clains"
10.**Libyan Poet**: http://www.libyanet.com/mas1.htm
11. http://news.manshera.com.pk
12. khyber.com
13. http://www.mechon-mamre.org/p/pt/pt2kings17.htm#3)
(http://www.nino-leiden.nl/publication/babylonia-689-627-b-b-c)
14. pushtoonforum.com
15. **Rud-e-Shalman:**
http://www.hobohideout.com/mp_iran_rud-e-shalman_map.php
16. @Sayce,ArchibaldHenry(1911)"Shalmaneser"(https:

//archiv.org/stream/encyclopaediabri24chisrich#page/798
17. shalmannews.blogfa/sa_shalman@yahoo.com
18. **Shalman Egypt** :

http://www.narss.sci.eg/uploads/Journal/08-12-2009.pdf
19. **Shilman Kordestan:**
http://www.maplandia.com/iran/kordestan/shilman/-Shalman
20.**Shilman Lebanon:**
http://books.google.com.af/books?id=EskzgI-229IC&pg=PA333&lpg=PA333&dq=shilman+ ikiped+ ikip&source=bl&ots=aapojKFA3X&sig=fPWQuyGIbkGXHD6uqt1amzCAIwA&hl=ps&ei=algRS4XNG9SdkAX8tMCiBw&sa=X&oi=book_result&ct=result&resnum=1&ved=0CacQ6AewAA&safe=active#v=onepage&q=&f=false-
21. **ShalmanVolcano:**
http://www.volcano.si.edu/world/volcano.cfm?vnum=0301-071
22. http://www.shalman.iwarp.com/whats_new.html
23. tolafghanistan.com
24. 2kings18:9(http://www.mechonmamre.org/p/pt/pt 2kings18.htm#9)
25. youtube.com (Khyber Agency Map)

پښتو مجلې

۱. سيماب، شبر زمان ، ډاکټر.یاس، غلام حسین ،ډاکټر"پښتو ادب" درې میاشتنی ادبي سلسله(۱) جنوري - مارچ ۲۰۱۷ء ،اهتمام ملاکنډ پښتو ادبي ایوارډ
۲. عقاب، زبیر، ډاکټر ، امین ، صادق ، نوے غږ ، ،دوه میاشتنی جنوري / فروري ۲۰۱۹ء
۳. کریم ،ارشد ،"ماهنامه نظر"،چیف ایډیټر: ګوهر، ګوهر علي ،جلد اول شماره ۳،فروري ۲۰۰۸ء
۴. ____ ،"ماهنامه نظر"،چیف ایډیټر: ګوهر، ګوهر علي ،جلد دوم شماره ۳، مارچ ۲۰۰۸ء
۵. یوسفزے، جمیل، "پاخون"، په تنقیدي مطالعه یو نظر، دوه

English Journals

1.Akhundzada, Arif Hassan,"THE KINGDOM OF SWAT AND THE LOST TAJIKS OF NORTH PAKISTAN" Biannual Research Journal"Pashto" Volume 46 No: 654, Pashto Academy University of Peshawar, July-December,2017.

2. Karim,Arshad, *"Shalmani Writers Promotes Sufism with their Peace Building Characteristics in the Region as "Composite Heritage"*
South Asia Composite Heritage(SACH),Institute for Social Democracy(ISD), New Delhi, India,Issue No.46,April-June,2017.

Census Reports

1.A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE PUNJAB AND NORTH-WEST FRONTIER PROVINCE VOLUME III, L-Z, BASED ON THE CENSUS REPORT FOR THE PUNJAB, 1883, BY THE LATE SIR DENZIL IBBETSON K.C.S.I. AND THE CENSUS REPORT FOR THE PUNJAB. 1892. BY THE HON.MR. ED. MACLAGAN, C.S.I, AND COMPILED BY HA.ROSE, NIRMAL PUBLISHERS AND DISTRIBUTORS.

2.A GLOSSARY OF THE TRIBES AND CASTES OF THE Punjab and North-West Frontier Province.Based on the Census Report for the Punjab, 1888, by the late Sir DENZIL IBBETSON, K.C.S.I,.
and the Census report for the Punjab, 1892, by the Hon. Mr. E.D. MacLAGAN,C.S.I.,and compiled by H.A.ROSE. Vol.II. A.-K. Lahore: PRINTED AT THE "CIVIL AND MILITARY GAZETTE" PRESS BY SAMUEL.T.WESTON,1911.

3.District Census Report Malakand, 1998, Census Publication No.76. Population Census Organization

Statistics Division
Government of Pakistan Islamabad, February 2000.

News Paper

1.Akhundzada, Arif Hassan, "THE LOST TAJIK OF PAKISTAN" The Friday Times, 04 August,2017.

انټرويوز

۱. پروفېسر عالمګير خان (عمر تقريباً ۷۰ کاله) ولد عظيم خان (خان کور) د هغه د ذاتي ډائرۍ نه، ۵ اکتوبر ،۲۰۱۸ء، مازيګر: ۵:۳۰ بجې ،د خان کور او خانخېل تانې کلي په حقله بالمشافه بحث او معلومات اخستې شوي دي.

۲. حاجي دولت مند جنکي خېل (عمر اتيا کاله)شلمانو کلے ببلې بابا شانګله ،د شلمانو په حقله معلومات او د شلمانو کلي د تاريخ په باب له بالمشافه ملاقات. ۳۰ ستمبر ، ۲۰۱۷ء

۳. سيد بهادر شاه ترمذي سره بالمشافه انټرويو نېټه ۳۱ اګست، ۲۰۱۸ء

۴.عبدالقدير پير زاده قرېشي فاروقي (۵۴ کاله عمر) بنِ حضرت ابوالليث المعروف کاڼا باباجي صاحب، پير اباد غوربند شانګله، بالمشافه ملاقات ، ۸ اکتوبر۲۰۱۷ء

۵.غني جان ابۍ(۱۸۸۸ء تا ۱۹۹۴ء) دختر عبدالله جي شلماني عمر ۱۰۶ کاله، بالمشافه ملاقات ۲۱ جنورۍ ۱۹۹۴ء کبنې سحر څلور بجې وفات شوې ده.

۶. محمد ايوب خان ولد محمد افرين(۵۴ کاله عمر) بالمشافه ملاقات، کلے چېدم تحصيل چکېسر شانګله، ۵ مۍ ۲۰۱۷ء

۷.مشتاق علي ولدِ منصوب علي خان (عمر ۵۵ کاله) علي خېل تانه د دوتر په حقله معلومات او بالمشافه ملاقات ، ۱۵ جنوري، ۲۰۱۷ء

سروېز او ټرانزِکټ واک(Surveys and Transect Walk)
۱. د محقق د خپلې کورنۍ ذاتي معلومات ۱۹۲۸ء(ناچاپه اثار)
۲.د محقق ذاتي سروې ،ټرانزِکټ واک او معلومات. ۲۰۱۸ء

پښتواخبار
۱."امن" اووه ورځنۍ د پښتو ژبې زوړ اخبار پېښور،رجسټرډ نمبر پي ۱۲۰ ،شماره: ۱۷ جلد ۶۲، ۷ مۍ ۱۹۹۶ء

اردواخبار
۱. روز نامه ایکسپریس، س ن، م ن.(د نېټې د لاري)

نظم ناچاپه
۱.ګوهر، ګوهر علي، فهرست (نظم ناچاپه)، بټخېله ملاکنډ، ۱۳ جنوري ۲۰۱۹ء

لائبريري
۱.آرکائیوز، پېښور
۲.ایریا ریسورس سنټر (ARC) اي پي ایس (EPS) سیدو شریف سوات
۳. تانه اولسي کتابتون ،تانه ملاکنډ
۴. د محقق ذاتي کتابتون
۵.د شهبار محمد ذاتي کتابتون

تصویرونه

شلماني ګلونه

احمد خان

محمودخان

فضل غفور



فضل وهاب

خورشيدروشن



فضل غفار

ارشدکريم

امين الکريم



محمد اجمل خان

محمد اېمل خان

محمد اکمل خان

عبدالله

عبیدالله

محمد روبېل

طلحه کریم

محمد کریم

محمد سلیم



محمد جمیل

فضل رحیم

سید رحیم



محمد اکرام

محمدعلي


محمدشهزاد


محمد نفیس


محمد کرم

محمد کلیم

محمد امین

عالم زیب خان

محمد عارف خان

عبدالقدیم المعروف (گل خان)

شوکت علي


محمدافضل

فدا جان


محمد حنيف


اميرحمزه

انجنئيرمحمد اظهار

مؤمن خان

نېك عمل خان

محمد ايوب خان

سيد كريم


حيادارخان

نويدعالم


ضياالله

جان محمد

محمدعرفان

تیمور علي

عثمان علي

عزيزالله خان



محمد ظاهر شاه خان



عمر محمد

فضل ربي

گل زاده

سيداحمدخان

خورشيد جهان

محمودخان



محمدعثمان

رشيدخان

عمررحیم

عمرفاروق

میا صاحب جان

شریف الله


تاج ملوک

ایازحسین

عزیزالحق

شفیق احمد (پرویز)

فرید شهزاده خان


امجدعلی خان

حاجي زبېرشاه او ملګري سخاکوټ



روضه عبدالحئ ګجرخان بابا جد امجد شلمانیان تانه

روضه عبدالله جي بربا ے پاس تانه

روضه شهيد عبدالكريم جنگ ملاكند ۱۸۹۵ء بربا ے پاس تانه

روضه مبارك عبدالحئ او شهيدعبدالکريم



روضه محمد اجمل خان قادري مقبره شهيدان تانه

شهيد محمد رحیم بر بابے پاس تانه

د شلمانیانو هدیره تانه

روضه شهید سید کریم بابا

روضه حافظ پروفیسر خورشید روشن مقبره شهیدان تانه

روضه مبارك حضرت خواجه سيد علي شهيد شلماني المعروف سونډيا بابا شېراتوپ سوات

چراټ (چړات) كنډو تانړه په كومه چې سوات ته په مختلف وختونو كښې حمله كونكي په دې كنډو را دننه شوي وو



ميا صالح بابا موره کنډو تانه په کومه چې سوات ته په مختلف وختونو کښې حمله کونکي په دې کنډو را دننه شوي وو

شاه کوټ (موجوده موټر وې) کنډو آله ډنډ په کومه چې سوات ته په مختلف وختونو کښې حمله کونکي په دې کنډو را دننه شوي وو



ملاکنډ کنډو

روضه شهيد محمد شاه جنگ ملاکنډ ۱۸۹۷ء